
مکمل او مدلل

د روژې مسئلې

د قرآن او سنّت په رڼا کښې



مولف: مولانا محمد رفعت قاسمي
مدرس دار العلوم دیوبند

خپرونکي

مکتبه رشیدیه سرکي روډ کوټه

د قرآن او احادیثو په رڼا کې
مکمل او مدلل

دروژې مسئلې

مؤلف
مولنا محمد رفعت (قاسمي)

پښتو ژباړه
عبدالملک «حصیف»

خپرونکی
مکتبه رشیدیه سرکی روډ کوټه

دمضامينوفهرس

دوهم باب

دريم باب

څلورم باب

پنځم باب

شپږم باب

اووم باب

دبنځو مسئلې

لسم باب

دماشومانو مسئلې

یوولسم باب

دوولسم باب

څوارلسم باب

پنځلسم باب

شپاړسم باب

اوولسم باب

اتلسم باب

نو لسم باب

شلم باب

یوویشتم باب

دوویشتم باب

درویشتم باب

واخر دعوانا ان الحمدلله رب العلمین

ددعامحتاج «ابوخالد»

بسم الله الرحمن الرحيم

دكتاب په اړوند دمترجم څو كرښي

دلوى خداى تعالى داحكاماتو له زرين ځنځير نه يوه كړۍ درمضان المبارك دمياشتي روژه ده ، رمضان المبارك چي دقمري كال نهمه مياشت ده ، درحمتونو ، سعادتونو ، بركتونو اومغفرتونو نايابه ګېډۍ ، اوځمكي ته دقران كريم اوشب قدر دشپې په څېر دلويو تحفو راوړونكې ده ، چي قيوم خداى تعالى خپلو بندګانو ته د(شهر الرمضان الذي انزل فيه القرآن) په مباركو تورو ستايلې اوور پېژندلې ده .... روژه ! يعني دپاك خداى تعالى له طرفه هغه عزتمنده اوويارمنده فريضه چي پاك خداى تعالى به دهغې اجر اوثواب بنده ته پخپله وركوي همدارنګه روژه دپاك خداى تعالى له طرفه بندګانو ته هغه مېلمستيا ده چي كله هم دبل چاله خواڅخه كېداى نشي ، دروژې هره لحظه په عبادت كي شمېرله كېږي ، دروژتي لپاره هره هره لحظه جنت ښائسته كېږي ، اوپه دغه مياشت كي دهغه له غولولو څخه شيطانان داور په ځنځيرونو تړل كيږي ، داچي پاك خداى تعالى ډېر زيات حكيم اودهرڅه له خير اوشر څخه ښه خبر دى ، نو ځكه كه تاسو دطب له ډاكترانو ، له روغتيا پالانو ، داخلاقي بډايني له پلويانو ، دباطن له ماهرينو (اوليا ء كرامو) اونورو څخه دروژې دګټو پوښتنه وكړي ، نو هريو له دغو به يې په خپله رشته كي درته بېشماره ګټي ، وښايې ، همدارنګه كه دحديثو

دكتابونو ورقي واړوئ نو دروژې دفضيلتونو په ليدلو سره به تاسوحيران شي ، ددارالعلوم ديوبند دقدر من اوعزتمن استاذ فقيه العصر مولانامحمد رفعت قاسمي (رحمة الله عليه) د(۱۸) كرېځ تصنيفي ځنځير څخه دغه (دروژې مسئلې) نومي كتاب دهر مسلمان روژتي لپاره دومره يوه قيمتي تحفه ده چي (انشاء الله) ترډېره حده به دخواصو اوعوامو لپاره وروستو له مطالعې ددغه كتابه نورداسي څه پاته نشي چي هغه ورپسي دنوروكتابونو دپاڼو اړولو ته اړشي ، زما په نظر دغه كتاب به په دغه وړوكي جسامت دروژې په اړوند ددومره پوښتنو ځوابونه ووايې چي حدكفايت به پكښې پټ وي .

دغه كتاب په ډېرو علمي بحرونو كي غوټه وهلې ده ، اوهلته داعلى مقام دترلاسه كولو دليل يې له خپل ځان سره دهغوځو پيل شوې ملغلري راوړې دي ، لكه دارالعلوم ديوبند دمشر اومفتي حضرت مولانا نظام الدين (رحمه الله) تقريظ ، ددرالعلوم دمفتي حضرت مولانا ظفيرالدين الاعظمى (زيد مجدهم) تقريظ ، اوددارالعلوم دمفتي حضرت مولانا مفتي حبيب الرحمن (خيرابادي) تقريظ ، خوپه كمال دتاسف سره بايد يادونه وكړم چي مونږ دكتاب دحجمي زيادت دمخ نوي له امله دهغو مباركانودمفصلو وينا ګانو پرځاى صرف دهغو په يادبسنه وكړه .

پښتو ژبې ته دوړاندي شوې دالى خوږو كتونكو

داچي په كويټه كي مېشتي (مكتبه نورالقران) دتأ ليف اوترجمي اداري دخپل سپېڅلي اسلامي احساس له مخي دمولانا محمد

رفعت قاسمي ، اونورو کتابونو دژباړي اوپسوللو لپاره کلك هوډ ښوولی دی ، نودټولو لپاره یوښه زېری دی په داسي یوه سخته ناامیدي کي چي زما یوه پښتو ژباړه بغیر له اجاز ي دمؤلف اومترجم له سختو غلطیو او زیادت اوکمبود سره په داسي ډول له چاپه راووتله چي مايې چاته دتحفې ورکولو جرآت نشوای کولای ددغي اداري خدمتونه زما مخي ته کښښودل شول چي ددوئ له ډیر زیار ، ښه دقت اوډیزائن څخه متاثر کېدو زما په روح اوزړه کي دبیا نوښت ریښې وغوړولې .

باید یادونه وکړم چي دترجمې په ټولو اړخونو کي مو درنه هیڅ ډول قدرت سپمولی نه دی ، خوکه سربېره په هغه مود څه قصور مشاهده وکړه ، نو دازما کم فهمي وبولئ اولطفا له هغې څخه مونږ ته خبر راکړئ اوپه اخېر کي موله ټولو کتونکو څخه هیله داده چي دروژې په دعا کي ردېدل ډیر کم وي ، نو دشفقت اومهرباني له مخي تاسو په دغه کتاب کي ټول برخه اخستونکي درسره په خپلو دعاګانو کي یاد کړئ .

ضعیف بنده عبدالملك "حصیف"

۱۴۲۷هج|۲۳ رجب المرجب

دتاليف سبب

نحمده ونصلي على رسوله الكريم ! ماسره له كمبوده دخپلى عملى پانګي ، اوسره له خپلى كم علمى اوبى عملى صرف دخپلو استادانو دحكم دعملى كولو پخاطر په دغه مهم عنوان د« روژي مسائل » باندى دغه خدمت ترسره كړ چى خاص دپاك خداى تعالى دمهربانى اواحسان اودلويانو ددوعاګانو نتيجه وه ، پخواترديٍ مي هم خپل دوه كتابونه « مسائل تراويح » او «مسائل اداب ملاقات» وروستوله ترتيب كولو څخه دخپلو استاذانو مخى ته كښيښودل چى هغوى دخوښولو ترڅنګ دتصديق په كلمو سره ونازول ، اوزما دهمت په زياتولو سره ئې زه ددغه مهم كار لپاره وتاكلم ، داچى مابه دغه ګران خدمت تركومي اندازې سم ترسره كړى وي ، نو نشم ويلاى ، البته بايد ووايم چى مادخپل وس سره سم دورځنيو مسئلوپه راټولو لو كى تركومه چى كيداى سواى كوشش كړى وى .

ربنا تقبل منا انك انت السميع العليم

محمدرفعت قاسمى

مدرس دارالعلوم ديوبند

دروژې فضيلت

بسم الله الرحمن الرحيم

يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا كُتِبَ عَلَيْكُمُ الصِّيَامُ كَمَا كُتِبَ عَلَى الَّذِينَ مِن قَبْلِكُمْ لَعَلَّكُمْ تَتَّقُونَ (سورة البقره ایة نمبر ۱۸۲)

ژباړه : اې هغو کسانو چې ايمان موراوړي دي فرض کړل شوي ده پر تاسو روژه ساتل لکه چې فرض کړل شوي وه پر هغو کسانو چې مخکې له تاسو څخه وو، ددې لپاره چې تاسو پرهيز ګاران شئ.

د(صيام) دلفظ څېړنه

دصيام دلفظ لغوي معنى دځه امر څخه لرې اوسيدل دي (يعني كه څوك دخوراك او وينا څخه ليرې پاته شي اويا خوراك رېغيدل پريږدي نوهغه ته په لغت کی صائم ويل کيږي) چې په قران کريم کې يې مثال په دې ډول دی (اِنِّي نَذَرْتُ لِلرَّحْمَنِ صَوْمًا)

اوپه اسلامي شريعت کې (الصوم) يا روژه هغه ده چې انسان له سهار څخه ترماښام پورې دخوراك ، څښاك اودنفسي غوښتنو له ترسره کولو څخه دروژې په نيت ليرې واوسي ، او ورځ له راختلو دصبح صادق (رښتونې سپيدې) څخه پيل کيږي بيا تر لويدو دلمر پورې ، اوچاچې دومره وخت خوراك ، څښاك اودنفسي غوښتنو په لاره تګ ونه کړ نوهغه روژتي دى اوګويا دروژې وجود جوړ شو : نوڅرنګه چې دروغتيا پالني لپاره انسان دډيرو شيانو څخه پرهيز کوي همدارنګه په روژه کې هم پرهيز ونه شته ، روژه نيول داسلام له

ارکانو څخه يومهم رکن دی که څوك درمضان دمياشتی روژه نه نيسي نو هغه نيم مسلمان جوړيږي ، درمضان المبارك په مياشت کي روژه نيول پرهر بالغ ، هوښيار ، سړي اوښځه باندي (چی دروژې نيولو قدرت ولري) فرض عين ده ، ترڅو چی کوم عذر پيښ شوی نه وي نو دروژې ماتول صحيح نه دی که څوك دروژې نذر ومني نوهغه روژې ورباندي فرض کيږی ، همدارنګه دکفارې اوقضا روژې هم فرض دي ، او نوري روژې ټولي نفل دي په نيولو يې ثواب ورکول کيږي اوپه نه نيولو سره يې ګناه نشته مګر دکوچنی اولوی اختر اودلوی اختر څخه وروستو درې ورځي دروژې نيول حرام دي.

دروژې تاريخ

روژه دحضرت دآدم عليه السلام له زمانې څخه راشروع شوې ده ، څرنګه چی ديوروايت نه څرګنديږي ، چی دحضرت ادم ﷺ په زمانه کي د(ايام بيض) يعني دهري مياشتی دديارلسم ، څوارلم اوپنځلسم په ورځ روژې فرض وې ، يهودانو اونصرانيانو هم روژې نيولې ، دهندوانو ددهرم بده په مذهب کي هم روژه دمذهب يورکن دی اوپه بادسيانو کي هم روژه يوبهترين عبادت بلل کيږي لنډه داچی ددنيا په هر مذهب کي دروژې فضيلت اواهميت پيدا کيږي ، دحضرت آدم عليه السلام نه رانيولې بيا ترخاتم الانبياء حضرت محمد ﷺ پوري په هرقوم اوهرملت کي روژه په يوشکل نه يوشکل موجوده وه .

روژه څه وخت فرض شوه ؟

نبی کریم ﷺ وروستو له دې چې په پیغمبری مبعوث شو (۱۳) کاله په خپل شهر مکه معظمه کې خلګو ته دپاك خدای ﷻ حکم بیاناؤ اوتبلیغ به یې کاوو اوترډیره وخته پورې بغیر له ایمان راوړلو اوبت پرستي پرېښودلو څخه بل حکم نه ؤنازل شوی

بیا کرار کرار (ورو ، ورو) دپاك خدای ﷻ دحکمونو راتلل پیل شول داسلام په ارکانو کې لمړی لمونځ فرض شو اوبیا وروستو له هغه چې سرورکائنات ﷺ له مکې معظمې څخه هجرت وکړ اومدینې منورې ته ورسیدو ، نوهلته دپاك خدای ﷻ ډېر حکمونه نازل شوو چې دهغو له جملې څخه یوه هم روژه وه ، څرنګه چې دروژې تکلیف په نفس باندی سخت او دروند وي نوځکه دفرضیت په لیکه کې ورته دریم ځای ورکړل شوی دی اسلام داحکامو دفرضیت په لړ کې دغه کړنه غوره کړیده چې اول یې لمونځ چې یوڅه نرم عبادت دي فرض کړی اوبیا ورپسې زکوة اوپه دریم وار کې یې روژه فرض ګرزولې ده ، په اول کې دعاشورا یا دمحرم الحرام دمیاشتې په لسمه نیټه روژه بیا چې کله درمضان المبارك روژه فرض شوه نودعاشورا دروژې فرضیت ختم شو دروژې دفرضیت په پیل کې دومره اسانتیاموجوده وه چې که چاغوښتي وای چې روژه ونیسي نو روژه به یې نیوله ، اوکه چا غوښتي وای چې دروژې په بدله کې کوم مسکین ته یوه ورځ خوراك ورکړي نوهمدارنګه یې کولای شوای ، پاك خدای ﷻ دخپلو بندګانو دکمزوریو په نظر کې نیولو سره کرار

کرار (ورو ، ورو) دروژې نیولو عادت وفرمایلو ، کله چې څه زمانه تیره شو اوخلک دروژې نیولو سره یوڅه عادت شول نوله مریضانو اوعذر لرونکو خلکو بغیر ، نورو ټولو څخه دغه اختیار واخستل شو اوله هجرت څخه یو نیم کال وروستو په هجری کال (۲) دشعبان المبارك په لسم په مدینه منوره کې درمضان المبارك دروژو دفرضوالي حکم نازل شو اوبغیر له دغې میاشتی بل وخت دروژې فرضیت هیڅ پاته نشو ، درمضان المبارك دمیاشتی دروژې فرضیت له کتاب ، سنت ، اجماع ټولو څخه ثابت دی
(فقه علی المذاهب الاربعه ج ۱ ص ۸۷۵ ، زاد المعاد ج ۱ ص ۱۶۰)

دروژې فلسفه (حکمت)

دایوڅرگند حقیقت دی چې انسان بهترین دټولو مخلوقاتو دی ، دهغه داوچت مقام ، عظمت ، واکمني اوقدرت په مخکې ټول کائینات سرټیټي دي مگر په دې خبره ډیر کم خلک پوهیږي چې دانسان ددغه لوړ شان ،عزت اوتوانمندي سبب څه دي ؟
دانسان لپاره ددغه لوړشان اوعزت دترلاسه کولو سبب دادی چې هغه دسرکښه نفس په خپل واك کې راوستلو سره په خپلو بدوغوښتنو (خواهشاتو) باندې بریالی کیږي ، اوبیا دپاك خدای ﷻ فرائض پرځای کوي اودهغه عبادت اوبندگي کوي اودخپل پیدائښت مقصد ترسره کوي دپاك خدای تعالی پیژندنه اودهغه درضا دترلاسه کولولپاره جستجو دهغه اولینه اوترټولو مهمه فریضه ده ، کوم انسان چې دبندگي له دغه فرضیت څخه غافل اوله

هغه سره نااشنا وي نوهغه بدقسمته اوبې برخې دي دغه شی خدای تعالی په داسی ډول فرمایلی دی قَدْ أَفْلَحَ مَن تَزَكَّى یعنی چاچې خپل نفس پاك كړو نوهغه خلاصون وموندلو اوچاچې داسې ونكړل نوهغه خپل ځان تباه كړ له دغه فرمان مبارك نه داځرګندیږي چې شریف ، عزتمند اونیكبخت انسان هغه دي چې په خپل نفس یې پوره كنټرول ولرلو اوهغه یې پاك جوړ كړ ، اودنفس تړواك لاندې راوستلو لپاره ددریو شیانو ضرورت دی ، اول داچې نفس دتولو شهوتونو اوخوندونو څخه راوګرزول شي ځكه چې كله یوسركښ آس ته واښه وروانه چوې نوبیا كولای شی هغه تابع كړئ په هم دغه طریقه دنفس سر كشي هم كیدای شي ختمه كړله شي دوهم باید په هغه باندې دعبادت بوج زیات كړل شي څرنګه چې یوبار وړونكي حیوان ته دخوراك واښه كم واچول شي اوبار ورباندې زیات شي دنفس سر كشي هم كیدای شي ختمه شي دوهم باید په هغه باندې دعبادت بوج زیات كړل شي څرنګه چې یوبار وړونكي حیوان ته دخوراك واښه كم واچول شي اوبار ورباندې زیات كړل شي نوبیاهغه له سركشۍ څخه دنرمي په لوري راځي همدغه رنګه حال دنفس هم دي ، دریم داچې بهر حال اوهروخت كې له پاكه خدایه ﷻ څخه مرسته غواړئ ، كه تاسو ورباندې ژور فكر وكړئ نوپوه به شی چې دغه دواړې خبرې په روژه كې په اكمل ترین ډول راوړل شوې دی.

نوله دې څخه معلومه شوه چې دنفسي څواك ماتولو اودټولو قوتونو په اعتدال كې راوستلو لپاره مونږ ته دروژې نیولو حكم شوی دي

يوبل حكمت پكښې داهم دي چې هروخت غمزده انسان دبل چا دپريشاني اوغم پوره احساس کولای شي نوپه روژه کي داخبره شته چې دروژه نيولو په وجه ډير لوی لوي سرمايه لرونکي اودولت مندان دلوږي اوتندي خوندوڅکي اوکله چې هغه دخپلو وړو معصومو بچو بدل شوی حالت دروژې پروخت ويني نوهغو ته دنورو نادارو اومسكينانو دلوږي اوتندي احساس پيداكيږي اودهغو په زړونو کي دغه جذبه راټوکيږي چې له دغوبې سرپناهانو وږيو تږيو سره دصدقې په ورکول مرسته وکړي .

هغو دولت مندانو چې په خوشحالۍ سره خپل ژوند ته دوام ورکوي كه په روژه کي دلوږي اوتندي تكليف نه ليدلای نوپه خپل ټول عمر به يې دلوږي اوتندي احساس کړی نه وای ،نوبيا كه ورته يوه وږي(مسكين) دضرورت لاس نيولی وای اودخپلو تكليفونو اوپريشانيو په پيش کولو سره يې ورنه څه غوښتي وای نو هغه به پر دغه بې چاره وږي باندي څرنګه رحم کړی وای ځکه چې هغه خوبه پخپله هيڅ دلوږي اوتندي له تكليفه څخه خبر نه وای ، همداوجه ده چې دروژې دنيولو ددغه حكمت په وجه له انسان سره دنادارو اومحتاجانو سره دمرستي کولو جذبه اواحساس پيداكيږي اوله هغه سره دهمدر دی اوقربانيو غوندي ښيګڼو وجودپه عمل راځي .

دروژې جسماني او روحاني ګټې

روژې ته كه په دنياوي اوجسماني اعتبار وکتل شي نوپوهيږو چې روژه مسلمان چالاك اوچست چسپ کوي ، دانسان څخه صبر

لرونکی اوشکر گذارجوړ وي همدارنگه ددوو مسلمانانو ترمینځ همدر دي اوغم شریکي رامینځته کوي اودیو منظم قوم جوړولو لپاره غوره ذیعه ده که دروژې دحقیقت په نظرکی نیولو سره هغه په پابندي او دزړه له اخلاصه ونیوله شي نوله انسان څخه دحرص ، طمعي اونس پرستي مادې په پوره ډول ختمیږي اودانسان په څیره کي فرشته ترسترګو کیږي ، اودهمدې روژې په ذریعه دسمون اوکنترول هغه قوت لاس ته راځي چي ددنیا ټول قوتونه دهغه په وړاندي سر ټیټي کیږي.

دطب داصولو له مخی هم روژه دجسماني صحت دترلاسه کولولپاره بهترینه لاره ده ، ځکه چي دیوولس میاشتی مدې پر وخت چي کومی خرابۍ اوبدن ته ضرر رسونکې اوبه په بدن کي راټولیږي هغه دیوې میاشتي په مده کي دروژې نیولو په سبب وچیږي چي له امله یې په روغتیا اوتوانمندي کي ښکارندویه ترقي راځي برسیره پردې په روژه کي نوري زیاتي جسمي اومادي فایدي هم شته اوکومي فایدې چي دروحانیت سره تړلي دي هغه هم بې شماره دي دمثال په ډول ملائیکی هم دخوراك اوڅښاك اوجماع څخه پاکي دي همدارنگه خدای تعالی هم له دغو خواهشاتو څخه پاك دی نو دروژې دنیولو په وجه انسان هم دڅه وخت لپاره په دغه ملکوتي صفت باندي موصوف وي ، اوپه عین وخت کي د« تخلقو باخلاق الله » هم یوه ښکارندویې کیږي دروژې له نیولو څخه اخلاقي اوروحاني قوتونه پیداکیږي او دانسان زړه او دماغ ورباندی روښانه کیږي ،دلوږې او تندی تکلیف

دګناهونو لپاره کفاره ګرزي او انسان دنفس دبنه تړاك لاندي راوستلو په اعتبار مکمل انسان جوړیږی ،دروژې په وجه دانسان په طبیعت کی عاجزی او تواضع مینځ ته راځی .دروژی په سبب دلوږی دغم او تکلیف اندازه لګیږی او په دی وجه دهر انسان دغم او تکلیف داندازی په لګولو سره له هغه سره دمرستی جذبه پیداکیږی دروژه لرونکی هره جمله دپاك خدایﷻ په عبادت کی شمارل کیږی ،ځکه چی کله په روژه لرونکی باندی لوږه یاتنده راځی او نفس له هغه څخه دخوراك او څښاك تقاضا کوی نو دهغه زړه تر ماښامه پوری ورته داوایي چی داوخت تاته دپاك خدایﷻ له طرفه دخوړلو او څښلو اجازه نشته، دروژه لرونکی زړه په همت پوره ازادی سره داللهﷻ په طرف متوجه اوسی او دغه دزړه داللهﷻ طرفته متوجه کیدل دټولو عبادتونو روح دی ،خلاصه داچی روژه دیوی ډیری لوي درجی عبادت دی .

دروژې فضیلت

دفضائلو په کتابونو کی دروژی دفضیلت په اړوند ډیر تفصیلی بیانونه راغلی دی چی موږ دنمونی په ډول دری حدیثونه دلته راوړو او بیا وروسته له هغو دروژی مسئلی راوړو.

دسرور کائنات ﷺ ارشاد مبارك دی «چاچی محض دپاك خدایﷻ لپاره روژه ونیوله نو دهغه ټوله هغه صغیره ګناه چی پخوا تردی یي کړی ده وبخښله شی»دحضورﷺ ارشا د پاك دی چی «دروژه لرونکی دخولی بوی پاك خدایﷻ ته دمشکو تربوی هم زیات خوښ او ګران

دی »دقیامت په ورځ به دروژی زیات ثو اب ورکول کیږی دبخاری شریف ‹چی دحدیثو یو مشهور او لوی کتاب دی› یو حدیث شریف دی «دروژه لرونکی لپاره به دقیامت په ورځ تر عرش لاندی یو یو دسترخوان وغوړول شی او هغوی به ورباندی کښینول شی او خوراك به خوری په داسی حال کی چی نورتول خلك به لا په حساب ورکولو کی گیر وی نورخلک به ووایي چی دغه خلګ څوك دی چی دوی خوراك او څښاك کوی او موږ لا تردی وخته دحساب په ورکولو اخته یو نو په ځواب کی به وویل شی چی دغه هغه خلګ دی چی روژه به یي نیوله او تاسو هغه څوك یاست چی روژه به مو نه نیوله»

تشریح : روژه نسبتا دالله ﷻ په قانون کي دټولو عبادتونو څخه ځانګړی عبادت دی ځکه چی دنورو عبادتونو ثواب دفرشتو په ذریعه له لس چندی څخه بیا تر اوو سو چندی پوری ورکول کیږی خو روژه یو داسی عبادت چی په اړوند یي پاك خدای ﷻ فرمایی «روژه نیونکی ته دروژی بدله زه په خپله ورکوم» له دی نه زیات خوشحالی او خوش قسمتی بله څه کیدای شی چی هغه دخپلو عبادتونو بدله دخپل څښتن له مبارکو لاسونو څخه تر لاسه کوی او له دغه کار سره به دفرشتو هم څه واسطه ‹تړاو› نه وی ددنیوی ژوندانه په ډګر کی موږ په خپله وینو چی کوم شی یو چاته دحکومتی افسر ‹مامور› او یا بل کار کونکی لخوا ورکول کیږی دهغه تر مینځ او دهغه شی ترمینځ چی دولس مشر یا وزیر اعظم لخو ا چاته ورکول کیږی څومره زیات فرق وی نو څه فکر کول پکار دی چی دقیامت په ورځی

په هغه ډارونکی وخت کی کله چی عوام خو لا پر ځای پریږده ،انبیاء علیهم السلام او اولیاء کرام رحمهم الله به دالهی عظمت او لویي څخه په ډار (ویره) کی وی او دپاك خدایﷻ مخلوق به په سبب دخپلو گناهونو څوك تر زنگنونو او څوك له سره تر پښو په سختو خولو کی ډوب وی او دغه لمر به چی داوخت يي سره له دومره لیری والی دتودوخی څخه ډیری پریشانیانی زیږیدلی دی په هغه ورځ په سرونو برسیره ولاړ وی او دسر ماغزه به ورڅخه خوټیږی په داسی نازك وخت کی چی دپاك خدایﷻ خپل کلام دچا شفاعت کوی او روژی غوندی یو مبارك عمل بنده په خدایﷻ باندی بخښی نو په داسی وخت کی داوبو ډوب کړی ځگ ته هم امید وی.

ډیرو گرانو او قدرمنو: دچاچی ددغو حدیثونو دویلو او اوریدلو څخه وروستو هم (خدانخواسته) دروژیدنیولو شوق اوجذبه پیدانه شی نو په یقین سره هغه زړه له ډبری څخه هم سخت دی او دزیاتو گناهونو داثراتو په وجه هغه زړه بالکل زنگن شوی دی او دداسی چا لپاره دزړه په صدق اواخلاص توبه کښل پکار دی ،امید دی چی مهربان او ښنونکی خدایﷻ به دهغه گناه وروبښی او دهغه دزړه په صفاکولو سره به دهغه دزړه سختی په نرمی بدله کړی.

دوهم باب
دمیاشتی د لیدلو مسئلې
داسلام اصول

داسلام اصول ساده او دلیدو کتو وړ دی ، اسلام دمختلفو عبادتونو او میلو ،خوشحالیو اوُ ثوابو نو دوختونو لپاره داسی شیان معیار گرزولی دی چی پری پوهیدل او زده کول دهر عام او خاص او هر هغه انسان لپاره چی کم علم ولری او که یي ونه لری ممکن دی .داسلامی اصولو له ساده والی څخه یو داهم دی چی دسپوږمیځو میاشتو په اړوند یي له ځانه جوړونو په ځای دمیاشتی دلیدلو او یا دمیاشتی ددیرشو ورځو پوره کیدلو قانون جوړکړی دی ددی علت څرگند دی چی یو ځوك داسلام په طبیعت کی په هغو امورو کی چی له هر عام اوخاص سره تړاو ولری داسی تکلیف جن تحقیقات نشته دو هم داچی دکار پوهانو نظرونه هم له یو بل نه مختلف کیږی او کله خو غلط هم پریوځی . څرنگه چی نن موږ په کلیزو (جنتریو) کی هغه په خپلو سترگو وینو نو ځکه خو زموږ دامام اعظم رحمه الله دامسلك ده چی داسمانی علومو او حساب په بناء دعید او رو ژی فیصله کول صحیح نه ده ،هو! دهجری کلونو درواج کولو په خاطر په دغو میاشتو کی دغه فنی اندازی معتبریدای شی چی په هغو کی دکومی ټاکلی نیتی سره شرعی عبادت تړلی نه وی .

(جدید فقهی مسائل ص ۸۸ ج۱)

دمیاشتی لیدلو دوه برخې

په دی باندی پوهیدل پکار دی چی دسپوږمی (میاشتی) په لیدو کی دوه برخی دی ، دسپوږمی لیدل او دسپوږمی لیدلو شاهدی اداکول دسپوږمی دلیدلو په اړوند چی کوم خلک داوایي چی دجهاز په هوا ته پورته کولو سره او یا په دوربین کی دسپوږمی په لیدلو سره باید کوم اعتراض نه وای او باید دغه لیدل منل شوی وای نو اصلا دهغو یوه تر ټولو لویه کم فهمی داده چی هغوی داسی بولی چی مسئله دسوږمی دوجود ده او حال دادی چی دغه بالکل غلطه ده ځکه چی په شریعت کی دسپوږمی وجود معتبر نه دی بلکه په خلاصو سترګو دسپوږمی لیدلو ته اعتبار ورکول شوی دی ، یعنی اسلامی شریعت چی کومی معاملی دسپوږمیڅ مدار په شتون پوری اچولی دی په هغو کی دفوق الافق (برسیره تر افوقو) دسپوږمی وجود کافی نه ده بلکه په سپوږمی کی دلیدلو قابلیت موجودیدل او په عامو نظرونو دهغی پیداکیدل او لیدل ضروری دی ځکه چی هر لیك لوست لرونکی په دی پوهیږی چی هیڅ او یوه ورځ هم سپوږمی بیخی له مینځه نه ځی ،بلکه په څه ډول یا څه ډول حتما په خپل مدار کی موجوده وی نو که دعصری وسائلو په ذریعه دسپوږمی لیدل کافی شی نوبیا ورته د (۲۹)او(۳۰) شرطونه ولی لګول شوی دی ځکه که تاسو وغواړی نو دځرخکو یا تیارو په لوړ پرواز کولو سره او یا دهغو دوربینونو پکارولو سره چی دانسانی نظرونو تر مینځ دلمریزو وړانګو دپردی جوړیدلو وړتیا له مینځه وړی په (۲۷)او(۲۸) هم

سپوږمی لیدلای شی ،نو له دی څخه معلومه شوه چی په هغو ټولو معاملاتو کی کومی چی په سپوږمی باندی راګرزی (چی پکښی روژه او دواړه اخترونه هم شامل دی) په مشروعی ډول دی ته اعتبار نه ورکول کیږی چی سپوږمی په افق (داسمان په څنډه کی)وی بلکه معتبره داده چی سپوږمی دلیدلو وړ وی او په عامو سترګو لیدله کیدای شی. (حاشیه مظاهر حق ج ۲ مخ ۸۷)

دسپوږمی لیدلو لپاره کوشش کول فرض کفایي دی

په مسلمانانو باندی دغه امر فرض کفایی دی چی دشعبان او رمضان المبارك په (۲۹) نه ویشتمو نیټو دلمر لویدو پر وخت دسپوږمی لیدلو کوشش وکړی ،دروژی میاشت او روژه داسلام ددین له ارکانو څخه دی چی دواړه دسپوږمی په لیدلو پوری موقوف او تړلی دی. (کتاب الفقه ج۱ مخ ۸۹۲)

دمیاشتی دلیدلو لپاره دور بین کارول

سوال: دروژی او دواړو اخترونو دمیاشتو دلیدلو لپاره ددوروبین کارول څنګه دی؟

جواب: دوربین دعینکو (چشمو) په څیر دنظر دزیاتولو یوه اله ده په هغه باندی دمیاشتی په لیدلو کی هیڅ حرج نشته خو مګر که داسی یوه دوربینی اله جوړه کړله شی چی مخته تردی چی سپوږمی داسمان لمنی ته راشی هغه ووینی نو په دغه دوربین سره دمیاشتی لیدل روانه دی ،ځکه چی سپوږمی اولمر همیشه په افق باندی وی.

(امدادالفتاوی ج۲ ص ۱۰۹)

دسپوږمۍ دلیدلو لپاره دهوايي جهاز کارول

درسالت دزمانی او دخلفائی راشدینو او دخیر القرون دمعمول په بناء زما په نزد داکار ښه او خوښ کړی شوی کار نه دی چی دسپوږمی دلیدلو لپاره دی دجهاز پورته کولو بندوبست وشی ددی معنی دا نه ده چی که په اتفاقی ډول په جهاز کی سپور یو مسافر سپوږمی ووینی او راشی شاهدی اداکړی نو دهغه شاهدی دی قبوله نه شی ځکه چی دهغه دشاهدی درد کولو لپاره هیڅ وجه نشته خوکه کښته هو اګردجنه او داسی خړه پړه وی چی لیری نه وی چی دهغی په وجه دی سپوږمی ونه لیدله شی او پورته هوا صافه وی او سپوږمی لیدل پکښې ممکن وی خو په دی شرط چی دجهاز پورتوالی دومره نه وی چی دزمکی دخلګو نظر ورته نه رسیږی ځکه چی په شریعت کی هغه لیدل معتبر دی چی په زمکه ګرزیدونکی هم هغه لیدلای شی.نوکه په شل زره فټه پورته والی کی څوك سپوږمی ووینی نو دهغه ټول ښار لپاره داعتبار وړنه ده په داسی حال کی چی د اسمان له صافیدلو سره سره په زمه ګرزیدنکی هغه نشی لیدلای.

(الات جلیله مخ ۱۸۶)

دسپوږمۍ په اړوند دستور پوهانو نظر داعتبار وړ نه دي

څرنګه چی دسپوږمی په باره کی دستورو پوهانو رایه داعتبار وړنه ده نو ځکه دهغو دحساب په بناء خلګو ته دروژی نیول واجب نه دی ځکه چی سرورکائنات (ص) روژه له مقررو علامو سره تړلی ده چی یا خو دمیاشتی لیدل دی او یا دشعبان (برات)میاشتی دیرش ورځی

بوره کېدل دي دستور پوهانو وينا که څه هم په ډېرو دقيقو نظرياتو سا. وي نو هم داسې نشي کېداى چې په څه ډول هغوي وايي هغسې به کېږي ځکه چې ډېر وختونه دهغو نظرونه او رايي له يو اوبل سره په ټکر کې وي . (کتاب الفقه ج۱ مخ ۸۹۲)

يوه عامه غلط فهمي

په شريعت کې درجب دمياشتې څلورمه هيڅ اعتبار نه لري. داخبره چې مشهوره ده چې درجب څلورمه دروژې اوله ورځ ده نو داخبره دشريعت له نګاه بې اعتباره ده ترڅو چې دروژې مياشت ونه ليدله شي نو روژه بايد ونه نيوله شي . (بهشتي زيور حصه ۳ مخ ۵)

دسپوږمې په لوړېدلو او لوړېدلوکې دپنډېدو وينا بې اعتباره ده

کله چې سپوږمې وليدله شي نو داويل چې دغه سپوږمې پرون بره شوې ده (ځکه چې ډېره لويه ده)

ډېره بده ده ځکه چې په حديث شريف کې راځي چې ((دادقيامت له علامو څخه ده کله چې قيامت رانژدې شي نو خلک به داسې کوي او يايي لنډه داچې د سپوږمې په لوى والي او کموالي هم باورمه کوی اونه دهندوانو هغه وينا پوره داعتبار وړده چې نن دسپوږمې دبريدلو دوهمه ده نوځکه نن مياشت پوره ده په اسلامي شريعت کې دغه ټولې خبرې دوهمياتو په درجه کې دي چې په هيڅ ډول داعتبار وړنه دي .

(بهشتي زيور حصه ۳ ص۵ بحواله مشکوة ص ۱۷٤)

شاهدي څه شي ده؟

دشاهدی په اړوند په لنډ ډول په دی باندی پوهیدل ضروری ده چی خبر اوشاهدی دواړه ځان ته ځان ته شیان دی بعضی داسی خبری دی چی دیو خبر یا راپور په حیث خو داعتبار او باور وړتیا لری خو دشاهدی په حیث دقبلیدو وړنه وی ددغو دوو تر مینځ دغه فرق صرف اسلامی فرق نه ده بلکه زموږ په دغه دنیا کی په قانونی ډول دهغو ترمینځ ښکاره فرق دی ،په ټلیفون رادیو تلویزون ورځپاڼو او خطونو چی کوم خبرو نه راځی نو که دامعلومه شی چی هغه داعتبار وړدی نو په ټوله دنیا کی په حیث دیو خبر قبلیږی او په هغه دباور کولو له مخی ټول کارونه سرته رسول کیږی لیکن دغه خبر په معامله یا مقدمه کی دشاهدی په حیث ددنیا یوه محکمه هم نه منی بلکه داضروری ګڼله کیږی چی شاهد باید دفوج دمشر مخی ته حاضر شی او شاهدی ورکړی ترڅو هغه اصول چی دشاهدی ور کولو لپاره دی له شاهدی سره وکتل او وخیړل شی .او د شاهدی دسموالی او یاغلطوالی پریکړه و شی په دغه فرق له پوهیدلو وروستو باید پوه شو چی په عام طور باندی شریعت دسپوږمی دلیدلو په کار کی دشاهدی اداء کولو معامله راوړی ده او دشاهدی اداکولو لپاره داقانون دی چی شاهدی تر هغه وخته دقبلیدو وړ نه ده ترڅو چی دشاهدی ورکولو له شرائطو سره سمون ونه لری دسپوږمی دلیدلو دشاهدی ورکولو لپاره لمړنی دری شرطونه هغه شرطونه دی چی دټولو کارونو دشاهدی اداء کولو لپاره شرط دی یعنی شاهد باید

بالغ عاقل او ليدونکی وی څلورم شرط يي دادی چی شاهد به مسلمان وی او پنځم شرط يي ترټولو مهم دی هغه داچی شاهد بايد عادل وی او عادل هغه چاته ويل کيږی چی له کبيره ګناهو څخه ليری وی او په کوچنيو ګناهو ييي هميشه والی نه وی کړی همدارنګه دهغه په ژوند کی سموالی سچوالی دربنتياويلو او نيکو کارونو دکولو اړخ غالب وی او دخلګو په فکر او نظر هغه داعتبار او باور وړګڼل کيږی دشاهدي ورکولو لپاره شپږم شرط دشاهدي دلفظ ويل دی يعني شاهد به داوايي چي زه شاهدي اداء کوم چي فلانی پيښه ياقصه داسي وه ، او اووم شرط دادی چي شاهد به داسي يوڅوك وي چي سپوږمۍ به يې په خپلو سترګو ليدلې وي ، داوريدلو خبره به نه وي ، اواتم شرط دشاهدي په اداء کولوکي دادی چي شاهد به دقاضي په مخ کي حاضر يږي اوبيله پردې به شاهدي اداء کوي که دپردې له شايا له ليري ځايه څخه دخط ټيلي فون ، وائرليس راډيو اوتلويزيون په ذريعه څوك شاهدي ورکړي نوهغه شاهدي نه بلکه خبر بلل کيږي . (مظاهر حق جديد ج (۲) ص (۸۸).

په سپوږمۍ ليدلو کي دراډيو شرعي حکم

دراډيو په ذريعه دراغليو خبرتياؤ اواعلانونو شرعی حکم دادي چي که چيري دغه اعلانونه اوخبرونه دشريعت له قاعدو او اصولو سره سم وي نوکه دهيواد له هري برخي څخه راغلی وي دشرعي ثبوت لپاره کافي دي ، دمثال په ډول په يومرکزي ښار کي چي آسمان بي صاف ؤ ګرد نه وو اوهلته دراډيو استيشن هم وو ، دحکومت له طرفه

دابندوبست وشو چي يو مسلمان پاچا دشريعت سره سمي شاهدي په ذريعه دسپوږمي دليدلو دثبوت حاصلولو څخه وروستو په دغو الفاظو باندي اعلان وکړ چي دسپوږمۍ دليدلو دشرعي ثبوت دلاس ته راتللو په اساس سبا د...په ورځ درمضان المبارك دمياشتي اويا دا ختر دمياشتي لمړۍ نيټه ده نودغه اعلان به معتبر ګڼل کيږي اودمذهب داصولو په بناء په هغه باندي عمل کول صحيح ده خوصرف داخبره به په نظر کي نيسی چي دمياشتي بايد(۲۸)اويا (۳۱) ورځي نه وي بايد د(۲۹ او (۳۰) ورځي وي که دحکومت له طرفه دارنګه باقاعده نظام نشواى کيداى نوبيا دي دخلګو ترمينځ همدغه رنګه دسپوږمۍ ليدلو يوه کميټه جوړه کړله شي چي دهغې ټول غړي په شريعت برابر مسلمانان وي اوپکښي يوپوه عالم چي په دارنګه مسئلو باندي پوره واکمن واوسيږي هم بايد وي ترڅوټول شرعي کارونه په موثقه طريقه ترسره کړي شي هغه شرعي سپوږميځه اداره دي دسپوږمۍ دلوړيدلو دشرعي ثبوت په لاس ته راوړلو سره په راډيو کي ترڅپلي سرپرستي لاندي اعلان وکړي چي وروستوله دې چي دسپوږمۍ دليدلوپاره ټاکلي شوي اداري دسپوږمۍ ليدلو شرعي ثبوت ترلاسه کړي دي نو ګرانو هيواد والو ته خبر ورکوو چي صبا د ..... په ورځ درمضان المبارك لمړۍ نيټه اويا د........ په ورځ دوړوکي اختر يالوي اختر ورځ ده ، په دغه دوهم صورت کي حکومت بايد دومره کار وکړي چي دنورو راډيو يي اويا تلويزوني پروګرامونو ترڅنګ ددغه پروګرام دنشر کيدلو منظوري

هم ومني ترڅو ددغه کميټې يو مسلمان نمائنده يا ټاکلي شوي غړى هلته ورشي اوپخپله ددغي اداري فيصله اوريدونکو ته ورواوروي ، ډير ځله راډيوګاني دغه رنګه اعلانونه دخپلو همکارانو په ذريعه نشر کوي.
هغو ته ددغه په منظورولو کي څه بدي نشته صرف دومره لحاظ ساتل پکار دي چي دهغه راپور الفاظ له شريعت سره سم وي کوم چي دسپوږمۍ دليدونکې اداري لخوا ترتيب شوي وي ، که په غير مسلم حکومت کي دارنګه انتظام وشي هم دشريعت له نظره صحيح ده او ټول مسلمانان په اساني سره په هغه باندي عمل کولاى شي که داانتظام وکړل شي نوځانګړي حل به رامينځ ته شي اوترخط اوټيليفون به ترټولو زيات ښه اطمينان ورکونکى وي اودهر ډول شرعي اصولو اوقواعدو سره به په سمون کي وي.
(انظام الفتاوى ج ۱ ص ۸۲)

دراډيو يي خبر په اړوند دهندوستان دمستندو علماؤ فيصله

دراډيو خبر ديواعلان په خير ده ، دغه اعلان که دسپوږمۍ ليدلو دسمي اوباوري اداري لخوا (چي دسپوږمۍ دليدلو په صورت کي دشاهدى په اخستلو سره دمياشتي دبريدلو فيصله کوي) وي ، اويا دداسي يوچا لخوا وي چي هغه دمسلمانانو قاضي يا دهغوشرعي امير وي اوهغه دشريعت له قانون سره سم وروستو له شاهدي اخستلو فيصله کوي اواعلان کونکي پخپله ياخوقاضي ياشرعي امير اويا دسپوږمۍ ليدلو داداري مشر اويا دهغي باوري استاذي

وي نودځايي مشر ، قاضي اوداداري مشر ته دارواده چي ورباندي باور وکړي اودسپوږمۍ ليدلو پريکړه وکړي .

(فتاوى رحيميه ج (۵) ص (۱۸۶) بحواله روايت هلال عيد ورمضان كي مسائل ودلائل ص (۹۶).

په هغو مواردو کي چي تراو يي له راپور او اطلاع سره وي ټليفون هم يوله اعتبار لرونکو شيانو څخه دی خوپه هغه حال کي چي يوشاهد قاضي، يا اداري ، يا بل چا ته دسپوږمۍ شاهدي اداء کوي نوهلته صرف دټليفون ليکه کافي نه ده ، بلکه دشاهد مخامخ کول اوحاضرول قاضي ته ، ضروري دی .

په دغه رنګه حالاتو کي داسي کول پکار دي چي دقضا ددفتر يا دسپوږمۍ ليدلو داداري له طرفه په ضروري ځايونو (شهرونو يا کليو کي) داسي څوك وټاکل شي چي هلته دسپوږمۍ دليدلو شاهدي واخلي اوبيا خپل لوی مرکز ته دټليفون په ليکه خبر ورکړي .

دخط اوټليفون دخبر په سلسله کي دشرعي تحقيقاتو مجلس (ندوة العلماء) لاندنۍ پريکړه کړيده ، دليك اوټليفون په ذريعه خبر ورکول داعتبار وړ نه دی ،خوکه له خاصو ټاکل شويو ځايونو څخه ترټاکل شوی انتظام لاندي کوم خط يا ټليفون راغي اوعلماؤ داوويل چي غالب ګمان داده چي دغه خط يا ټليفون به رښتيا وي نوپه دي بنياد دعلماؤ فيصله دقبليدلو وړ ده . (جديد فقهي مسائل (۸۹،۸۶ مخ) .

دټليفون په اړوند دمولاناتهانوي صاحب رحمه الله فتوى

هغه احکام چي حجاب پکښې دقبليدلو مانع ګرځي په هغو کي ټليفوني واسطه بې اعتباره ده ، اوپه کومو کي چي حجاب (پرده)

دقبلیدو مانع نه وي نوپه هغو کي که په قوي قرینو اوښو باندي دغږېدونکي پیژندنه وشي چي دغه فلانی دی چی په ټلیفون کي خبري کوي نوبیا داعتبار وړ دی . (امدادالفتاوی ج ۲ ص ۷۸).

له ځانګړیو ځایونو څخه دټلیفون راتلو حکم

کله چي له کوم ټاکل شوي ځای اویاداسي ښار څخه (چي په هغه کي نامتو علماء اومفتیان صاحبان اوسیږي) دمختلفو خلګو دابیانونه راورسیدل چي یا موږ پخپله میاشت ولیدله ، اویا داچي ، زمونږ دښار قاضي صاحب یا دسپوږمۍ دلیدلو داداري مشر یامفتي صاحب اویا بل باوري (معتمد علیه) سړي دشاهدي په اوریدلو سره دمیاشتي دبریدلو پریکړه کړیده) اوددغه بیان کونکو شمیر دومره ډیر شي چي عقلا دهغو ددرواغ ویلو احتمال پاته نشي اوخبره دمستفیض (چی دحدیث یو قسم دی) درجې ته ورسیږي اوځایي قاضي یا دسپوږمۍ لیدلو اداري مشر اویا معتمد علیه (چي باورپري کیدای شی) سړي ته دهغو خبرو دصحیح والي یقین اویا غالب ګمان حاصل شي نوهغه ته بیا داحق هم په لاس ورغلی دي چي دعید(اختر)یا میاشتي دبریدلو اعلان وکړي یویا دوه ټلیفونونه کافي نه دي ، اودخط هم دغه حکم دي. (فتاوی رحیمیه ج ۵ ص ۱۸۹).

په سپوږمۍ لیدلو کي دخط شرعي حکم

دخط حکم دادي چي که خط لیکونکي ددوو معتبر اوښو مسلمانانو په مخکي خط ولیکي اوهغه دوه یې شاهدان کړل اوبیا یې له خط سره ولیږل اودغو دوو نفرو دخط راوړلو وروستو شاهدي اداء کړه

چې ليكونكي زموږ په مخكې دغه خط وليكو ، نودغه خط معتبر اودليل گرزيداى شى نوكه ددغه خط ليكونكي شرعي قاضي اويا دهغه ځاى ناستى (لكه دسپوږمۍ ليدلو داداري والي يا دغسي نور) وو ، اوپه هغه كښي يې دسپوږمۍ دليدلو خبر ليكلى وو نوبيا په هغه خط باندي عمل كول واجب دى اوكه له نورو نورو ځايونو څخه دمختلفو خلگو له خوا دسپوږمۍ ليدلو دومره زيات خطونه راغلل چې پكښي د انكار كولو گنجائش نه وو نو په دغه صورت كي هغه هم داعتبار وړ دي اودسپوږمۍ ليدلو لپاره گټور دي.
(نظام الفتاوى ج ۱ ص ۲۳۱)

دخط شرعي حيثيت

صرف دخط په خبر باندي دروژې نيولو اوماتولو شرعي حكم نشته ، خوكه په خط باندي راغلى خبر تصديق كړي شي اويا نورې نښې دريښتوني كومك كونكې شي نوبيا وورباندي عمل كول صحيح دى .
(فتاواى دارالعلوم ج ۴ ص ۳۷۶) .

پوښتنه : دشعبان دمياشتي (۲۹) وه خوداوريځې له وجي چا مياشت ونه ليدله اوپه جنتري كي ليكلي ؤ چې دشعبان مياشت (۲۹) ورځې ده اودټولو خلگو داخيال وي چې مياشت به د(۲۹) وي ، په داسي صورت كي په جنتري اوخط باندي باوركول اودرمضان المبارك اوله جوړول صحيح ده اوكه نه ؟

جواب : په دغه صورت كي بايد دشعبان دمياشتي ديرش ورځي پوره كړل شي اوبيا دروژې دمياشتي لمړۍ نيته وگڼله شي ، څرنگه چې په

حديث شريف كي دشپوړمی په اړوند راغلي دي ، كله چي مياشت وينئ نو روژه نيسی اوكله چي دعيد مياشت وينی نو روژه پای ته رسوي) اوپه جنتري اوخط باندي بايد باور ونشي .

(فتاوای دا رالعلوم ج ۴ ص ۳۶۹ بحواله درمختار ج ۲ ص ۱۳۲ اومشكوة ص)

په هغو ځايونو كي چي پكښي په تسلسل سره ياخوسپوږمۍ لويږي نه اوياخوپكښي راخيږي نه هلته به روژه څنګه جوړ وي

په هغو ځايونو كی چي سپوږمي په ترتيب سره روزانه نه راخيږي اونه لويږي بلكه څوڅو ورځي ياڅوڅو مياشتي پيوسته راختله ، اويا لويدلی اوسي ، نوپه هغو ځايونو كي دكوم بل نژدې ځای (چي پكښي له دوو ورځو سوا نوره ټوله مياشت د سپوږمۍ په لويدلو اوراختلو كي تيريږي اوپه اساني سره په هغه باندي پوهيدل اوليدل كيدای شی) په بنياد ګرځولو سره دروژې دمياشتي اودهغې دلمړۍ نيټې تعين وكړای شي اوبيا دي دورځي اوشپې ګرزيدلو يوه مجموعه برابره كړي ، اوبيا دي يوه مجموعه پوره يو شواروز (۲۴ ساعته) كړی اودهغې اوله برخه دي شپه وبولي اودهغې له ختميدلو څخه دي دوه ساعته مخته پيش لمی وكړي اودروژې نيت دي وكړي اودشب اوروز دوهمه نيمائې چي ورځ ګڼله كيږی) چي كله سرته ورسيږې نوهغه وخت دي روژه ماته اودمانبام لمونځ دي وكړي .

(نظام الفتاوی ج ۱ ص ۷۸)

چيري چي اسمان هميشه صاف نه وي هلته درمضان دثبوت شرعي طريقه

پوښتنه : په هغو هيوادونو کي چي فضا پکښي داورو په وجه خړه پړه اوخرابه وي (لکه برطانيا) اودسپوږمۍ دليدلو دشاهدي اداء کولو امکان نه وي هلته به دمياشتي ليدلو شاهدي په څه ډول وي ؟ په دغه صورت کي دمسلمانانو لپاره دراډيو په دې اعلان چي سپوږمۍ ليدله شوې ده اعتبار کول صحيح دی اوکه نه ؟

جواب : هغه راډيو چي په اړوند يې علم اويقين ترلاسه شي چي هغه دشرعي ثبوت څخه وروستو دسپوږمۍ ليدلو اعلان کوي نودهغې راډيو په اعلان باندي عمل کول صحيح دی په دې شرط چي په هغې باندي دعمل کولو په وخت سپوږمۍ د(۲۸) اويا (۳۱) نه وي .

اوکه چيري دغه علم اويقين ترلاسه نه شو مگر غالب گمان داوو چي دغي راډيو دسپوږمۍ ليدلو د شرعي اثبات دترلاسه کولو څخه وروستو دغه اعلان کړي دی نوکه ددنيا له هري برخي څخه وي اعتبار ورکول اوعملورباندي کول صحيح ده ، په دې شرط چي په هغه وخت کي مياشت د(۲۸) اويا (۳۱) نه وي ... اوکه غالب گمان هم حاصل نشو مگر له مختلفو لورو اوهيوادونو څخه دسپوږمۍ دليدلو دثبوت لپاره دومره اطلاعات راغلل چي په هغه شمير ددرواغو دعادت اتفاق نشواى کيداى نوداستفاضى دصورت په جوړولو سره دهغه سره سم عمل کول صحيح دی.

يادونه : په دغو ټولو صورتو کي دعوامو (اميانو) دعلم ، يقين ، غالب ګمان اواستفاضې جوړولو اعتبار نشته ، بلکه دځايي سپوږمۍ ليدلو داداري فيصلې اوغالب ګمان ته اعتباروركول كيږي ، اوكه دغه اداره نه وه ، نوبيا هلته دواقع جامع مسجد امام ياخطبه ويونكي يامعتبر عدل هغه فيصله داعتبار وړده چي له غالب ګمان اويا استفاضې څخه ترلاسه شوي وي.

اوكه له پورته ذكر شويو صورتونو څخه يوهم لاس ته رانغلي يا دحنفي فقهي سره سم ونه ليدو اوپريشاني زياتي وي ، نوكومه پوښتنه چي ذكر شوې ده په دغه صورت كي داسي كول پكار دي چي كه په هغه ځاى يا څنډه كي دنورو مذاهبو (شافعى ، مالكي اوحنبلي) خلګ اوسيدل اودمياشتي د(٢٨) اويا (٣١) ورځي نه وي نوعوام دي له خپلى رايې څخه كار نه اخلى بلكه داحنافو (حنفي مذهب) له علماؤ څخه دي فتوى ترلاسه كړي اوكه دغه صورت هم ممكن نه ؤ يعنى دشافعيانو مالكيانو اوحنبليانوخلګ اوكلي هم نه و يا دهغو كلي وو خو مګر باوري فتوى موجوده نه وي يا دهغوفتوى ګاني له يواوبل سره په ټكر كي وي نوبيا دى دحنفي مذهب والاؤ علماؤ باوري فتوى ترلاسه كړي اويا دي دهغو باوري كتابونه وګوري ، دداسي مجبوري په صورت كي دي دهغو دمعتمد مسلك لټه وشي اوله هغه سره سم دي عمل وشي .

(نظام الفتاوى ج١ ص ٢٣۴ تر ٢٣۶ پورى).

په شاهدي کي دهغه چا شرعي حکم چي ددين پابند نه وي

کوم سړی چي ددين پابند نه وي ، هروخت گناهونه کوي دمثال په ډول لمونځ نه کوي روژه نه نيسي ، درواغ وايي اوهمدارنگه نور گناهونه کوي دشريعت پابندي نه کوي ، نوپه شريعت کي دهغه دوينا هيڅ اعتبار نشته که څه هم هغه دډيرو قسمونو په ملتيا يوه خبره کوي ، بلکه که په دغه رنگ دوه يادري نفره وي لاهم يې وينا داعتبار وړنه ده . (بهشتی زیور ۳ حصه ۵ ص په حواله داخيرني هلمي ۴۶ مخ).

دعيد دمياشتي لپاره دشاهدي شرعي قانون

کله چي دسپوږمۍ ليدل عام کيدای نشي اوصرف دوو ياڅلورو نفرو هغه ليدلې وي اوداپه داسي حال کي وي چي فضا سمه اومطلع (دسپوږمۍ دلوېدلو ځای) بالکل صافه وي ، دسپوږمۍ ليدلو لپاره اوريځ ، لوگی گرد اوداسي نور مانع نه وي ، نو په داسي صورت کي صرف ددوو يا درو نفرو ليدنه اوشاهدي شرعا داعتبار وړ نه ده ، ترڅو چي دمسلمانانو يو لوی ټولی دسپوږمۍ ليدلو شاهدي ورنکړي نودسپوږمۍ ليدل صحيح نه بلل کيږي ، چاچي دسپوږمۍ ليدلو شاهدي ورکړې ده هغه بايد يا دهغو غلطي اويا درواغ وگڼل شي ، اوکه مطلع صافه نه وه اودآسمان په لمنو کي دومره گرد ، اووريځ ، لوگی اوداسي نور وو چی دسپوږمۍ دليدلو مانع گرځيدای سوای نوبيا به دروژې دمياشتي په ليدلو کي يوښه ، کلك مسلمان اودعيد دمياشتی په ليدلو کي دوه کلك اوښه مسلمانان معتبر گڼل کيږي . (جواهر الفقه ج ۱ ص ۳۹۹).

که داخبره مشهوره وه چي مياشت ليدل شوې ده خوشاهد نه وو

په ټول ښار کي داخبره مشهوره وه چي تېرماښام سپوږمۍ ليدل شوې ده ، ډېر خلګو ليدلې ده ، ليکن ډيري هڅي اوکوششونه وشول خوبيا هم داسي څوك پيدانشو چي هغه پخپلو سترګو باندي مياشت ليدلې وي ، نودداسي ويناګانو هيڅ اعتبار نشته (بهشتی زیور (۳) ص (۵)

که ديواځني سپوږمۍ ليدونکي شاهدي ونه منله شوه نوهغه به څنګه کوي؟

يوچا دروژې مياشت يواځي وليده ، بغيرله هغه څخه په ټول ښار کي بل چا ونه ليدله اوهغه ليدونکي دشريعت پابندنه ؤ ، نودهغه په شاهدي سره به دښار وټول خلګ روژه نه نيسي ليکن هغه سړی به روژه نيسي ، اوکه بيا دغه مياشت ليدونکي ديرش روژې پوره ونيولې خوبيا هم دعيد مياشت ونه ليدله شوه نوهغه بايد (۳۱) يوديرشمه روژه هم ونيسي اوبيا دي له نورو ښاريانو سره يوځای اختر جوړ کړي . (بهشتی زیور حصه (۳) ص (۵) .

يواځني سپوږمۍ ليدونکي به اختر نه جوړوي

که يوچا دعيد مياشت يواځي وليده اوبل څوك سپوږمۍ ليدونکي نه ؤ نودهغه په شاهدي باندي دشريعت له نظره بايد اعتبار ونشي ، هغه سپوږمۍ ليدونکي ته دعيد جوړول صحيح نه دي سهار دي روژه ونيسي اودسپوږمۍ ليدلو ته دي اعتبار نه ورکوي اوخپله روژه دي نه ماتوي.

(بهشتی زيور ۳ حصه ۵ مخ ، په حواله دعالمگيري ۱ج ۱۹۲ مخ).

يودېرشمه ورځ بايد روژه ونه نيوله شي

که ددوو باوري خلګو په شاهدي ورکولو سره دمياشتي ليدنه ثابته شوه ، که مطلع صافه وي اوکه نه وي نو ديوديرشم په ورځ بايد روژه پای ته ورسوله شي اوهغه دوړوکي اختر لومړۍ ورځ وبلله شي.

(بهشتي ۱۱ حصه ، ۱۰۴ مخ په حواله دشامي ۱ج ۱۹۲ مخ).

که په ورځ کي سپوږمۍ وليدله شوه ؟

که دمياشتي دديرشمې نېټې په ورځ کي سپوږمۍ ښکاره شوه نوهغه به دراتلونکې شپې بلله کېږي ، نه ده تېري شپې ، اوهغه ورځ به دراتلونکې مياشتي څخه نه بلله کېږي ، سپوږمۍ که له زوال څخه له مخه ليدله شوې وي اوکه ترهغه وروستو.

(بهشتي زيور ۳ حصه ، ۱۰۴ مخ ، ردالمختار ۱ ج ۱۴۹ مخ).

بغير له سپوږمۍ ليدلو يې په روژه نيولو پيل وکړ ، کله چي اته ويشت ورځي تېري شوې نوداختر مياشت وليدله شوه

که ديوښار خلګو دروژې دمياشتي ليدلو بغير دروژې نيول پيل کړل ، دروژې د(۲۸) په ورځ يې دعيد مياشت وليدله ، نوکه دوئ دشعبان مياشت ليدلې وه اوبيا يې دېرش ورځي پوره کړې وې اوبيا يې روژه پيل کړې وه ، نوبيا به ديوې روژې قضا راوړي اوکه يې دشعبان مياشت هم نه وه ليدلې اوپه اټکل يې دهغې دېرش ورځي پوره کړې وې اوبيا يې دروژې نيول پيل کړي ؤ نوبيا به ددوو روژو قضاء راوړي اوکه يې بغير له ليدلو د مياشتي روژه نيول پيل کړل او

دروژې د(۲۹) په ورځ یې میاشت ولیده نو وروباندي هیڅ قضا لازمه نه ده . (عالمګیري اردو پاکستاني ج ۲ ، مخ ۹).

درمضان په (۲۹) دسپوږمۍ لیدلو شاهدي

که دروژې د(۲۹) نه ویشتم په ورځ شاهدانو شاهدي وویله چې مونږ ستاسو ترروژه نیولو یوه ورځ له مخه میاشت لیدلې وه ، نوکه دغه شاهدان ددغه کلي ؤ نوامام دي دهغوشاهدي نه قبلوي ، ځکه چې هغو واجب پریښوول ، اوکه له کوم بل لیري ځای څخه راغلي ؤ نو بیا یې دشاهدي قبلول جائز دي ، ځکه چې دهغو په ذمه تهمت نشته .
(فتاوی عالمګیري اردو پاکستاني ج ۲ ص ۱۰).

دورځې په (۱۲) بجې دسپوږمۍ لیدلو خبر ترلاسه کول

دسپوږمۍ لیدلو خبر چې هروخت چاته ورسیږي په دې شرط چې یقیني اومعتبر وي ، صرف دغیر رسمي خط اوټلیفون په ذریعه نه وي که څه هم ترلمر لویدلو څه وخت مخته وي نوباید روژه ورباندي ماته کړله شي ، دروژې نه ماتولو په صورت کې انسان ګنهګاریږي .
(فتاوی دارالعلوم ۶ ج ۴۹۳ مخ به حواله ددرالمختار کتاب الصوم ۱ج ۱۲۵ مخ).

که ترلمر لویدوله مخه سپوږمۍ ولیدله شوه هغه داعتبار وړنه ده

پوښتنه : دلمرترلویدلو پورې دوه یاڅلور دقیقې پاتې وې چې زید وویل ماميا شت ولیدله روژې ماتې کړئ ، بکر له دې څخه انکار وکړ خوله زید سره (۱۵) یا (۲۰) نفرو روژه ماته کړه داوخت به موږ ددغو خلګو روژه نیول شوې بولو اوکه څنګه ؟

جواب : ترلمر لويدو له مخه دسپوږمۍ ليدل هيڅ اعتبار نه لري ، هغه ورځ خو دروژې له مياشتي څخه ده ، داختر له مياشتي خونه ده ، نوپه دغه خلګو کي چي چا په دې نظر روژه ماته کړي ده چي ګواکي لمر لوېدلی دي نوځکه سپوږمۍ وليدله شوه نوپه هغوباندي دروژې صرف قضاء لازمه ده ، اوڅوک چي په عين حال کي په دې پوهيږي چي لالمر نه دی لويدلی خوروژه يې ماته کړه ، نوپه هغوباندي دقضا ترڅنګ کفاره هم لازمه ده . (فتاوی رحيميه ۲ج ۲۰ ص)

دشاهدي څخه وروستو دروژې نه ماتول

پوښتنه : که مولوي صاحب دسپوږمۍ دليدلو دشرعي شاهدي په راتلو سره دعيدحکم ورکړ ، خوصرف يوه نفر روژه ماته نکړه نودهغه حکم څه دي ؟

ځواب : هغه سړی ګنهګار شوې دي بايد توبه وکاږي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ، ۴۹۳ مخ په حواله دردالمختار ۲ج ۱۲۵ ص).

څوک چي دحاکم دشرعي فيصلې وروستو هم روژه نه ماتوي نوهغه ګنهګاريږي ځکه چي دشرعي شاهدي په وجه دغه ورځ دعيد ورځ ګرځي ، اودعيد په ورځ روژه نيول حرامه ده.

(احسن الفتاوی پاکستاني ۴ ج ۴۱۵ مخ).

ديوښار خلګو دسپوږمۍ ليدلو دخبر په بناء (۲۹) روژې ونيولې اودبل ښاروالو دسپوږمۍ پخپله ليدلو په بناء (۳۰) روژې ونيولې

دهدايې ملاصاحب په خپل کتاب (مختارات فوازل) کي ليکي چي ديوشهروالو دسپوږمۍ له ليدلو څخه وروستو (۲۹) روژې اودبل

ښار والاو دمياشتي په بناء پوره (۳۰) روژې ونيولې نوکه ددواړو ښارونو دمطلع اختلاف موجود نه وو نو د(۲۹) روژو نيونکي به ديوې روژې قضا راوړي اوکه دهغو مطلع جلاجلا وه نوبيا دقضا ضرورت نشته.

علامه لکهنوي رحمه الله په دغه موضوع باندي دتفصيلي بحث څخه وروستو (له ډيرو زياتو مطالعو وروسته) دافيصله کړې ده چي دهغه يوڅه الفاظ مونږ دلته رانقل کوو).

په عقلي اونقلي دواړو لحاظونودامسلك صحيح دی چي داسي دوه ښارونه چي ترمينځ يې دومره جلاوالی وي چي ورباندي مطلع بدل شي چی اندازه يې ديوې مياشتي دمسافت (سفرکولو) کيدای شي) نوپه هغو کي ديوه ښار دسپوږمۍ ليدل دبل ښار لپاره معتبر نه شي بلل کيدای ، اوهغه ښارونه چي دومره سره لنډ وي چي ترمينځ يې ديوې مياشتي سفر کولو مسافه نه وي نوديوي رؤيت دبل لپاره لازمي اوضروري دی ، دليکونکي په خيال دغه نظر ډير معتدل اوبرابر دی ، مګر دمطالعو دبدلون دحد په ټاکلو کي ديوې مياشتي دمسافت دقيد په ځای به دنويواسماني حساب دکارپوهانو په نظر باندي تکيه کول ډير مناسب وي. (جديد فقهي مسائل ۱ج ۹۲ ص)

دمطالعو په اړوند دشرعي تحقيقاتو دمجلس فيصله

دشرعي تحقيقاتو (ندوة العلماء لکهنو) غونډي چي دجوړيدلو نيټه يې ۱۴،۳مئ ۱۹۶۷۱ وه دمختلفو روشن فکروعلماؤ اواستازوپه

ګډون چې په دغه مسئله باندې کومه پریکړه کړې وه هغه په لاندې ډول ده .....

(۱) په حقیقت کې دټولې دنیا مطلع یوه نه ده ، بلکه پوره اختلاف موجود دی اودغه یو واقع کېدونکی شئ دی په دې کتبې دفقهاؤ کرامو کوم اختلاف نشته اوپه حدیث کې هم ددې تائید شوی دی .

(۲) البته دفقهې ماهرین په دې خبره کې سره اختلاف لري چې دروژې دمیاشتې په پیلولواوپای ته رسولو کې دغه اختلاف دمطالعو معتبر ده اوکنه ؟

دحنفي مذهب محقیقینو اودامت دعلماؤ دځرګندونو اودلیلونو په رڼا کې ددغه مجلس متفقه رایه داده چې په لیرې لیرې ښارونو کې دروژې په باب هم اختلاف دمطالعومعتبر دی .

(۳) له لیرې لیرې ښارونوڅخه مقصد دادی چې هغه له یواوبل څخه دومره لیرې واقع وي چې دعادت له مخې دسپوږمۍ په لیدلو کې دیوې ورځې فرق ولري ، په یوه ښار کې یوه ورځ مخته سپوږمۍ لیدله کیږی اوپه بل ښار کې یوه ورځ وروستو لیدله کیږي ددغو لرو پرتو شهرونو کې که په یوي کې دسپوږمۍ لیدل په بل باندې هم لازمي وګرزول شي نوکله به داسې هم کیږي چې دیوه ښار د روژې میاشت (۲۸) ورځې شي اودبل ښار بیا (۳۰) ورځې پوره شي ، حضرت عبدالله ابن عباس ﷛ په روایت کې هم ددغه قول تائید شوي دی .

(۴) نزدې ښارونه هغه دي چې دهغوترمينځ دعادت له مخې دسپوږمۍ ليدلو يوه ورځ فرق نه وي ، دفقهي علماؤ ديوې مياشتې دسفر په اندازه ليري والې (چې نزدې پنځه يا شپږ سوه ميله کيږي) له بلادبعيده (ليري ښارونه) څخه بللی اوتردغه کم يې بلادقريبه (نزدې ښهر) بللی دی ، دغه مجلس داسې يوچارټ جوړول ضروري بللی دی چې له مخې يې دامعلومه شي چې مطلع په څومره ځای کې بدليږي اودکومو ، کومو هيوادونو مطلع يوه ده .

(۵) دهندوستان اوپاکستان ډېرو سيمو مطلع يوه ده ، همدارنګه ځيني نزدې هيوادونه لکه نيپال اوداسې نور هم په دغه مطلع کې دي دپاکستان اوهندوستان دعلماؤ عمل هميشه په دغه باندې ؤ نوپه غالب ګمان چې له تجربي څخه به هم دغه ثابته شوې وي .

ددغو هيوادونو دښارونو ترمېنځ دومره ليري والی موجود نه دی چې پکښې دمياشتې دليدلو يوه ورځ فرق راشي نو په دې اساس په دغو هيوادونو کې چې په هر يوه کې مياشت وليدله شوه نو وروستو له دې چې شرعي ثبوت موجود شي دهغې منل او دروژې يا اختر جوړول ددوارو هيوادونو په ټولو ښاريانو لازم دي .

(۶) دمصر اوحجاز غوندې ليري پرتوملکونو مطلع له پاکستان او هند سره يوه نه ده،بلکه هغه جلا او دغه جلا ده ددغو ملکونو دسپوږمۍ ليدل دهغو ملکو نو لپاره او دهغو ملکونو دسپوږمۍ ليدل ددغو ملکونو لپاره په هر حالت کې لازم او دقبلېدا وړنه دی،ځکه چې دهغو او پاکستان او هند تر مينځ دومره ليري والی

موجود دی چې په سپوږمۍ لیدلو کې یې عموما یوه ورځ فرق واقع کیږي او کله خو لا تردې هم زیات وي. (جلید فقهی مسائل ج۱ مخ۹۳)

په سپوږمیځ تاریخ کې حکمتونه او ګټې

له سپوږمیځ تاریخ سره د اسلامي احکامو په تړلو کې ډېر حکمتونه او ګټې دي.

(۱) په شرعي احکامو کې ددې خبرې خیال ساتل شوی دی چې کم علم او کم عقل انسان هم دهغوی په ترسره کولو کې داوربدلو را اوریدلو یا بندېدلو سره مخ نشي او هر شهري او کلیوال، هر لوستی اونالوستي دواړه له یوبل سره سم په اساني سره دشریعت داحکامو پابندي وکړای شي ،سپوږمیځ تاریخ (نېټې) ته نه دجنترۍ اړتیا شته او نه دبل څه سړي که په ځنګل کې وي او که په کلي کې په وچه کې وي او که په دریاب کې هر چېرته چې وي نو په اسانۍ سره دسپوږمیځو میاشتو او نېټو پته لګولای شي.

(۲) سپوږمیځې میاشتې همېشه په هر موسم کې په ګرزېدو راګرځېدو سره راځي، نو ځکه په هر موسم کې دهر ډول عبادت کولو موقع انسان ته په لاس ورځي.

(۳) دروژې دتړاو حکمت له سپوږمیځو میاشتو سره یو داهم دی چې کله په نیمه دنیا باندې دسوړوالي موسم وي نو په بله نیمایي دنیا کې بیا ګرمي وي ځکه چې دسپوږمۍ میاشتې په بدلون سره راځي نو ځکه که ددنیا دیوې برخې اوسېدونکو څوکاله په ګرمي کې روژه نیولې وي نو څوکاله بیا دوی ته په سوړوالي کې دروژې نیولو وخت

ور کول کيږي او که روژه دلمريځو مياشتو په اعتبار نيوله کيداى نو دتل لپاره به په يو وخت دروژې مياشت واقع کيدله، او دغه خبره به ديو عالمګير مذهب په خلاف وه.

يوه غلط فهمي

ځينى خلګ دا وايي چي مياشت بايد (۲۹) ورځي نه بلکه پوره (۳۰) ورځي واى، نو دغه ارزو داسلام له شعائرو څخه په خلاف کي ده، ځکه چي په موږ باندي درمضان المبارك روژې نيول فرض دي، داچي مياشت (۲۹) ورځي کيږي او که (۳۰) ورځي دهغه کوم تاکلى حد نشته پخپله حضور ﷺ هم پخپله زمانه کي ځيني کلونه (۲۹) روژې نيولې دي.

دريم باب
دروژې دنيت مسئلې

دهر عبادت دسموالي لپاره نيت يو شرط دى، دمشکوة شريف لمړنې حديث شريف (انما الاعمال بالنيات) ددې شاهددى چي دروژې سموالى او صحيح والى په نيت باندي مشروط دى فرض روژه وي او که نفل، دقضا روژه وي او که نذر بغير له نيت څخه صحيح نه ده بې له نيت څخه که ټوله ورځ خوراك اوڅښاك پريښودل شي هم نو روژه ورته نشي ويل کيداى، خو يادونه بايد وشي چي په ژبه سره دنيت دالفاظو ويل ضروري نه دى، بلکه پېشلمى ته پورته کېدل او خوراك کول هم له نيت څخه دي خو په ژبه سره دنيت دالفاظو ويل زيات ښه کار دى.

دروژې په میاشت کې دهري روژې لپاره نیت ضروري دی
درمضان المبارك دهري روژې لپاره نیت کول ضروی دی دیوې روژې نیت دټولو روژو لپاره نه کافي کیږي . (علم الفقه ج۳مخ۱۸)

له شپې څخه نیت کول شرط نه دی

که چا درمضان المبارك دروژې نیت په شپه کې وکړ نو هم فرض اداء شو او که یې دشپې څخه اراده دروژه نیولو نه وه کله چې سهار شو نو بیا یې هم وویل چې زه به نن روژه نه نسم ،وروستو لمر راوختلو او ورځ پیل شوه نو له هغه سره دافکر پیداشو چې دفرضو پریښودل ډېره بده خبره ده او هغه وخت یې دروژې نیت وکړ نو دهغه روژه صحیح شوه، په دې شرط چې له صبح صادق څخه بیا تر دغه وختنه یې روژه ماتونکی کار نه وی کړی.(بهشتی زیور حصه۳ مخ۳)

دنیت کولو اخېري وخت

که انسان خوراك او څښاك نه وي کړی نو دغرمې څخه پوره یو ساعت له مخه کولای شي دروژې نیت وکړي،له صبح صادق (رښتونو سپیدو)څخه بیا دلمر تر لوېدو پوري ،دټول وخت نیمایي ته ((شرعي نصف النهار)) ویل کېږي .دصبح صادق او لمر راختلو تر مېنځ چې کوم وخت وي ،دشرعی نصف النهار او عرفي نصف النهار(زوال) تر مینځ دهغه نیمايي فرق وي دمثال په ډول دصبح صادق اولمر ختلو ترمینځ یو نیم ساعت وخت وو نو تر عر فی نصف النهار پاوکم یو ساعت له مخه به شرعي نصف النهار وي .ددغه وخت اندازه په هر

وخت او هر ځای کې مختلفه وي نوځکه هغه په ساعتونو نشي اندازه کېدای دذکر شوي قانون سره سم باید عمل وشي .
(احسن الفتاوى پاكستاني ج٤مخ٤٣٧)

دنصف النهار (دورځې تر مينځ) پاکلو طريقه

دنصف النهار دپاکلو طریقه داده چې اول دې داوکتل شي چې صبح صادق په څو بجې وي او لمر په څو بجې لوېږي دهغو تر مينځ چې څومره ساعتونه دي دهغو مېنځ دي معلوم کړي نو که يې په اوله برخه کې دننه دروژې نيت وکړ نو روژه يې سمه شوه او که اوله نيمايي پوره تيره شوه يا ترهغې هم څه زيات وخت تېر شو نو بيا روژه نه صحيح کېږي ديوه ساعت قيد پکښې داحتياط په وجه لګول شوی دی . (بهشتي زيور حصه ٣مخ٣)

په زړه کې فکر يا خيال ته نيت ويل کيږي

درمضان المبارك په روژه كې صرف دومره نيت كول هم كافي دی چې نن زما روژه ده يا په شپه کې دافکر وکړي چې سبا زما روژه ده بس په دغه نيت کولو سره هم روژه صحيح کيږی که څه هم داېې په خيال کې نه وي راغلي چې درمضان روژه ده او يا فرضي روژه ده .
(بهشتي زيور حصه ٣مخ٣)

په مطلق نيت سره درمضان المبارك دروژې اداء كيدل

که چا دروژې په ميا شت کې دانيت وکړ چې زه به سبا نفلي روژه نيسم،درمضان المبارك روژه نه نيسم دهغې به بيا بل وخت قضاء

راوړم نو سره له دغه نیته هم دغه روژه نفلي نه ده بلکه درمضان المبارك فرضي روژه ګرزي

(بهشتی زیور حصه ۳ بحواله فتاوی هندیه ج۱ مخ۱۹٤)

په رمضان کي دقضايي روژې دنيت حكم

که له چا څخه درمضان المبارك په تيره مياشت کي روژې قضاشوې وې او لا تر دغه رمضانه يي قضاء راوړي نه وه نو کله چي بيا درمضان مياشت پيل شوه نو هغه پکښي دقضاء دروژې په نيت روژه ونيوله نو سره له دغه نيته هم دغه روژه دقضاء نه بلکه درمضان المبارك فرضي روژه ګرزي دقضاء روژه دي بيا دروژې له مياشتي څخه وروستو ونيسي. (بهشتی زیور حصه ۳ بحواله فتاوی هندیه ج۱ مخ ۱۹٤)

په رمضان المبارك کي دنذري روژې نيول

که يو چانذر منلی وو چي که زما فلانی کار وشو نو زه به دپاك خدایﷻ لپاره دومره روژې نيسم نو بيا وربانديي درمضان مياشت راغله نو هغه پکښي دنذري روژې نيت وکړ او درمضان دروژې نيت يي ونه کړ نو سره له دغه نيته هم دغه روژه دنذر روژه نه بلکه درمضان المبارك فرضي روژه ده ،دنذر روژه دي له رمضان څخه وروستو بيا ونيسي ،لنډه داچي درمضان المبارك په مياشت کي چي په هر نيت باندي روژه ونيوله شي هغه درمضان المبارك روژه ګرزي نه هغه روژه چي هغه يې نيت کړي وي.

(بهشتی زیور حصه ۳ بحواله قدوري مخ٤٥)

ايا دشعبان د (۲۹) نفلي روژه دسپوږمۍ دليدل کېدو په خبره سره فرضي ګرزي؟

که دشعبان (برات)په (۲۹) درمضان المبارك مياشت ونه ليدله شوه نو راتلونکی سهار نفلي روژه هم مه نيسی خوکه داسي وو چي يو چا دجمعې يا شنبې يا بله کومه ورځ دروژې نيولو لپاره مقرره کړې وه او هر وخت به يې په دغه ورځ روژه نيوله او ناڅاپي دغه ورځ دشعبان له (۲۹) سره برابره شوه نو بيا په دغه ورځ روژه نيول بهتره دې که له کوم بل ځای څخه دمياشتي ليدلو خبر راغی نو هغه نفلی روژه فرضي ګرزي او دهغې قضاء به نه راوړي

(بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۳ بحواله شامی ج۲ مخ ۱۱۹)

که دشعبان د (۳۰) ديرشم په شپه دروژې مياشت ونه ليدله شوه نو دديرشم په ورځ بايد تر غرمې پوري څه ونه خوړل شي

که دشعبان (برات)په (۳۰) ديرشمه شپه دروژې مياشت چا داوريځې او يا بل څه په وجه ونه ليدله نو دراتلونکې ورځي تر زوال يو ساعت له مخه پوري دی خوراك او څښاك نه کوي که له کوم بل ځای څخه دسپوږمۍ ليدلو خبر راغی نو دروژې نيت دي وکړي ،او که خبر راونه رسيدو نو بيا دي خوراك او څښاك وکړي.

(بهشتی زیور حصه ۳ مخ بحواله نور الایضاح)

دشک روژ ې حکم

که چا دشك په ورځ (ديرشم دشعبان)خورا ك او څښاك وکړلو او وروستو دامعلومه شوه چي نن درمضان لومړۍ ورځ وه نو په هغه

باندي دالازمه ده چي دهغي ورځي په پاتې برخه کي هيڅ يو داسي شي ته نزدې نشي چي روژه ور باندي ماتيږي او درمضان المبارك له تيريدوڅخه دي سمدستي دهغي روژې قضا راوړي او که يې دشك په ورځ په دې نيت روژه ونيوله چي نن درمضان لومړۍ ورځ ده او بيا ثرګندده شوه چي هغه ورځ دشعبان وه نو هغه روژه هيڅ صحيح نه ده (کتاب الفقه علی مذهب لربعه ج۱ مخ۸۹۶)

دشعبان په (۳۰) که دسپوږمۍ ليدلو شاهد پيدا نشو او چا په دغه ورځ روژه ونيوله نو په هر نيت چي يې نيولې ده هغه روژه يې وشوه که په (۲۹) دشعبان سپوږمۍ ونه ليده شوه نو داخيال مه کوی چي سبا ورځ درمضان المبارك نه ده او زما په ذمه دځلورو کلونو روژې پاته دي نو ځکه زه هغه روژې نسم او يا راباندی نذر شوې روژه پاته ده هغه به ونيسم په دغه ورځ دقضاء کفارې او دنذري کفارې تړولو روژې نيول مکروه دي په دغه ورځ بايد هيڅ روژه ونه نيوله شي خو که بيا چا دقضاء يا نذر روژه نيولې وه او بيا دسپوږمۍ دليدو خبر راورسيدو نو ددغې روژې په نيولو سره درمضان المبارك روژه اداء کيږي او دنذر يا قضاء روژه دي بيا بل وخت ونيسي او که په دغه ورځ کي دسپوږمۍ دليدو خبر را نغي نو بيا هغه روژه وشوه دکومي چي نيت شوی وو. (بهشتی زيور حصه ۳ مخ٤ بحواله شرح وقايه ج۱مخ۳۰)

ايا په يو وار ددېرو روژو نيت کول کافي دی؟

که دروژې نيول په پرله پسې ډول واجب وي نو بيا دټولو لپاره په يو وار نيت کول کافي دی،لکه درمضان المبارك روژې ،دروژې

دکفارې روژې او دظهار دکفارې روژې يعني ترڅو چې دغه پرله پسې والی له مينځه تللی نه وي نو ورسره هغه اول نيت په ځای پاته دی او که دمرض يا سفر پيښېدو په وجه دغه تسلسل له مېنځه ولاړ نو بيا دهرې روژې لپاره له شپې څخه نيت کول ضروري دی همدارنګه که دغه سفر يا مرض پای ته ورسيدو او دروژو پيوستوب واقع شو نو هلته هم دټولو لپاره يو نيت کافي دی.

(کتاب الفقه علی منهب اربعه ج۱ مخ ٨٨٤)

دکومو روژو په نيت کې چې پيوستوب واجب نه وي دهغو دنيت طريقه

که څوك داسي روژې نيسي چې پيوسته نيول يې واجب نه وي لکه درمضان دروژو قضا يا دکفارې روژې نو دهرې روژې لپاره تنها تنها نيت کول ضروري دی دهغو لپاره دلومړۍ روژې نيت کول کافي نه ګرزي. (کتاب الفقه علی منهب لربعة ج۱مخ٨٨٤)

دنيت قاعده

په نفلي روژو نذر معين او درمضان المبارك دروژو نيت له شپې څخه بايد وشي که داسي ونه شو نو سهار تر شرعي نصف النهار پوري لا دروژې نيت کيدای شي او دنورو روژو لپاره له شپې څخه نيت کول ضروری دی. (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٤٦ بحواله رد المختار ج۱ مخ ۱۱٦)

پېشلمی په نيت کې شمېرل کېږي او که نه؟

درمضان المبارك دهرې روژې بايد نيت وشي پېشلمی کول هم يو نيت دی دابېله خبره ده چې که دپېشلمي کولو په وخت يې دروژې نيولو اراده نه وه نو پېشلمی په نيت کې نه ګڼل کېږي که يې دشپې

په اول کې دروژې نيت وکړ بيا يې دلمر راختلو ترمخه دغه بېرته مات کړ نو دادنيت ماتول په هر ډول روژو کې داعتبار وړ دی.
(كتاب الفقه على مذهب اربعة ج۱مخ۸۸۱)

په ژبه سره دنيت اظهار کول ضروري نه دی

په ژبه سره دنيت اظهار کول ضروري نه دی بلکه صرف په زړه کې اراده لرل کافي دی تر دې چې پېشلمي کول هم دنيت پر ځای دريدلای شي ځکه چې پېشلمي خو خلک ددې لپاره کوي چې سبا ورباندې روژه ونيسي خو مګر که دچا عادت داؤ چې په دغه وخت به يې خوراك او څښاك کاؤ او يا کوم بدبخته پېشلمی کاؤ او روژه يې نه نيوله نو دهغو لپاره پېشلمی دنيت په ځای نشي درېدلای.
(علم الفقهَ ج۳ مخ ۱۸)

دناروغ او مسافر دنيت حکم

درمضان المبارك په مياشت کې دناروغ دروژې نيت دمختار مذهب سره سم دروغ جوړ او مقيم په څېر دي په دې معنی چې که ناروغ دروژې په مياشت کې دبلې روژې نيت وکړي نو دهغه نيت داعتبار وړنه دی په هر حالت به دغه درمضان المبارك روژه بلله کېږي. خو که مسافر دروژې په مياشت کې دبلې روژې نيت وکړي نو دهغه نيت معتبر دی او په کوم نيت چې هغه روژه نيولې ده هغه روژه يې وشوه (نفلي روژه وي او که واجب).
(شامي ج۲ مخ۸٦ کتاب الصوم)

دتشریق په ورځو کي (دلوی اختر دمیاشتي په ۱۱-۱۲-۱۳) روژه نیول نه دی روا

که دوږوکي او لوی اختر په ورځو یا دتشریق په ورځو دلوی اختر په (۱۱-۱۲-۱۳) چا دروژې نیت وکړ نو دهغې روژې پوره کول ورباندی ضروري نه دي او دماتولو په صورت کي يې ورباندي نه یو داچي قضا راوړل نشته بلکه ماتول يې واجب دي ځکه چي په دغو ورځو کي روژه نیول مکروه تحریمی دي. (علم الفقه مخ۴۱)

که نیت ونه کړي نو دځان له وږي ساتلو روژه نه جوړيږي

که یو چا ټوله ورځ نه څه وخوړل نه يې څه وڅښل او تر ماښامه همداسي پاته شو مګر په زړه کي يې دروژې اراده نه وه بلکه وږی نه وو يا په کومه بله وجه ورته دخوړلو څښلو وخت او ځای نه وو برابر شوی نو دهغه روژه نه ده شوې او که يې په زړه کي دروژې اراده کړې وه نو بيا روژه ګرزيدای شي. (بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۳)

له نیت کولو څخه وروستو هم تر صبح صادق پوري خوراک کولای شئ

په شریعت کي دروژې وخت له صبح صادق څخه پیل کيږي ترڅو چي دغه وخت راغلی نه وي نو خوراك څښاك او هر څه روادي بعض خلګ دشپې په پیل کي له پېشلمي کولو او دنیت ددعا له ويلو ورستو دافکر کوي چي نور بايد له نیت څخه وروسته هيڅ هم ونه خوړل شي دغه فکر غلط دی ترڅو چي صبح صادق راختلې نه وي نو هرڅه خوړل روادي که نیت يې مخته ترې کړی وي او که نه.
(بهشتی زیور ج ۳ مخ ۳)

دکومو کومو روژو لپاره له شپې څخه نیت کول ضروري دي

درمضان المبارك دقضايي روژو لپاره دنذر غير معين لپاره دكفارې دروژو لپاره،همدارنګه دهغو نفلي روژو دقضا لپاره چې دنيولو پېل يې شوى وي او بيا بېرته فاسده کړله شوې وي له لوېدلو دلمرڅخه بيا تر راختلو دصبح صادق پوري نيت کول ضروري دی له صبح صادق څخه وروستو نيت کول ورته نه کافي کېږي. (علم الفقه ج۳مخ۱۹)

بهتره داده چې په ژبه سره دنيت اظهار وشي

په زړه کې اراده لرل خو دروژې لپاره کافي دی او څه ويل هم ضروري نه دی بلکه چې په زړه کې يې دغه فکر وي چې نن نن زما روژه ده او ټوله ورځ له هغه څه نه ځان ساتي چې ورباندي روژه يا خو ماتيږي يا خرابيږي نو روژه يې وشوه خودا به لا ډيره ښه وي چې په ژبه هم داووايې چې يا الله ﷻ زه به سبا روژه نيسم ،يا دغه عربي الفاظ ووايي (بِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ مِنْ شَهْرِ الرَّمَضَانُ) (بهشتی حصه ۳مخ۳)

وروستو له نيت کولو دروژې ماتول

پوښتنه : يو چا درمضان المبارك په شپه کې دروژې نيت وکړ يا بغير له رمضان څخه يې په شپه يا په ورځ کې دنفلي روژې نيت وکړ نو دغه سړی په ورځ يا شپه کې دڅه عذر په وجه يابې له عذره هغه ماتولای شي اوکه نه؟

جواب : په شپه کې دنيت ماتول په دې ډول امکان لري چې په راتلونکې ورځ کې دخوړلو او څښلو اراده وکړي مګر په ورځ کې چې روژه پيل شوه نو بيا نيت نشي ماتيدای ،درمضان المبارك دروژې

دنیت ماتول که له شپې څخه وو نو بیا وروباندې صرف قضاء لازمېږي او که یې په ورځ کې دنیت په ماتولو سره خوراك او څښاك وکړ نو بیا وروباندې کفاره هم لازمه ده او په نورو روژو کې که دنیت ماتولو اراده له شپې څخه وه نو نه وروباندې قضا شته او نه کفاره او که یې په ورځ کې دروژې دنیت په ماتولو سره خوراك او څښاك وکړ نو بیا قضاء وروباندې لازمه ده،او په هغو روژو کې چې ټاکلی وخت ولري دنیت ماتول بې له عذره روانه دی او په هغو کې چې ټاکلی وخت ونه لري بېله عذره هم نیت ماتول صحیح دی. (امداد الفتاوی مخ۱۷۶)

چاچې دروژې نیت نه وي کړی هغه ته دخوراك کولو حکم څنګه دی؟

پوښتنه : چاچې درمضان المبارك په شپه کې نه داویلې وي چې سبا به روژه نیسم او نه یې داویلي وي چې سبا روژه نه نیسم نو هغه ته په ورځ کې دخوراك کول روادي او که نه؟

جواب : که یې تر زوال له مخه نیت ونه کړ نو دهغه دغه روژه صحیح نه شوه مګر درمضان المبارك داحترام په خاطر ورته خوراك او څښاك روا نه دی او که خوراك څښاك یې وکړل نو بیا وروباندې صرف قضاء لازمه ده. (امداد الفتاوی ج۱مخ ۱۷۳)

څلورم باب

دېښلمې مسئلې او فضائل

دالله ﷻ دقانون هم یو نادر او عجیب جوړښت دی ،له هغه سره دهرڅه خزانې شته،هغه په هر څه باندې په مطلق ډول قادر دی،هغه دخپل

ذات په اړوند فرمایي وَهُوَ يُطْعِمُ وَلَايُطْعَمُ دغه خدایﷻ خلګ مړوي
خودی خوراك ته ضروره نه لري.
دامشهوره خبره ده چې دپاك خدایﷻ رحمت صرف (بهانه)غواړي .
که وګورو نو پېشلمی کول دبندګانو له خپلو مقاصدو څخه دی مګر
څرنګه چي دروژې نسبت دپاك خدایﷻ طرفته دی ،نو هغه په
پېشلمي کي هم دمسلمانانو لپاره اجر او ثواب اینبی دی ،پېشلمی
کول سنت دی په حدیث شریف کي دهغه ډېر فضیلت بیان شوی دی
،حضور اقدسﷺ فرمائلی دي چې دیهودو او نصاراؤ دروژو او زموږ
دروژو تر مېنځ صرف دپېشلمي فرق دی (یعني دوی پېشلمی نه کوي
او موږ پېشلمی کوو)همدارنګه حضور ص فرمایي چي الله ﷻ او
دهغه فرشتې په پېشلمي کونکو باندي رحمت نازلوي که سړی وږی
نه وي او خوراك يې زړه ته نه کېږي هم باید ددغه سنت دپرځای کولو
لپاره یو یا دوه خرماوي وخوري یا صرف داوبو یو سور(غړف)وڅښي
ترڅو په سنتو باندي عمل وشي . دحضورﷺ ارشاد دی چې په
پېشلمي کي برکت دی ،یعني دهغه په سبب دانسان په بدن کي
چستي او قوت پیداکېږي.
ناوخته پېشلمی کول مستحب دی دهغه له ناوختي څخه مطلب دادی
چي ترڅو پوري دصبح صادق دراختلو یقین نه وي پیداشوی تر هغه
پوري باید خوراك څښاك او هر څه وکړل شي او کله چي صبح صادق
ښکاره شي نو بیا باید هر څه پرېښودل شي ،صبح صادق داسي وي
چي کله هغه ښکاره کېږي نو دختیځ داسمان په څنډو یالمنو کي درڼا

لیکه ښکارېږي بیا درنا په دېرېدلو سره تاریکي له منځه ځي بس همدغه ته صبح صادق ویل کېږي.

صاحب کشاف دپېشلمي طریقه په دې ډول لیکلې ده چي ټوله شپه په شپږو برخو وویشئ او دهغوپه اخیرنۍ برخه کې پېشلمی وکړی ،دېبلګي په ډول که دلمر له لوېدلو څخه بیا دصبح صادق تر راختلو پوري ټول (۱۲) ساعته وي نو تاسو په اخېرتیو دوو ساعتونو کي پېشلمی کوی، او په دغو دوو ساعتو نو کي هم ځنډول ښه دي خو دومره ځنډول هم نه چي په روژه کي شك پیدا کړي.

پېشلمی په لغت کي هغه خوراك ته ویل کېږي چي سهار ته نژدې وخوړل شي ،ځني خلګ له تراویح لمانځه څخه وروسته ډېره ډوډۍ خوري او بیا ویده کیږي او ځینی بغیر له پېشلمي روژې نیسی نو ددغو خلګو که څه هم روژه نیول خو صحیح کېږي خو دپېشلمي له اجر او ثواب څخه بې برخي پاته کیږي .روژه نیونکی همېشه باید پېشلمی وکړي ځکه چي په هغه کي خوشحالي،ګټه او مفت ثواب دی مګر داخبره شته چي افراط (تر اصلی حد زیات کول) اوتفریط (تر اصلي حد کموالی) په هر څه کي ضرر رسوونکی دي ،نه باید دومره کم څه وخوړل شي چي په عبادت کولو کي کمزوري راشي او نه دومره باید زیات څه وخوړل شي چي ټوله ورځ مو ورڅخه زړه ابشېږي ځکه چي په حدیث شریف کي دډېرو خوړلو څخه منعه راغلې ده.

دپیشلمي کولو سنت وخت

روژه نیونکي ته دپېشلمي کول دشپې په اخېرنۍ برخه کي تر صبح صادق له مخه سنت او دثواب او برکت باعث دی دشپې له نیمایي څخه وروستو چي هر وخت پېشلمی وکړل شي نو سنت به ورباندي اداء شي مګر بالکل دشپې په اخېر کي پېشلمی کول ډېر بهتر دی که اذان ویونکی دسهار اذان له وخت څخه مخته ووایو نو دپېشلمي په کولو کي تر هغه پوري مانع نه ګرزي ترڅو چي صبح صادق راختلی نه وي، نو تر هغه وخته هرڅه خوړلای شئ .دپېشلمي له پای ته رسېدو وروستو په زړه کي دروژې نیت کول کافي دی خوکه په ژبه سره هم دغه الفاظ ووایي نو ډېره به ښه وي (بِصَوْمِ غَدٍ نَوَيْتُ مِنْ شَهْرِ الرَمَضَانْ) (جواهر الفقه ج۱مخ۲۸۱)

دحضورﷺ په زمانه کي دپېشلمي او سهار په مینځ کي دجلاوالي اندازه

حضرت زید بن ثابت ؓ روایت کوي چي ما دحضور ﷺ سره یو ځای پېشلمی وکاوو بیا حضورﷺ دلمانځه لپاره ولاړ شو، حضرت انس (ؓ) ویلی دي چي ما ورڅخه پوښتنه وکړه چي دپېشملي او اذان تر مینځ څومره وخت وو؟ هغه ؓ را ته وویل دپنځوسو ایتونو دویلو په اندازه .(بخاری شریف ج۱مخ۶۸۹)

دپېشلمي او روژه ماتي لپاره ډول وهل

څرنګه چي دنکاح لپاره او دجنګ داعلان لپاره دډول غږول له حدیثو څخه ثابت دی دغه رنګه یې دسپوږمی لېدو پر وخت دپېشلمي پر.

وخت او دروژه ماتي پر وخت دضرورت په وجه او داعلان په ډول غږول روادی په دې شرط چي دباجې په شان به نه وي.

(فتاوی رحیمیه ج۳ مخ ٤٠ بحواله شامي ج٥ مخ ۳۰۷)

دپیشلمي اوروژه ماتي لپاره دګینتی، یانغاري وهل اویا ډزي کول

درمضان المبارك په میاشت کي که په جامع مسجد کي دپیشلمي او روژه ماتي دسم وخت ښودلو لپاره دیوډول باجي بندوبست وشي ترڅو دهغې په ذریعه ټول مسلمان له پیشلمي اوروژه ماتي څخه خبر کړي ایا دا روا دي که نه ؟ ځیني خلګ دغه دنا قوسو اودهندوانو سره دمشابهت اودنبي کریمﷺ اوصحابه کرامو په زمانو کي دنه ثبوت په وجه بدبولي ، آیا داصحیح دي اوکه نه ؟

ځواب : دریا غږول فقهاؤ روا بللې ده چي دپیشملي او روژه ماتي پروخت يې هم په غږولو کي څه بدي نشته ، مګر دریا به په مسجد کي دننه نه ښودل کیږي ، اوله ناقوسو او نورو سره هغه ځکه مشابه نشو بللي چي هغه خلګ دغې داعلان دخصوصیت په وجه عبادت بولي خو دلته پکښي داخبره نشته اودخیر القرون په زمانو کي دهغه بیلګه دنکاح پر وخت دریا وهل دي له دې څخه هم هدف دیوعبادت دمتحقق کیدلو ښکارندويې ده ، اوله هغې څخه هم هدف دیوطاقت دمستحقق کېدلو اعلان دی اوکه درباندي ژور فکر وشي نو دډول دمکروه والي په مقابل کي دخلګو ضرورت ډیر زیات دی.

(امداد الفتاوی ۲ج ۱۰۱ ص).

دپیشلمي دسنت اداء کولو لپاره دپان خوړل

دپیشلمي خوړل سنت دي که سړی وږي نه ؤ اوخوراك يې نه کولو نو کم ترکمه دوه یا درې خور ماګاني ، اویا بل شي دي لږ یا ډیر وخوري اوکه هغسي هم نشو کیداي نوخالصي اوبه دي وڅښي ، که یوچا پیشلمي ونه کړاوکله چي راپورته شو نوصرف یوپان يې وخوړلو نوهم ورته دپیشملي ثواب ملاوشو (بهشتی زیور ۳ حصه ۱۴ مخ بحواله نسایي شریف ۲۰۵ مخ)

پیشلمی بالکل دسهار په وخت هم مه کوئ

په پیشلمي کي چي څو پوري کیدای شي باید سهار ته نزدي کړل شي لیکن دومره هم نه چي دسهار کېدو په وجه په روژه کي شك پیدا شي (بهشتی زیور ۳ حصه ۱۴ مخ ، بحواله نسایی شریف ۲۰۵ مخ)

دپیشلمي وختي کول اوپان دشپې تراخیره پوري خوړل

که یو چاپیشلمي دشپي په اوله نیمايې کي وکړ ، اوله هغه څخه وروستويې پان یا نسوار یا چاى دصبح صادق ترنزدې کیدلو پوري خوړلو کله چي ترصبح صادق پوري کم وخت لاپاتي ؤ هغه په خوله اوبه وګرزولې نوهم هغه ثواب يې ترلاسه کړ کوم چي دشپې په اخبر کي دپېشلمي په کولو سره ؤ. (بهشتی زیور ۱ حصه ۱۴ مخ بحواله شرح البدایة ۱ج ۲۰۵ مخ)

تراذان لږه مخه خوراك اوڅښاك کول

پوښتنه :زید وایې چي ډیرناخبره خلګ چي دپېشلمي په وخت نه پوهيږي ترڅو چي اذان يې نه وي اوربدلی خوراك اوڅښاك کوي په دې اړوند سمه مسئله څه ده ؟

جواب : له صبح صادق څخه وروستو خوراك كول منعه دی ، كه اذان شوی وي اوكه نه وي ، په دې اړوند ډير احتياط پكار دی .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۴۵ مخ بحواله ردالمختار ۱ج ۱۱۰ مخ)

دغلطي په وجه له سهاركيدلو وروسته پېشلمی كول

كه يوڅوك ناوخته له خُوبه راويښ شو اودافكر يې وكړ چي شپه لاپاته ده نوځكه يې پېشلمی وكړ بيا وروستو ورته دامعلومه شوه چي له سهاركېدلو څخه وروستو يې پيشلمی كړی دی ،نودهغه سړي روژه فاسده شوې ده ، هغه به ددغي روژې قضاء راوړي خوكفاره وربانديي لازمه نه ده همدارنگه به په پاته وخت كي هم ترمابنامه پوري دروژه لرونكو په څېر اوسي اوڅه به نه خوري همدارنگه كه داسي وشول چي يوچا په دې گمان چي لمر لوېدلی دي روژه ماته كړه خوبيا وليدل شو چي لمر نه دی لوېدلی نوپه دغه سړي باندي هم قضاء ددغې روژې لازمه ده ، خوكفاره وربانديي نشته ، اوبيا هم ورته دخوراك كول ترهغه روانه دي ترڅو پوره مابنام نشي.
(بهشتی زيور ۳ حصه ۱۴ مخ بحواله شرح البدايه ۱ج ۲۰۵ مخ).

داذان پروخت په خوله كي دپاتي گولې تيرول

پوښتنه : يوچا داذان په وخت كي پيشلمی كولو ، كله چي اذان پيل شو نوهغه دنور څه خوړل بس كړل خوپه خوله كي يې يوه يا دوه گولې ډوډۍ پاتي وه په هغې پسي يې اوبه وڅښلې اوتېره يې كړه ، نو روژه يې سمه ده اوكه قضاء وربانديي لازمه ده ؟

ځواب: که غالب گمان داؤ چې له صبح صادق څخه وروستو اذان پيل شو ، نودغه روژه فاسده شوه ، اوکه ترشك لاندي حالت ؤ نوهغه وخت خوړل څښل مکروه دی مگر روژه يې روغه ده.
(احسن الفتاوی ۴ج ۴۳۲ مخ)

بې پيشلمې روژه

پوښتنه : بې پېشلمي روژه نيول صحيح دی اوکنه ؟
جواب : دروژې لپاره پېشلمی کول مستحب دی ، نوبې له پېشلمي هم روژه صحيح کېدای شي.
(فتاوی دارالعلوم ۴ج ۴۹۶ مخ)

که دپېشلمي کولو لپاره څوك هم راوينښ نشول اوتوله کورنۍ ويده وه نوبغير له پېشلمي دي روژه ونيسي ، دپېشلمي په پاته کېدلو سره دروژې نه نيول کم همتي اولويه گناه ده . (بهشتی زيور ۳ حصه ۱۴ مخ)

دوخت ختميدلو په حالت کې دپېشلمي کول

که وخت دومره کم شو چې دصبح صادق دراختلو شك راپورته شو . نوبيا دهرشي خوړل مکروه دي ، که چا په دغه وخت کي څه وخوړل نوبد يې وکړل اوگناه يې وکړه وروستو له هغه که دامعلومه شوه چې هغه وخت په سهار کې داخل ؤ نوبيا قضاء وربانديې لازمه ده ، اوکه هيڅ هم معلومات ونشو اوشك همداسې شك پاته شو نوبيا وربانديې قضا واجب نه ده مگر احتياط په دې کي دی چې دهغې قضاء راوړي
(بهشتی زيور ۳ حصه ۱۴ مخ بحواله شرح البداية ۱ ج ۲۰۵ مخ)

له پېشلمي وروستو له مېرمنې سره يوځای والی

پوښتنه : درمضان المبارك په مياشت کې دپېشلمي څخه وروستو له مېرمنې سره جماع کول (يوځای کېدل) څنګه دي ، اوله هغه څخه وروستو دغسل کولو وخت ترکومه پورې دی ؟
جواب : په رمضان المبارك کې که دپېشلمي څخه وروسته سهار کېدلو ته وخت پاته وو نوبيا جماع کول صحيح دي غرض داچې سړی بايد دسهار ترپيل کېدلو له مخه له جماع څخه ځان فارغ کړی ، اوغسل که بيا وروستو وي هم روژې ته تاوان نه رسوي .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۶ مخ)

له سهارکېدلو وروستو په خوله اوبه ګرزول

پوښتنه : که يوچا پېشلمی وکړ اوپه خوله يې اوبۀ ونه ګرزولې اوويده شو ، نودا دروژې لپاره تاوان لري اوکنه ؟
جواب : که هغه دغاښونو ترمينځ پاته شوي شيان ديوې چنې (نخود) په اندازه تېر شو ، نو روژه ورباندې ماته ده او ددغې روژې هم ورباندې قضاء لازمه ده خوکفاره ورباندې نشته ، اوکه تردغې اندازې کم ؤ نوبيا ورباندې روژه نه فاسدېږي دروژې دفاسدېدلو له وجې بايد مخته ترويده کېدلو خوله ، ښه پريمنځل شي .
(احسن الفتاوی پاکستاني ۴ج ۴۴۳ مخ)

دروژې په مياشت کې دسهار په جماعت با ندې تلوار کول

پوښتنه : درمضان المبارك په مياشت کې که دپېشلمي څخه وروستو ددې احتمال موجود ؤ چې که پر يوزم نودسهار دلمانځه

لپاره به راپورته نشم ، نوپه اول دوخت کي لمونځ کول څنګه دي ؟
اوپه دې وجه چي له ډېرو خلګو څخه جماعت پاته کېږي اوآن چي لمونځ هم ورڅخه قضاء کېږي نوپه اول دوخت کي اذان کول اوجماعت کول څرنګه دي ؟

ځواب : حامدا ومصليا ٭ درمضان المبارك په مياشت كي كه دسهار دلمانځه لپاره لمونځ كونكي راټولېدل ، او دابيره وه چي كه پخواني دسهار دلمانځه تروخته پوري وځنډول شي نويا به له خلګو څخه جماعت پاته شي اويا به ورنه لمونځ قضاء شي ، نوبيا په اول دوخت كي دلمانځه كول بهتر دی . (فتاوی محمودیه ۱ج ۱۶۲ مخ).

پنځم باب

په کومو شيانو چي روژه نه ماتېږي

په روژه كي بعض داسي شيان دي چي نه خو وربانديې روژه ماتېږي ، اونه وربانديې مكروه كيږي ، دغه خبري بايد په يا دوساتلي شي ، ځيني خلګ له خپله عقله اوفكره داوايې چي په دې سره مي روژه ماته شوه ، نوبيا په قصد سره خوراك اوڅښاك اونورڅه كوي ، اوحال دادی چي په دغه صورت كي مسئله داده چي كه په مسئله باندي له پوهېدلو سره يې په هېره خوراك اوڅښاك وكړ اوبيا يې په قصد سره جماع وكړه نو كفاره وربانديې هم لازمه ده ، اوكه يې په قصد سره صرف خوراك اوڅښاك وكړ نوصرف قضا وربانديې لازمه ده .

(بهشتی زیور ۱۱ حصه ۱۰۴ مخ)

په هېره سره خوراک اوجماع کول

که چا په هېره سره په روژه کي څه وخوړل اويا يې له مېرمني سره جماع وکړه ، نو روژه يې نه ده ماته شوې که پوره خوراك يې کړي وي هم اوکه څوځو واره يې خوراك کړي وي نوهم روژه يې پخپل ځای ده .

(بهشتی زیور ۳ حصه ۱۴ مخ بحواله قدوري ۴۵ مخ).

دروغ اوکمزوري په مينځ کي دهېريدلو فرق

که يوچاپه هيره سره خوراك کوي نوهغه بايد وکتل شي که دومره قدرت اوتوان يې لاره چي له روژې نيولو څخه ډېر نه په تکليف کېدلو نوروژه وريا دول واجب دی ، اوکه داسي يوځوك ؤ چي دروژې نيولو توان يي نه وو اوله روژې نيولو څخه په تکليف کېدو نوهغه ته دې روژه نه وريادوي ، هرڅه چي خوري هغه دي وخوري

(عالمگېري ۱ج ۲۰۲ مخ)

په روژه کي درانجو، تيلو اوعطرو لگول

دروژې په حالت کي په ورځ کي درانجو لگول ، تېلو استعمالول اوعطربويول صحيح دي ، دهغو په وجه په روژه کي څه تاوان نه رامينځته کېږي هروخت چي وي ، همدارنگه که درانجو دلگولو څخه وروستو دلاړيو يا دپوزي له غلاظت سره دهغو اثر وليدل شو نو هم ورباندي روژه نه ماتېږي اونه ورباندي مکروه کېږي.

(بهشتی زیور ۳ حصه ۱۰ مخ بحواله قدوري ۴۵ مخ)

دناپاکۍ په حالت کې روژه نیول

که څوك په خوب کې احتلام شو (شیطان خطا کړ) اوبې له دې چې غسل وکړي روژه یې ونیوله نوپه دې سره دهغه روژه نه فاسدیږي (دناپاکي ګناه بیله ده. (علم الفقه ۳ج ۳۱ مخ)

دروژې په حالت کې حلق ته دمچ ، مچر ، ګر د اونورو ننوتل

که دروژې په حالت کې په حلق کي مچ ننوتلو یا پکی ګرد ننوتلو ، نو روژه وربانديي نه ده ماته شوې ، خوکه په قصد سره داسي کول کېدل نوبیا روژه ماته ده (بهشتی زیور ۲حصه ۱۱ مخ بحواله عالمګیری ۱ج ۲۹۸ مخ)

په کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه (۲ج) (۹۲۲) مخ کي دامسئله په تفصیل سره راوړله شوې ده چي دلاري ګرد ، داوړو ګرد ، مچ ، مچر اوداسي نور شیان که دروژې په حالت کي په حلق ننوزي اومعدې ته ورسیږي نو روژه وربانديي نه خرابیږي ، ځکه چي له دغو شیانوڅخه دځان ساتل ډېر مشکل دی ، همدارنګه دغه حکم دهغه چالپاره هم دی چي دځه شي دوړلو اویا ددرملودټکولو خوند یې په حلق کي محسوس شي. (عالمګیري پاکستاني ۲ج ۱۷ مخ)

خولې ته داوښکو راتلل دروژې په حالت کي

که دروژتي په خوله کي یویاڅوه څاڅکي اوښکي داخلي شوې ، نو روژه وربانديي نه فاسدیږي ، اوکه دومره زیاتي شوي چي دهغو تریووالی په خوله کي معلومېدو اویا تردې هم زیاتي راټولي شوې اوبیا هغه تېري کړای شوي نو روژه وربانديي خرابیږي ، په همدغه ډول دروژتي دمخ په خولو سره هم روژه ماتیږي. (فتاوی عالمګیری اردو پاکستانی ۲ج ۱۷ مخ).

دروژې په حالت کي دپوزې دويني جاري کيدل

پوښتنه: که دروژې په حالت کي دچا دپوزې وينه روانه شوه تردې چي اثر يې په لاړيو کي هم ترسترګو شو آيا روژه يې روغه بلله کيږي ؟
جواب : په دې شرط چي دغه وينه نس ته ولاړه نشي نو ترهغه دروژې لپاره هيڅ ضرر نه لري . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۰۶ مخ)

دروژې په حالت کي ګل بويول

دعطرو ، ګلابو اوګل نرګس په بويولو سره ، اوپه جنابت (ناپاکي) کي دډير وخت اوان دتولي ورځي په تيرولو سره روژه نه ماتيږي .
(کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ۱ج ۹۱۹ مخ)

دروژې په حالت کي په غوږ کي تيل يا اوبه اچول

دروژې په حالت کي که په غوږ باندي پخپله اوپه ننوزي اوکه يې خوك پکښي واچوي نو روژه ورباندي نه ماتيږي ، خودتيلو په غوږ کي اچولو سره په دې شرط روژه ماتيږي چي تيل لرمانه ته داخل شي.
(علم الفقه ۳ج ۳۲ مخ)

په پوزه کي داوبو ننوتل

پوښتنه : له روژتي څخه په داسي حالت کي چي روژه ورته يا دوه په غلطي اويا په بې پروايي سره په پوزه کي اوبه ننوتلي نو دماغ پوري اوبه ورسيدلې اويا خوتر دماغ پوري ونه رسېدې مګر ددماغ په طرف کي دومره ليرې ولاړې چي هغه ورته په تکليف شي ، نوپه شريعت کي دهغه حکم څه دی ؟

ځواب : دپوزې په لاره له اوبورسېدلو څخه روژه نه ماتېږي ، خو كه له پوزې څخه حلق ته اوبه ورغلې نوبيا ورباندې روژه ماتېږي دماغ ته داوبو په رسېدلو په شكل كې شك موجود دې نوځيرنه يې وكړئ.
(امداد الفتاوى ١ ج ١٧٢ مخ : ٢ ج ١٢٩ مخ)

په سترګو كې درمل اچول

دانساني بدن له ورو سوريو څخه چې كوم تېل دانسان وجود ته ننوزي نوپه هغو باندې روژه نه ماتېږي ، همدارنګه كه چا په اوبو باندې غسل وكړ ولمبيدلو اوپه وجود كې يې سوړوالى محسوس شو نو روژه يې ورباندې نه ماتيږي ، دغه رنګه په سترګو كې ددوا په څڅولو سره هم روژه نه ماتېږي كه څه هم ددواخوند په حلق كې محسوس شي.
(عالمګيرى پاكستاني ٢ ج ١٨ مخ)

له خولې پرېمنځلو څخه وروستو په خوله كې داوبو داثراتو پاته كېدل

هغه وخت چې سړى په خوله اوبه وګرځوي اولوندوالي په خوله كې پاته شي نودهغه په تېرولو سره روژه په دې شرط نه ماتېږي چې وروستو له خولې پريمينځلو يو يا دوه واره لاړيه تو كړې شي ، ځكه چې له خولې پريمنځلو وروستو حتما څه اوبه په خوله كې پاته كيږي خو ، له يو يا دوه وار ه توكلو وروستو بيااوبه نه پاتې كيږي ، البته په لږ لوندوالي سره روژه نه ماتيږي اودغه لوندوالى دروژې لپاره ضروري نه دي.
(علم الفقه ٣ ج ٣٢ مخ)

پوزه دحلق په لوري سوږ وهل

که يوچا دروژې په حال کې پوزه په دومره زور سره دحلق په لوري سوږ وهله چي غلاظت يي حلق ته ولاړ نو روژه وربانديې نه ماتيږي همدارنګه دخولې څخه په بهېدونکو لاړيو هم روژه نه ماتيږي.
(بهشتی زیور ۳ حصه ۱۲ مخ بحواله عالمګیري ۱ ج ۲۷۸ مخ)

دغړېدلو په وخت شوندان په لاړيو لنديدل

که دغړېدلو په وخت يا کوم بل وخت دچا شونډان په لاړيو لانده شي اوبيا هغه لاړي تېري کړي ، نودضروت په وجه روژه وربانديې نه فاسديږي ، همدارنګه که له خولې څخه ترڅه ځايه وبهېدلې خو له لاړيو څخه جلانشوي نوبيا يې بيرته راوګرځولي اوتېري يې کړې نو روژه وربانديې نه ده ماته شوې ځکه چي دهغو بهر ته راوتل پوره شوي نه دي ، اوکه دخولې له لاړيو څخه جلاشوې نوبيا يې حکم بدل دی (يعني روژه وربانديې ماتېږي) (فتاوی عالمګيري پاکستاني اردو ۲ج ۱۷ مخ)

په روژه کي دلاړيو تيرول

که دروژې په حانت کي چا په خوله کي راټولي شوې لاړي تېري کړې اويا يې دغاښونو ترمينځ کوم پاتي شوی شی تېر کړ ، نودهغه روژې ته هيڅ تاوان نه رسوي ، که قصدا يې همداسي وکړل نوهم روژه يې روغه ده ، مګر که دهغه په غاښونو کي پاتې شي اندازه دومره وه چي په عام ډول ورته زيات ويل کېدل نوبيا که څه هم بي ارادې داسي شوي وي نو روژه وربانديې ماتيږي.
(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ۱ج ۹۲۰ مخ)

دغاښونو په خلالولو (ټومبلو) له خولې څخه دڅه شي تېرېدل

که دچا په غاښونو کي دغوښي يوه ټوټه يا دخوراك کوم بل شي بند ؤ هغه دغاښوټومبلو پروخت تېر شو مګر هغه له خولې څخه بهر نه ؤراايستل شوي نوبايد وکتل شي چي که ترچڼي کم ؤ نو روژه ورباندي نه ماتيږي ، اوکه ديوې چڼي په اندازه يا تردې زيات ؤ نو روژه ورباندي ماته ده اوکه يوځل له خولې څخه راايستل شوی ؤ اوبيا بېرته خوړل شوی اوتېرشوی ؤ نوبيا په هر حالت ورباندي روژه ماتېږي ، که ترچڼي کم وي اوکه ترچڼي زيات وي .

(بهشتی زيور ۳ حصه ۱۱ مخ بحواله عالمګيری ۱ج ۲۰۸ مخ)

په رمضان المبارک کي خوب کونکي له راپورته کېدلو سره سم دغاښونو وينه وليده

پوښتنه : درمضان غرمه وه ، يوڅوك ويده شو ، کله چي راپورته شو نو ويې ليدل چي غاښونه يېويني شوي دي دايقيني نه وو چي دخوب پر وخت به لاړي تېري وي ، نو دروژې حکم څه دی؟

جواب : په دغه صورت کي روژه روغه اوپه خپل حال پاته ده .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۱۳ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۳۴ مخ)

له وينو سره ګډې لاړې تېرول

که په خوله کي وينه راووتله اوبيا له لاړيو سره ګډه تېره کړله شوه نو روژه ورباندي ماته شوه خوکه وينه ترلاړيو کمه وه او دويني خوند په حلق کي نه معلومېدلو ، نوبيا ورباندي روژه نه ماتېږي .

(بهشتی زيور ۳ حصه ۱۳ مخ)

دپان دسوروالي تېرول

پوښتنه : یوچا له پیشلمي څخه وروستو پان وخوړلو ، کله چي ورځ پیل شوه نودهغه سوروالی په لاړیو کي موجود ؤ ، ایا ددغو لاړیو په تېرولو سره روژه ماتېږي اوکه نه ؟ همدارنگه په داسي حال کي چي په خوله یې هم له پان خوړلو روستو اوبه گرزولې وي دهغه حکم څرنگه دی ؟ کله له خولې پریمنځلو وروستو هم نرم سوروالی په لاړیو کي ترسترگوکېږي چي له مینځه وړل یې ډېر مشکل دی ، نو په دې اړوند دشریعت حکم څه دی ؟

ځواب :دبهرني رنگ په لاړیو کي راتلل روژه ماتوي ، مگر پان چي له سهار کېدلو څخه له مخه خوړل شوی دی اودهغه هیڅ یوڅه په خوله کي پاته نه دي اوخوله یې پریمنځلې ده ، نوبیا که په ورځ کي دلاړیو سوروالی ولیدل شو اوبیا هغه لاړې تېرى کړلي شوې نو ورته دروژې دفاسدونکو حکم نشي ورکول کېدای ، نرمي سرې لاړي روژه نه ماتوي .

لیکن احتیاط ضروري دی اوترڅو چي کیدای شی نوباید دسوروالی اثر پرې نه ښودل شي ، خوله باید ښه پریمنځله شي ، اوکه چا په ماتېدو دروژې کي شك لاره ، نوهغه دي قضاء راوړي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۴۱ ۱۴۲ مخ)

یوڅوك په خوب ویده شو اوپان یې همداسي په خوله کي پاته شو

پوښتنه : څو خلکو دروژې اراده لرله ، له پېشلمي وروستو دپان له خوړلو سره سم ویده شول ، کله چي سهار راپورته شول نودچا په

خوله كي پان تول موجود ۇ ، دچا په خوله كي ديوې چني برابر اودچا په خوله كي هيڅ هم موجود نه ۇ ، نو په دغه صورت كي دچا ، چا روژه سمه ده اوپه اړوند يې شرعي حكم څه دي ؟

ځواب : كه چا دويده كېدلو په وخت كي پان په خوله كي واچولو اوهمداسي پسي ويده شو ، پان ترسهاره پوري دهغه په خوله كي ۇ ، نو روژه يې ماته ده اوهغه څوك چي له پان څخه يې هيڅ په خوله كي پاته نه دي نومعلومه ده چي تېر كړى يې دى اوداسي به بلل كيږي چي وروستو له سهار كېدلو تېر شوى دى اودچا په خوله كي چي اچول شوى پان تول موجود دى نوهم غالب گمان دادى چي دهغه لاړې به تېري شوې وي ځكه چي دحكيمانو اوډاكټرانو داخبره ورباندي دليل دى چي هغوى د« اصل السوس » اوداسي نورو درملو په داسي وخت كي په خوله كي داچولو سپارښتنه كوي چي ناروغ پرېوزي ، نو كه ددغه درمل لاړې نس ته نه ځي نوبيايې فائده څه ده ، نوكله چي تېرېدل ثابت شو نوبيا په خوب كي دخوراك په كولو سره صرف قضا واجبيږي اوكه يې له ويده كيدلو څخه مخته په خوله اوبه ونه لغړولې اويا په خوله كي ديوچنې اويا ترهغې زيات څه پاته شول نوقضايې واجب ده ، اوكه ترديې كم ۇ نوبيا روژه ورباندي نه فاسديږي .

(امداد الفتاوى ١ج ١٧٢ مخ)

دكوچنيو ډبرو يا شگو تېرېدل

پوښتنه : كه دچا په خوله كي شگي ولوېدلې اوبيا يې واپس توكړې او وروستو يې لاړې تېري كړې ، وروستو په غاښو كي معلومه شوه چي شگه پاته ده نو په هغې باندي روژه ماته شوه اوكه نه ؟

جواب: په دغه صورت کې روژه نه ده ماته شوې.
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۰۹ بحواله ردالمحتار ۶ج ۱۳۴ مخ)

دمصنوعي (جوړشوي) غاښ حکم

پوښتنه: که دچا په خوله کې دتل لپاره مصنوعي غاښ موجود ؤ چې نه یې بوی لرلو اونه یې خوند، ایا دروژې په حالت کې ددغه غاښ په خوله کې ساتل روژه مکروه کوي اوکه نه؟

ځواب: روژه ورباندې نه مکروه کېږي. (امداد الفتاوی جدید ترتیب ۲ج ۱۴۲)

د(پائیریا) مرض په وجه په خوله کې دنونو راتلل

پوښتنه: دپائیریا دمرض په وجه له وریو څخه نوونه راځي، نوهغه له لاړیو سره تېرول روژه ماتوي اوکنه؟ داراته وښایئ چې هغه څه چې په خوله کې پیداکېږي که په قصد اویاخطا له لاړیو تېر شي نوحکم یې څه دی؟ اوکوم شي چې له بهر نه په خوله کې اچول کېږي دمثال په ډول دویدیدلو پر وخت یوچا پان په خوله کې واچول بیا دراپورته کېدلو تروخته په خوله کې ؤ نوآیا ددغو دوو ترمینځ فرق شته اوکنه؟

ځواب: دپائیریا دمرض نوونه دپان په ټولو کړل شوو لاړیو باندې قیاس کول اودهغه دروژې له فاسدونکو څخه بلل صحیح نه دی، پان له بهر څخه خولې ته اچول کېږي اودهغه په وجه داټولې شوې لاړې په عادي لاړیو باندې غالبیږي، اودپائیریا دمرض نوونه داسې نه دي، هغه یو ځانګړی مرض دی چې نونه دننه په خوله کې پیداکیږي اوترې ځان ساتل تروس لاندې کارنه دي همدا رنګه دنوو

اندازه يې هم لږ وي اولاړيه ورباندي زياتي وي نوځکه بايد دروژي له فاسدونکو ونه بلل شي.

(فتاوی رحیمیه ۳ج ۱۰۹ مخ بحواله عالمگیری ۲ج ۱۳۱ مخ)

يوچا په پيشلمي دومره خوراك وکړ چي په ورځ کي يې ټيغونه راختل اوله هغوسره اوبه خولې ته راتلې نو له هغو څخه په روژه کي څه تاوان نه پيښيږي. (فتاوی رشیدیه کامل ۳۷۱ مخ)

دويني درولو لپاره ددرملو استعمالول

پوښتنه: که له وريو څخه وينه اوداسي نورڅه راتلل نو په هغه حالت کي دداسي درملو اوموادو کارول روا دي اوکنه چي وينه ورباندي ودرول شي؟

جواب: دغه کار روا دی، خوبايد دهغوله کارولووروسته سمدستي خوله ښه ووينځله شي ترڅو يې اثرات ترلړمانه ونه رسيږي، اوکه وينه درونکي شيان داسي وي چي عمومانس ته نه تېريږي نوهم ځان ورنه ساتل ښه دي، ځکه چي بهر حال مکروه تنزيهي خو دی، که ښه په احتياط سره هغه درمل په خوله کي واچوئ اوبيا ورته غاښونه پاك پريمنځي ترڅو نس ته څه شي ولاړ نشي نوبيا مکروه تحريمي نه دی، خلاف اولی يعني مکروه تنزيهي خو ضرور دی.

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۰۴ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۵۲ مخ)

په مسواک اوسکرو باندي دغاښونو پريمنځل

وړه کړي شوې سکروټه اودغاښونو دوا دواړه په غاښونو پوري موښل دروژي په حالت کي مکروه دي، اوکه ورڅخه يوڅه هم تېر

شي نو روژه ورباندي ماتېږي ، اوپه مسواك باندي وينځل صحيح دى ، كه وچ مسوا ك وي اوكه تازه ، دنيم مسواك كه همدا اوس داپرې كړى شوى هم وي اودهغه تريخوالى په خوله كي معلومېږي هم لا روژه ورباندي نه مكروه كېږي .

(بهشتي زيور ۳حصه ۱۳ مخ بحواله مراقي الفلاح ۲۱۰ مخ)

دمسواک ديوکوچني شي تېريدل

پوښتنه : دمسواك دوهلو پر وخت دهغه يوكوچنى لرگى ، پوستكي يابل څه تېر شو اودكوشش كولو باوجود بېرته راونه ايستل شو ، ايا روژه ورباندي فاسديږي ؟

ځواب :په غاښو كي بند دخوراك پاتي شوني كه دچني تر اندازې كم ؤ اوتېر شو ، نو روژه ورباندي نه ماتېږي ، وجه يې داده چي له هغه نه دځان ساتل مشكل دى ، نوله دې ځخه معلومه شوه چي دمسواك په ذرو هم روژه نه ماتيږي .

(احسن الفتاوى ۴ج ۴۳۵ مخ)

دتمباکو په سوځول شوې پانيه دغاښونو وينځل

پوښتنه : ځيني مېرمني دتمباكو پاڼې سوځي اوبيا يې په ايره يا له اوبو يا نورو سره په گډيدن باندي درمضان المبارك په مياشت كي غاښونه مينځي ، دهغو دغه كار څنگه دى ؟

جواب : كه غاښونه په موښلو سره يريمنځل شي اولړمانه ته يې هيڅ اثر ونه رسيږي نوبيا روژې ته تاوان نه رسوي.

(فتاوى دارالعلوم ۴ج ۴۰۹ مخ)

دغاښو پريمنځلو ددوا ، او پوډرو کارول

حنفي فقهاؤ دروژې په حالت کې دمسواك وهلو اجازه کړېده که څه هم دوچ لرګې وي چې پکښې يوډول خوند موجود وي ، مګر دغاښو دخاصې دوا اوپوډرو (ټوت پېسټ يا ټوت پاوډر) کارول له هغه څخه بېل دي ، په دغو کې ډېر تيز خوند موجود دی ، په هغو باندې نه د مسواك اطلاق کېږي اونه ورباندې دمسواك دسنت په ځای کولو ضرورت شته ، نوځکه بغير له سخته عذره دهغو کارول له مکروه والي خالي نه دي ، خوکه عذر موجود ؤ نوبيا يې کارولای شي.
(جديد فقهي مسائل ١ج ١٠٢ مخ)

په روژه کې قی وهل

پوښتنه : په قی وهلو سره روژه ماتېږي اوکه نه ؟
جواب : که په ډکه خوله سره ئي قی وواهو او ورنه يې ديوې چنې په اندازه يا تردې زيات دېوهاوي باوجود قصدا تېر کړ نو روژه يې ماته شوه قضاء ورباندې فرض ده او کفاره ورباندې نشته اوکه يې په خپله رضا اواراده په ډکه خوله سره قي وکړ نوبهر حال ورباندې روژه ماته ده که څه هم واپس يې نه وي تېر کړي اوکه قی په ډکه خوله سره نه ؤ نوبيا ورباندې روژه نه ماتېږي. (احسن الفتاوی ۴ج ۴۳۳ مخ)

په قصدقي وهل او څه بېرته واپس تيرول

که يو چا په قصد سره قي وکړ نو که خوله ورڅخه ډکه نشوه نو روژه ورباندې نه ماتېږي همدارنګه هغه قی چې قصدا وکړل شي اوخوله

[illegible] که بې اختیاري سره تیر شي نو روژه وربانديې نه [illegible] (... احکام ... ۲ ج ۳۲ مخ)

په غیر ارادي دول قی وهل

[illegible]و چا ته بغیر له خپله اختیاره قی ورغی نو روژه یې وربانديې نه ماتیږي هغه که کم وي اوکه زیات خو که چا په قصد سره قی وکړ اوخوله ورنه ډکه شوه نو روژه یې ماته شوه ، اوکه تردې کم ؤ نو په قصدي قی هم روژه نه ماتیږي ، همدارنګه که لږ قی انسان ته ورغي او واپس پخپله تیرشو نو هغه روژه پرې نه ماتیږي اوکه په قصد سره تېر کړل شي نوبیا وربانديې روژه ماتېږي .
(بهشتی زیور ۳حصه ۱۲ مخ بحواله فتاوی هندیه ۱ج ۲۰۲ مخ)

له قی وهلو وروستو په قصد سره خوراک کول

که یوچا له قي وهلو وروستو دافکر وکړ چې روژه یې ماته شوه ، اوبیا یې په قصد سره خوراك وکړ او روژه یې ختمه کړه ، نوقضاء وربانديې واجب ده ، اوکفاره وربانديې نشته . (بهشتی زیور ۳ج ۱۳ مخ بحواله عالمگیری ۱ج ۲۰۴ مخ)

دروژې په حالت کې په سر کې دتیلو جذب کیدل اوپه مشترکه برخه کې دوج شي داخلول

که چیرې یوچا په سر تیل واچول یا یې رانجه ولګول یا سرې دخپلې مشترکې برخې په سورې کې کوم وچ شي داخل کړ چې سر یې په بهر ؤ اویا یې پکښې لوند شي داخل کړ اوهغه دحقنې (ددبرې دننه برخه) ترځایه ونه رسېدو ، نوځرنګه چې هغه دبدن داخلي برخې ته نه دی

رسيدلي نوځکه وروباندي روژه نه فاسديږي اونه قضاء اوكفاره پرې لازميږي اوكه سرې په خپله دبره كي وچ شيان لكه كپا ، څيره اوداسي نور داخل كړل اوټول پكښي پټ شو ، اويا يې پكښي لوند شي ننيستلو اودحقنې «ددُبُرې دننه برخه» ترځايه ورسېدلو نو روژه وروباندي فاسديږي اوصرف قضا لازميږي ، همدارنګه كه يوڅا دخپل ذكر په سوري كي تيل يابل څه واچول كه څه هم دپيچكاري په ذريعه وي ، نو سره له دې چي مثانې ته داخل هم شي روژه وروباندي نه فاسديږي . (بهشتى زيور ۱۱ حصه ۱۰۶ مخ)

دروژې په حالت كي دمېرمني ښكلول ، لاس اړول اوداسي نور

پوښتنه : آيا دروژې په حالت كي دمېرمني ښكلول او وروباندي لاس اړول او نور څه صحيح دي اوكنه ؟

ځواب : دغه كارونه په روژه كي روا دي خو ځوانان دي داسي نه كوي ، ځكه چي په هغو كي دجماع كولو ويره ډېره ده

(فتاوى دارالعلوم ۶ج ۴۱۲ مخ)

دروژې په حال كي دخاوند اوميرمني دتناسلي غړيو يوځاى كېدل

پوښتنه : زيد دروژې په حال كي له خپلي ميرمني سره مينه كوله يايې په غيرېږ كي نيوله يا دوئ دواړو خپل تناسلي غړي سره ولګول چي شهوت ورځخه پيداشو ، اوبيا دواړه سره جلاشول ، آيا روژه يې روغه ده اوكنه ؟

جواب : په دغه صورت كي روژه پخپل حال پاته ده ، خو ځوانان بايد داسي ونكړي . (فتاوى دارالعلوم ۶ج ۴۰۷ مخ)

په روژه کې دمذيو راوتل

پوښتنه: په روژه کې له مېرمنې سره دميني کولو اويا بل څه په وجه په جوش باندې مذی راووزي نوحکم يې څه دی ؟

جواب: دميني او نورڅه په وجه چې کومې اوبه راوزي هغو ته مذي ويل کيږي ، دهغو په راوتلو سره روژې ته کوم تاوان نه رسيږي ، خودمنيو په وتلو سره روژه ماتيږي ، که دښکلولو اوغيږ نيولو په وجه دروژې ماتېدلو ويره وه نوبيا دغه کار نه دی روا .

(احسن الفتاوی ۴ج ۱۴۱ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۲۳ مخ)

دروژې په حالت کې صرف په ليدلو سره دانزال کېدل

که په غير ارادي ډول دصرف ليدلو يا فکر سوچ وهلو په وجه انزال (دمنيووتل) وشي ، نو داحتلام په څېر روژه نه ماتوي يعني ديو چا صرف دشهوت پيدا کونکي شي په ليدلو اويا سوچ کولو انزال وشو ، نودهغه روژه وربانديې نه ده ماته شوې (کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ۱ج ۹۲۰ مخ)

که يوڅوك دخوب په حال کې شيطان خطا کړ (احتلام شو) اوبغير له غسل کولو يې روژه ونيوله ، نو روژه يې نه ده فاسده ، همدارنګه ديوچا دښځې دخاص اندام دليدلو سره سم انزال وشو ، نو روژه يې وربانديې نه ده فاسده شوې . (فتاوی هنديه ۱ج ۲۰۳ مخ قدوري ۴۵ مخ)

سهار راختلو سره سم دمېرمنې څخه جلاکېدل

يوچا بغير نه څه سببه دروژې اراده ختمه کړې وه ، اويايې په دې خيال چې دشپې څه وخت لاتراوسه پاته دی له ميرمنې سره جماع

کول اوياخه خوړل پيل کړل ، نوځرنګه چې دروژې اراده يې زړه ته راغله اويا چې ځرنګه چې شپه ختمه اوسهار پيل شو نوسمدستي له ميرمني څخه جلاشو اويا يې ګوله (ږوړی) له خولي څخه ليري کړه ، نو که له جلا کيدلو وروستو مني ووتل هم روژه يي نه ده فاسده شوې اودغه انزال داحتلام په حکم کي دی .

(بهشتی زيور ۱۱ حصه ۱۰۶ مخ بحواله ردمختار ۱ج ۱۵۰ مخ)

دروژې په مياشت کي دجنابت غسل سهار کول

پوښتنه : آيا دروژې په مياشت کي خودجنابت غسل دسهار کولو په وجه په روژه کي څه نقصان نه رامينځته کوي ؟

جواب : نه ، له دې څخه په روژه کي هيڅ خرابي نه راځي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۱۴ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۳۸ مخ)

په روژه کي خشت دسمال په سراچول

پوښتنه : پو چا ددې لپاره چې روژه نيول ورته اسان شي په قصد سره دسمال خشت کړ اوپه سريې وتاړه ،ايا روژه ورباندي مکروه کيږي اوکنه ؟

جواب : دابوداؤد شريف اوردالمحتار له عباراتو څخه معلوميږي چې صحيح اومفتی به قول دادی چې داسي کول مکروه نه دي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۰۵ مخ)

پ روژه کي لندي جامي اغوستل اوباربارغسل کول

پوښتنه : په روژه کي دلندو جامو اغوستل او دري يا څلور واره غسل کول روا دي اوکه نه ؟ او روژې ته فرق ورکوي اوکنه ؟

جواب په دې سره روژې ته هیڅ فرق نه ورځي.
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۰۷ مخ بحواله عالمګیري مصري ۱ج ۱۸۶ مخ)

دګرمي په وجه په روژه کي په خوله اوبه ګرزول

په روژه کي دګرمي په وجه په خوله اوبه ګرزول ، په روزه کي اوبه اچول ، تراوبو وتل ، لنده جامه په بدن اچول ، په دغو ټولو باندي روژه نه ماتیږي. (علم الفقه ۳ج ۳۳ مخ)

دروژې په حالت کي وینه کښل

پوښتنه : دروژې په حالت کي دپیچکارۍ په ذریعه دویني راکښل دروژې له فاسدونکو څخه دي اوکه نه ؟

جواب : په دې باندي روژه نه ماتېږي خوکه ددې ویره وه چي دویني په کښلو سره به دغه سړی دومره ضعیف شي چي دروژه نیولو توان به نه لري نوبیا مکروه دي . (احسن الفتاوی پاکستاني اردو ۴ج ۴۲۵ مخ)

شپږم باب

هغه شیان چي روژه ورباندي فاسدیږي اوصرف قضایې لازمیږي قضا څه ته ویل کیږي ؟

په روژه کي خوړل څښل اوجماع پرېښودل فرض دي ، نوکله چي ددغوفرضو په خلاف څه وکړل شي نوروژه ورباندي فاسدیږي فرق صرف دادی چي که کوم داسي یوشي نس ته ننه ایستل شي چي ورنه دګټي اخستلو خیال وي لکه غذا (خوارك) دوا اوداسي نور نوپه دغه حالت کي باید قضا راوړل شي اوددغه جرم کفاره هم ورکړله شي ، اوکه په قصد سره نه ، بلکه پخپله یوشي تیر شو اودګټي رسولو

خیال ورسره نه ؤ نوبیا ورڅخه صرف قضاء لازمیږي همدا رنګه که یوداسي کار وکړل شي چي په خوند کي له جماع سره سم وي نوقضاء اوکفاره دواړه لازموي اوکنه نوصرف قضاء لازمیږي.

نتیجه داراوځي چي روژه فاسدونکي شیان په دوه ډوله دي یو هغه چي له امله یې صرف قضا لازمیږي بل هغه چي په سبب یې قضاء اوکفاره دواړه لازمیږي.

دپورته ذکر شوو عباراتو مفهوم په اسانو تکو کي په دې ډول هم بیانیدلای شي چي په کومو خبرو یا شیانو چي روژه ماتیږي له هغو څخه څه داسي دي چي روژه ورباندي له مینځه نه ځي مګر دروژې په بدله کي صرف یوه بله روژه نیوله کیږي چي ورته په شریعت کي قضاء ویل کیږي.

اوځیني کارونه داسي دي چي دهغو په وجه روژه ماتیږي ، له هغې وروستو یوه روژه دقضا او دوه میاشتي نوري پرله پسي زیاتي روژې نیولي کیږي اوهغه ته په شریعت کي کفاره ویله کیږي چي پوره بیان یې په راتلونکي کي ستاسومخي ته راځي دلته دقضاء مسئلي تربحث اوځیني لاندي نیولي کیږي په کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه کي دقضاء دغه اصول لیکل شوي دي.

کوم شیان چي نس ته په داسي ډول تللي وي په کوم ډول چي شرعا دهغوتلل وي دمثال په ډول دپوزي ، خولې ، غوږونه ، له مخکښي اوشاتنی لاري یا هغه زخم چي دماغ ته رسیدلي وي هغو ته :اخلول پکښي یادچلم اوسګریټ څکول نسوار اوسوغ کول اونور هم پکښي

داخل دي ، له هغو ټولو څخه روژه ماتيږي اوقضاء واجبيږي خو کفاره ورباندي نشته . (کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ۱ج ۹۲۲ مخ)

دقضايې روژو دنيولو طريقه

دقضا دروژو نيول په پرله پسي ډول ضروري نه دی ، هغه که درمضان المبارك دروژو قضاوي اوکه دنورو روژو ، کله چي دقضايې روژو نيولو وعذر ختم شي نوسمدستي دروژو نيول لازمي نه دي بلکه اختيار دي هرکله چي هغه يې نيول وغواړي هغه وخت يې نيولای شي همدارنګه پکښي دلمانځه په څېر ترتيب ساتل هم فرض نه دی. (علم الفقه ۳ج ۲۹ مخ)

دقضاء دروژو نيولو سمه طريقه

که له چا څخه دعذر په وجه روژه قضا شوه ، نوکله چي عذر پای ته ورسيږي نوسمدستي بايد دهغې قضاء راوړي ، په توان او ژوند باندي باور نشته ، دقضاء په راوړلو کي انسان ته اختيار دي چي په پرله پسي ډول يې راوړي اوکه يوه ، يوه ، يا دوه ، دوه .

که څوک دډيرو کلونو دروژو قضاء راوړي نودکال معلومول پکښي ضروري دی

دلږو روژو په قضا راوړلو کي دورځي ، نيتې اودقضاء دنيت چي دفلانی ورځي يا نيتې قضاء راوړم ضروري نه دی ، بلکه څومره روژې چي قضاء شوې دي هغومره بايد ونيولي شي ، مګر که ددوو کلونو لږ ،لږ روژې قضاء شوې وې اوپه يوځای يې دهغو ټولو قضاء راوړله نوبيا پکښي دکال معلومول ضروري دی ، يعني داسي نيت پکښي کول چي دفلاني کال روژې نيسم . (بهشتی ۳حصه ۶مخ بحواله قدوري)

که چا لا د تېر رمضا ن قضاء نه وه راوړې اوبل رمضان ورباندې راغی

يوچا لاتراوسه دتېر رمضان المبارك دروژو قضانه وه راوړې چې ورباندې بل رمضان راورسيدو نوخير دی ددغه رمضان فرضې روژې دې ونيسې ، اوبيا دې له اختر څخه وروستو هغه قضاء راوړي ، اودومره ځنډ کول ډيره بده خبره ده . (بهشتی زیور ۳ حصه ۶ مخ)

په رمضان المبارک کې بېهوښه کېدل

که يوڅوك درمضان المبارك په مياشت کومه ورځ بې هوښه ؤ نو دبې هوشې له ورځې بغير به دهغوټولو ورځو قضا راوړي په کومو کې چې بيهوشه نه ؤ په کومه ورځ چې هغه بې هوښه شوې دې دهغې قضا ځکه لازمه نه ده چې دهغې ورځې روژه دنيت په وجه صحيح شوې ده ، اوکه يې په دغه ورځ روژه نه وه نيولې اويا يې روژه نيولې وه خوبيا يې حلق ته دوا واچوله شوه اوهغه تيره شوه نوبيا ورباندې ددغې ورځې قضا هم واجب ده اوکه يوڅوك په شپه کې بې هوښه شو نوپه کومه شپه کې چې بيهوښه شوی دی نودهغې يوې ورځې قضا ورباندې واجبه نه ده نورې چې څو ورځې بې هوښه ؤ دهغو ټولو ورځو قضاء ورباندې واجب ده اوکه يې په دغه شپه دراتلونکې ورځې دروژې نيت نه ؤ کړی اويا يې په ورځ کې په خوله کې دوا واچوله شوه اوبيا تېره شوه نوبيا به دهغې ورځې دروژې قضا هم راوړي.

(بهشتی زیور ۳ حصه ۳ مخ بحواله قسـتې ۴۰ مخ)

که یو څوک درمضان المبارك ټوله میاشت بې هوښه ؤ

که یو څوك ټوله میاشت بې هوښه ؤ نو هم به دټولو روژو قضا راوړي او داسي به نه وايي چي ټولي روژې به راته بخښل شوي وي څوکه ټوله دروژې میاشت یوڅوك لیوني ؤ اوپوره میاشت يې په لېونتوب کي تېره شوه نودهغې میاشتي دیوې روژې قضا هم وربا ندي واجب نه ده ، اوکه درمضان په میاشت کي کله دورځي لیونتوب ورځخه ختمیدو اوعقل يې پخپل حال کیدو نوله دغه وخته دي روژه نیول پیل کړي ، اوڅومره ورځي چي په لېونتوب کي تېري شوې دي دهغو دي هم قضاء راوړي اوکه هغه ته دخپل نیت کولو اونه کولو حال معلوم ؤ نودخپلي پوهي سره سم دي عمل وکړی ، که ورته دنیت کولو علم ؤ نو دهغې روژې قضاء دي نه راوړي ، اوکه ورته دنیت نه کولو علم ؤ نودهغو روژو دي قضاء راوړي . (علم الفقه ۳ج ۳۸ مخ)

دلیونتوب په حالت کي روژه

دلیونتوب په حالت کي روژه نیول معاف دي (یعنی دهیڅ یوې روژې قضاء وربا ندي فرض نه ده) که داسي لیونتوب ؤ چي دشپې په یو وخت کي هم ورځخه دلیونتوب حال نه ختمیدو ، نودهغې زماني دروژو قضاء هم وربا ندي لازمه نه ده اوکه په ورځ یا شپه کي یوڅه وخت دهغه عقل پخپل حال کیدو نوبیا به دهغې قضاء راوړي . په لېونتوب کي چي هرڅومره روژې قضاء شوي وي دهغو نه دقضاء راوړلو ضرورت شته نه دفدیې ورکولو اوکوم وخت چي دهغه تکلیف ښه کمیږي نودهغو روژو قضاء راوړل ضروري دي. (علم الفقه ۳ج ۳۸، ۳۹ مخ)

دروژې په حالت کې لرګې دخان په لوري کش کول

که یوچا په قصد سره دښه بوی لرونکي شی وسوځي اودهغه لوګی یې دخان په لوري دساه په ذریعه ورکش کړنوپه داسي حا ل کي چي روژه ورته یاده وي دلوګې په وجود ته داخلولو سره په هر صورت روژه ماتیږي هغه که دعنبرو وي که دګربتي وي اوکه دهمداسي بل څه ، ځکه چي روژه لرونکي ته له دغوشیانو دخان ساتل ممکن ؤ او که دروژه لرونکي بلااختیار اوبلا قصده لوګی تېر شو نو وربانديروژه نه ماتېږي ځکه چی ځان ساتل ترې قطعا امکان نه لري ، که هغه خوله بنده کړی نودپوزي له لاري داخلیږي او دروژې په حالت کي مړي ته دیوخه شي سوځولو او بل چاته دنور څه کولو مسئله په دې کي شامله نه ده یعني په هغه باندي روژه نه فاسدیږي ،ځکه چي هغه دبل چا لپاره دودکول دي دځان لپاره نه دي.

له دغې مسئلې څخه ډېر ورونه بې غمه وي په دې اړوند ډېر احتیاط کول پکار دي

یادونه: په دې خبره هم پوهېدل ضروري دی چی دغه مسئله په مشکو،ګلابو او په نورو ښه بوی لرونکو په بویولو باندي باید ورقیاس نشي ځکه چي په نامه خوشبو او هغه لوګی چي داخلي پخلي داستعمال په وجه پیداکېږي، او دغه لوګي چي په قصد سره تر حلق تېرول کېږي ډېر زیات فرق دی .

دلوګې په اړوند دمولانا تهانوي رحمه الله فتویٰ

که روژه لرونکي ته له داسي څه څخه ځان ساتل بغیر له نقصان او تکلیفه ممکن وو چي هغه ددند یا لوګی حلق ته داخلېدلو باعث ګرزیدو نو دهغه سره سره یې دغه کار وکړ نو روژه یې فاسده شوه.
(امداد الفتاوی ج۱ مخ ۱۳۸)

که یو چا لوبان یا ګربتی بله کړه او بیا یې ساتلې وه او بوبوله یې نو په دې سره دهغه روژه ماتېږي او صرف قضا یې ور باندي لازمه ده مګر دکیوړې دګل ګلاب او نورو خوشبو ي بویول چي لوګی ونه لري صحیح دی. (بهشتی زیور حصه ۳ مخ۱۱)

په روژه کي دوا بویه ول

پوښتنه : هم تلوس یوه دوا ده چي له ناشادر او چونی څخه په ګډه جوړه شوې ده له هغې څخه شیشې د کیږي او بویول کېږي او دهغې تېزي دماغ ته رسېږي ایا دهغې په بویولو روژه ماتېږي او که نه؟
ځواب : په دغه ډول روژه ماته ده قضاء لازمه ده څرنګه چي په درمختار کي راغلي چي که دروژې له یاد سره سره حلق ته لوګي ننوزي نو روژه ورباندي ماتېږي که څه هم دعودو او عنبرو وي.
(فتاوی دارالعلوم ج٤مخ ١٨٤ بحواله رد المحتارج٢ مخ ١٣٤)

که دروژې په حالت کي بې اختیاره اوبه تیري شوې

یو چا دروژې په حالت کي په خوله اوبه ګرزولې اوپه بې فهمي سره ورنه په داسي حال کي چي روژه یې په یاد وه څه اوبه تېري شوې .نو روژه ورباندي ماته شوه ،قضاء واجبده خو کفاره ورباندی نشته.
(بهشتی زیور حصه۳ مخ۱۱)

دارمېږې پر وخت داوبو یا واورې تیرېدل

که یو چاته ارمېږې ورغی او هغه خپله خوله داسمان په طرف پورته کړه او پکښې داوبو څاڅکي له ناوې او یا بل څه څخه ولوېدل ،نو دهغه روژه فاسده شوه صرف قضا به راوړي کفاره وربانديواجب نه ده او همدارنګه که دباران اوبه یااواوره دسږي حلق ته داخله شو نو روژه پرې ماته شوه او صرف قضا واجبه ده ،همدارنګه که یو چا دروژه لرونکي په طرف یوشی غوزار کړ او هغه دروژتي په حلق کي ولګېدلو ،نو هم روژه ماته او قضا واجب ده ،همدارنګه دلمبېدلو په وخت یې په خوله کي اوبه ولاړې او یا ویده روژتي په خوب کي اوبه وڅښلې په دواړو صورتونو کي روژه ماته او قضا یې واجب دی خو کفاره نشته. (فتاوی عالمګیري اردو پاکستاني ج٢ مخ٧)

دقصدي توخي په وجه کوم څه دحلق پورتنۍ برخې ته راتلل

دقصدي توخي او پرنجي په وجه چي کوم څه دحلق پورتنۍ برخي ته له معدې څخه راشي نو روژه وربانديماتېږي ،دبلغمو دراایستلو او توکلو حکم په دې کي شامل نه دی ځکه چي دداسي کړلو باربار ضرورت پېښېږي خو که هغه خولې ته لارارسېدو وروستو واپس تېر کړل شو نو بیا وربانديروژه ماتېږي. (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج١ مخ ٩٩٣)

دروژې په حالت کي دویني تیرېدل

پوښتنه: که دتکسیر (له پوزې څخه بهېدونکي)وینه دچاتېره شوه نو روژه یې وربانديماتېږي او کنه؟

ځواب: روژه وربانديماتېږي صرف قضا واجب ده او کفاره نشته.

(احسن الفتاوی پاکستانی ج ٢ مخ ٤٢٩)

په روژه کې دخاورو خوړل

که یو چا په روژه کې دسر وینځلو خاوره وخوړله نو روژه وربانديفاسدېږي صرف قضا لازمه ګرزی او که ددغي خاوري خوړل دهغه عادت ؤ، نو بیا ورباندې قضا او کفاره دواړه واجب دي.

(عالمګيري اردو پاکستاني ج۲ مخ ۱۶)

په روژه کي دوړې ډبري یا دترامې دکوچنۍ ټوټې خوړل

که یو چا یوه کوچنۍ شاني ډبره او یا دترامې یوه ټکړه او یابل داسي شی وخوړلو چي خلك يې خوري، او یا داسي یو شی وو چي خلك يې دغسی نه خوري خو که ضرورت پېښ شی،نو ددرملو په څېر يې خوري نو هم وربانديروژه ماتېږي او قضا او کفاره دواړه واجب دي

(بهشتی زیور حصه ۳مخ ۱۲)

په روژه کي د ژامي یا دمخ دغاښ کنبل او یا پکښی دوا اچول

پوښتنه: دروژې په حال کي دمخ دغاښ یا دژامي دغاښ کنبل او یا په خوله کي دوا اچول روا دي او که نه؟

ځواب :دسخت ضرورت په وجه روادی، او بې له ضرورته مکروه دی که وینه یا دوا نس ته تېره شي او ترلاړېو زیاته یا ورسره سمه وي او دهغو خوند په حلق کي معلوم شي نو بیا وربانديروژه ماتېږي (او صرف قضا واجبېږي .(احسن الفتاوی پاکستاني ج٤ مخ ٤٢٦ بحواله رد المحتار ج۲ مخ ۱۰۷)

ايا دغاښ وينه روژه فاسدوي؟

پوښتنه: دروژې په حالت کي له غاښ څخه وینه را ووتله او نس ته لاړه ، نو ایا دروژې صرف قضا لازمه شوه او که کفاره هم؟

ځواب: که کمه اندازه وینه وه او لاړې وربا ندې زیاتې وې نو بیا وربا ندې روژه نه ماتیږي خو که دوینو خوند په حلق کې معلوم او محسوس شو نو بیا روژه ماتیږي .همدارنګه که وینه تر لاړیو زیاته او یا ورسره سمه وه نو هم روژه ماتیږي

(فتاوی رحیمیه ج ۳ مخ ۱۰۸ بحواله عالمګیري)

په غاښ کې دوړو شوو شیانو داچولو حکم

دغاښ په مېنځ کې دداسې واړه شوو شیانو اچول چې توکل کیدای او تېریدای شي ،نو هغه که څه هم تر یوې چنې کم وي نو په خوړلو یې روژه ماتیږي . (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج۱ مخ ۹۳۳)

دپوزې، غوږو او سترګو مسئلې

پوښتنه: (۱) دروژې په حالت کې دغوږونو سترګو او نورو په سریو کې دیوشي لکه تیل،عادي اوبه،او دڅه بل شي اوبه او یا نور وچ پوډر او همدارنګه نور شیان ددوا په ډول اچول او ددماغ دتقویت لپاره دتیلو،عادي اوبو او یا دڅه بل شي دابو کارول څنګه دي؟

(۲) په اوبو کې دباد خارجول، غوټه وهل او غرغره کول څنګه دي؟

(۳) په سر باندې دپلستر ډوله شیان لګول، په ړمانه یا بل ژور زخم باندې مرهم ،تیل او داسې نور ددرملو په ډول لګول روادي او که نه؟ او که روا نه دي نو که روژه لرونکی په دغه مسئله پوهېدلو یانه پوهېدلو او په دغو تېرو شویو کارونو کې یې یو وکړ نو په کوم صورت کې قضا او په کوم صورت کې کفاره لازمېږي؟

ځواب :(۱)په پوزه او غوږو کي دلمدې دوا اچولو سره روژه ماتیږي همدارنګه که دوچ شي دننه وجود ته رسېدل یقیني وي نو روژه وربانديْ فاسدېږي او که رسېدل يې یقیني نه وي نو بیا نه فاسدیږي (۲) په سترګو کي ددوا په اچولو او په سر باندي دتیلو او نورڅه لګولو سره روژه نه ماتېږي همدارنګه که دغو ځايو نو ته اوبه ورسېږي نوهم پرې روژه نه ماتېږي (۳) په اوبو کي دباد په خارجولواو غوټه کولو باندي هم هیڅ نه کېږي .اوکه اوبه دوجود داخل ته ننوزي نو بیا روژه ماتېږي څرنګه چي په استنجا کي دزیادت په وجه دحقنې ترحده داوبو په رسېدو سره روژه ماتیږي اوصرف قضا لازمېږي .او په غر غړه کي که اوبه نس ته تر حلق ور تېري شوې نو روژه فاسدیږي او که تېري نشوې بیا هیڅ خبره نه ده .(۴) په سر او نورو ځایونو دپلستر لګول روادی او که زخم په سر یا لړمانه کي دېر ژور تر دننه پوري رسېدلی ؤ نو په هغه کي دلمدې دوا په اچولو سره روژه فاسدیږي او په نورو زخمونو دوا اچول روژه فاسدونکې نه ده ، او داچي ددوا تفصیل مخکي تېر شو. له پورتنیو صورتو نو څخه چي په کومو کي روژه نه فاسدیږي نو په هغو کي قضا اوکفاره هم نشته.او په کومو چي روژه ماتیږي نو په هغو کي قضاء شته او کفاره نشته که په قصد سره وو ـ که په مسئله پوه وو او که نه ؤ او که په هېره سره ؤ نوبیا وربانديْ روژه نه ماتېږي ،ځکه چي کله دهېرېدلو په وجه په خوراك او څښاك هم نه ماتیږي نو په

دغو صورتو نو کي دهېرېدلو په وجه خو په طريقه اولی سره نه ماتېږي .

(امداد الفتاوی ج ١ مخ ١٧١)

که يو چا ډېر ځله په خوله کي اوبه اچولې يا يې په پوزه کي اچولې نو که هغه اوبه معدې ته ورسېدلې روژه وربانديې ماته او قضا واجب ده

(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج١ مخ ٩٢٢)

دروژې په حالت کي په غوږوکي تيل اچول

يو چا په روژه کي پخپلو غوږو کي تېل واچول او يايې نسوار وسونېل ،يايې په جولاب کولو کي يو داسې چل وکړ چې دخبنلو له لاري يې ونه کړل بلکه د(دبُرې)له لاري يې نس ته دوا داخله کړه ،نو په ټولو کي روژه ماته ده اوصرف قضاء لازمه ده.

(بهشتی زیور حصه٣ مخ ١٣ ،جوهر نیره ج١ مخ ١٤٥)

په غوږو کي دتيلو اچولو سره دروژې ماتېدلو وجه

پوښتنه : څرنګه چې دروژه لرونکي په غوږو کي داوبو دتلو په وجه روژه نه ماتېږي نو هغه تېل ولي په غوږو کي نشي اچولای؟

ځواب : په هدايه کي دفرق وجه دابيان شوې ده چې په غوږو کي داوبو لوېدل او يا داوبو اچول دبدن داصلاح لپاره نه دي ،خو تيل دبدن دسمون لپاره کارول کيدای شي،همدارنګه يې له اوبو څخه دځان ساتلو سختېدنه هم يو فرق کېدای شي .

(فتاوی دار العلوم ج ٦ مخ ٤١٨)

دروژې په حالت کې په لرګي یا بل څه سره دغوږ ګرول

یوچا لرګی یا بل شی را واخستلو او دغوږ دننه برخې ته یې داخل کړ، نو روژه یې وربانديمات شوه ځکه چې دغوږونو داخلې (دننه) برخه دشریعت له نظره دلرمانه په حکم کې داخله ده.
(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج۱ مخ ۹۲۲)

یادونه: داد داخلي برخې حکم دی لیکن ډیر وخت بهرنۍ برخه ګرول کیږي ،چې په اړوند یې په (مظاهر حق جدید) کې داسې مسئله راغلې ده
دیوچا په لرګي یا بل څه باندې دغوږخیرې ښکاره شول اوبیا یې بیا هم داسې وکړل او څو واره یې دغه کار تکرار کړ نو هم پرې روژه نه ماتیږي. (مظاهر حق جدید ج۲ مخ ۱۷)

که دخولې، غوږونو ،پوزې مقعد ،فرج،نس او سر دژور زخم له لارې کوم شی معدې یا دماغ ته ورسیږي نو روژه وربانديفاسدیږي ،خلاصه داده چې په غوږ کې اچول شوي تېل یا دوا براه راست دماغ ته یا بالواسطه معدې ته په رسېدلو سره روژه ماتوي.
(فتاوی رحیمیه ج۲ مخ ۱۷)

دروژې په سهار کې په دې خیال جماع کول چې دا وخت لا شپه ده

پوښتنه:یو څوک په روژه کې په دې نیت ویده شو چې پېشلمې ته به راپورته کیږي نو کله چې راویښ شو نو یې داخیال شو چې شپه پاته ده اوله خپلې میرمنې سره یې جماع وکړه کله چې بهر ته راووتو نو ویې لیدل چې سهار شوی ؤ هغو دواړو په دې خیال چې هسې مو هم

روژه ماته ده اوبه وڅښلې نو پر دغه صورت کې کفاره هم لازمه ده که صرف قضاء؟ او که يې اوبه ونه څښلې بيا دواړه لازم دي او که صرف قضاء؟

ځواب: که ديوچا دشپې په خيال په ورځ کې جماع وکړه او روستو له جماع کولو ورته معلومه شوه چې هغه وخت سهار ؤ نو دغه روژه فاسده شوېده ،ليکن ټوله ورځ بايد خوراك اوڅښاك ونکړي او کفاره ورباندې لازمه نه ده اوکه يې په ورځ کې اوبه هم پسې وڅښلې نو درمضان المبارك دعزت او درناوي پرېښودونکې شول خوبيا هم کفاره لازمه شوې نه ده، خو قضا داوبو څښلو او نه څښلو دواړو صورتونو کې لازمه ده . (امداد الفتاوی ج۱ مخ ۱۷۱)

په روژه کې له مړې ښځې سره جماع کول

يو چا له مړې ښځې سره يا له نابالغه انجلی سره (چې عموما له هغې سره.دجماع کولو شوق نه وي) يا له کوم چار پاى سره جماع وکړه يا يې يو څوك په غيږ کې ونيو او يا يې ښکَلَ کړ او يا يې دلاس په ذريعه انزال وکړ او په دغو ټولو صورتونو کې منې ووتل نو روژه فاسده شوه کفاره نه ده لازمه شوې صرف قضا لازمه ده .

(بهشتی زیور حصه ۱۱ مخ ۱۰٤ بحواله شرح الوقايه ج۱ مخ ۲٦۲)

په روژه کې دمينې کولو په وجه دانزال کېدل

پوښتنه: يو چا درمضان په مياشت کې دروژې په حالت کې خپله ميرمنه په غيږ کې ونيوله څه وخت يې همداسې نيولې وه چې انزال

و شو نو په دغه صورت کي کفاره هم لازميږي او که صرف قضا لازمه ده؟

ځواب : په دغه صورت کي صرف قضاء لازمه ده کفاره نه ده لازمه شوې.

په خپله مېرمن باندي دکښيناستلو په وجه دانزال کېدل

پوښتنه : يو څوك درمضان المبارك په ورځ کي په خپله مېرمن باندي صرف کښيناستلو او دکمزوري په وجه يې انزال وشو نو په هغه باندي صرف قضاء لازمه شوه او که کفاره هم شته؟

ځواب :قضاء ورباندي لازمه ده ،او کفاره نشته .

(فتاوی دارالعلوم ج٦ مخ ٤٢٤ بحواله رد المختار ج٢ مخ ١٤٢)

دمباشرت فاحشي حکم

دمباشرت فاحشي (يعني دشرم دځايو نو له يوبل سره پيوسته کول بېله دخوله)په صورت کي که انزال وشي نو روژه ورباندي فاسدېږي او صرف قضاء لازمېږي ،همدارنګه دچا دښکلولو په صورت کي له انزال کېدلو څخه هم روژه ماته او قضا لازمېږي.

(کتاب الفقه على المذاهب الاربعة ج١ مخ ٩٢٢)

ايا په لاس سره دانزال کول روژه فاسدونکی عمل دی؟

پوښتنه : که يو چا دروژې په حالت کي دلاس په وسيله دمنو ايستلو کار وکړ ايا روژه يې ورباندي له مېنځه ځي او که نه؟

ځواب : دلاس په وسيله دمنو ايستل يو ډير بد عمل دی او ددغه کار پر کونکي باندی لعنت ويل شوی دی ،ددغه کار په کولو سره روژه ماتيږي او صرف قضا لازميږي .

(فتاوی دار العلوم ج۷ مخ ٤١٧ بحواله رد المحتار ج۱ مخ ١٤٢)

په استنجاء کي مبالغه (زيات کوښښ)کول

که يو چا خپله گوته په اوبو يا تيلو لمده کړه او خپل مقعد ته يې داخله کړه ،او يا داستنجا پر وخت اوبه دوجود دننه برخي ته ورسيدې نو روژه ورباندي هغه وخت ماتيږي چي په مقعد (دغټو بولو ځای) کي اچونکی شی دحُقنې ترځايه ورسيږي (يعني کو م ځای ته چي دپيچکاري او بل داسي څه په ذريعه دوا رسوله کيږي) او دا تر هغه وخته پوري نشي کيدای ترڅو چي له ارادې او کوښښ سره مله نه وي او که داسي وشول نو روژه ماته ده او صرف قضا لازمه ده او دا په هغه صورت کي چي په مقعد کي دکپړې يا کاغذ کومه ټوټه يا لرگی دحقنې په ځبرکيږدې ،او دهغه سر لږ هم په بهر کي نه وي نو بيا ورباندي روژه ماتيږي او که يوڅه برخه يې دباندي وه ټول دننه نه ؤ نو بيا روژه نه ماتيږي همدارنگه که کومي ميرمني خپله گوته په او بو يا تيلو لمده کړه او يا يې دحقنې لرگی او يا دغسي بل څه په خپل فرج کي پوره داخل کړلو نو بيا ورباندي روژه ماته ده،او په دې ټولو صورتونو کي صرف قضاء شته او کفاره نشته .

(کتاب الفقه علی المذاهب الاربعة ج۱ مخ ۹۱۸)

په روژه کي دچلم څکول

پوښتنه : دروژې په حالت کي دچلم په څکولو سره قضا لازميږي او که کفاره هم لازميږي؟

ځواب :دچلم، سګريټ ،بيړۍ او نورو تولو په څکولو سره کله صرف قضا لازمېږي او کله کفاره هم لازمېږي ،دمثال په ډول يو چا په دې خيال له دغو شيانو يو وڅکولو چي ګته ور نه واخلي نوبيا کفاره هم لازمه ده اوقضا هم ، او که اراده دګټي اخستلو ورته نه وو نوبيا صرف قضاء لازمه ده. (فتاوی دار العلوم ج۲مخ٤١٩ بحواله رد المحتار ج۲مخ۱۲۲)

دتندي په وجه دبې پيشلمي روژې ماتول

پوښتنه :يو څوك له تراويح لمانځه وروستو دروژې په نيت ويده شو خو دپېشلمي پر وخت راويښ نشو سهار يې دتندي په وجه ژبه او حلق وچ وه او دا ورته معلومه شوه چي نن ورځ بې پېشلمي روژه پوره کېدای نشي او يوه روژه يې ماته کړه نو په اړوند يې دشريعت حکم څه دی؟

ځواب :ددر مختار دعباراتو څخه څرګنديږي چي که دروژه لرونکي او دهغه كور والا ؤ غالب ګمان داؤ چي هغه به روژه تر پايه ونشي رسولای او يا دمرض يا هلاکيدلو وېره وه نو په هغه صورت کي په هغه باندي ددغي روژې صرف قضاء لازمېږي او کفارهورباندي نشته او داټول قيدونه هغه وخت لګول کېږي چي هغه دروژې نيت کړی وي

او که یې ددغې ورځې دروژې نیت نه وي کړی نو بیا هم صرف قضا واجبه ده، کفاره خوهغه وخت واجبیږي چې بې له څه وېرې په قصد سره دروژې شوی نیت مات کړي .

(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٢٧ بحواله رد المحتار ج٢ مخ ١٥٩)

دلوږې او تندې په وجه روژه ماتول

په یو چا باندې چې دومره زیاته لوږه راشي چې که هغه څه شی ونه خوري نو یامړ کېږي او یا یې عقل ګډوډ کېږي ،نو هغه ته هم دروژې نه نیول روا دي. که له نیت کولو څخه وروستو داسې یو حالت مېنځه ته راشي نو بیا هم دادهغه تړواك لاندې ده چې روژه ماتوي او کنه.او که یې ماته کړي نوورباندې صرف قضاء لازمېږي کفاره ورباندې نشته.همدغه حکم دسختې تندې هم دی چې دروژې پر ښودل هم ورته روادي او دنیول شوې روژې ماتول هم ورته روا دي ـ خو په دې شرط چې دتندې سختي به په هغه اندازه وي کومه چې لوږې ته ښاکله شوې ده . (علم الفقه ج۳ مخ۴۱)

مزدور ته دکار دسختې په وجه دروژې ماتول

پوښتنه : زید په فوج کې مذدور دی په داسې حال کې چې هغه روژه وه دفوج مشر ورته په ګرمۍ کې دکار کولو امر وکړ چې دهغه دروغتیا دخرابې وېره وه ،هلته دوا نه پیدا کېدله،ددوا کولو لپاره به هغه بل کوم لیرې ځای ته تلو نو ځکه یې روژه ماته کړه،هغه دمسئلې دنه پوهاوي له امله روژه ماته کړه نو داوخت دشریعت حکم څه دی؟

ځواب :که دتندي یا بل څه دسختي په وجه دمرض یا هلاکت وېره وه نو بیا ورباندي کفاره نشته، صرف قضاء ورباندي لازمه ده .

(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٢٢ بحواله رد المحتارج٢ مخ ١٥٨)

دسوزېدلو په وجه دروژې ماتول

پوښتنه: درمضان المبارك په میاشت کي په کلي کي سخت اور ولګېدو ځینو سړو او ښځو روژې ماتي کړې،نو دهغو لپاره حکم څه دی؟

ځواب :که هغوی داور سېزلو دسختي لوږي تندي یا دځان دوېري په وجه روژې ماتي کړې،نو په هغوی باندي صرف قضاء واجبه ده، کفاره ورباندي نشته.

(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٤٥)

یو چا په دې فکر چي لمر لوېدلی دی روژه ماته کړه خو وروستو یې لمر ولید چي لا نه ؤ لوېدلی

پوښتنه: دروژی مبارکه میاشت وه او داسمان په لمنه کي سخته خړ پړ تیا وه دیوچا داخیال شو چي لمر لوېدلی او ماښام دی نوځکه یې روژه ماته کړه، دروژې ماتولو وروستو یې ولیدل چي لمر لانه دی لوېدلي نو روژه یې څنګه شوه؟

ځواب : په دغه نفر باندي دروژې قضاء لازمه ده او کفاره ورباندي نشته،او دغه ماتېدنه کومه ګناه هم نه ده شوې خودروژې قضاء ضرور باید راوړي. .

(فتاوی دار العلوم ج ٦ مخ ٤٣٦ بحواله هدایه ج١ مخ ٢٠٧)

دصبح صادق پر وخت دشیدو څښل

پوښتنه :که یو چا دصبح صادق دراختلو سره سمي شیدې وڅښلې نو په هغه کفاره لازمه ده او که قضاء؟

ځواب : که درمضان المبارك روژه وه او دغه نفر دصبح صادق له راختلو خبرۇ او بیایې دغه کار وکړ نو کفاره او قضاء دواړه لازم دي او که هغه ته دصبح صادق راختل معلوم نه ؤ او په دې خیال یې دغه کار وکړ چې داوخت لا شپه پاته ده نو بیا کفاره نشته خو قضاء لازمه ده . (فتاوی دارالعلوم ج٦ مخ٤٣٩ بحواله رد المحتار ج٢ مخ ١٤٧ ، ١٤٩)

دنیت کولو وروستو دنفلي روژې واجب کېدل

یو چا چې په خپله اراده او قصد نفلي روژه پیل کړه نو بیا دهغې روژې پوره کول ضروري دی .دفاسدیدلو په صورت کې دهغې قضاء ضروري ده هغه که په قصد سره فاسده شوې وي او که بې له قصده (علم الفقه ج٣ مخ ٤١)

په هیره سره دخوراك دوه ډولونه

دیوچا دافکر نه وو چې زما روژه ده نو ځکه یې خوراك او څښاك یا جماع وکړه وروستو ورته یاد شو چې زما خو روژه ده نوبیا یې داوویل چې روژه خومې هله هم ماته شوه نو وروستو یې په قصده سره خوراك او څښاك وکړ،نو په دغه صورت کې یې روژه فاسده شوه قضا لازمه ده خو کفاره نشته. او که هغه ته دامسئله معلومه وه او بیا یې په هېره دخوراك کولو وروستو په قصد روژه ماته او جماع یې

وکړه نو قضا او کفاره وربانديدواړه لازم دي او صرف دخوراك په صورت کي يو قضاء لازمه ده.

(بهشتي زيور حصه ١١ مخ ١٠٤ بحواله شرح تنوير مخ١٥٠)

دقي او احتلام وروستو قصدا خوراک کول

يو چا بې له خپلي ارادې قی وکړ يا احتلام شو ، يا ښځي يا بل شي ته په کتلو سره يې انزال وشو او په مسئله دنه پوهاوي په وجه هغه داسي وبلله چي زما روژه ماته شوه له هغه وروستو يې په قصد خوراك وکړ نو روژه يې فاسده او قضاء لازمه شوه.او که داورته معلومه وه چي روژه مي نه ده ماته شوي خو برسېره پر دغه يې قصدا خوراك وکړ نو هم وربانديصرف قضاء ده .او که يې جماع وکړه نو بيا وربانديکفاره اوقضا دواړه واجب دي.

(بهشتي زيور حصه١١ مخ ١٠٤ بحواله شامي ج١مخ١٤٠)

دقضاء څو مسئلې

١. که يومسافر وروستو له نيمايي دورځي څخه مقيم شو.

٢. دکومي مېرمني چي حيض يا نفاس وروستو له نيمايي دورځي پاى ته ورسيدو.

٣. وروسته له نيمايي دورځي ديو لېوني يا بېهوښه حالت سم شو.

۴. يو ناروغ وروسته له نيمايي دورځي جوړ شو.

۵. يو چا په حالت داكراه روژه فاسده کړې وه او وروسته له نيمايي دورځي دهغه مجبوري ختمه شوه.

٦. یو نابالغ وروسته له نیمایي دورځي بالغ شو.
٧. یو کافر وروسته له نیمایي دورځي اسلام راوړ
نو دغو ټولو خلګو ته په پاته ورځ کې دروژه لرونکو په څیر دخوراك او څښاك او نورو روژه ماتونکو شیانو څخه ځان لیري ساتل مستحب دي او بغیر له (٦)او(٧) نورو ټولوته ددغي روژې قضاء راوړل واجب دي. (علم الفقه حصه ٣ مخ٤١)

دروژې ماتیدلو وروستو حکم

درمضان المبارك په میاشت کې که دیو چا روژه ماته شوه نو دروژې ماتېدلو وروسته هم ورته دڅښي خوړل او څښل صحیح نه دي ،ټوله ورځ دروژه لرونکو په څیر پاته کېدل وربانديي واجب دي.
(بهشتی زیور حصه ٣ مخ بحواله هدایه ج٢ مخ٣٠)

اووم باب
په کومو شیانو چې کفاره او قضاء دواړه لازمېږي

دمشکوة شریف په یو حدیث کې دحضورﷺ ارشاد دی «چاچې بغیر له څه مجبوري او مرض درمضان المبارك یوه روژه پرېښودله نو که بیا ټول ژوند پر له پسې روژې ونیسي نو هم ددغي یوې روژې بدله به را نه وړله شي» دهغه مبارك ددغه فرمان مطلب دانه دی چې ددغي روژې قضاء نشي کېدای ،بلکه مقصد دادی چې کوم انعام ،عزت او ثواب چې دهغې روژې په نیولو انسان ته ورکول کېږي هغه په نورو روژو کې هیڅکله نشي ترلاسه کېدای په خپل وخت دکار کول ډېر لویه خبره ده.

دقضاء مسئلې (هغه چي دروژې دفاسدېدلو په بياء ديوي روژى په بدله كي صرف يوه روژه نيوله كېدل) په شپږم باب كي تېري شوي دلته موږ دورژې دفاسدېدلو دهغو ډولونو مسئلې راوړو چي كفاره او قضاء دواړه لازميږي.

يوچا روژه نيولې وه بيا يې بغير له څه عذر او مجبوري په خوښه ماته كړه، نو هغه سخته غلطي وكړه او د الله ﷻ دحقوقو خلاف څه يې تر سره كړل نوهغه بايد له پاكه خدايه ﷻ څخه ښښنه وغواړي، او دبښني غوښتولو صورت دادی چي ديوې روژې په بدله كي يوه روژه ونيسي او يو غلام ازاد كړي، او كه غلام (مريي) ازادول ممكن نه ؤ بيا دي په پرله پسې ډول دوې مياشتي روژې ونيسي،او كه يې داهم په قدرت كي نه وه ،نوبيا اخېرنۍ خبره داده چي شپېتو مسكينانو ته ديوې يوې روژې قيمت وركړي. او داخبره هم بايد ياد ولرى چي كفاره صرف هغه وخت لازمېږي چي درمضان المبارك په مياشت كي پخپله خوښه باندي روژه ماته كړله شي .كه درمضان المبارك نه بغير بل هر ډول روژه وه .كه درمضان المبارك دقضاروژه وه هم ،نو په ماتولو سره يې يواځي قضاء لازميږي كفاره نه لازمېږي.

نتېجه داشوه چي كله چي دڅه شبهې په اساس روژه فاسده كړله شي نو بيا كفاره واجب نه ده بلكه صرف قضاء لازمه ده. ځكه چي كفاره يو ډول سزا ده او دسزا مستحق هغه ځوك كيداى شي چي ښه پوهېږي او ښه ورته معلومه وي خو سربېره په هغه خلاف ورزي وكړي.

صرف په دوو شیانو کفاره او قضاء دواړه لازمیږي

د حنفي مذهب دعلماؤ په نزد دوه داسي شیان دي چي قضاء او کفاره دواړه ورځخه واجبیږي ، لومړی داچي بغیر له څه شرعي عذره غذا، اویا دغذا په څېر کوم بل شي یعني وخوړل شي یا وڅښل شي ، اوهغه هم په داسي ډول چي دهغه طبعېت یې غواړي اودنس غوښتنه پوره کړي ، دوهم داچي هغه دنفس غوښتنه پوره کړي اوبیا په دغو دوو صورتو کي دقضااوکفارې دواړو دواجب کېدلو لپاره دوه شرطونه دي ، لومړی شرط دادی چي هغه روژه چي ماته شوې ده هغه به درمضان المبارك روژه وي ، بغیر له دې بله روژه لکه قضاء ، نذر، کفاره ، نفلي اوداسي بله روژه به نه وي ، په دغو روژو کي کفاره نه واجبیږي ، په بعض صورتو کي قضا لازمیږي ، دوهم شرط یې دادی چي روژه به قصدا ماته کړل شوې وي ، که په هېره غلطي اویاڅه عذر پیدا کېدلو سره وي لکه دمرض پېښېدل ، سفر پېښیدل ، نوبیا دروژې صرف قضا په روژتي لازمه ده. (کتاب الفقه ۱ج ۹۱۳-۹۰۶)

دکفارې لپاره دروژې ټول شرطونه پرځای کول ضروري دي

یوڅوك چي دروژې ټول شرطونه یې پوره کړي وي ، درمضان المبارك په فرضي روژه کي چي دهغې نیت یې ترصبح صادق له مخه کړی وي ، په قصد سره دخولې له لارې نس ته داسي یوڅه تېر کړي کوم چي انسانان هغه دخوراك اویا دوالپاره کاروي ،یعني دهغه له استعمالولو ځخه مقصد یوډول گټه یاخوند وي ، اودهغه شي له کارولو ځخه دسالم (روغ) طبعیت انسان نفرت نه کوي که څه هم هغه

درېدن ددانې په خبر وي اوكه هغه له چا سره جماع وكړي اويا بل څوك له ده سره جماع وكړي (چي دماشومانو سره بدفعلي هم پكښي داخله ده) دجماع كولو په وخت دمخصوص اندام دټاكلي برخي داخليدل كافي دي ، دمنيو وتل ورته شرط نه دى ،نوپه دغو ټولو صورتونو كي قضا اوكفاره دواړه واجب كيږي ،مگر په دې شرط چي جماع له داسي يوې ښځي سره وكړي چي په هغې كي دجماع قابليت وي ، يعني دومره دكم عمر انجلۍ هم نه وي چي دجماع كولو نه وي .

(درمختار ١ج ١٥١ مخ)

يوچا درمضان المبارك په مياشت كي دروژې نيت نه ؤ كړى نوڅكه يې خوراك اوڅښاك كولو نو په هغه باندي كفاره واجب نه ده ، كفاره هغه وخت لازميږي چي يوځلي نيت وكړي اوبيا روژه ماته كړي .

(بهشتى زيور ٣حصه ١٢ مخ بحواله هدايه ١ج ٢٠۴ مخ)

له جماع كولو څخه دكفارې واجبېدل

په جماع كولو باندي روژه ماتيږي دهغې روژې چي جماع پكښي واقع شوې ده قضا اوكفاره دواړه واجب دي كه مني ووځي اوكه ونه وځي .

كله چي دسړي دخاص اندام سر دننه شو نو روژه ماته شوه ، كه سړي دمېرمني په شاتنۍ برخه كي دخپلې حشفې سر داخل كړ نوهم په سړي اوښځي دواړو باندي كفاره اوقضا دواړه واجب دي ، او روژه ماته ده .

(بهشتى زيور٢ حصه ١٠ مخ)

هر چاچي له دوو لارو څخه په يوې لاره باندي په خپله خوښه جماع وکړه نوپه هغه باندي قضاء اوكفاره دواړه لازميږي اوپه يوه لاره كي هم دمنو وتل شرط نه دي.

په روژه كي دماشومانو سره بدفعلي (لواطت)

پوښتنه : كه يوچا دروژې په حالت كي لواطت (له نارينه ګانو سره بدفعلي) وكړه اودخاص اندام سربې داخل شو خوانزال ونشو نوكفاره واجبه ده اوكه نه ؟

ځواب : په لواطت كي كه حشفه داخله شوه نوكه څه هم انزال نه وي شوي قضا اوكفاره دواړه لازم دي. (فتاوى درالعلوم ۶ج ۲۳۸)

ديوې غلطې مسئلې سمون

پوښتنه : سړى خپله تناسلي آله دمېرمني په فرج كي داخل كړه ، اوبيا يې واپس راواستي نوكه هغه وچ ؤ نوبيا ورباندي روژه نه ده ماته شوې يومولوي صاحب دغه مسئله كړېده ، ايا دغه صحيح ده اوكنه؟

ځواب : دسړي دخاص اندام سرچي كله دښځي په فرج كي داخل شو نو سمدستي په ښځي اوسړي دواړو باندي قضاء اوكفاره واجبه شوه (احسن الفتاوى پاكستاني ، ۴ج ۴۴۷ مخ)

په جماع كي عقل شرط نه دى

په جماع كي دښځي اوسړي دواړو لپاره عقل شرط نه دى ، تر دې چي يوله هغو ليونى وي اوبل عاقل وي نودجماع په كيدلو سره په عاقل كفاره لازمه شوه ، دمثال په ډول ښځه ليونى وه سړى عاقل ؤ ،

يا سرى ليونى ؤ ښځه عاقله وه نوپه دواړو صورتو كي په عاقل كفاره لازمه ده.

كه له يوې ښځي سره جماع وكړل شوه ، نو په هغې باندي دكفارې اوښتلو لپاره دسړي بلوغ شرط نه دى ، حتى كه له يوې ميرمني سره ليوني يا نابالغ ماشوم جماع وكړه نوبيا هم په ښځي باندي قضا اوكفاره دواړه لازم دي. (علم الفقه ٣ج ٢٨ مخ)

كه ښځه دجماع په كولو باندي راضي وه نوقضا اوكفاره دواړه واجب دي ، اوكه په زور جماع كولو ته مجبوره شوې وه نوبيا ورباندي صرف قضاء لازمه ده ، اوكه اول زبردستي وه اوبيا وروستو ښځه په جماع كولو راضي شوه نوبياهم ورباندي قضا اوكفاره دواړه واجب دي.

(فتاوى هنديه ٢ج ٢٠ مخ كتاب الصوم)

په ورځ كي دجماع كول څنګه ، اوپه شپه كي تركومه دجماع اجازت شته

پوښتنه : (١) درمضان المبارك په مياشت كي دروژې په حالت كي يوچاله مېرمني سره كوروالي (جماع) وكړه نوځومره كفاره ده اوكفاره يې څه ده ؟ (٢) په شپه كي سړى له كومه تركومه وخته جماع كولاي شي ؟ (٣) اوڅه وخت بايد غسل وكړي ؟

ځواب : په ورځ كي درمضان المبارك دمېرمني سره جماع كول كبيره ګناه ده ، اوپه دغه صورت كي قضاء اوكفاره دواړه واجب دي ، اوكفاره يې داده چي اول خو يوغلام ازاد كړي اوكه دايې په وس ونه

شوه بیا دي پرله پسې شپیته (۶۰) روژې ونیسي اوکه دایې په قدرت کي ونشوه نوبیا دي (۶۰) شپېتو مسکینانو ته سهار اوماښام خوراك ورکړي . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۴۲ بحواله ردالمحتار۲ج ۱۴۷)

(۲) کوروالی (جماع) کول دلمر له لوېدلو څخه بیا دصبح صادق تر راختلو لې مخته پوري صحیح دی (سورۃ بقرۃ ۲ پاره ۷ رکوع)

(۳) دجنابت غسل له سهار کېدو وروستوهم کولای شي.

(ردالمحتار۱ج ۱۳۸ مخ)

درمضان المبارك په دېرشم دسپوږمۍ په لیدلو سمدستي روژه ماتول

پوښتنه : که یوچا دروژې په میاشت کي دماپښین وروستو سپوږمۍ ولیدله ، نو روژه ماتول روادي اوکنه ؟ اوکه په دغه صورت کي چا روژه ماته کړه نوصرف قضالازمه ده اوکه کفاره هم ؟ اوکه چا تر زوال له مخه سپوږمۍ ولیدله نو حکم یې څه دی ؟

ځواب : هغه سپوږمۍ خو دراتلونکی ورځي ده نوځکه دروژې ماتول صحیح نه دی ، دماتولوپه صورت کي قضا اوکفاره دواړه واجب دي ، ترزوال وروستو خو ددریو واړو امامانو په متفقه رایه سره کفاره اوقضادواړه واجب دي ، اوترزوال له مخه دسپوږمۍ لیدلو په صورت کي امام ابوحنیفه رحمه الله اوامام محمد رحمه الله کفاره واجب بللې ده اوفتوی هم په همدي قول ده . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۳۴ مخ)

پټ مسلمان شوي ته روژه ورماتول

پوښتنه : یوکافرپه وجود کي ایمان راوړ اودرمضان المبارك روژه یې ونیوله ، نوله دې خاطره چي دغه راز چا ته څرګند نشي نوځکه یې

روژه ماته کړه ، اوبیا وروستو یې خپل اسلامیت په ډاګه کړ اوښکاره مسلمان شو نودهغې روژې کفاره ورباندي لازمه ده اوکنه ؟
ځواب :کله چي يوځوك مسلمان شو اوپه پاك خدای تعالی اومحمدﷺ یې ایمان راوړ اوددین ټول احکام یې ومنل نوهغه دالله تعالی په نزد مسلمان شو ، که څه هم خلګو ته لا دهغه اسلام راوړل ظاهرشوي نه وي ، که هغه درمضان المبارك روژه نیولې وه اوبیا یې ماته کړه نوپه هغه باندي کفاره لازمه ده .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۲۵ مخ بحواله عالمګیري مصري ۱ج ۱۵۲ مخ)

دبل چا لاړې تيرول

که یوچا دبل لاړې تېرې کړې نو روژه یې ورباندی فاسده شوه قضاؤ ورباندي شته اوکفاره ورباندي نشته ، اوکه یوچا خپلې لاړې په لاس يابل څه کې واچولې اوبیا یې بېرته تیرې کړې نو هم صرف قضاء لازمه ده خوکه چا دهغه چا لاړې چي ورسره یې مینه لرله تېرې کړې نوبیا کفاره اوقضا دواړه واجب دي .
(عالمګیري اردو ۲ج ۱۷۱ مخ)

دتبرک لپاره دبزرګ دلاړېو څکلو حکم

که یوچا دروژې په حالت کې دیوبزرګ لاړې دبرکت حاصلولو په خاطر وچیښلې نو روژه یې ورباندي فاسده اوکفاره اوقضاء دواړه واجب دي .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۳۳ مخ)

داومې غوښې اويا اومو وريجو خوړل

پوښتنه : يوچا دروژې په حالت كې په خپله خوښه اومه غوښه يا اومې وريجې وخوړلې نوآيا قضالازمه ده اوكه قضاء اوكفاره دواړه ؟
ځواب : په دغه صورت كې قضا اوكفاره دواړه لازمېږي .
(فتاوى دارالعلوم ۶ج ۴۴۲ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۴۸ مخ)

دروژې په حالت كې په قصد سره دچلم ځكول

څوك چې دچلم ځكولو عادت لري هغه چې دروژې په حالت كې چلم وځكوي قضاء اوكفاره ورباندى دواړه لازمېږي همدارنګه يوچا كه څه هم دچلم ځكولو عادت يې نه لرلو مګر دڅه فائدې په موخه يې په روژه كې په قصد سره چلم وڅكاؤ نوپه هغه باندې هم قضاء اوكفاره دواړه واجب شول. (بهشتى زيور ۱۱ج ۱۰۵ مخ بحواله شرح التنوير ۱ج ۱۴۹ مخ)

د كفارې مسئلې

كفاره څه ته ويل كيږي

دكفارې روژې څو ډوله دې چې ، موږ دلته صرف درمضان المبارك دكفارې بيان كوو درمضان المبارك ديوې دورې په كفاره كې بايد يوغلام ازاد كړل شي ، كه ددې كار قدرت ورسره نه ؤ اويا هلته غلام نه پيداكېدو نوبيا دشپيتو روژو نيول واجب دى او كه يې شپيته روژې هم نشواى نيولاى نوبيا وربانديې شپيتو (۶۰) مسكينانو ته خوراك وركول واجب دي اودشپيتو (۶۰) روژو پيوسته والي هم واجب دى په مينځ كې به يې پريكړون نه راځي ، اوكه په څه وجه سره جلاوالي دروژو راغى نوبيا به دوهم ځل روژې له سره پيل كوي ،

ددغه جلاوالي په وجه مخته نيولي شوې روژې بې اعتباره شوې ، خوکه مېرمني ته دكفارې په لړكي حيض ورغي اودپريكړون سبب شو نو دغه حيضي پريكړون معاف دى ، اوكله چي حيض پاى ته ورسېدلو نوسمدستي دي هغه پاتي روژې پسي پوره كړي ، ښه خبره داده چي اول دقضاروژه ونيوله شي اوبيا پرله پسي دكفارې روژې ونيولي شي اوكه چا اول دكفارې روژې ونېولي اوبيايې دقضا روژه ،نوبيا هم صحيح دى ،كه له جماع كولو بغير په كومه بله وجه باندي كفاره واجبه شوې وه اويا يې تراوسه پخوانۍ كفاره نه وه نيولې چي بله واجبه شوه نوبيا ددواړو په ځاى يوه كفاره راوړل واجب دي كه څه هم يوه كفاره په يوه رمضان المبارك اوبله يې په بل كي واجبه شوې وي خوكه دجماع كولو په و جه هرڅومره روژې فاسدي شوې وي ، دهغو ټولو به ځانله ، ځانله كفارې اداء كوي ، كه څه هم لاتراوسه يې لاهغه بله كفاره نه وي اداء كړي ، كه يوځوك دكفارې راوړلو په دريو واړو ډولونو ، دغلام په ازادولو ، په روژو نيولو ، اوشپېتو مسكينانو ته په ډوډۍ وركولو باندي قادر ؤ نوهغه ته بايد دهغه څه دكولو حكم وشي چي په هغه باندي ډېر سخت وي ، ځكه چي له كفارې څخه مقصود زجر، توبيخ اوخبرتيا ده ، معلومه خبره ده چي په اسانه صورت غوره كولو كي هغه ته خبرتيا نه حاصلېږي.

دبحرالرايق مولانا صاحب ليكلي دي چي كه په بادشاه باندي كفاره واجب شوله نوهغه ته دغلام ازادولو اويا شپېتو (۶۰) مسكينانو ته دډوډۍ وركولو حكم بايد ورنكړل شي ځكه چي هغه ته دغه كارونه

هيڅ ګر ان اومشکل نه دي اوهغه دراتلونکي لپاره ورځخه هيڅ درس نه اخلي نوځکه بايد ورته دپرله پسي (۶۰) روژو دنيولو حکم وشي ، ترڅوهغه ددغي کفاري دسختي په وجه په بله روژه کي بيا روژه فاسده نکړي . (علم الفقه ۳ج ۴۰ مخ)

يوبل شرط داهم دي چي شپېتو مسکينانو ته به دوه وخته دومره خوراك ورکوي چي دوی ښه پوره په ډك نس ماړه شي دادهغه خوښه ده چي په يوه شوا روز (سهار اوماښام) کي دغه کار کوي اوکه دوي ورځي سهار سهار ، يا دوي ورځي ماښام ماښام خوشرط دادي چي کومو محتاجانو ته چي اول وخت ډوډۍ ورکړله شوېده ، دوهم وخت به هم هغو خلګو ته ورکوله کېږي ، يووخت يوې ډلي (۶۰) مسکينانو ته اوبل وخت بلي ډلي (۶۰) مسکينانو ته ډوډۍ ورکول صحيح نه دی ، خوکه يوچا پوره (۶۰) ورځي پرله پسې يوه مسکين ته ډوډۍ ورکړه ، اويابې (۶۰) ورځي هره ورځ جلا جلا مسکين ته ډوډۍ ورکړه نوهم پکنبي څه بدي نشته ، اوپه دغه ډول باندي کفاره اداء کيږي ، اوکه يوچا د(۶۰) اوياڅه کومسکينانو ديوې ورځي دخوراك په اندازه صدقه په يوه ورځ يوه مکسين ته ورکړه نوپه دې سره دهغوټولو برخه نه اداءکيږي بلکه ديوه مسکين برخه اداء شوه .

همدارنګه کومو محتاجانو ته چي خوراك ورکول کېږي دهغو لوړه هم ضرروري ده ، که مړو خلګو ته ډوډۍ ورکړله شي نو کفاره نه اداء کيږي بلکه دوهم ځل وږيو ته دډوډۍ ورکول ضروري دي .

(مظاهر حق جديد ۲ جلد ، ۵ قسط ، ۱۲ مخ)

دغه قيدونه اوشرطونه ددې لپاره ښودل شوي دي چې خلک درمضان دروژې احترام وکړي اوبې له څه شرعي عذره هغه ماته نکړي.

(مولانا رفعت قاسمي)

دکفارې ټول قيمت يومحتاج ته ورکول

دروژې اوقسم په کفاره کي يومحتاج ته يوه ورځ دوه، ورکول ديوې ورځي فديه ګرزي ، دقسم په کفاره کي لسو مسکينانو ته ، اويا يومسکين ته لس ورځي دوه، ورکول ضروري دی ، نو که يوفقير ته ديوې شپې اوورځي دخوراك څخه زيات نورڅه ورکړل شي نوهغه ديوې ورځي کيږي ، دبلي ورځي لپاره هغه فديه کار نه کوي ، مګر شيخ فاني ته (هغه څوك چي دروژې نيولو قدرت يې نه وي) يومحتاج ته دټولي روژې فديه ورکول پکار دي ، اوکه يوه محتاج ته دڅوڅو روژو فديه ورکړي نو هم جائز دی ، اوپه دې ډول دهغه فديه اداء کيږي مګر دکفارې حکم مختلف دی ، په کفاره کي شپېتو (۶۰) مسکينانو ته خوراك يا غنم اويانقدي فديه ، اويا يومسکين ته شپيته ورځي خوراك ورکول ضروري دی ، يومسکين ته تر يوې ورځي زيات څه ورکول دهغې يوې ورځي فديه ګرځي او بس ، غرض داده چي په کفاره کي دورځو اودمحتاجانو شمېرل شته خو په فديه کي دهغه ضرورت نشته.

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۵۱ مخ بحواله ردالمحتار ۳ج ۱۶۳ مخ)

که يو چا دشپيتو ورځو غنمو ته حساب وکړ اويوه فقير ته يې په يوه ورځ ټول ورکړ نو صحيح نه دی ، همدارنګه که يوچا په يوه ورځ کي

شپیته (۶۰) واري غنم یوه فقیر ته ورکړو نو هم داټول صرف دیوې ورځي شو (۵۹) مسکینانو ته به یې بیا ورکوي ، همدارنګه دقیمت ورکول حکم هم شته (یعني په یوه ورځ کي یو مسکین ته دیوې روژې بدله ورکول) خوله دې څخه زیات څه ورکول صحیح نه دی ، همدارنګه که یوچا فقیر ته دصدقة الفطر تراندازې کم ورکړل نو هم کفاره یې نه صحیح کیږي. (بهشتی زیور ۳ حصه ۱۶ مخ بحواله ردالمحتار ۲۵۰ مخ)

په قصدي روژه ماتولو سره دکفارې اوقضا دواړو لزوم

پوښتنه : د فقهې په کتابو کي چي داسي لیکلی دي چي درمضان المبارك دروژې په بې له عذره ماتولو سره قضا اوکفاره دواړه واجبیږي ، نوآیا دکفارې اوقضا روژې به جلا جلا نیسي اوکه په ګډ ډول قضاء اوکفاره په (۶۰) شپیته روژو سره اداء کیږي ؟

ځواب : درمضان المبارك دروژې په قصدي ماتولو سره قضاء اوکفاره دواړه واجبیږي (یعني یوه روژه دقضا لازمه ده او (۶۰) روژې دکفارې لازمي دي) .(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۲۹ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۴۷ مخ)

دکفارې (۶۰) شپیته روژې

پوښتنه : آیا دکفارې روژې دوه میاشتي ده چي (۵۸) ، (۶۰) او(۵۹) ورځي هم کیدای شي اوکه (۶۰) ورځي پوره کول ضروري دی ؟

ځواب :که یو چا دسپوږمیځي میاشتي له لومړۍ څخه دروژو نیول پیل کړل ، نو دسپوږمۍ په حساب دي دوه میاشتي پوره کړي ، دواړه داعتبار وړ دي ، اوکه یې له لومړۍ ورځي پیل نکړې نوبیا دي شپیته روژې پوره کړي. (احسن الفتاوی ، پاکستاني ۴ج ۴۵۰ مخ)

که يوچا دسپوږمۍ له ليدلو سره سمي درمضان المبارك دكفارې روژې پيل كړې ، نو بيا ورته پوره دوي مياشتي روژه نيول كافي دي ، كه پوره شپېته (۶۰) ورځي وي اوكه تردې كمي . (كفايت المفتي ۴ج ۲۲۸ مخ)

په كفاره كي پرله پسي والى ضروري دى

دكفارې په راوړلو كي داضروري ده چي دوي مياشتي پيوسته روژې ونيسي ، كه يوه ورځ هم بې له څه شرعي عذره ، لكه دسفر اوياسخت مرض اوداسي نورو پېښيدلو څخه روژه پاته شي نوهغه روژې چي مخته يې نيولې دي هغه ټولي نفلي شوې اوكفاره به بېرته له سره پيل كوي ، ځكه چي پيوستوب ضروري دى اودلته خو هغه له مينځه لاړ .

اوكه يوچا دسخت تكليف اويابل څه په وجه روژه نشواى نيولاى نوهغه دي (۶۰) مسكينانو ته دومره خوراك سهار اوماښام وركړي چي ورباندي وږي خلګ مړيږي بايد وويل شي چي په فرضي كفاره كي (۶۰) شپيته داسي وږي مسكينان بايد ماړه كړل شي چي دكفارى اد اكونكي دكور خلګ نه وي ، دكور له خلګو څخه مراد هغه څوك دي چي دهغو نفقه په ده باندي واجبه وي لكه پلار ، مور مېرمن واړه بچي اوداسي نور .(كتاب الفقه على المذاهب الاربعه ۱ج ۹۴۱ مخ)

په دوو ډوډو وركولو كي دتسلسل ضرورت نشته

كه يو چا په پرله پسي ډول (۶۰) شپېته ورځي مسكينانو ته خوراك ورنه كړ ، بلكه په مينځ كي څو ورځي دغسي تېري شوي نو كوم نقصان ورته نه رسوي. (بهشتى زيور ۳ج بحواله مراقى الفلاح ۲۰۶ مخ)

په خوراك ورکولو کي پرله پسې والي ته ضرورت نشته ، په څانله څانله ورځو کي هم دخوراك په ورکولو کفاره اداء کيږي.
(احسن الفتاوی ۴ ج ۴۴۱ مخ)

دحيض په وجه دکفارې دروژې پريکړون

د رمضان المبارك دمياشتي دروژې ماتولو کفاره ددوو مياشتو پرله پسې روژې نيول دي ، د روژو ترمينځ وخت ورکول صحيح نه ده ، که چا بغير له عذره په مينځ کي څو روژې پريښو دلي نوبيا به واپس له سره تولي ، روژې پيلوي ، خوکه يوې ميرمني دحيض ورتلو په وجه څو روژې په مينځ کي پريښوولي ، نو هغه ورته معاف دي ، دهغو په پريښو دلو سره په کفاره کي څه نقصان نه دی راغلی ، ليکن دپاکېدو سمدستي دي پاتي روژې نيول پيل کړی او (۶۰) شپيته روژې دي پوره کړي . (بهشتی زيور ۱۵ مخ بحواله شامي ۲ج ۱۵۰ مخ)

دمياشتني مرض په وجه دکفارې په روژو کي ځنډ ياجلاوالی راتلل کفارې ته ضرر نه رسوي ، خو دمياشتني مرض دپای ته رسېدلو سره سمدستي بايد دپاتي روژو نيول پيل کړی ، که ددغه مرض دپای ته رسېدلو وروستو يوه ورځ هم روژه پريښودله شوه نوبيابه له سره دکفارې (۶۰) روژې پيل کوي.

دنفاس (دهغې ويني چي دماشوم له پيدا ايښت څخه وروستو راځي) په وجه که دکفارې دروژو په مينځ کي روژې پريښودلې شوې اوپرله پسې والی ونه ساتل شو ، نودهغې ميرمنې کفاره نه ده صحيح ، تولي روژې به بېرته له سره پيل کوي. (بهشتي زيور ج۳ مخ۱۵ بحواله رد المحتار ج۱ مخ ۱۵۱)

یادونه : ددې وجه داده چې حیض خو په هره میاشت کې واقع کېږي او کفاره خو (۲۰) روژې ده، نوځکه هغه مشکل وي نو ټوله کفاره په پرله پسې ډول نیول ناشوني ده ،خو نفاس دحیض په څېر نه دی، ځکه چې دنفاس وینه (چې په را تلو سره یې لمونځ معاف او دروژې قضاء لازمېږي) دماشوم له پیدائښت سره پېښېږي او په کال کې کم تر کمه یو ځل داسي پېښېږي ،نو په دې وجه دحیض او نفاس ترمېنځ ښکاره فرق دی .(محمد رفعت قاسمي)

دکفارې په مېنځ کې دناروغي یا رمضان دمیاشتي واقع کېدل

که دځه غم یا ناروغي په وجه د کفارې په مېنځ کې څه روژې پاته شولې ،نوهم به دروغېدلو سره سم هغه له سره پیل کوي همدارنګه که په مېنځ دکفارې کې رمضان المبارك واقع شو نو هم کفاره نه صحیح کېږي. (درمختار ج۳ مخ ۱۵۰)

که یو څوک په روژه نیولو قادر نه ؤ

که یو چا دروژې نیولو قدرت نه لرلو نو هغه دې شپېته ورې مسکینان سهار او ماښام ماړه کړي هغو ته باید دومره خوراك ورکړل شي چې ورې پاته نشي. (بهشتی زیور مخ۱۵ بحواله درمختار ج۱ مخ۲۵۰)

دکفارې لپاره ضامن نیول

که یو چا بل چاته وویل چې ته زما له جانبه کفاره ادا کړه او (۲۰) شپېتو مسکینانو ته خوراك ورکړه .نو هغه (۲۰) شپېتو مسکینانو ته یا خوراك ورکړ او یایې ورته غنم ورکړل نو دهغه کفاره ادا شوه

.خوکه يو چا بغير له وينا دچا کفاره ادا کړه نو دهغه کفاره نه ده اداء شوې. (بهشتی زيور حصه ۳ مخ۱٦ بحواله شامي ج۲ مخ ۸۳)

دروژو دکفارو دګډولو تفصيل

پوښتنه : دڅو په شمېر روژو په کفارو کې ګډون کېدای شي او که نه؟ يعني دټولو لپاره يوه کفاره کافي کېږي او که نه؟

ځواب : په دې کې درې خبرې دي.

۱. لومړی داچې په مطلق ډول تداخل (ګډون) دی، که ديوې رمضان المبارك دروژو وي او که دجلاً جلا رمضان المبارك دروژو کفاره که دجماع (يوځای کېدلو) په وجه لازمه شوې وي او که په کوم بل سبب.

۲. دوهم داچې ددوو رمضان المبارك په کفارو کې ګډون نشته،دهغو دلزوم سبب که جماع وي او که بل څه.

۳. او دريم داچې که ددوو رمضان المبارك کفارې دجماع وې نو تداخل نشته او په نورو ټولو کې تداخل (ګډون)شته. او دغه قول ته ترجيح ورکړله شوېده.

٤. (احسن الفتاوی پاکستاني ج٤ مخ ٤٤٤ بحواله رد المحتار ج۳ مخ ۱۲۰)

که بغير له جماع څخه په کوم بل سبب باندې کفاره لازمه شوې وه او يوه کفاره لانه وه اداء شوې چې بله لازمه شوه،نو ددواړو لپاره يوه کفاره کافي ده ـ که څه هم يوه په يو رمضان کې او بله يې په بل رمضان کې لازمه شوې وي خو که په سبب دجماع (يوځايوالي) سره څو کفارې په يو رمضان المبارك کې لازمې شوې وي ،نو دهغو لپاره

يوه كفاره كافي ده .اوكه په جلاجلا رمضانو كي په سبب دجماع لازمي شوې وي نو دهر رمضان كفاره به جلا جلا اداء كوي.كه څه هم دتېر رمضان كفاره يې لانه وي اداء كړې حاصل ورنه دارا وزي چي دجماع څخه بغير په مطلق ډول تداخل (ګډون)كېداى شي.او دجماع ديوې رمضان المبارك دكفارو ګډون كېدلاى شي .خو ددوو رمضانو دكفارو تداخل نشي كېدلاى.

يعني په يوه رمضان المبارك كي دواجب شوو كفارو ګډون كېداى شي چي تر دغه وخته يې بله كفاره نه وي اداء كړې ددو رمضانو په كفارو كي ګډون نشي كېداى او په دې كي دجماع او غير جماع ټولي كفارې يو ډول دي مګر موږ په غير دجماع كي صحيح او باوري قول خپل كړى دى. (بهشتى زيور حصه ۱۱ مخ ۱۰٦)

دحنفي مذهب والو په نزد دكفارې دواجبونكي عمل په بيا بيا كولو سره هغومره كفارې ادا كول واجب نه دي .هغه كه په يوه ورځ كي څوڅو واره وي او كه په څو ورځو كي وي خو كه يو چا يو ځلي كفاره واجبونكى كاروكړ او بيا يې دهغه كفاره اداء كړه او بيا يې بيا همدغه كار وكړ نو كه دغه دوهم وار هم په دغه ورځ كي و نو يوه كفاره واجب ده او كه يې دهغه اعاده په مختلفو ورځو كي وكړه نو له لومړي ځل وروستو چي دهغه ځل كفاره يې ور كړې ده ،بله كفاره به اداء كوي.

په دې کښې دومره زيات تفصيل ضروري دی چې که دکفارې لزوم دمباشرت (جنسي فعاليت) په سبب شوی ؤ نو دوهم ځل به کفاره اداء کوي او که داسي نه ؤ نوبيا دوهم ځل اداء نشته.
(کتاب الفقه على المذاهب الاربعه ج۱۱ مخ ۹٤٤)

په کفاره کې تاخير (ځنډ) کول

پوښتنه : په يو چا باندي دروژې کفاره وه او هغه دمدرسې زده کونکی او يايي دقران کريم حفظ کاؤ نو که هغه روژه نيسي نو دعلم په حاصلولو کې تاوان رامېنځته کېږي او که نه يې نيسي نو سبب دسختو نيولو ګرزي. نو په دې خاطر هغه ته داروا دی چې دعلم او يا حفظ له پوره کولو وروستو دروژې کفاره اداء کړي؟
ځواب : دکفارې په روژو کې بايد ځنډونه کړل شي که څه هم هغه دعلم او يا حفظ کولو په حالت کې وي او روژه نيول دهغه کار ته تاوان رسوي. (فتاوى رشيديه كامل مخ ۳۷۳)

په کفاره کې چاته ددوو مياشتو خوراک مقررول

پوښتنه : دروژې په کفاره کې ددوو مياشتو يعني (۶۰) شپېتو ورځو خوراک مقررول روا دی او که نه؟
ځواب : دروژې په کفاره کې يو طالب العلم (۶۰)شپېته ورځې دواړه وخته کښېنول او ورته خوراک ورکول په داسي ډول چې دهغه تر بس والي پورې وي صحيح دی او په دې سره کفاره اداء کېږي. مګر دهغه کښېنول او ورته خوراک ورکول پکار دي ځکه چې هره ورځ ورته

ددوو سېرو په اندازه يا دوروكي اختر دصدقې په اندازه او يا دهغه قيمت وركول ضروري دي . (فتاوى دار العلوم ج٤ مخ٤٤٨)
دغه رعايت (لحاظ) په دې وجه ساتل شوى دى چي كله په عام ډول دچا لپاره خوراك تاكل كېږي نو څلور مړه وي او حال دادى چي دځيني خلگو دخوراك اندازه تردې زياته وي. (محمد رفعت قاسمى)

وړو ماشومانو ته په خوراک ورکولو سره کفاره نه اداء کېږي

كه دمسكينانو په ډله كي څه شمېر بالكل واړه ماشومان وُ نو داروانه دى ، ددغو ماشومانو په بدل كي بايد نورومسكينانوته بيا ډوډۍ وركړي (بهشتى زيور ۳ج ۱۶ مخ ، شامي ۱ج ۵۰۳ مخ)
داتو (۸) يا لسو (۱۰) كلو كوچنيانو ته چي وخت دبلوغ ته نزدې نه وي دخوراك په وركولو سره كفاره نه اداء كېږي ، خوكه دوى دكفارې داندازې خاوندان وگرزول شي دمثال په ډول كه هريوه ته پاوكم دوه كيلو غنم اويا دهغو قيمت وركړل شي نوبيا صحيح دى .
(فتاوى دارالعلوم ۶ج ۲۵۲ مخ بحواله ردالمحتار ۳ج ۸۰۲ مخ)

په كفاره كي هر مسكين ته دوه وخته خوراک وركول

پوښتنه : كه دروژې په كفاره كي په يو وخت (۱۲۰) مسكينانو ته ډوډۍ وركړله شي ، اودقسم په كفاره كي په يووخت (۲۰) شلو مسكينانو ته ډوډۍ وركړله شي نو آيا كفارې به اداء شي اوكه نه؟
ځواب :په يو وخت ډوډۍ وركولو سره كفاره نه اداء كېږي دروژې په كفاره كي له هغو (۱۲۰) مسكينانو څخه (۶۰) اودقسم په كفاره كي له

هغو (۲۰) مسکینانو څخه (۱۰) ته دوهم ځل هم دخوراك ورکول واجب دي که په همدغه ورځ وي اوکه بله ورځ وي .
(احسن الفتاوی ۴ج ۴۴۰ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۲۳۵ مخ)

که یو مسکین ته په یوه ورځ کي تریوې ورځې ترانداز زیات څه ورکړل شول نودهغې یوې ورځې لپاره کافي کیږي اوبس نتیجه داده چي په کفاره کي دمسکینانو او ورځو شمېر کول ضروري دی خو په فدیه کي دمسکینانو او ورځو شمېر ضروري نه دی .
(فتاوی دارالعلوم قدیم ۳ج ۷۳ مخ) .

په کفاره کي غنم اویا دهغو قیمت ورکول

که یوڅوك په مسکینانو باندی ډوډۍ ونه خوري بلکه هغو ته اومه غنم ورکړي نو هم صحیح دی ، هرمسکین ته دي دومره ورکړي څومره چي دوروکي اختر په صدقه کي ورکول کیږي ، همدارنګه که ددغومره غنمو قیمت هر مسکین ته ورکړل شي نوهم صحیح دی .
(بهشتی زیور ۳حصه ۱۶ مخ بحواله درمختار ۱ج ۲۵ مخ)

یوه مسکین ته خوراک ورکول

که یوچا شپېته (۶۰) ورځي یومسکین ته خوراك ورکړ ، اویا یې (۶۰)شپېته ورځي ورته هره هره ورځ غنم یا دهغو قیمت ورکړ نو په دې ډول هم کفاره اداء کیږي . (بهشتی زیور ۳حصه ۱۶ مخ بحواله قدروي ۱۵۷ مخ)

دکفارې په روپو دمدرسي لپاره ټاټ اخستل یا دمسجد ودانی جوړول

پوښتنه : دروژې کفاره شپېتو مسکینانو ته دوه وخته ډوډۍ ورکول دي ، نوکه دهغې ډوډۍ په قیمت باندي دمدرسي لپاره دطالبانو

دخدمت په خاطر تاټ واخستل شي ، اويادمسجد په رغونه كي وكارولي شي نو په دې ډول كارونه يې اداكول روا ده اوكنه ؟
ځواب : كه يوځا دشپېتو روژو نيولو قدرت نه لرلو نو هغه بايد ديوې روژې په بدل كي يومحتاج ته سهار اوماښام ډوډۍ وركړي ، كه هغسي نشو كيداى نوبيا هرمسكين ته پاوكم دوه كيلو غنم اويا دهغو قيمت وركول ضروري دى دمدرسې لپاره دتاټ اخستل اويا وربانډي دمدرسې يامسجد ودانۍ رغول صحيح نه دى.
(فتاوى دارالعلوم ۴۴۹ مخ بحواله ردالمحتار، ۱۴۹ مخ)

دكفارې روپۍ په مدرسه يامسجد كي وركول صحيح نه دى اوپه دې سره كفاره نه اداء كېږي ، خو كه دطالبانو په خوراك كي ولګولي شي ، په دې شرط چي (۶۰) شپېتو نفرو ته دوه وخته خوراك وركړل شي ، اويا هر طالب ته دوړوكي اختر دصدقې په اندازه پاوكم دوه سېره غنم . اويا دهغو قيمت وركړل شي نوبيا صحيح اوكفاره وربانډي اداء كېږي . (فتاوى دارالعلوم ۲ج ۴۵۴ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۷۹ مخ)

دكفارې دروژې پرځاى دنغدو روپو وركول

پوښتنه : دزيد په ذمه درمضان المبارك يوه كفاره پاته ده ، هغه دوې مياشتي روژه نشي نيولاى ، نو كه هغه دكمي درجې دوو مياشتو دخوراك روپۍ په مدرسه كي راټولي كړې كوم طالب العلم ته نو آيا كفاره يې اداء شوې ده اوكه نه ؟ اويا زيد يومحتاج ته درې پاوه اوړه پوره دوه مياشتي وركړي اودتر كاري اولګو لپاره ورته نغدى روپۍ وركړي نو ايا كفاره به اداء شي اوكه نه ؟

ځواب : په روژه کي دتکليف په وجه داسي روانه دي چي څوك روژه پرېږدي اوپه ځای يې مسکينانو ته خوراك ورکړي ، ځکه چي په قران کريم کي ورته د« فمن لم يستطع» قيد لګول شوی دی چي حاصل يې دادی چي په هغه کي دروژې نيولو قدرت نه وي يعني دعلاج نه لرونکي مرض يا دومره زوړ والي په وجه چي نور دروژې نيولو توان ورسره پاته نه وي ، نو هغه وخت بيا مسکينانو ته دخوراك ورکول صحيح دي ، نو کله چي يا بې علاجه مرض يا له ډېرښته دعمر څخه بې قدرتي پيښه شوه نوبيا (۶۰) مسکينانو ته دخوراك ورکول ضروري دي ، نو ددې لپاره دوه صورتونه دي ، يوداچي هر مسکين ته پاوکم دوه کيلو غنم اويا دهغو قيمت ورکړل شي اويا (۶۰) شپېته ورځي مسکينان دوه و خته ماړه کړل شي نو يو غريب ته روزانه په درې پاوه اوړو ورکولوسره (چي پوره دوه مياشتي وي) کفاره نه اداء کيږي بلکه هغه وخت به اداء شي چي پاوکم دوه کيلو غنم ، اوړه اويا دهغو قيمت ورکړل شي ، همداشان په اجمالي (يوځايې) ډول يو طالب ته په روپو لېږلو سره هم کفاره نه اداء کيږي بلکه دابه ورسره ليکي چي (۶۰) شپېتو مسکينانو ته په يوه ورځ کي دوه وخته اويا يومسکين ته دوي مياشتي دواړه وخته په خوراك کولو دي دروژې دکفارې په نيت ولګولي شي .

په کفاره کي دمدرسي دمهتمم وکالت

پوښتنه : که يو څا دمدرسې مشر دکفارې دخوراك ورکولو لپاره وکيل کړ ، نو هغه دکفارې روپۍ دطالبانو په خوراك باندي لګولای شي اوکنه اويا ورباندي مهتمم کپړه اخستلای شي اوکنه ؟

ځواب : هغه کولای شي چي دکفارې په ټولو روپو باندي کپړه واخلي اوطالبانو ته يې ورکړي داسي کول صحيح دي . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۵۴ مخ)

په توبه باندي دروژې دکفارې معاف کېدل

پوښتنه : داسي يوچاچي په کفاره نه پوهيدو دروژې په حالت کي دخپلي مېرمني سره جماع وکړه ، نو په هغه خو کفاره لازمه شوې ده خو په هيڅ ډول هم کفاره نشواى اداء کولای نو په دغه صورت کي به دهغه توبه قبوله شي اوکنه ؟

ځواب : په دغه صورت کي دقضاء اوکفارې دواړو اداء کول ضروري دي ، توبه هغه وخت قبليږي چي که پرله پسي د(۶۰) روژو نيولو قدرت ونه لري نوبيا (۶۰) مسکينانو ته ډوډۍ ورکړي (فمن لم يستطع) (فتاوی دارالعلوم ديوبند ۶ج ۴۵۰ مخ بحواله قرآن کريم سورة مجادله ۱ رکوع)

دښځو مسئلې

دحيض تعريف اومسئلې

(۱) مسئله : هغه وينه چي هره مياشت دمېرمنو له مخکني لوري څخه راځي هغه ته حيض ويل کيږي .

(۲) مسئله : دحيض کمه مده دري ورځي او دري شپې ده اوزياته مده يې لس ورځي لس شپې ده ، کومي مېرمني ته چي ترلسو ورځو زياته وينه ورشي نو ترلسو ورځو اوشپو چي هرڅوورځي زياته وينه ورغلې ده هغه داستحاض (مرض) وينه ده اوکه تر درو ورځو اوشپو کمه وي نو هم هغه حيض نه بلکي استحاض (مرض) دی چي دځه ناروغي يابل څه له وجي پيداکيږي .

(۳) مسئله : که دیوې مېرمنې وینې دلمر لوېدلو وروستو بنده شوه ، نوداهم حیض نه بلکه استحاض دی دغه وینه که لږ هم تر درو ورځو دروشپو کمه شي نوبیا حیض نه بلل کیږي .

(۴) مسئله : دحیض په مده کې دننه سور ، ژړ ، شین ، خاورین ، خړېخون ، او تور رنګونه ټول دحیض دي ،ترهغه وخته پورې چې ښودل شوې کپړه بالکل سمه ، او پاکه ولیدله شي ، اوکله چې داسې وشول نو حیض ختم اوښځه پاکه شوه

(۵) مسئله : تر نهه (۹) کلنې له مخه اوتر (۵۵) کلنې وروستو ښځې ته حیض نه ورځي ، نو ترنهه کلنۍ له مخه که دانجلۍ څخه وینه راغله هغه حیض نه بلکې استحاض دی ، په دې معنی چې ترنهه (۹) کلنۍ له مخه خو بالکل حیض نشته نو ځکه خو که تر (۹) کلې له مخه وینه ورغله نو هغه کله هم حیض نشي کېدلای ، او د(۵۵) کلنۍ وروستو چې کوم عام عادت دی هغه داده چې ښځو ته حیض نه ورځي ، خو دبیا وینې ورتلو امکان یې ببخي له مینځه تللی نه دي ، نوځکه که تر(۵۵) کلنې وروستو وینه ورغله نو په هغو خاصو ښځو کې چې له مخه یې ذکر شوی دی هغه ته به حیض ویل کېږي ، که دغې مېرمنې ته تر (۵۵) کلنۍ له مخه هم ژړ یا خاورین یا شین رنګ ورتلی نو د(۵۵) کلنۍ وروستو هم هغه رنګونه حیض بلل کېږي ، اوکه دعادت په خلاف دارنګه وشول نوبیا حیض نه بلکې استحاض دی .

(۶)مسئله : یوې مېرمنې ته همیشه درې یا څلور ورځې وینه ورتله خو په یوه میاشت کې تربخواني عادت زیاته شوه ، لیکن ترلسو ورځو

کمه وه نودغه ټول حيض دی ، اوکه ترلسو ورځو هم واوښتله نوبيا هغومره ورځي چي دهغې پخوانۍ عادت ؤ حيض ، اوپاته ورځي (هرڅومره چي وي) استحاض بلل کيږي ، دمثال په ډول ديوې مېرمني پخوانی عادت دري (۳) يا څلور (۴) ورځي دی مگر يوه مياشت ورته (۸) يا (۹) يا(۱۰) ورځي اوشپې وينه ورغله نودغه ټولي ورځي حيض دي ، اوکه ترلسو شپو او ورځو يوه لحظه هم وينه زياته شي نوبيا هغه دپخواني عادت دري (۳) ورځي حيض اوپاته ورځي استحاض (مرض) دی او ددغو ورځو دلمونځو قضا راوړل واجب دي (۷) مسئله : يوه داسي ښځه وه چي لاتر دې وخته يې ټاکلي عادت نه ؤ کله ورته (۶) ورځي وينه ورتله اوکله (۸) اوداسي نور همدارنگه تل دبدلون په حال کي ؤ ، ان داچي کله خو لسو ورځو ته هم رسېدو ، نو دغه ټول حيض دی دغه رنگه مېرمنې ته که ترلسو ورځو زياته وينه ورغله نوهغه دي داوګوري چي تېره مياشت ورته څوورځي وينه ورغلي وه ، هرڅومره ورځي چي ورته تېره مياشت وينه ورغلې وه هغومره ورځي به حيض بولي او نوري ټولي ورځي مرض دی

(۸) مسئله : يوې مېرمني ته به همېشه څلور ورځي وينه ورتله اوپه يوه مياشت کي ورته (۵) پنځه ورځي وينه ورغله اوبيا په دابله مياشت کي (۱۵) ورځي وينه ورغله نوله دغو (۱۵) ورځو څخه (۵) ورځي دحيض او (۱۰) ورځي داستحاض دي پخوانی څلور ورځني عادت به معتبر نه بولي ، اوداسي به وايي چي عادت له (۴) څلورو ورځو څخه (۵) پنځو ورځو ته بدل شوی دی .

(۹) مسئله : یوې مبرمنې ته ترلسو ورځو زیاته وینه ورغله او هغې ته پخوانی عادت هیڅ هم یاد نه ؤ چې تېره میاشت حیض څو ورځې ؤ نوددغې مبرمنې مسئلې ډېرې سختې اوباریکې دي چې وربانديې پوهېدل ګران کار دی اوداسې یومشکل ډېر کم واقع کیږي نوځکه مونږ دهغې حکم بیان نه کړ، که کله دچا ضرورت پېښ شو نو له ځایې (کلیوال) اوبابل عالم نه دي

دخپل مشکل په اړوند پوښتنه وکړي ، خو ددارنګه سختو مسائلو لپاره هسې په نوم ملاصاحب ته باید مراجعه ونشي.

(۱۰) مسئله : که یوې نوې پېغلې انجلۍ ته لمړي ځل وینه ورغله ، نو که پوره لس ورځې اویاتر دې کمه وه نوټول حیض دی ، اوکه ترلس ورځې زیاته شوه نوبیا (۱۰) ورځې اوشپې دحیض دي ، او نوري ټولې ورځې استحاض (مرض) دی.

(۱۱) مسئله : یوې انجلۍ په لومړي ځل وینه ولیده اوهغه څومیاشتې په هیڅ ډول هم بنده نشوه اوهمداسې روانه وه ، نودوینې دلیدلو دورځې په شمول لس ورځې اوشپې حیض اوپاته (۲۰) ورځې استحاض دی.

ترهغه وخته چې یې وینه په پرله پسې ډول روانه وي همدغه لس ورځې به حیض او (۲۰) شل ورځې به استحاض بلل کیږي.

(۱۲) مسئله : ددوو حیضونو ترمینځ دپاکۍ مده کم ترکمه (۱۵) ورځې ده ، اودزیاتې مدې لپاره تاکلی حد نشته که په څه وجه

دکومې مېرمنې حیض بند شي نو ترڅو میاشتو پورې چې وینه بنده وي ترهغو به دغه مېرمن پاکه بلله کېږي .

(۱۳) مسئله : که یوې مېرمنې ته درې (۳) ورځې اوشپې وینه ورغله بیا (۱۵) ورځې پاکه وه ، اوبیا ورته بیا (۳) درې ورځې اوشپې وینه ورغله نو لومړنۍ او وروستنۍ دواړه (۳) (۳) درې ، درې ورځې حیض دی اوپه مېنځ کې (۱۵) ورځې دپاکې زمانه ده .

(۱۴)مسئله : که یوې مېرمنې ته یوه یادوې ورځې وینه ورغله بیا(۱۵) ورځې پاکه وه ، له هغې څخه وروسته بیا یوه یا دوې ورځې وینه ورغله نو هغه (۱۵) ورځې دپاکې دي اولومړنۍ او وروستنۍ یوه ، یوه یا دوې ، دوې ورځې هم دحیض نه بلکه داستحاض (مرض) ورځې دي .

(۱۵) مسئله : که مېرمنې ته یوه یا څو ورځې وینه ورغله ، اوبیا کم تر (۱۵) ورځې پاکه وه ، نو دغه پاکې داعتبار وړ نه ده ، بلکه داسې به بلله کېږي چې ګویا له اول څخه تر اخېره پورې پیوسته وینه جارې وه ، نوڅومره ورځې چې دهغې دحیض پخوانۍ عادت دی هغومره ورځې حیض دی اوپاته ورځې داستحاض (مرض) دي ، دمثال په ډول دیوې مېرمنې عادت داؤ چې دهرې میاشتې په لومړۍ ، دوهمه او دریمه ورځ به حیض ورتو بیا په یوه میاشت کې داسې وشول چې دمیاشتې په لومړۍ ورځ وینه ورغله بیا (۱۴) ورځې پاکه وه ، بیا یوه ورځ بیا ورته وینه ورغله نو هغه به داسې ګڼي چې (۱۶) شپاړس ورځې پرله پسې وینه راغلې ده نوله دغو ورځو څخه اول درې شوا

روزه حیض دی اوپاته (۱۳) ورځي استحاض (مرض) دی همدارنګه که دمیاشتي څلورم ، پنځم ، اوشپږم دهغې دحیض عادت ؤ نودغه درې ورځي به حیض بولي اومختنی دري ورځي او وروستنی (۱۰) ورځي داستحاض دي او که ددغي مېرمني دغه دويني ورتلو لومړی وارؤ نو لس (۱۰) ورځي حیض دی او (۶) شپږ ورځي استحاض (مرض) دي.

(۱۶) مسئله : که یوه مېرمن حمل (په نس کي اولاد) ولري نو هغې ته ورتلونکي وینه هم حیض نه ،بلکه استحاض دی هرڅومره ورځي چي وي.

(۱۷) مسئله : دبچي دپيداکېدلو پروخت چي ترهغه له مخه کومه وینه مېرمني ته ورځي هغه هم ترهغه وخته پوري استحاض (مرض) دي ترڅو چي تر نیمایي زیاته برخه دماشوم بهر ته راوزي.

(بهشتی زیور ۲ حصه ۶۱ مخ)

دحيض لرونکي مېرمني حکم

د حیض په حالت کي روژه نیول اولمونځ کول صحیح نه دي خو ددوئ ترمينځ فرق دادی چي لمونځ بالکل معاف دی اوله پاکېدو وروستو دهغه قضاء واجب نه ده ، مګر روژه نه ده معاف شوې ، اوله پاکېدلو وروستو به يې قضاء راوړي.

(بهشتی زیور ۲ حصه ۵۹ مخ بحواله بحر۱۹۴ مخ)

نفاس لرونکې مېرمن

دبچي دپيدائښت څخه وروستو چي کومه وينه پيداکيږي هغه ته نفاس وايي ، په نفاس کي هم لمونځ دتل لپاره معاف دی ، خو روژه نه معاف کېږي بلکه دپاکي په حالت کي به يې قضاء راوړي.

داستحاضې (مرض لرونکې) حکم

داستحاض احکام کتې متې دېوزي دجاري ويني په څېر دي ، استحاض لرونکې مېرمن به لمونځ هم کوي ، روژه به هم نيسي ، اوقضاء کوي به يې نه ، داستحاضې حکمونه بالکل دمعذور په شان دي چي دبهشتيي زيور اوله حصه (۵۴) مخ کي يې ښه په تفصيل سره بيان شوی دی. (بهشتی زيور ۲ حصه ۶۱ مخ بحواله شرح الوقايه ۱ج ۱۱۳ مخ)

دروژې پيل کولو وروستو په ورځ کي دحيض پيل کيدل

که په فرض لمانځه کي حيض پيل شو نو هغه لمونځ معاف شو ، اوپه پاکي کي يې قضاء نشته ، خو که په نفلي اوياسنت لمانځه کي پيل شو نو هغه به دپاکي په حالت کي بېرته راګرزوي.

که له نيمايي دورځي وروستو حيض پيل شو نو روژه ماته شوه ، کله چي دغه مېرمن پاکه شي نو قضاء به يې راوړي اوکه په نفلي روژه کي حيض پېښ شو نو دهغه به هم قضاء راوړي

(بهشتي زيور ۲ حصه ۵۹ مخ بحواله جوهرة النيرة ۱ج ۳۲ مخ)

دکفارې دروژو په مينځ کي دحيض پېښيدل

په کفاره کي دمياشتني مرض (حيض) په وجه جلاوالی راتلل ضرر نه لري ، ددغه مرض دختمېدلو سمدستي بايد دپاتې روژو نيول

پیل کړي اوپه پرله پسې ډول (۶۰) شپېته روژې پوره کړي ، که دحیض ختمېدلو وروستو یوه ورځ هم ونه نیوله شي نوبیا به تولي شپېته روژې له سره نیسي

(۶۰) شپېته روژې له سره نیسي .(احسن الفتاوی پاکستاني ۴ج ۴۳۴ مخ)

په ورځ کي دپاکیدلو حکم

که یوه مېرمن درمضان المبارك په ورځ کي پاکه شوه ، نو ترمابنامه ورته دخه شي خوړل اوڅښل روانه دي ، او تر روژه ماتي پوري دروژه لرونکو په څېر پاته کېدل ورته واجب دي هو،مگر په دغه ورځ په روژه کي نه گڼله کیږي دهغې به دپاکي په حالت کي قضاء راوړي.

(بهشتی ۲ حصه ۶۱ مخ بحواله شرح وقایه ۳۱۶ مخ)

په شپه کي دپاکیدلو حکم

که یوه مېرمن په شپه کي پاکه شوه ، اودحیض یې پوره لس ورځي اوشپې تېري شوې وې نو که دومره لحظه هم چي الله اکبر هم پکښي نشي ویل کیدای شپه پاته وه نو هم دراتلونکې ورځي روژه ورباندي واجب ده اوکه حیض ترلس ورځي کم ورغلی ؤ نو بیا که دشپې دومره برخه پاته وه چي په تلواره سره پکښي غسل کېدای اوله هغه وروستو یوځل الله اکبر هم نشوای ویل کېدای نو هم ورباندي دراتلونکې ورځي روژه واجب ده ، که دغومره اندازه شپه پاته وه اوهغې پکښي غسل ونه کړ ، نو هم روژه به نه ماتوي ، دروژې نیت دي له شپې څخه وکړئ غسل به له سهار کېدو وروستو وکړي . او که تردې هم کم وخت ؤ یعني غسل پکښي نشوای کیدای نوبیا روژه نیول ورته روانه دي ، مگر په ورځ کي به هیڅ خوراك اوڅښاك نه

کوي ، بلکه دروژه دارانو په خبر به پاته کېږي اوپه پاکي کي به بيا دهغې قضاء راوړي (بهشتی زیور ۲ حصه ۶۱ مخ).

که يوه مېرمن په شپه کي پاکه شوه ، نو هغه دي روژه نه پرېږدي ، اودشپې دغسل نه کولو په وجه دي هم روژه نه ماتوي ، که په شپه کي غسل ونشو سهار دي وکړي ، خو که يوه مېرمن له سهار کېدلو (صبح صادق) وروستو پاکه شوه ، نوبيا ورته دروژې نيت کول صحيح نه دی ، خو په ورځ کي ورته خوراك څښاك کول هم صحيح نه دي ، ټوله ورځ به دروژه لرونکو په څېر پاته کېږي .

(بهشتی زیور ۳ حصه ۷۰ مخ جوهرة النيرة ۱ج ۱۴۸ مخ).

يادونه :په هغه وخت کي غسل ضروري نه دی ، بلکه مراد دادې چي دومره وخت دشپې بايد پاته وي چي په هغه کي غسل کېدای شي ، نوبيا که سمدستي نه ،بلکه سهار غسل وکړي نو هم صحيح دی ، په روژه کي ورته څه ضرر نه پيښيږي ، اودرمضان په ورځ کي چي هروخت مېرمني ته حيض ورغي (که څه هم دورځي کمه برخه پاته وي) نو روژه ماته شوه ، هغه که فرضي روژه وي اوکه نفلي وروستو به يې بيا قضاء راوړي (ترتيب کونکي) (رفعت قاسمي).

مېرمن چي پاکه شي نوقضاء راوړل پرې واجب دي

مېرمنو ته په روژه کي له حيض اونفاس څخه پاکېدل شرط دی ، ځکه چي نه په حيض اونفاس کي روژه واجب دی ، اونه روژه نيول ورته صحيح ده ، هريو دحيض اونفاس چي پوره يوه لحظه تر صبح صادق له مخه پای ته ورسيږي نو سمدستي په هغه شپه کي دروژې نيت

کول واجب دی ، له حیض اونفاس لرونکو ښځه چې هر کله دروژې نه نیولو حالت ختم شو ، نو سمدستي به درمضان المبارك قضاء شوې روژې نیسي.

په ښځه باندي دخوب لیدو په وجه غسل لازمېدل

یوه مېرمن درمضان المبارك په ورځ کي ویده شوه ، اوداسي خوب یې ولید چيورباندي غسل لازم شو ، نو په دې سره دهغې روژه نه ماتېږي (بهشتی زیور ۳حصه ۶۱ مخ ، جوهرة النیرة ۱ج ۱۴۲ مخ)

دجنابت دنه کولو په صورت کي دروژې حکم

یو چاته په شپه کي دغسل کولو ضرورت پېښ شو خو هغه غسل ونه کړ ، نو که په ورځ کي غسل وکړی نو هم روژې ته یې تاوان نه رسېږي همدارنګه که په دغه ټوله ورځ کي غسل ونه کړي هم روژه یې سمه ده ، خودغسل نه کولو ګناه بېله ده . (بهشتی زیور ۳ حصه ۷۰ مخ بحواله نورالایضاح ۱۴۷ مخ)

دروژې په حالت کي له سړي سره ناسته ولاړه

د خاوند یابل چا سره ښځه کښیناستل ، په دوی باندي لاس لګول له هغو سره محبت اومینه کول صحیح دی ، لیکن په وخت دځواني کي دومره جوش وي چي له داسي کولو ځخه دجماع کولو وېره وي ، نو ځوانانو ته دروژې په حال کي دغه کارونه دي کول پکار.
(بهشتی زیور ۳ حصه ۷۰ مخ)

دښځي شونډان ښکلول

د روژې په حالت کي دمېرمني ښکلول اودهغې په غېږه کي نیول مکروه دي ، ځکه دانزال ، اودخپل نفس له واکه وتلو اوجماع کېدلو

ویره ده ، اوکه دغه ویره نه وه نوبیا مکروه هم نه دی ، همدارنګه دمېرمني یابل چا شونډي ښکلول اومباشرت فاحشه (یعني دتناسلي غړیو له یواوبل سره لګول بې له دخوله) په هر حالت کي مکروه دي ، که دجماع ویره وي اوکنه ، اوکه انزال کېږي اوکنه (بهشتی زېور ۱۱ حصه ۱۰۴ مخ)

جماع (کوروالی) کول

که له نارینه ښځه جماع وشوه نو هم روژه له مینځه ځي ، دهغې روژې به قضاهم راوړي اوکفاره هم ، کله چي دنارینه په شاتنۍ لاره کي دخاص اندام سرپټ شو ، نوسمدستي روژه ماته ، اوقضااوکفاره دواړه واجب شول دمنو وتل اونه وتلو شرط پکښي نشته ، همدارنګه که یوسړی دښځې سره په شاتنۍ لاره جماع وکړه اودخاص اندام سر پکښي پټ شو ، نو هم په ښځه اوسړي دواړو باندي کفاره اوقضاء دواړه واجب شول
(بهشتی ۳ حصه ۷۰ مخ)

په زور باندي جماع کول

یوه مېرمنه ښه بېغمه ویده وه ، اویا بیهوښه وه اوپه دغه حالت کي ورسره چا جماع وکړه نودهغې روژه ماته شوه صرف قضاء لازمه ده کفاره ورباندي نشته ، اوپه سړي باندي کفاره هم واجبه ده یو چا له روژې لرونکې مېرمني سره په زور یا دخوب اویا لېونتوب په حالت کي جماع وکړه نوپه سړي باندي قضاء اوکفاره دواړه واجب دي ، اوپه ښځه باندي صرف قضاء لازمه ده .
(بهشتی زېور ۱۱ حصه ۱۰۵ مخ)

له نابالغ یا لیوني سره جماع کول

که یوې ښځې له نابالغ او یا لېوني سره جماع وکړه نو روژه یې ماته شوه او قضاء او کفاره دواړه واجب شول.

(بهشتي زیور حصه ۱۱ مخ ۱۰۵ بحواله عالمګیري ج۱ مخ ۲۰۳)

دښځو ترمېنځ نزدېکت کېدل

که دوو مېرمنو په خپل مینځ کي له یوې اوبلي سره نزدیکت او یا یوې په بلي مشغولتیا وکړه نو دانزال کېدلو په صورت کي روژه ماته ده خو کفاره لازمه نه ده، او دنه انزال په صورت کي روژه هم نه ده ماته شوې. (فتاوی هندیه ج۲ مخ ۲۰)

په رحم کي دربړکړۍ داخلول

پوښتنه: یوې مېرمني درحم له خارښت څخه شکایت لرلو ددې دعلاج لپاره یې په فرج کي دربړ یوه کړۍ (چي درحم په داخلي برخه کي ښودله کېږي)کېښودله نو ایا روژه یې ماتېږي او که نه؟

ځواب: دروژې په حالت کي دهغې ښودل روژه فاسدوي خو که بغیر دروژې په حالت کي ښودل شوې وي او په حال دروژې کي هم هلته وي، نو له دې څخه روژې ته هیڅ تاوان نه رسېږي.

(امداد الفتاوی ج۲ مخ ۱٤٤)

دروژې په حالت کي په فرج کي دوا اچول

پوښتنه: یوې مېرمني له روژه ماتي څخه وروستو دناروغۍ په وجه ددوا ګځوره بنده کړه او دشپې یې په خپل فرج کي کېښودله او له بل

روژه ماتي وروستو يې را ويستله او يابې دروژې په حالت کې په ورځ کې کېښودله نو په دې اړوند دشريعت حکم څه دی؟
ځواب :دروژې تر پيل له مخه ښودل شوې دوا روژه نه فاسدوي خوکه دروژې په حالت کې دوا کېښودله شي نوبيا وربانديې روژه ماتېږي. (فتاوی رحيميه ج۲ مخ ۳۸)

دروژې په حالت کې په فرج کې دتيوب استعمالول

پوښتنه: يوې ميرمني ته دروژې په حالت کې په خپل فرج کې تيوب لګول يعني دوا استعمالول روا دي او که نه؟
ځواب : په دې سره روژه نه ماتېږي .خوکه دوا داخلي فرج ته ورسيده نو بيا روژه ماته ده. دپورته اوږده سوري په اخير کې له ګرد سوري څخه داخلي فرج پيل کېږي. که دښځې دفرج په داخلي برخه کې څه کېښودل شي نو روژه وربانديې ماتېږي .ځکه چې په ښځو کې دننه دغه يو پيدايشي سوری دی چې تر لړمانه پورې رسېږي .که دنارينه په تناسلي غړي کې څه شی واچول شي نو زموږ په نزد وربانديې روژه نه ماتېږي. ځکه چې دمعدې او دغه نل تر مېنځ نيغ په نېغه سوری او لاره نشته ،بلکه دمثانې لاره ده چې هلته يو يو څاڅکی بولي کښته لوري ته راځي او هلته بيا راټولېږي په عالمګيرې ج۱ مخ ۱۲۴ کې راغلي دي چې:دنارينه په تناسلي غړي کې ددوا په اچولو سره روژه دامام ابوحنيفه رحمه الله او امام محمد رحمه الله په نزد نه ماتېږي ،خو دمېرمنې په فرج کې په دوا اچولو سره بې اختلافه روژه ماتېږي .او داقول صحيح دی. (جديد فقهی مسائل مخ ۱۹۷)

دحمل ښوولو حکم

دېر محترم مفتي صاحب ---------- زید مجدکم- السلام علیکم ورحمة الله
محترما--- دحمل اخستلو په لمړیو ورځو کي دښځي په فرج کي ډاکټره یا دایي کله په داسي حال کي چي نرمه جالۍ دوله دستکله یې په لاس کړې وي او کله بغیر له دستکلې وي،خپلي ګوتي ننباسي ایا په دغه صورت کي دروژې حکم څه ډول دی؟

والسلام----سعود الرحمن----دیوبند.

بسم الله الرحمن الرحیم- هو الموفق المعین--- که ددغی ډاکټري یا دایې په دستکله باندي داوبو یا بل څه اثر نه وي،نوبیا دلاس په ور ننه ایستلو سره روژه نه فاسدېږي .او که ورباندي دلوند والي اثر ؤ نو بیا روژه فاسدېږي.

کفیل الرحمن نشاط نائب مفتی دار العلوم دیوبند---محمد ظفیر الدین مفتی دار العلوم دیوبند

په فرج کي دګوتي داخلول

دروژې په حالت کي په مخکنۍ لاره کي ددوا ایښودل یا تېلو او داسي نورو اچول صحیح نه دی. که یوچا دروژې په حال کي پکي دوا واچوله نو په دې سره دهغه روژه ماتېږي.قضاء ورباندي واجب ده او کفاره نشته.

او که دڅه ضرورت په وجه ډاکټري یا هغې پخپله په خپل مخکنۍ لاره کي ګوته ننه ایستله،بیایې تړوله یا لږ برخه دګوتي راویستله اوبېرته یې دننه کړه ،نو بیا ورباندي روژه ماته ده او قضاء لازمه ده خو کفاره نسته خو که یې ګوته له راایستولو وروستو بېرته دننه

نکړه،نوبیا روژه هم نه ده ماته شوې.خو که تر دخول له مخه ګوته په اوبو یا بل څه باندي لونده وه (که څه هم کمه لونده وي) نو په اول وار دخول يې روژه له مېنځه لاړه.

(بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۷۰ بحواله در مختار ج۱ مخ۱٤۹)

په روژه باندي، دګوتي داخلولو اثر

پوښتنه :که یوسړي دښځي په فرج کي ګوته ور دننه کړه، نو ایا روژه يې ورباندي ماتېږي؟

ځواب : په دغه صورت کي دسړي روژه نه ماتېږي.او دښځي روژه داسي ده چي که يې لونده ګوته داخله کړه، او یا يې وچه ګوته ور داخله کړه خوله پوره را ایستلو او یا لږ را ایستلو وروستو يې بېرته ور دننه کړه، نو په دواړو صورتو کي روژه ماتېږي. او صرف قضاء واجبه ده (احسن الفتاوی ج٤ مخ ٤٤٧)

دګوتي ددخول جرم بللو په وجه جماع کول

پوښتنه: یوې مېرمني ددوا استعمالولو لپاره خپل فرج ته ګوته ور دننه کړه،او بیا ورباندي شهوت غالب شو. نو دهغې داخیال شو چي روژه ماته شوه او بیا يې قصدا جماع وکړه نو روژه يې څنګه شوه؟

ځواب : دروژې قضاء اوکفاره ورباندي دواړه واجب دي.

(احسن الفتاوی پاکستاني ج٤ مخ٤٤٤)

دحاملې (بچی لرونکې)حکم

حمل لرونکې مېرمني ته په دې شرط دروژې پرېښودل روا دي چي په نیولو کي يې مور یا ماشوم ته ضرر رسېدلو غالب ګمان وي ،بیا که

دهغې دګمان سره سم کار کېږي او که نه کېږي، که یوه مېرمن وروستو دروژې له نیت کولو څخه پخپله حاملګي باندې پوه شوه نو هم ورته دروژې فاسدول روا دي او صرف قضاء ورته لازمه ده. که حاملې ته داسې یو حال مخې ته راغی چې دروژې په نیولو کې پخپله هغې ته یا دهغې ماشوم ته دمړینې وېره وه، نو بیا ورته دروژې ماتول صحیح دی. (علمګیرې پاکستانی ج۲ مخ ۳۳ بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۱۷)

دولادې دردونو په وجه روژه ماتول

پوښتنه: که یوه مېرمن دحمل په وجه په تکلیف وه او په پیل کې یې روژه ونیوله خو وروستو یې بېرته ددغه تکلیف په وجه ماته کړه او ماشوم دلمر لوېدو څخه وروسته پیداشو نوپه دی اړوند دشریعت حکم څه دی؟

ځواب: که په روژه نه ماتولو کې مور یاماشوم ته دڅه نقصان رسېدلو غالب ګمان ؤ، نوبیا په دغسې حالت کې روژه ماتول جائز دي ،او صرف قضاء لازمه ده کفاره نشته او بغیر له دغه خطره څخه دروژې ماتول ګناه ده او کفاره واجب ده ،خو که په دغه ورځ تر لمر لوېدلو له مخه بچی پیدا شو. نو بیا کفاره له مېنځه ځي. (احسن الفتاوی پاکستانی ج۴ مخ ۴۴۲)

«دنوې بچې راوړونکې» اوکمزورې مېرمنې حکم

پوښتنه: هغه مېرمن چې نوی یې ماشوم پیداشوی وي یاهغه چې ډېر کمزورې وي که روژه نشي نیولای او فدیه ورکړي نو داسې کول روا دي او که نه؟

ځواب: په دغه صورت کې دفديې ورکول نه کافي کېږي که فديه يې ورکړې هم وي .خوکه وروستو تر هغه روغه شوه او قدرت يې ورسيدو نو دهغې روژې قضا بيا هم ورباندې لازمه ده.
(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٧٨)

دشيدو خوړونکې خيال ساتل

کومه مېرمن چې خپل يا پر دې مفت يا په بدله اخستل شوې ماشوم ته شيدې ورکوي نو په دې شرط چې بچي ته دضرر رسېدل به غالب گمان وي ،په څه ډول چې مور وينو چې دروژې په حالت کې شيدې وچېږي او ماشوم دلوږې په وجه مړکېږي او په.شيدو يو ډول تو دوخه هم پيدا کيږي چې دماشوم لپاره زيان لري يعنی چې هغه تودخه ورکه شي نو دروژې نه نيول ورته صحيح دی. خو که دغې مېرمنې ورته مفتي شېدې ورکولې او بله مېرمن هم دهغه دشېدو ورکولو لپاره پيداکېدله ،او ماشوم هم ورباندې خوښ ؤ نو بيا ورته دروژې پرېښودل روا نه دی. (علم الفقه ج٣مخ ٣٦)

ايا دشيدو په ورکولو سره دمېرمنې روژه ماتېږي او که نه؟

پوښتنه: په شيدو ورکولو سره دمېرمنې روژه يا اودس ماتېږي او كنه؟

ځواب : روژه اواودس ورباندې نه فاسدېږي روژه خو ځکه نه فاسدېږي چې شيدې بهر ته راوزي او روژه دروژه ماتونکو شيانو دپرېښودلو نوم دی.

(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٠٨ بحوله رد المختار ج٢ مخ ١١٠)

حائضې ته په رمضان کې خوراک څښناک کول

پوښتنه :که یوې مېرمنې دحیض په وجه روژه نه نیوله نو هغې ته په ورځ کې خوراک کول صحیح دی او که نه؟

ځواب : که یې دحیض په وجه روژه نه نیوله او یایې دروژې پیل کولو وروستو دحیض دورتلو په وجه روژه ماته کړه نو خوراك څښناك کول ورته روادي خو د روژه لرونکو تر مخ دې خوراك نه کوي. او کله چې حیض ختم شي نو دورځې په پاته برخه کې ورته دروژه لرونکو په څیر پاته کېدل واجب دي . (احسن الفتاوی ج٤ مخ ٤٣٨)

یو ماشوم ته دشیدو ورکولو موده لاختمه نه وه چې مېرمن بیا امیدواره شوه

پوښتنه: یوې امېد واري مېرمنې حمل ته دتاوان رسېدلو په وجه روژه نه نیوله ،دماشوم له پیداکېدلو وروستو دشیدو ورکولو په وجه معذوره شوه.او بیا ددغه ماشوم دشېدو خوړلو موده لا ختمه نه وه چې بل یې په ګېډه شو- نو په دغه تسلسل دعذروکې به حامله روژه څرنګه نیسي؟

ځواب :که دحمل په حالت کې دهغې داقدرت نه ؤ چې روژه ونیسي او یا دماشوم په لوري ورته کومه وېره متوجه وې نوبیا دې هغه وخت دروژې قضاء راوړي چې دماشوم پیداکېدلو تسلسل یې پای ته ورسېږي . (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٦٢ بحواله رد المحتار ج٢ مخ ١٥٩)

دروژې په حال کې دماشوم لپاره دخوراک ژوول

که یوه مېرمن په خپله خوله کې دوړوکي بچي لپاره څه میده کوي او بیا یې هغه ته ورکوي، نو دامکروه دی خو که دېر ضرورت پېښ شو او دمجبورۍ په وجه بله لاره نه وه نو بیا مکروه نه دي.
(بهشتی زیور ج۳ مخ ۱۳ بحواله شرح وقایه ج۱ مخ۳۱۳)

او دماشوم لپاره دخوراك ژوولو په عذرونو کې یو داهم دي چي دماشوم له مور سره بله حیض یا نفاس لرونکې او یا داسې ښځه نه وي چي روژه نه نیسي چي دهغه لپاره دژوولو په مرسته خوراک برابر کړي . اوبل داچي هغه ته نرم پوخ کړی شوی خوراك او شیدې هم نه پیدا کېږي. (فتاوی عالمگیری اردو پاکستاني ج۲ مخ۱۱)

دژوولو پر وخت دګولې تېرېدل

که یو چا دبل چالپاره مړۍ ژووله او هغه ګوله ورته تېره شوه نوکفاره وربانديې نشته، صرف قضا لازمه ده. (فتاوی عالمګیري اردو ج۲ مخ۱۱)

همدارنګه که یو چا په ژبه بانديې دیوڅه څکه وکړه اوهغه خوند یې واپس توکړ نو روژه یې نه ده ماته شوې ،مګر بې له ضرورته داسي کول مکروه دی، خوکه دکومې مېرمنې خاوند بدطبیعته ؤ او هغه ډارېدله چي که تر کاري یا ډوډۍ تروه ،ترخه یا بې خونده وي، نو له هغې سره به جنجال جوړ کړي نو هغې ته دمالګې څکل بلا کراهته روا دي (بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۱۳)

دخوراك پخولو په وجه دسختې تندې پېښېدل

که یو چاته دخوراك پخولو په وجه سخته تنده ورپېښه شوه ،آن چي دتندې دلاسه داوېره وه چي هغه دې مړشي نو روژه ماتول صحیح دی

خوکه يو چا قصدا داسي وکړل چي له امله يې دغه تنده را مېنځته شوه نو ګنهګار دی. (بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۱۷ بحواله شامي ج ۲ مخ ۱۵۹)

دروژې په حالت کي په شونډانو باندي رنګ لګول

پوښتنه: مېرمني ته دروژې په حالت کي په شونډانو باندي دسرخي يا رنګ لګول روا دی او که نه؟

ځواب: دسرخي (دشونډانو رنګ) لګول ورته روا دي خو که په خوله کي دتلو احتمال موجود ؤ نوبيا مکروه دی. (احسن ج ٤ مخ ٤٢٤)

مېرمني ته دنفلي روژې نيول

مېرمني ته دخاوند له اجازې څخه بغير دنفلي روژې نيول مکروه دي، مګر که دهغې خاوند ناروغ ؤ يا يې روژه وه يايې دحج يا عمرې احرام تړلی ؤ ،نو بيا نه دی مکروه او غلام او مينځي ته بغير له اجازې دخپل مالکه روژه نيول روا نه دی.

که يوې ميرمني بغير له اجازې دخاوند څخه روژه نيولې وه نو دخاوند اختيار دی چي ورباندی ماته يې کړي.همدارنګه دغلام دروژې نيولو په صورت کي هم دمالك (بادار) اختيار دی. او مېرمن به بيا ددغي روژې قضا هغه وخت راوړي چي خاوند ورله اجازت ورکړي، او يا له خاوند څخه جلا شي . خو که دچا خاوند په ناروغي يا احرام کي ؤ نو بيا ورته روانه دی چي خپله مېرمن دنفلي روژې له نيولو څخه منع کړي .خو که په دغو حالاتو کي يې هغه منعه هم کړي نو دروژې نيول ورته روا دي.

(عالمګيري ج ۲ مخ ١٤)

خاوند ته دخپلې مېرمنې دقضايي روژو نيول

پوښتنه : که له يوې مېرمنې څخه درمضان المبارک روژې قضاء شوې او دهغې خاوند غوښتل دهغې پرځای ددغو روژو قضاء راوړي آيا دی کولای شي دخپلې مېرمنې روژې ونيسي؟

ځواب : مېرمن به خپلې قضاء شوې روژې پخپله نيسي ،خاوند ته دخپلې مېرمنې دروژو نيول روانه دي. (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٢٢)

لسم باب

دماشومانو مسئلې

اولاد يو امانت دی

اولاد انسان ته يوله ورکړل شوو نعمتو څخه دی . داولاد په سلسله کې په انسان باندې ډېرې شرعي ،اخلاقي او قانوني ذمه وارياني اچول شوې دي .داسلام مبارک دين غواړي چې په انسان کې له هغو اولو شپېو څخه ددينې او دنيوي مسئوليتونو شعور او احساس ژوندی وي. او مور پلار دخپلو بچو روزنه داسلام دمبارک دين په رڼا کې تر سره کړي. که څه هم په ماشومانو خو لمونځ او روژه فرض نه دي،خو ددې لپاره چې دوی دروژې ،لمانځه او نورو عادت واخلي نو لمونځ بايد ورباندې وکړل شي، او روژه ورباندې ونيوله شي. که ډېرې نشي نيولای نو يوه يادوې هم کافي دي ځکه چې په راتلونکي رمضان المبارک کې هغه کولای شي تر دې زياتې ونيسي، همدارنګه اسلام غواړي چې هغوته دې عبادت کول ور عادت کړل شي.ځينې مېرمنې دخپلې مورنۍ عاطفې او مهربانۍ په وجه دافکر کوي چې

دروژې په نیولو سره به ماشوم کمزوری شي دهغه روغتیا به دروژې تر اغېزې لاندې راشي، او که کوم ماشوم ډېر شوق باندې روژه نیسي نو هم دوې دروژې په وجه دماشوم څېره چې دګل په شان مړاوې شوې وي لیدل نه غواړي اوله ماشوم څخه دروژې ماتولو غوښتنه کوي. ایا له دغو مېندو څخه کله چا دا پوښتنه کړېده چې کله پاك خدایﷻ دقیامت په ورځ دروژې په نه نیولو او دالله ﷻ په نورو احکامو دپابندي نه کولو په وجه هغه ته سخت ترین عذاب ورکوي، او ډېر دارونکي عذابونه به وي نو هغه به څه ډول برداشت کړي؟ دصحابه کرامو (رضی الله تعالی عنهم)هم بچان ؤ او هغوی هم په خپل مور اوپلار باندې ګران ؤ ،مګر دهغو محبت له عقل سره سم ؤ، او هغو حضراتو به دقیامت دورځې له لویو ،لویو غمونو څخه دخلاصون لپاره ددنیا کم وخته تکلیفونه په ځان ورنیول هغو به هم په خپلو اولادونو باندې مخته تردې چې دروژې نیولوقابل شي دوژې نیولو کوښښ کاؤ.یوځلې حضرت عمرؓ درمضان المبارك په میاشت کې یو شراب خور ته وویل:

ته دې ورك شې چې زموږ دماشومانو روژه ده او تا هغه ووهل. (بخاري)

ترهغه وخته پورې چې درمضان المبارك روژه فرض شوې نه وه نو حضورﷺ به دعا شورا دورځې په سهار باندې اعلان کاؤ چې که چا لا تردې وخته پورې څه خوړلي او څښلي نه وي، نو هغه دې روژه ونیسي. ضحابه کرا م (رضی عنهم)فرمايي چې ددغه اعلان په اورېدو سره به موږ پخپله هم روژه نیوله، او په خپلو وړو ماشومانو

باندې به مو هم نیوله، او هغوی به مو له ځان سره دمسجد طرفته بوتلل او دهغو لپاره به مو درنګینو وړیوڅخه ساعت تېري جوړاؤ ،کله چې به کوم ماشوم خوراك غوښته او ژړل به يې ، نو موږ به هغه ته دځه ساعت تېري په برابرولو سره تر هغه وخته په رنګ رنګ مصروفیاتو مشغول ساتو ترڅو به دروژماتي وخت راورسېدو.

(نیل الاوطارج۲ مخ۲۰۹)

له دې څخه دا اندازه لګول کېدای شي چې دبچو عمر به څومره ؤ چې په کېل کولو سره به تسلي ورکېدله،او دهغو په مور به څه تېرېدل ،مګر دا هر څه يې ددې لپاره په ځان ورنيول چې هغو ته دماشوم ددينداري ارزښت دنن صبا تر احمقانه ناز او نخرو ورکولو ډېر زيات ؤ

(ترتيب كونكى رفعت قاسمى)

تر زوال وړمبى دماشوم بلوغ ته رسيدل

که يو ماشوم (که نارينه وي که ښځينه)تر زوال له مخه وخت دبلوغ ته ورسېدو او لا تردې وخته يې هيڅ خوراك او څښاك کړى نه ؤ او دنفلي روژې نيت يې کړى ؤ نو روژه يې سمه شوې ده . (عالمګيري اردوج۲ مخ ۳۶)

که په ماشوم کې دروژې نيولو قدرت ؤ

کله چې په ماشوم کې دروژې نيولو قدرت وي، نو هغه ته دې دروژې نيولو حکم ورکړل شي ،او دا په داسې حال کې چې ماشوم ته به دروژې له نيولو څخه څه ضرر نه وي،اوکه ضرر ؤ نو بيا دې ورته

دوروژې حکم نه ورکول کېږي. او کله چې هغه ته دروژه نیولو حکم وشو خو هغه روژه ونه نیوله نو قضاء وربانديې واجب نه ده.
(عالمگیري ج۲ مخ ۳٦)

دلس کلني ماشوم حکم

له ابو حفص ﷺ څخه وپوښتل شول چې ا یا لس کلني ماشوم دروژې په نه نیولو ووهو؟ نو هغه په ځواب کې وفرمایل: په دې کې اختلاف دی او صحیح دادی چې هغه په منزله دلمانځه کې دی.
(عالمگیري ج۲ مخ ۳٦)

دنابالغ دروژې ماتول

پوښتنه :که یو نابالغ ماشوم روژه فاسده کړه او یا دهغه پلار وربانديې درحم په وجه ماته یا فاسده کړله ،نو ایا په هغه باندې قضاء واجب ده او که کفاره هم؟

ځواب : که نابالغ روژه ماته کړه ،نو دقضاء راوړل وربانديې ضروري نه دی، خوکه یو ماشوم په لمانځه پوهېدو او بیا یې لمونځ یوځلې پیل بیایې ببرته مات کړ، نو بیا یې ببرته وربانديې راګرزل واجب دی .تر اوه کلنۍ پورې به دناز او ګرانښت په الفاظو ورته دلمانځه کولو وایي او په لس کلنۍ کې به یې دلمانځه په نه کولو سره وهئ.
(احسن الفتاوی پاکستاني ج٤ مخ ٤٣ بحواله رد المحتار ج۲ مخ۱۱۷)

ماشوم ته دروژې نیول بهتر دي او که ورته په زده کړه کې کوښښ کول؟

پوښتنه: نابالغ طالبانو ته درمضان المبارك په میاشت کې روژه نیول بهتر دي او که دعلم په زده کولو کې کوښښ کول ورته ضروري دی؟

کله چي دروژې په نيولو سره هغه کمزوري کېږي او حال داچي هغه په زده کړه لګياوي؟
ځواب : ددرمختار له عبارت څخه څرګندېږي چي دنابالغو حکم دروژې په باره کي، دلمانځه په څېر دی، چي په اوه کلنۍ کي بايد ورته دلمانځه او روژې حکم وشي او په لس کلنۍ کي بايد دهغو په نه کولو ووهل شي ،نو ددی له خاطره چي په نابالغو زده کونکو باندي دعلم حاصلولو تکليف کم کړل شي عموما درمضان المبارک په مياشت کي اسلامي مدرسي رخصت کېږي.
(فتاوی دار العلوم ج۱ مخ ٤۹۱ بحواله رد المحتار ج۲ مخ۳۲٦)

دروژې دمياشتي په ورځ کي بالغ کېدل

که يو څو ک درمضان المبارک دمياشتي په ورځ (يعني په يوه ورځ له (۳۰)ورځو درمضان)کي مسلمان شو، او ياماشوم بالغ شو نو په هغې ورځ کي ورته خوراک او څښاک کول روا نه دي او که يې څه وخوړل نو دهغې روژې هم قضاء په نوي مسلمان او نوي بالغ باندي نشته
(بهشتی زيور حصه ۳ مخ ۱۹ بحواله هدايه ج۱مخ۳۰۳)

دنن سبا رواجونه

ددې زمانې خلګو دنکاح دورځي ، دواده له مېلمستيا، له ختنې (دماشوم سنت کولو) اوعقيقي اوداسي نورو ډېرو کارونو (چي خالص دين دی) دخپلي ناپوهۍاوناخبرۍ په وجه درسم او رواج منګولو ته په اچولو سره دځان لپاره يو لوی غم جوړ کړی دی او ترټولو اسان شی يې تر انتهائې حده پوري مشکل اوسخت کړی وي

، په ډېرو ځايو کي دماشوم دلومړي روژې هم داحال وي چي کله کوم ماشوم لومړۍ روژه نيسي ، نو که يو څوك هرڅومره غريب ، مسکين اوتنگ لاسی وي خو هغه له بل چاڅخه قرض اخلي ، خيرات غواړي ، لنډه داچي په هر ډول اوله هري لاري وي دهغه ماشوم لپاره نوې جامې جوړ وي ، خپلوانو اوگاونډيانوته دمېلمستيا بلنه ورکوي اوترډېره حده ښه ، ښه خوراکونه برابره وي ، اودماشوم دروژه ماتې لپاره ډول ډول ميوې اوشېرنۍ راوړي اوله دې ټولو جنجالونو اوفسادونو سره دهغه ماشوم لومړنۍ روژه پوره کيږي ، ترڅو چي دغه ټول ترتيبات نه وي نيول شوي ، نو که دغه ماشوم دبلوغ ترحدهم واوړې خو روژه نه نيسي ، ماپخپلو سترگو داسي څوك ليدلي دي چي دبلوغ څخه تېر شوی دی خوصرف په دغه وجه باندي يې لاتراوسه روژه نيول نه دي پيل کړي چي دهغه له مور اوپلار سره داقدرت نشته چي دهغه لومړی روژه ماتی په دومره شهرت سره ولمانځي ، لاحول ولاقوة الا بالله .

رښتيا ويلي دي مشهور اديب علامه اقبال مرحوم : حقيقت په خرافاتو کي ورك شو " دغه امت په روايا تو (رواجو) کي ورك شو .

پاك خدای تعالی دي موږ ټولو مسلمانانو ته عقل رانصيب ،اوزمونږ عبادتونه دي درسم اورواج له شکنجو څخه خلاص کړي ، آمين

(رمضان خشي دي ؟ ۱۱۹ مخ)

يوولسم باب

دناروغ مسئلې

ناروغ ته سره له نيت کولو دروژې ماتول

پوښتنه : يوڅوك درمضان المبارك په مياشت کې ناروغ ؤ ، بعضې ورځې به يې روژه نيوله اوبعضې ورځې به يې نه نيوله ، ناڅاپې يې يووخت دروژې نيت وکړ بيايې دسهار دلمانځه څخه وروستو ببرته ماته کړه ، نو په دغه صورت کې ورباندې قضاء لازمه شوې ده اوکه کفاره ؟

ځواب : په دغه صورت کې ورباندې قضاء واجبه ده اوکفاره ورباندې نشته ، ځکه چې ففه مخته تر روژې ماتولو ناروغ ؤ ، او دروژې ماتول ورته صحيح ؤ. (فتاوى دارالعلوم ۴۲۵ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۵۰ مخ)

دروژې نيولو وروستو ناروغ کېدل

پوښتنه : يوڅوك دروژې پيل کولو وروستو ناروغ شو ، اوحالت يې نازك ؤ که څه هم دمرګ وېره نه وه ، په دغه حالت کې ډاکټر ورباندې دوا وخوړه ، نو آيا دغه څوك به ګنهګار وي اوکنه ؟ اوپه هغه باندې قضاء اوکفا دواړه دي اوکه يوقضاء ؟

ځواب : که دروژې نه ماتولو په صورت کې دناروغۍ دډېر والي اويا دمرګو نې دزيادت غالب ګمان ؤ ، نوافطار ورته جائز دي ، صرف قضاء ورباندې واجبه ده ، کفاره نشته ، اوکه په پېچکاري لګولو سره يې تداوي کېدله نوبيا دروژې ماتول روا نه دي. (احسن فتاوى ۴ج ۴۲۲ مخ)

تر روغتیا رومبی مړینه

پوښتنه : يوڅوك په داسې حالت كي مړشو چي ورباندي د(۷) اوو ورځو لمونځونه اودوه مياشتي روژه پاته وه ، ډاكتر هغه له روژې نيولو څخه منع كړى ؤ ، ايا كېداى شي چي دهغه وارث دهغه له طرفه كفاره اداء كړي ؟

ځواب :كه ناروغ له هم هغې ناروغۍ نه (چي لمونځونه او روژې پكښي قضاء شوي دي) مړشو ، نو دهغو روژو اولمونځو قضاء ورباندي لازمه نه ده ، نوځكه دهغو لمونځو فديه وركول هم لازم نه دي ، خو دمړي وارثان بايد دلمونځو فديه اداء كړي ، كه څه هم هغه وصيت نه وي كړى پاك خداى تعالى ته اميد دى چي دلمونځوكفاره به اداء شي ، دهر لمانځه فديه دسرسايې په اندازه (پاوكم دوه كيلو غنم اويا دهغو قيمت) دى .

او دروژو فديه كه څه هم واجبه نه ده ، خو كه وركړله شي نوبده نه ده ، مړي ته يې ثواب رسېږي ، اوديوې روژې فديه هم ديو لمانځه په اندازه ده. (فتاوى دارالعلوم ۶ج ۴۶۵ مخ)

دروژې له نيولو څخه دپوزې دويني جاري كيدل

پوښتنه : ديو چا دلوړې په وجه دپوزې څخه وينه راځي ، په دغه حالت كي دوه درمضان المبارك مياشتي تېري شوې ، اوپه راتلونكي كي هم دروغتيا اميد كم ؤ ، نو دغه مړسړى دتېر شوي رمضان فديه وركړي اوكه دروغتيا انتظار وكړي ؟

ځواب : دغه شخص ناروغ دی ، شیخ فاني نه دی او دناروغ حکم په شریعت کې دادی ، چې که له ناروغی څخه دروغتیا وروستو دومره مده هغه ته په لاس ورغله چې قضاء یې پکښې کولای شوای نو دروژې قضاء په هغه باندې واجب ده اوکه دمرض اومړینی ترمنځ وقفه نه وه نوبیا قضاهم وربانده نشته .(فتاوی دارالعلوم ۳ ج ۷۵ مخ قدیم عزیزیه)

پوښتنه : ایا په دغه لاندنې صورت کې مفتیان صاحبان څه فرمایې چې دنزلې ددرملو دخوړلو اوښنلو په ځای نن صبا خلګ د«وکس» په نوم یوه دوا (چې سوغله کیږي اودهغې دتېزې اثر دماغ ته رسیږي چې له امله یې دنزلې تکلیف ختمیږي) استعمالوي دروژې په حالت کې دغه جائز دی اوکنه ؟ والسلام رضی احمد ... شمس منزل

بسم الله الرحمن الرحیم

الجواب : هوالموفق والمعین : دروژې په حالت کې د«وکس» استعمال داحتیاط خلاف دی ، که هغه دپوډر په ډول نه وي ، نوبیا وربانده روژه نه ماتیږي لکه دګلاب دګل په بویولو ، عطرو اوداسې نورو چې روژه نه ماتیږي (انه کشم الورد مائه والمسك لوضوح الفرق بین هواء تطیف بریح المسك وشبهه) (ردالمحتار)

دکولرا اونس ناروغ

(۱) پوښتنه : دکولرا (قی اواسهال) ناروغې خپره شوې وه ، یوڅوك په داسې حال کې چې روژه یې وه په قي اواسهال اخته شو ، ناروغ اوله هغه سره دنږدې خلکو داخیال شو چې ګواکې روژه مانه شوه ، په دغه حال کې ناروغ اوبه وغوښتلې اوخلګو ورته اوبه ورکړې ، ایا

په دغه صورت کې وربانديې قضاء واجبه ده اوکه کفاره اوقضاء دواړه ؟

(۲) همدارنګه ديوچا په نس درد ؤ ، هغه ته دوا ورکړله شوه ، نوپه هغه باندې صرف قضاء لازمه ده اوکه کفاره هم ؟

ځواب : په دواړو باندې صرف قضاء واجبه ده کفاره نشته (کفايت المفتي ۲ج ۲۳۰ مخ)

دماغي ناروغ

پوښتنه : زيد په دماغي تکليف اخته دی ، چې له امله يې کله کله درائشې په ناروغي هم اخته کېږي ، دروژې نه نيولو ته مجبوريږي ، او دروژې په حالت کې دنوکرې کار نشي ترسره کولای ، نو هغه روژه ونيسي که بيا قضاء راوړي اوکه کفاره ؟

ځواب :ناروغ ته دروژې افطار هغه وخت رواکيږي چې دناروغي دزيادت ، يا دتکليف دلوړېدلو وېره وي ، اووروستو يې قضاء لازمه ده ، اودفديې ورکول ورته روانه دي . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۸۷ مخ)

دساه لنډۍ ناروغ

پوښتنه : زيد درمضان المبارك په مياشت کې دټوخي اوساه لنډې په ناروغي اخته دی ، کله چې يوه روژه نيسي نوبله بيانه شي نيولای ، نوځرنګه چې هغه داوخت هم په دغه رنځ اخته دی نوکه (۶۰) شپېتو مسکينانو ته ډوډۍ ورکړي نو روژې ورته معاف کېږي اوکنه ؟

ځواب :په پورتنۍ ناروغي اخته زيد باندې دروژو قضاء لازمه ده ، دفديې په ورکولو سره قضاء دهغه له ذمې ځخه نه ساقطيږي ، هغه

۹

وخت چې دی دغه تکليف ونه لري ، ددغو روژو قضاء دې راوړي ، شيخ فاني (هغه څوک چې دروژې دقدرت لرلو کله هم ورته اميد نه وي) کولای شي دروژې فديه ورکړي . په نورو هرډول ناروغانو باندې قضاء لازمه ده . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۶۲ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۶۰ مخ)

دروژې په حالت کې دبولو بنديدل

دبولو دبنديدلو په صورت کې ډاکټر پيپ دانسان تناسلي غړي ته وراچوي او بولي ورباندې راباسي ، که دروژې په حالت کې داسې يوصورت مخې ته راغی نو دروژې حکم څه دی ؟ په دغه صورت کې روژه نه ماتيږي ځکه چې مثانې او دتناسلي غړيو تراوله لرمانه سره نشته ، په دې اړوند درمختار داسې ليکي :

اوافطر فی احليله ماءا اودهنا وان وصل الی المثانة علی المذهب (درمختار) ای قول ابي حنيفة ومحمد معه فی الظاهر الخ وانك ظهر انه لامنفذله والا يجتمع البول فيها بالترشيح كذا يقول الاطباء زيلعی ، الخ فان المثانة لامنفذ لها علی قولهما (ردالمحتار) خلاصه داده چې مثانې ته دپيپ(نل) په اچولو سره روژه نه ماتيږي .

دروژې په حالت کې انيمه (اماله) کول

پوښتنه : دغټو بولو دبنديدلو په صورت کې انيمه (اماله) کوله کيږي ، په دغه صورت کې روژه له مينځه ځي اوکنه ؟

ځواب :انيمه هم ددوا په څير دننه لګوله کيږي ، نوځکه ورباندې روژه ماتيږي ، اوله امله يې قضاء واجبيږي اوکفاره نشته ، په درمختار کې راغلي دي چې (اواحتقن اواستعط الخ قضی فقط)(درمختار)

دخوني بواسير ناروغ

پوښتنه : يوڅوك دويني دبواسيرو په ناروغي اخته ؤ ، نو کله چي روژه نيسي نو وينه جاري کيږي اودبواسيرو غوټي هم پرسېږي اوډير تکليف وي ، خوکه روژه ونه نيسي نوبيا روغ دي ، نو ايا دهغه لپاره شرعي حکم څه دي ؟

ځواب :دغه ناروغ ته په رمضان المبارك کي دافطار کولو اجازه شته ، خو کله چي هغه جوړ شي اودروژې نيولو قدرت پکښي پيداشي نو هغه وخت دي بيا ددغو روژو قضاء راوړي ، دغه مريض ته دفديې ورکول کافي نه دي ، هغه څوك چي ناروغي يې هميشنۍ وي اودروغتيا اميد ورته ختم شي کولای شي دروژو فديه ورکړي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۸۴ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۶۳ مخ)

دبواسيرو په غوټويا دانو باندي مرهم لګول

پوښتنه : که دروژې په حالت کي دمقعددننه دغوټو يا دانو په زخم باندي مرهم ياتيل دګوتي په واسطه ولګول شي ، اويا هغه دننه زخمونه ښه پرېمنځي نوآيا روژه به يې روغه وي اوکنه ؟

ځواب : دهغه روژه سمه ده ، مګر احتياط ډيرښه دی ، په حاشيه کي داسي ليکل شوي دي چي په تېر صورت کي که دوايا اوبه په دننه کي هغه حد ته ورسېږي چي معده هغه جذبولای شي اويا پخپله معدې ته رسېږي ، نوبيا ورباندي رژه فاسدېږي ، نوځکه مفتي علام احتياط بهتر بللی دی ، نو ددې لحاظ اوخيال ساتل دهر چا لپاره امکان نه لري . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۱۱ مخ)

دبواسیرو غوټې یا دانې بهر ته راوتل

پوښتنه : یوڅوك دبواسیرو په ناروغي اخته دی دلیتږین کولو په وخت دهغه دبواسیرو غوټې بهر ته راوزي ، وروستو له استنجا وهلو هغه په زور سره ببرته وردننه کیږي ، که دهغو دننه ایستلو لپاره لاسونه اویاپخپله دوی په اوبو باندې لوندې کړلي شي څکه چې دهغو ننه ایستل کله غیر ممکن اوکله بیا ډیر سخت اودتکلیف سبب گرزي ، اوکله خوبیا په دغه ډول زور کارولو کې وینه هم جاري کیږي ، نو ، په داسې کولو سره روژه له مینځه ځي اوکنه ؟

(۱) ځواب : په دغه ډول حالت کې دهغه روژه روغه ده ، اوپه دې سره په روژه کې هیڅ تاوان نه راځي ، څکه چې دبواسیرو دغوټو ځای دمقعد په څنډه کې ده چې هلته داوبو په رسېدلو سره نه دمعذور روژه ماتېږي اونه دغیر معذور .

(۲) ځواب : دروژې په حالت کې دلاس په لوندولو سره دغوټو ننه ایستل یا دهغو اوبو په لوندوالي سره چې غوټې ورباندې وینځل شوي وي دهغوننه ایستل له روژه فاسدونکو کارونو څخه نه دي ، څکه چې کوم لوندوالي چې داوبو په غوټو باندې پاته کیږي اوله هغو سره یو ځای نس ته داخلېږي له هغه نه ځان ساتل امکان نه لري ، په خاص ډول دشدیدو بواسیرو دناروغ لپاره ، اوداسې یوشي چې ورنه دځان ساتلو امکان نه وي که نس ته داخل شي نو هغه روژه ماتونکي نه دی لکه دخولې پرېمنځلو وروستو دلوندوالي پاته کېدل

. (فتاوی رشیدیه کامل ۳۷۲ مخ)

دبواسیرو غوټې ترځای دحقنې ډېرې لاندې وي ، اودمقعد له لارې داخلیدونکی شي چې دحقنې ترحده ونه رسېږي نو روژه نه فاسده وي نو ددغوغوټو په اوبو لندول او وربانديې مرهم لګول اوبیا دهغو پورته کول روژه نه ماتوي ، مګر دلوندې شیشې پورته کولو سره روژه ماتېږي ، ځکه چې هغه دحقنې ترځایه رسېږي.

(احسن الفتاوی ۴ج ۲۳۰ مخ)

دبې هوښۍ اولیونۍ حکم

که درمضان المبارك په یوه ورځ کې څوك لیونی شو ، یا له پخوا څخه عارضي لیونی ؤ او درمضان المبارك په یوه ورځ کې روغ شو نو دهغې روژې قضاء واجب ده ، خو که ټوله ورځ یا تردې زیات وخت یې ددغه لېونتوب په حالت کې تېر شو نوبیا وربانديې قضاء واجب نه ده ، خوکه چاته بیهوشي پیښه شوه نوقضاء واجب ده ، بیهوشي که تریوې ورځې کمه وي اوکه زیاته په نشه کې ډوب شوی اوپه ژور خوب کې تللي هم دغه حکم دی کوم چې دبې هوښۍ دي ددې پکې څه فرق نشته چې هغه پخواتر دې دنشې عادت لرلو اوکنه .

(کتاب الفقه ج ۱ ۸۸۵ مخ)

دشوګر ناروغ

پوښتنه : څوکاله کېږي چې زید دشکرې په ناروغي اخته دی چې له امله یې کمزوری اوډنګر شوی دی ، دروژې نیول ورته ډېر سخت دي په خاص ډول په سختې ګرمې کې نوایا دهغه لپاره شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : دارنګه ناروغ ته چي دکمزوري يا مرض په وجه روژه نشي نيولاي نو درمضان المبارك په مياشت كي دروژې نه نيول ورته صحيح دي ، ليكن ترڅوپوري چي دروغتيا اميد وي ترهغه دفديې وركول نه كافي كيږي ، بلكه له روغېدلو وروستو يې قضاء لازمه ده ، اوكه دروغتيا اودمرض پای ته رسېدو اميد ختم شو ، نوبيا دي دهغو رو ژوفديه وركړي ، اودهري روژې فديه دوړوكي اختر دصدقې (سرسايې) په اندازه ده .

(فتاوى دارالعلوم ۶ج ۴۷۴ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۵۹ مخ)

دتي - بي ناروغ

پوښتنه : په كلي كي دتې ، بې ناروغي خپره ده نږدې څلور مياشتي كيږي چي تر تداوي لاندي ده ، په اول كي موايكسرې اخستې وي چي دسږوخرابي پكښي ښودله شوې وه ، اوڅلور مياشتي وروستو موبيا ايكسرې واخستې چي پكښې له روپې څخه لس يا دولس انې فايده شوې وه ، دواجاري ده اوډاكټر صاحب وينا ده چي روژه دي نه نيسي ايا په دې اړوند شرعي حكم څه دي ؟

ځواب : دتې بې ناروغ ته دتاوان رسيدلو له وېرې ډاكټر صاحب هغه ته دروژې نه نيولو اجازه وركړې ده ، نوبايد دهغه له وينا سره سم عمل وشي ، هغه پخپله عالم اويا حاذق حكيم دی ، نوځكه دهغه رايه معتبر ده ، كله چي له دغې ناورغۍ څخه جوړشو نوبيا دي قضاء راوړي .

(فتاوی رحيميه ۲ج ۳۹مخ)

له ناروغۍ وروستو دكمزورۍ پاته كيدل

كه يوڅوك له ناروغي څخه جوړشو ، خومګر هغه لاډير كمزوری ؤ ، اوغالب ګمان داؤ چي كه روژه ونيسي نوبيرته به ناروغ شي نوبيا هم ورته دروژې نه نيول روا دي (درمختار ۱۱ج ۱۵۳ مخ)

داس سوريدلو په وجه دمنو وتل

پوښتنه : يوچاته ډير ځله داسي پيښيږي چي څه وخت په اس باندي سپور شي نودآس دمنډي په وجه دهغه تناسلي غړي په حركت كي كيږي اومني په توپ سره وزي ، ناڅاپي درمضان المبارك په يوه ورځ كي هغه په اس سپور شو اوچرته روان ؤ چي داپيښه وشوه ، نودمهرباني له مخي موږ ددې له شرعي حكم څخه خبر كړي چي په دغه صورت كي قضاء لازمه ده اوكه كفاره هم ؟

ځواب : په هغه باندي نه كفاره شته اونه قضاء بلكه دهغه روژه پخپل ځاي روغه ده ، په درمختار كي ليكل شوي دي چي احتلام يا انزال وشي اويا دچارپای دشرمګاه سره دلاس لګولو اولګيدلو په وجه انزال وشي نو روژه ورباندي نه ماتيږي. (امداد الفتاوی ۱ج ۱۷۰ مخ)

په روژه كي ستن (پيچكاري) اوكلوكوز لګول اووينه لګول

دپيچكاري په ذريعه چي بدن ته كوم شي داخليږي هغه په عام ډول دركوله لاري معدې اودماغ ته رسيږي اوله يوې داسي لاري څخه هلته ځي چي دادهغو حقيقي لاره ، اودفقهاؤ په وينا سوري نه دی ، دفقهي دكيتابونو مختلفو نظرو ته په فهم سره ددې اندازه لګيږي چي فقهاؤ دغه صورت دروژې فاسدونكي نه دی ګرزولی دمثال په ډول

دوه رنګه زخمونه دي چې پکښي ددوا په اچولو سره يې روژه فاسده بلله شوې ده ، آمه (دسرژور زخم) جائفه (دنس ژور زخم) .

(۱) آمه دسر هغه زخم ته ويل کيږي چې ددماغ تراصل پورې رسيدلى وي ، اودهغه په ذريعه دوا هم هغه ځاى ته رسيږي .

(۲) جائفه دنس هغه زخم ته ويل کيږي چې ترمعدې پورې ژور تللى وي ، اودهغه په ذريعه دواګاني هم ترنس پورې رسيږي نو ګويا دغه زخمونه ترمعدې اودماغ پورې درسېدلو لپاره بلا واسطه يوه لار اوسورى پيدا کوي ، نو په دغو زخمو کې ددوا اچول روژه فاسده وي خو نور زخمونه بيا داسې دي چې پکښې ددوا په اچولو سره روژه نه فاسدېږي هرزخم چې وي ، حال دادی چې هرزخم چې دبدن داخل ته رسېدلى وي په هغه کې چې دوا واچوې نوبالواسطه معدې يا دماغ ته رسيږي ، مګر روژه وربانديې نه ماتيږي ، دهدايې په اول جلد (۲۰۰) مخ کې راغلي دي چې : که ديو داسي زخم چې دماغ ، اويا نس ته دننه رسيدلى وي تداوي په دوا سره کوي بيا دماغ يانس ته دوا ورننوزي ، نودامام اعظم رحمه الله په نزد روژه ماته شوه ، نو لونده دوا کولاى شي چې دغوځايو ته ورسيږي حاصل دادی چې که دپيچکارې په ذريعه کې وينه ورسوله شي اوکه دوا ، نو روژه وربانديې نه فاسدېږي ځرنګه چې دګلو کوز نوعيت همدغسي وي چې درګوله لارې رسول کيږي ، دمعدې يا دماغ دکوم سورې په ذريعه نه رسول کيږي ، نوځکه وربانديې روژه نه ماتيږي.

(جليد فقهي مسائل ۱ج ۹۶ مخ)

دستني (پېچکاري) په اړوند ددیوبند دعلماؤ فتوی

داښکاره خبره ده چي دپېچکاري طریقه نه په عهد رسالت کي موجوده وه اونه داماماتو مجتهدینو په زمانه کي، نوځکه خو نه دهغې حکم په حدیث کي شته، او نه داماماتو دزماني په دې وجه به دهغې شرعي حکم دفقهي له اصولو، قواعدو او نظرونو باندي دقیاس په لګولو معلومېږي.دهغې ښکاره مثال دادی چي که یو څوك لړم یا مار وخوري نو ښکاره خبره ده چي زهر بدن ته ننوزي، دمار زهر ډېر وخت په دماغ باندي اثر اچوي، او ځیني داسي شیان دي چي دخوړلو په وجه یې بدن پړسیږي،چي په یقین سره یې زهر دبدن داخل ته ننوزي خو تر اوسه ددنیا یو عالم فقهي هم دغه داسي څه نه دي بللي چي روژه دي ورباندي فاسده وبلله شي،همدغه دپېچکاري ښکاره مثال دی بلکه داورېدو څخه چي دپېچکاري اول مېنځته راتلل همداسي ؤ چي دزهر لرونکي دچیچلو په تجربو کولو سره په دې نتیجه رسېدګي وشوه چي ددوا تلېورونی اثر په دې ډول بدن ته رسول کېدای شي.

داچي دمار اولړم په چیچلو روژه ماته نه ده بلله شوې، ددې وجه داکېدای شي کومه چي دبدائع له عبارت څخه څرګندېږي۔ لومړی داچي دبدن په کومه برخه کي دڅه شي په داخلیدلو سره مطلقا روژه نه ماتېږي ،بلکه ددې لپاره (چي روژه ماته کړي) دوه شرطونه دي.

(۱) لومړی داچي هغه شی معدې یا دماغ ته ورسېږي. (۲) دوهم داچي دغه رسېدګي داصلي سوري له لاري وي،که یو شی بغیر له

اصلي سوري،په بله لاره باندي په کيمياوي ډول دماغ يا معدې ته ورسېږي نو روژه ورباندي نه ماتېږي. بې له شکه چي دپېچکاري په ذريعه دوا يا دهغې اغېزه دبدن هري برخي ته رسېږي خو دغه لاره منفذ اصلي نه دی،همدارنگه که په گرمي کي يو څوك په سړو اوبو غسل وکړي نو په دې سره دهغه تنده کمېږي ځکه چي داوبو اجزاوي دبدن دکوچنو سريو له لاري بدن ته ننوزي، خو هغه هيڅ چاهم دروژې له فاسدونکو څخه نه دی بللی ، په دې سره دغه شك هم لري شو چي کلو کوز او نوري پېچکارۍ داسي دي چي دهغو په ذريعه په بدن کي دغذا په څېر تقويه پيداکېږي،نو ځکه بايد دهغو حکم دتغذيه کېدلو په څېر وای.

ددې خواب ښکاره دی ،چي قوت رسېدل په مطلق ډول روژه فاسدونکی نه دی، څرنگه چي په غسل کولو کي سوړوالی روژه فاسدونکی نه دی،بلکه داصلي سيخي لاري په ذريعه چي کوم شی معدې يا دماغ ته ورسېږي، نو هغه روژه فاسده وی ،چي دغه شی په پېچکاري نشي موندل کېدای،که څه هم قوت ورڅخه ورسېږي.

روژه په هغه څه باندي فاسدېږي چي دسيخی مخامخ لاري په ذريعه معدې يا دماغ ته ورسېږي.

دپېچکاري دوا نيغ په نيغه معدې ته نه،بلکه دخولو او ورو سوريو له لاري معدې ته ځي، نوځکه روژه نه ماتوي.

(احسن الفتاوی ج۲ مخ۴۲۳)

دليوني سپي واكسين

كه دپېچكارۍ په ذريعه نبغ په نبغه معدې ته دوا ورسوله شي، نو روژه وربانديې ماتېږي دليوني سپي دزهرو ختمولو لپاره واكسين يا پېچكارۍ لګوله كېږي په هغې سره روژه نه ماتېږي (محمد رفعت قاسمی غفرله)

دپېچكارۍ حقيقت

دپېچكارۍ (ستنې لګولو) په اړوند چې تر اوسه پورې كومې څېړنې شوې دي له هغو څخه دامعلومه شوې ده چې هغه دوړو سورو په ذريعه دوا بدن ته رسوي، نو ځكه روژه نه ماتوي، روژه خو هغه څه ماتوي چې په سيخه او ساده لاره بدن ته ننوزي. نه په ذريعه دوړو سورو، او په داخل دبدن كې ددوا داثر په رسېدلو روژه نه فاسدېږي،لكه څرنګه چې دخزندو زهر او دغسل اثر په بدن كې خپرېږي خو په اتفاق سره روژه نه ماتوي، همدارنګه پېچكارۍ هم روژه فاسدونكې نه ده.

يادونه: ددې مسئلې څېړنه ما په خپله رساله (المقامات المفيدة فى الآت جديدة)كې كړې ده. (محمد شفيع فتاوی دارالعلوم ج۳ مخ ٦٨)

دناروغ دروژو دقضاء حكم

كه په يو ښار كې خلكو درمضان المبارك مياشت وليده او بيايې (۲۹) روژې ونيولې او په هغو كې ځينې ناروغان ؤ هغو روژه نه ونيوله نو په هغو باندې د (۳۰) روژو قضاء لازمه ده او كه ناروغ ته دښاروالو حال معلوم نه ؤ نو هم به د(۳۰) دېرشو روژو قضاء راوړي ترڅو دواجبو اداء كېدل يقيني شي. (فتاوی عالمگیری اردو پاکستانی ج۲ مخ ۱۱)

له روغتيا ورستو تر لمر لويدلو پورې خوراک او څښاک

پوښتنه: دروژې په حالت کې دزيد په نس کې سخت درد پيدا شو بيايې دوا وخوړه او هغه درد ارام شو نو هغه ته تر ماښامه پورې خوراك او څښاك نه كول واجب دي او كه مستحب؟

ځواب :څرنګه چې مسافر ،حيض اونفاس لرونكو ميرمنو او لېوني ته (كله چې هغه په ورځ كي دروغتيا په حال شي)دخوراك څښاك او نورو پرېښودل واجب دي نو زېد ته هم همدغه رنګه واجب دي .

(احسن الفتاوى پاكستاني ج٤ مخ ٤٣٢)

دولسم باب

دمسافر مسئلې

دسفر تعريف

سفر كه روا سفر وي او كه ناروا دګاډي او دموټر دسفر په شان بې تكليفه وي او كه دپښو ،اس او نور سفرونو په څېر تكليفجن وي په هر حال كي دروژې نه نيول پكى جائز دي.

مګر په هغه سفر كي چي بې تكليفه وي مستحب داده چي روژه ونيوله شي خو كه داسي ؤ چي ټو نفره په سفر كي سره ملګري ؤ، او هغو روژه نه نيوله او ديو چا په تنها روژه نيولو او دخوراك او څښاك په انتظام نيولو كي هغو ته تكليف ؤ نو بيا كه تكليف دسفر نه ؤ هم روژه دي نه نيسي . (علم الفقه حصه ۳ مخ ۳۵)

په سفر کې روژه نيول صحيح دى او ثواب يې شته خو که ويې نه نيسي نو اجازت ورته شته .او سفر بايد حتما (۴۸) اته څلويښت ميله وي .(فتاوى دار العلوم قديم ج۳ مخ ۷۳)

ايا په روژو کې هم کوتاهي (کموالى) شته؟

پوښتنه :څرنگه چې دسفر په لمانځه کې تر مقيم لمانځه کموالى مو جود دى همدغه رنگه په روژه کې هم کموالى شته او که نه؟ يعني که څوك په سفر کې پوره لمونځ وکړي نو گنهگاريږي ځکه چې دادنعمت ناشکري ده ايا دغه حکم دروژو هم شته او کنه؟

ځواب : دسفر دهغې روژې په اړوند چې په سفر کې قضاء شوې وي حکم دادى چې وروستو له پاى ته رسېدو دسفره به دهغو روژو قضاء راوړي (فَمَن كَانَ مِنكُم مَّرِيضًا أَوْ عَلَى سَفَرٍ فَعِدَّةٌ مِّنْ أَيَّامٍ أُخَرَ) (سورة بقره سپاره ۲ رکوع۶)

دلمانځه لپاره خو په حديث شريف کې دغه حکم راغلى دى چې دغه کموالى قبول کړى نو امام صاحب دغه امر واجب نيولى دى نو ځکه يې دسفر په لمانځه کې کموالي ضروري گڼلى دى .او دروژې په اړوند خو په ايت شريف کې اختيار راغلى دي ((که غواړئ روژه نيسئ نو ويې نيسى، او که غواړئ ويې نه نيسئ نو بيا يې قضاء راوړئ)) که سفر اسان وي او دروژې نيولو پکى څه سختي او تکليف نه وي نو بياپکي دروژې نيول ډېر ښه دى څرنگه چې پاك خداى ﷻ فرمايي (وَأَن تَصُومُوا خَيْرٌ لَّكُمْ) (سورة بقرة رکوع۶)

نو معلومه شوه چې په هغه سفر کې چې تکليف او سختي پکې نه وي دروژې نيولو فضيلت او ښه والی پخپله پاك خدایﷻ بيا ن کړی دی، او په لمانځه کې دکمي نه کولو دکفران نعمت قول حضرت محمدﷺ فرمايلی دی چې دغه هم يوله حکمونو دپاك خدایﷻ څخه دی. . (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٧٢ بحواله رد المحتار ج٢ مخ١٦٠)

دتردد (شك)په حالت کې روژه

پوښتنه: يو چا په تردد کې سفريانه لمونځونه کول هغه ته درمضان المبارك دروژې نه نيول روا دي او که نه؟

ځواب : مسافر چې ترکومه وخته پورې په يوځای کې د (۱۵)پنځلس ورځو اوسېدلو نيت نه وي کړی او په شك کې وي چې ځم به او که به پاته کېږم نو ترهغو پورې به لمونځ سفريانه کوي . او دروژو نه نيول هم ورته روادي، وروستو دې بيا قضا راوړي .لنډه داچې په کوم حالت کې دلمانځه سفريانه کول روا وي هلته دروژې نه نيول هم روا دي . (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٧٥ بحواله رد المحتار ج٢ مخ ١٥٨)

يو ورځنی سفر

پوښتنه :ايا که څوك يوه ورځ سفر کوي نوکولای شي روژه ونه نيسي، او که صرف په درې ورځني سفر ياتر دې زياتو کې کولای شي روژه ونه نيسي؟

ځواب : که سفر (۴۸) اته څلوېښت ميله وي نو بيا ورکي روژه پرېښودل صحيح دی په تر دې کم سفر کې دروژې پرېښودل جواز نه لري.. (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٧٣ بحواله رد المحتار مخ١٥٨ فصل فی العوارض)

د (۱۵) پنځلس ورځني نيت حکم

که يو څوك لا دورتلو ځای ته نه ؤ رسېدلی او په لاره کي يې په کوم ځای کی د(۱۵) ورځو داوسېدلو اراده وکړه نو دا وخت ورته دروژې پرېښودل روا نه دي ، ځکه چي هغه په شريعت کي مسافر نه بلل کېږي، خو که دهلته او سېدلو اراده يې تر (۱۵) پنځلسو دکمو ورځو وه نو بيا ورته دورژې نه نيول روادي . (بهشتی زيور حصه ۳ مخ ۱۹ بحواله شامي ج۲ مخ ۱٦۸)

له صبح صادق وروستو سفر کول

پوښتنه :دزيد اراده وه چي په ورځ کي سفر وکړي، نو که هغه پېشلمی وکړي خو دروژې نيت ونه کړي نو داجائز دی او که نه؟

ځواب :څوك چي دسهار په وخت کي په سفر کي نه وي هغه ته دروژې پرېښو دل روا نه دي که څه هم په دغه ورځ کي يې دسفر کولو تينګه اراده وي .(احسن الفتاوی ج٤ مخ ٤٢٧)

تر غرمې له مخه کورته رارسېدل

په هغه حالت کي چي مسافر په سفر کي ؤ دروژې نيولو اراده يې نه لرله خو تر غرمي (زوال)يو ساعت (ګنټه) له مخه کورته راورسيدو او يايې په دغسي وخت کي په يوځای کي د(۱۵) او يا تردې زياتو ورځو داوسېدلو نيت وکړ، او لا ترهغه وخته يې څه نه ؤ خوړلي نو په دغه وخت کي دي دروژې نيت وکړي (بهشتی زيور حصه ۳ مخ ۱۹ بحواله هدايه ج۱ مخ ۲۰۲)

که يو مقيم درمضان المبارك په مياشت کي له نيت کولو وروستو سفر کوي نو په هغه باندي ددغې ورځي روژه نيول ضروري دی خو که فاسده يې کړي نو کفاره وربإندي نشته همدا رنګه که يو مسافر

تر غرمې له مخه مقيم شي، او تر دغه وخته يې داسي کوم کار نه وي کړی چي روژه وربانديٰ فاسده شي، نو هم ددغي ورځي دروژې نيول ورته ضروري دي خو که يې فاسده کړ له نو کفاره وربانديٰ نشته.
(علم الفقه حصه ۳ مخ ۳۵)

روژه لرونکي مسافر ته دروژې فاسدول

که يو مقيم سړي له نيت کولو وروستو مسافر شو، يو څه ولاړ بيا واپس په هغه څه پسي راوګرزېدو چي په کور کي ورنه هېر شوې ؤ کله چي کورته راورسېدو نو روژه يې ماته کړه نو هغه بايد کفاره اداء کړي ځکه چي په هغه باندي لا اطلاق دمسافر نه ؤ شوی که څه هم هغه هلته نه دپاته کېدلو په اراده تللی وي او نه هلته پاته شوی وي.
(علم الفقه حصه ۳ مخ ۳٦)

له روژې څخه دخلاصون لپاره سفر کول

پوښتنه : که يوڅوك دروژې څخه دخلاصون لپاره سفر يا مرض پلمه کوي نو داڅنګه دی؟
ځواب : شرعي مسافر او شرعي ناروغ ته دروژې پرېښودل صحيح دي او حيله ،پلمه کول مذموم او قبيح عمل دی. (رد المحتار ج۲ مخ ۱۵۸)

مسافر روژه نيوله او بيا يې بيرته ماته کړه

پوښتنه :زيد په سفر کي دروژې نيت وکړ، خو وروستو يې بيا نيت بدل کړ او خوراك او څښاك يې وکړ نو په دې سره هغه ګنهګاربږي اوکنه؟

ځواب : كفاره نشته خو دروژې پيل كولو وروستو دسفر په پيلولو ،دكفارې په واجبيدلو كي اختلاف دى او راجح قول دادى چي په دغه صورت كي هم كفاره واجبه نه ده.

(احسن الفتاوى پاكستانى ج٤ مخ ٤٤٨ بحواله رد المحتارج٢ مخ ١٣٣)

ايا حضورﷺ په سفر كي نيولي روژه ماته كړې وه

پوښتنه : ويل كېږي چي حضورﷺ دسفر په حالت كي روژه ماته كړې وه او خپلو ملګريو (صحابه وو) ته يې ويلي ؤ چي روژه ونه نيسي ايا دغه خبره سند لري او كه نه؟

ځواب :بلي: دسفر په حالت كي دسرور كائنات ﷺ او داصحابانو دروژې دافطار واقعه حقيقت لري ،دحضرت ابن عباسؓ بيان دى چي (حضور اقدسﷺدرمضان المبارك په مياشت كي له مديني منورې څخه مكې مكرمې ته روان شو او په لاره كي يې په عسقان نومي ځاى باندي اوبه وغوښتلې او اصحابانو ته يې هم دروژې ماتولو وويل اوبيا يې روژه ماته كړه .بيايې مكې مكرمې ته تر رسېدلو پورې روژه ونه نيوله.

دادخپلې خوښې كار دى كه نيول يې غواړې نو ودې نيسي ،اوكه پرېښودل يې غواړې نو پرې دې يږدي.

په روايتو كي په تصريح سره داهم راغلي دي چي دروژې په وجه داصحابانو حالت بدل شوى ؤ نو ځكه حضورﷺ داسي وكړل .حضرت جابرؓ فرمايلي دي چي ځينى داسي اصحابان رض ؤ چي روژه يې ماته نكړه كله چي حضورﷺ خبر شو نو (دخفګان په ډول) يې وفرمايل

چي دغه نافرمان دي ځکه چي حضورﷺ په دغه رخصت باندي عمل وکړ او دحضور غوښتنه داوه چي ټول بايدورباندي عمل وکړي په خاص ډول ددې په وجه چي حضور دمکې مکرمې دفتحي لپاره روان ؤ او دغه سفر دجهاد لپاره ؤ.په هر حال بعضی له اصحابانو (رض) ورباندي عمل ونه کړ نو حضورﷺ ورباندي ناخوښه شو. په يو بل روايت کي دي چي په يو سفر کي ديو صحابي حالت ډير خراب شو، نور اصحابان (رض) دهغه دخدمت لپاره سره راټول شول او په هغه باندي يې دسيوري کولو بندوبست وکړ، ددې حال په ليدلو سره سرورکائناتﷺ وفرمايل په سفر کي(په ځان باندي دظلم په کولو سره) روژه نيول هيڅ نيکی هم نه ده . ددغو احاديثو په رڼا کي فقهاؤ کرامو رحمهم الله فرمايلي دي چي دسفر په حالت کي روژه نيول ضروري او واجب نه ده.که چا ونيوله نو په عزيمت يې عمل وکړ او که يې ونه نيوله نو په رخصت باندي عمل وشو.

که له روژې نيولو څخه دطبيعت خرابي ياتکليف رسيدلو وېره وه،نوبيايې نيول بهتر دي او که دهغه ملگريو ته دتکليف رسېدلو وېره وه،نوبيا روژه پرېښودل بهتر دي .

(فتاوى رحيميه ج٢ مخ ٣٦ بحواله رد المحتار ج٢ مخ١٦٠ ومسلم شريف ج٣ مخ ٣٥٦)

په سفر کي دسختي گرمي په وجه دروژې ماتول

پوښتنه : که يوچاته درمضان المبارك په مياشت کي داسي يو سفر پېښ شو چي شرعا هغه مسافر نه گرزېدو،دسفر په جريان کي دغرمې دسختي گرمي په وجه بې طاقته شو او په نتيجه کي يې روژه

ماته کړه ،ایا په هغه باندې قضا او کفاره دواړه شته او که صرف قضاء؟

ځواب :په دغه صورت کې په هغه باندې کفاره لازمه نه ده ،صرف قضاء لازمه ده. (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٤٤ بحواله رد المحتار ج٢ مخ ١٥٨)

دسختې تندې یا سفر په وجه روژه ماتول

پوښتنه: که روژتي دسختې تندې په وجه روژه ماته کړه،او یایې په سفرکې روژه ماته کړه نو دهغه لپاره شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : که تنده دومره سخته وه چې ورنه دمړینې یا دعقل دتلو وېره وه نو په هغه حال کې قضاء لازمه ده .همدارنګه ښه نه ده چې په سفر کې دسفرکولو په ورځ روژه ماته کړې،خو که ماته یې کړه نو صرف قضاء لازمه ده. (فتاوی دارالعلوم ج٦ مخ٤٤٠ بحواله رد المحتار ج٢ مخ١٥٨).

ایا مسافر دروژې فدیه ورکولای شي ؟

پوښتنه : مسافر دسفر په حال کې څو روژې ونه نیولې ، نو هغه شرعا کولای شي چې ددغو روژو فدیه ورکړي ؟

ځواب : دهغو روژو به وروستو قضاء راوړي ، فدیه ورکول پکښې کفایت نه کوي ، څرنګه چې په ایت کې راغلي (فمن کان منکم مریضا...) (٢پاره : ٦ رکوع ، سورة البقرة)

په سفر کې دفوت شوو روژو حکم

پوښتنه : دسفر په حالت کې دفوت شوو روژو قضاء ضروري دی اوکنه ؟

ځواب : بلې ، که دغه چاته دقضاء راوړلو وخت په لاس ورغي ، نو دقضا، راوړل ضروري دی ، اوکه هغسې ونشول ، نوبیا دفدیې

ورکولو وصیت لازم دی خوپه دې شرط چي له هغه څخه به مال پاته شوی وي ، خو که څوك دهغه سفر په حالت کي پسي مړشو ، یا کورته درارسېدلو سره سم ومړ، اودقضا راوړلو وخت یې پیدانکړ ، نوبیا دفدیې ورکولو وصیت لازم نه دی ، که دهرڅومره روژو دقضاء وخت یې پیدا کړ او پکښي ویې نه نیولې ، نو دهغومره روژو قضا لازمه ده ، او دنه نیولو په صورت کي یې دفدیې وصیت لازم دی ، دمثال په ډول په مسافري کي لس روژې وخوړلې شوې ، دغه چاته دپنځو روژو دنیولو وخت پیداشو مگر هغه پکښي قضایي روژې ونه نیولې ، نو دهغو (۵) پنځو ورځو دفدیې ورکولو وصیت لازم دي ، دټولو نه .

(فتاوی رحیمیه ۲ج ۳۴ مخ)

که یومسافر له سفر ختمېدلو وروستو ، یا یوناروغ له روغېدلو وروستو دومره وخت پیدانکړ چي پکښي دقضاء روژې ونیسي ، نوبیا قضاء دهغه په ذمه لازمه نه ده ، وروستو له سفر ختمېدلو ، یا دروغتیا له پیداکولو چي هرڅومره ورځي هغه ته دقضاء روژو وخت ورغی نو دهغومره روژو قضاء ورباندي لازمه ده (جواهر الفقه ۱ج ۳۸۱ مخ)

په روژه کي رخصت شوي یا یې دقضاء راوړلو وخت پیدانکړ

پوښتنه : یوچا دناروغي ، حیض اونفاس اویابل څه په وجه روژه نیول پرېښودل ، نومخته تردي چي ددغو روژو قضاء راوړي هغه مړشو ، نوآیا هغه گنهگاریږي اوکنه ؟

ځواب :که دقضاء راوړلو وخت ورته پیدانشو ، نو هغه روژې ورته معاف دي ، اوکه په روغتیا ، اقامت اوپاکي کي ورته دقضاء راوړلو وخت پیداشو خوهغه ونه نیولي نوبیایې دفدیې ورکولو وصیت واجب دی. (احسن الفتاوی پاکستاني ۴ج ۴۴۸ مخ)

دروژتی مسافر ، په حالت دسفر کي مرکېدل

پوښتنه : یوڅوك درمضان المبارك په میاشت کي مسافر شو اودهغه روژه نه وه چي مړشو ، نودهغه دروژې حکم څه دی ؟

ځواب :دروژې قضاء دهغه په ذمه نشته ، همدارنګه دفدیې اودفدیې دوصیت هم ضرورت نشته (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۳۲ مخ بحواله درالمختار ۲ج ۱۶۰ مخ)

درمضان المبارك په روژو کي که څوك شرعا رخصت ؤ اویادهغه مجبوري پای نه ؤ موندلی چي هغه له دې دنیا نه یې سترګي پټي کړې ،نو له هغه څخه هیڅ طلب شرعا نشته ، ځکه چي هغه ته داداء کولو وخت نه دی ورغلی ، خوکه دقضاء دراوړلو وخت ورته پیداشوی ؤ اوهغه دسستي په وجه قضاء راوړې نه وه ، نودغه فریضه په هغه باندي دواجب په ډول پاتې ده اوپه دې سره به خدای تعالی هغه نیسي ، همدارنګه له یو چاڅخه دسفریاناروغي په وجه لس (۱۰) روژې قضاء شوې ، کله چي هغه له سفریا ناروغي څخه خلاص شو نو (۵) پنځه ورځي ژوندی ؤ بیا مړشو، نوپه هغه باندي ددغو پنځو ورځو قضاء واجبه ده ، ځکه چي دنورو روژو خوهغه وخت نه دی پیداکړی.

وروستو له مړيني دهغه ، خپلوانو ته ښكار دي چي دهغه دروژو فديه وركړي ، ترڅو دهغه په ذمه روژې اداء شي ، كه هغه مال هم پري ايښي ؤ اووصيت دفديې وركولو يې هم كړي ؤ نوبيا په وارثانو باندي دفديې وركول واجب دي ، اوكه يې وصيت كړی ؤ اومال يې نه ؤ پرايښي ، اويايې دومره كم پرايښي ؤ چي له دريمي برخي څخه يې دهغه دروژو فديه نه پوره كېدله ، اويايې مال ډير پرايښي ؤ خووصيت يې نه ؤ كړی ، نو په دغو ټولو صورتو كي په وارثانو باندي دهغه دروژو فديه وركول واجب نه ده مگر له مړي سره دهمدر دي او دهغه داخيرت دښبرازۍ اوكاميابۍ په نيت دفديې وركول ښه كار دی دمړي خپلوان يانور دمړي دروژو اولمونځو فديه وركولای شي ، خودهغو له طرفه دلمونځو اوروژو قضاء نشي كولای.

(ترتيب كوونكي ، محمد نعمت قاسمي)

متفرقي مسئلې

درمضان المبارك په مياشت كي په ډاگه اوښكاره خوراك څښاك كول

پوښتنه : هغه څوك چي درمضان المبارك په مياشت كي بې له څه عذره روژه نه نيسي ، اوپه ښكاره ډول خوراك اوڅښاك كوي نودهغه شرعي حكم څه دی ؟

ځواب : دغه سړی فاسق اوداسلامي شعائرو توهين اوسپكاوی كونكی دی ، كه دالته څوك خليفه وي ، نودغه بې پروا او بي حياته دي دمرگ سزا وركړي ، ددرمختار قول دی چي : كه څوك بې له

شرعي عذره روژه نه نيسي اوپه قصد سره په ډاگه اوښكاره خوراك اوڅښاك كوي ، نو هغه دي داسلام دخليفه په حكم سره ووژل شي.
(فتاوى رحيميه ۳ج ۱۰۴ مخ بحواله شامي ۱ج ۱۵۱ مخ)

پوښتنه : په گرم موسم كي كله چي دروژې نيولو وخت (۱۲) ساعته وي نوايا دروژې دبدلې په كفاره كي غنم وركول كيداى شي ؟

ځواب : په دغه حالت كي به هم روژه نيسي ، بې له عذره فديه وركول صحيح نه دى ، كه دناروغي يابل څه په وجه يې په رمضان المبارك كي روژه ونه نيوله ، نوله هغه وروستو به يې بيا قضاء راوړي ، هغه ته هم دفديې وركول روانه دي ، فديه صرف دهغه چا لپاره ده چي دروژې نيولو هيڅ اميد ورته نه وي . (عزيز الفتاوى قديم ۳ج ۷۲ مخ)

شيخ فاني هغه سړي ياښځي ته ويل كيږي چي دژوند په اخېر رسېدلى وي ، په قطعي ډول دفرضو له اداء كولو څخه عاجز وي ، اوجسماني طاقت اودژوند حال يې ورځ په ورځ مخ په خرابي وي ، تردې چي دهغه دضعف په وجه قطعا ددې اميد نه وي چي هغه دي كله هم روژه ونيولاى شي (مظاهر حق جديد ۲ قسط ۲۱ مخ)

ايا په سړو ورځو كي دروژو ثواب كمېږي ؟

پوښتنه : له يو چا څخه دڅه عذر په وجه په رمضان المبارك كي روژې قضاء شوې ، كه هغه ددغو روژو قضا دسوړ والي په موسم كي راوړي ، نوايا په ثواب كي يې كمي كيږي اوكنه ؟

ځواب :په سړو ورځو كي دقضاء په راوړلو سره دروژې په ثواب كي هيڅ كمي نه راځي . (فتاوى دارالعلوم ۲ج ۴۹۹ مخ)

دبې لمانځه روژه

پوښتنه : يوڅوك چې درمضان المبارك په مياشت كې روژه نيسي خولمونځ نه كوي ، ايا روژه يې سمه ده اوكنه ؟
ځواب :روژه يې سمېږي ، په لمونځ نه كولو سره ګنهګار دی ، اودلمانځه قضاء دهغه په ذمه پاته ده (په حاشيه كي دي) چې روژه اولمونځ سره ځانله ، ځانله شيان دي ، اويوپربل موقوف نه دي.
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۹ مخ)

دمرګ په وخت روژه

پوښتنه : كه يوڅوك دزنكدن په حال كې ؤ اوروژه يې وه ، نوهغه ته بايد دروژې په ورماتولو سره شربت وركړل شي اوكنه ؟
ځواب : په دغه حالت كې دهغه روژه بايد ورماته كړل شي اوشربت اونوربايد وركړل شي .(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۷۰ مخ)

يوڅوك بغير له روژې ماتولو مړشو په هغه دجنازې دلمانځه كولو حكم

پوښتنه : يوڅوك دروژې په حالت كې دلوږې اوتندې دسختې په وجه مړشو ، مګر دشريعت حكم يې ونه مانه ، او روژه يې ماته نكړه په هغه باندې به دجنازې لمونځ كول كيږي اوكنه ؟ ځكه چې هغه دشريعت خلاف ورزي كړې ده .
ځواب :په دغه صورت كې كه دغه سړی دروژې په حالت كې مړشو ، نوهغه ته به پاك خدای تعالی اجر اوثواب وركړي ، په دې سره هغه نه دی ګنهګار شوی ، نوبيا دهغه دجنازې په لمانځه كې څه شك كېدای شي؟ (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۷۱ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۵۸ مخ)

اوږدو وختو والو علاقو کي روژه

دروژې دوختو په لړکي په دې خبره باندي دقران کريم اونبوي ﷺ ارشاداتو تصريح دی چي روژه له راختلو دصبح صادق څخه پيل کيږي بيا دلمر ترلوېدلو پوري ، همدارنګه دامت اجماع هم په دغه قول باندي ده ، په ځينی کوچنيو خبرو باندي لږ اختلاف شته مګر تردغه حده دټولو اتفاق دی ، نوځکه خوداڅرګنده ده چي دروژې اصلي وختونه دغه دي.

خودجغرافياوي اوموسمي حالاتو په لحاظ په هغو کي کموالی اوزياتوالی ، هم کېدای شي اوهم کيږي پخپله په پاکسان کي هم دغه رنګه توپير ليدل کيږي ، نوکه چېري دوختونو ترمينځ زيات ياکم توپير وي ، ورځ د(۱۲) ساعتونو په ځای (۱۶) يا (۱۷) ساعته شي ، نوښکاره خبره ده چي بيا به دروژې دغه حکم پخپل ځای پاته وي ، اوکه دمعمول په خلاف فرق وي ، دمثال په ډول ورځ (۲۰) يا (۲۲) ساعته شي ، اوشپه دوه ياڅلور ساعته شي ، نوهم قران کريم اونبوي احاديثو داحکامو په غوښتنه روژه له راختلو دصبح صادق څخه بيا تر لوېدلو دلمر پوري ده ، اوفتوی هم په دغه قول ده.

خومګر ډير وختونه دهغې په وجه غير معمولي تکليف پيداکيږي ، اودسپين ږيرو اوکمزورو لپاره دروژې نيول سختيږي هغو ته په خاص ډول دغه اساني ورکوله کيږي چي که دوئ درمضان المبارک په مياشت کي روژه ونه نيسي نوخير دی ، کله چي په راتلونکي کي موسم ښه اوددې ورشو چي دوی پکښي روژه ونيسي ، نوهغه وخت

دي بيا ددغو روژو قضاء راوړي ، لکه چې فقهاؤ دمړيني پيښونکې لوږه اوتنده هم دروژې ماتولو لپار عذر بللى دى ، په فتاوى عالمګيري ۱ج ۲۰۶ مخ کې ددې مسئلې تفصيل کتلای شي ، ليکن په هغوځايونو کې چې ورځ هم تر ډيره وخته پورې وي اوشپه هم بيا تر ډيره وخته پورې وي په هغه ډول به دروژې وخت اودرمضان المبارك راتلل ټاکي په کوم ډول چې يې دلمونځونو لپاره وختونه ټاکل کېږي ، دهغه ځاى داوسېدونکو لپاره له هغوځايونو سره سم عمل کول پکار دى کوم چې دوي ته نژدې وي ، اوهلته دمعمول سره سمه دورځې اوشپې ګرزيد ولړې روانه وي . (جديد فقهي مسائل ۹۴ مخ)

پوښتنه : زيد په هوايي جهاز کې دلوېديځ په لورې روان دى ، لمر لوېږي ، نو هغه په څه ډول لمونځ اداء کړي اوڅه وخت روژه ماته کړي ، اويا برعکس ، دختيځ خواته روان دى ورځ ورته ډيره کوچنۍ شوه ، نو دهغه دلمونځو او روژو په اړوند شرعي حکم څه دى ؟

ځواب : په ردالمحتار کې چې يې ترحديث دجال لاندې کومې مسئلې راوړې دي له هغو نه ثابتيږي چې دلوېديځ په لورې تلونکي که په (۲۴) څلورويشتو ساعتو کې دپنځو وختو لمونځ دهغو په وختو کې اداء کولاى شواى ، نوهرلمونځ دي دهغه له وخت داخلېدو سره سم اداء کړي ، اوکه دهغه ورځ دومره اوږده شوه چې په (۲۴) ساعتونو کې دپنځو لمونځونو وختونه رانغلل نودعامو ورځو دلمونځو تروخت جلاوالى دي اندازه کړي اوبيا دي له هغه سره سم لمونځونه کوي ، دروژې هم همدغه حکم دى ، چې که دصبح صادقه

راختلو څخه بیا د(۲۴) ساعتونو ترپوره کېدلو پورې لمر ولوېدو نوله لمر لوېدلو وروستو دې روژه ماته کړي.
په کومو هیوادو کي چي په ځانګړي ډول ورځ دومره اوږده وي چي په (۲۴) څلورویشتو ساعتو کي صرف دکافي اندازې خوراك اوڅښاك کولو وخت پیدا کیږي، نو په هغو کي هم ترلمرلوېدلو له مخه دروژې ماتولو اجازه نشته، اوپه عارضي ډول داوږدې ورځي په کله پېښېدو کي خو په طریقه اولی سره نشته خوکه په (۲۴) ساعته کي دننه لمر ونه لوېدو، نوبیا دي د(۲۴) ساعتو تر پوره کېدلو دومره له مخه چي دکفایت په اندازه خوراك اوڅښاك پکښې کولای شي، روژه ماته کړي، که دروژې پیل (دصبح صادق وخت) هم په سفر کي ؤ، نوپه هغه باندي بیا روژه فرض نه ده، وروستو دي بیا قضاء راوړي، اوکه دروژې دپیل وخت په سفر کي نه ؤ، نوبیا دروژې نیول ورباندي فرض دي، که د(۲۴) ساعته روژې برداشت یې نه لرلو، نوبیا سفر کول ورته روانه دي.
اوځوك چي دختیځ (مشرق) په لوري روان وي کوم وختونه چي په هغه باندي تېرېږي په هغو وختو کي به لمونځ اداء کوي اوله لمر لوېدو وروستو به روژه ماتوي، ځکه چي د(روژې) معنی ده (له راختلو دصبح صادق څخه بیا ترلوېدلو دلمر پوري امساك (بندوالی) کول (احسن الفتاوی ۴ج ۷۱ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۸۸ مخ

دسفر په وجه دروژو کمېدل یا زیاتیدل

پوښتنه: یوځوك دجدې په ښار کي کار کر دی، هلته یې درمضان المبارك روژې نیول پیل کړل (هلته دجمعې په ورځ، او دلته په پاکستان کي ددوشنبې، په ورځ درمضان المبارك اوله وه) بیا هغه

سپړي دلته راغي ، دلته د(۲۹) نهه ويشتم په ورځ مياشت ونه ليدله شوه ، اودهغه (۳۰) دپرش روژې پوره شوې ، اوس به هغه ددغه ځای له خلګو سره (۳۱) يو دپرشمه روژه نيسي اوکنه ؟

ځواب : دغه سړی دې ديکشنبې په ورځ ددغه ځای له خلګو سره روژه ونيسي ، که (۳۱) روژې شي لاهم لکه څرنګه چې يوچا يوائې مياشت وليده ، اودهغه شاهدي قبوله نشوه ، نو هغه بايد دخپلې سپوږمۍ ليدني په اعتبار درمضان المبارك روژه ونيسي ، که بيا داسې وشول چې دديرشو روژو له پوره کولو وروستو مياشت ونه ليدله شوه نوهغه ته يوائې روژه ماتول روانه دی ، بلکه دهغه لپاره حکم دادی چې له خلګو سره روژه ونيسي اوبيا ټول سره په يوځای عيد جوړ کړي .(فتاوی رحيميه ۵ج ۱۸۱ مخ بحواله شامي ۲ج ۱۲۳ مخ)

يوچا روژه نيول پيل کړل بيا عمرې ته ولاړ

پوښتنه : يوچا دلاهور په ښار کې درمضان المبارك روژې پيل کړې بيا هغه مکې مکرمې ته دعمرې لپاره ولاړ ، هلته اوسېدونکې په روژه نيولو کې يوه يادوه ورځې له مخه ؤ ايا هغه به دهغه ځای له خلګوسره عيد جوړ وي اوکنه ؟

ځواب : دغه سړی دې دهغه ځای له خلګو سره عيد جوړ کړي ، اوله هغه وروستو دې بيا دپاتې روژو قضاء راوړي ، يعني که (۲۷) روژې شوې نو ددوو روژو ، اوکه (۲۸)شوې نوبيا دې ديوې روژې قضاء راوړي ، ځکه چې مياشت کله هم تر (۲۹) نهه ويشتو ورځو نه کمېږي .(فتاوی رحيميه ۵ج ۱۸۱ مخ)

اپرېشن کول یا داندامو بدلول

په اصل کې دروژې فاسدونکې شیان هغه دي چې دماغ یا معدې ته ورسېږي ، له دغه نه معلومه شوه چې که اپرېشن دبدن په کومه بله برخه لکه لاسو اوپښو کې وي ، نوبیا په روژه باندې څه اثر نه اچوي ، دغه رنګه دغوږ ، شرمګاه ، غټو ورنو ، پوزې او نورو هغو اندامو چې دماغ یا معدې ته سیخه لاره نه لري هم په صرف اپرېشن سره نه ماتېږي همدارنګه داندامو بدلون هم روژه نه ماتوي ، ځکه چې روژه خودهغه څه داخلول فاسدوي کوم چې دبدن دروغتیا لپاره وي ، اویا دماغ یامعدې ته تلونکي ، اویا په ګمان غالب سره هغو ته رسېدونکي وي ، دلته خو به دغه مصنوعي اندامونه پخپل ځای کې لګول کېږي ، خو که له اپرېشن سره کومه دوا واچوله شوه ، نوبیا وربانديې روژه ماتېږي ، اوپخپله په دماغ اولړمانه کې که داسي اپرېشن ؤ چې له هغوڅخه څه شي پرې کیدل اوراایستل کېدل ، نه داچې په هغو کې داخلېدل ، نوبیا وربانديې روژه نه ماتېږي ، خوکه یې په هغو کې دوا واچوله ، یایې پکښې کوم بل شی ولګاؤ ، نوبیا روژه وربانديې ماته ده ، ددې مثل دفقهاؤ دغه جزئیه ده چې که یوڅوک په نیزه باندې په دومره زورو ویشتل شو چې هغه دنس مینځ (خالیګاه) ته ورسیده ، بیا بېرته راوایستل شو ، نو روژه نه ده ماته شوې ، اوکه دغسې هم هغلته پاته شوه ، نوبیا دبعض خلګو نظر دادی چې روژه نه ده ماته شوې ، اوبعض بیا په دې قائل دي چې ماته شوې ده ، دلته صحیح قول دروژې نه ماتېدل دي مګر دعاجز په

خيال دجراحي عملياتو په ذکر شوي صورة کي صحيح،دروژې ماتېدل دي ، ځکه چې دنيزې له ويشتلو څخه مقصد دانسان بدن ته تاوان رسول دي ، اودجراحي عملياتو (اپريشن) منشاء (هدف) دانساني بدن جوړېدنه اوسمونه ده ، اوکه صورت داسي وي چې دمعدې دعملياتو پروخت له هغې څخه يوشي راوايستل شي ، بيا پکښي بېرته ولګول شي ، نوبيا ورباندي روژه ماتيږي چې مثال يې دقي کېدل دي ، يعني که يوځلي له خولې څخه بهر نشي اوبيا بېرته ولګول شي ، نوبيا ورباندي روژه ماتيږي چې مثال يې دقي کېدل دي ، يعني که قی يوځلي له خولې څخه بهر نشي اوبيا بېرته وخوړل شي ، اويا لاړيه له خولې څخه دباندي په لاس کي راټولي کړلي شي اوبيابېرته په خوله کي واچولي شي نو روژه ورباندي ماتيږي دغه رنګه که يې دغه اندام بهر ته را وايستلو اوبيايې بېرته هلته ولګاؤ ، نو په دې سره روژه ماته شوه. (جليد فقهي مسائل ۹۹ مخ)

دخوب په حالت داوريو څخه وينه تېرېدل

پوښتنه : زما له وريو څخه وينه راځي ، داځو ورځي په روژه کي له غرمي وروستو يا غرمه وينه روانه وي ، دغه په خاص ډول دروژې دخوب په حالت کي وي ، وينه په لاړيو غالبه وي ، دويښوالي په حالت کي خو ورسره احتياط کوم ، مګر کله چې ويده شم نوبيا وينه نس ته تېريږي ، درمضان المبارک په مياشت کي تراوسه دوه ځلي داسي شوي دي ، زما روژه سمه شوې ده ، اوکه به يې قضاء راوړم؟ زه دشپې خوب نشم کولای ، نوکه په ورځ کي خوب ونکړم نودشپې

عبادت ته مي تاوان رسېږي او نوکري کول هم راته ګرانيږي ، نو زما لپاره شرعي حکم څه دي ؟

ځواب : که صرف ترحلق پوري وينه ورغله اوتېره نشوه ، نو روژه وربادي نه ده ماته ، همدارنګه که وينه کمه وه اولاړيه زياتي وي يعني دلاړيو رنګ دسور والي په ځای ژېړوي ،نوکه هغه نس ته تېري هم شي ،نو روژه وربادي نه ماتېږي ،خو سره له دې که ويني ترلاړيو کمي هم وې خو که خوند يې په حلق کي معلوم شي، نو روژه وربادي ماتېږي. همدارنګه که وينه ډېره او لاړې کمي وې ،اوکه دتېريدلو په وخت په حلق کي دهغو خوند محسوس هم نشي نو روژه وربادي ماته ده .

په کومو صورتو کي چي روژه ماتېږي،په هغو کي که دخوب په حالت کي وي او که په کوم بل عذر سره بې له اختياره وينه نس ته ولاړه ،نو دروژې دنه ماتېدلو دقول ګنجائش معلومېږي. په شامي کي داسي راغلي دي:

ښه داده چي که په نژدې راتلونکي کي يې دروغتيا امېد ؤ، نو روژه دي نه نيسي، وروستو به بيا قضاء راوړي، او که دروژې په حالت کي په غير اختياري ډول وينه نس ته تېره شوه ،نو بيا دي احتياطا دروغتيا په حالت کي دهغې قضاء راوړي . (احسن الفتاوی ج٤ مخ ٤٣٨)

داسي روغتيا چي پکي دروژې نيولو قدرت نه وي

پوښتنه: يوځوك دی چي په نظر باندي روغ او جوړ زلمی دی ،او هيڅ ډول ښکاره نښي پکي نشته، مګر ډېر زيات کمزوری دی،او هغه

نشي کولای درمضان المبارك روژه ونيسي، دروژې په نيولو سره هغه ته نوره هم کمزوري ور زياتيږي،نو که هغه روژه پريږدي،نو په اړوند يې دشريعت محمدي ﷺ حکم څه دی؟

ځواب : مسئله داده چې شيخ فاني کولای شي چې روژه ونه نيسي او دروژې فديه ورکړي دشيخ فاني معني داده چې په هغه کې قوت نېستي شوې وي او دروژې نيولو قدرت يې نه وي ـ نو دغه سړی که خلقتا (دپيدا ينبت له وخته) دومره ضعيف او کمزوری وي چې په هيڅ ډول روژه نشي نيولای ،نو هغه ته روا دی چې دروژې په ځای فديه ورکړي. دفتاوی دار العلوم په حاشيه کې ليکلی دي چې که هغه مور زاده دغسي بې توانه نه ؤ بلکه دځه مرض په وجه په عارضي ډول داسي شوي ؤ، نوبيا دروژې نه نيول ورته روادي، او بيا يې دصحت په شپو ورځو کې قضاء راوړل ورباندې واجب دی. همدغه رنګه دشيخ فاني لپاره هم دغه حکم شته چې که يې وروستو دروژو نيولو قدرت ولرلو،نو بيا به قضا راوړي.

(فتاوی دارالعلوم ج٦ مخ ٤٦٨ بحواله رد المحتار ج٢ مخ١٦٣)

له روژې نيولو څخه ناروغه کېدل

پوښتنه: يو څوك دلمانځه او روژې ښه پابندي کوي،ليکن کله چې درمضان المبارك پيل شي نو وروستو له نيولو دڅلورو پنځو روژو هغه سمدستي ناروغه کېږي، هغه يو مسکين او د اولاد خاوند دی ،ددوا کولو او يا مسکين ته دخوراك ورکولو وس نه لري ،همدارنګه که په سړو شپو ورځو کې دروژو قضاء راوړي، نو هم دغه حال يې

وي،داسي ناروغه کېږي چي مرګ ته نژدې کېږي ،په دغه صورت کي دهغه لپاره شرعي حکم څه دی؟

ځواب : دغه ډول ناروغ ته (چي په روژه نيولو برلا سی نه وي،دهمېشه رمضان المبارك روژې نيولو او يا دقضاء له راوړلو څخه دهغه ناروغي زياتېږي او په هيڅ ډول روژه نشي نيولای) فقهاؤ دفديې ورکولو اجازه ورکړې ده.

(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٧٨ بحواله رد المحتار ج٣ مخ ١٦٣)

ايا دازموينو لپاره روژه پرېښودلای شو؟

پوښتنه: که ددنيوي علمونو لکه بي کام،بي اې او داسي نورو دازموينو په مهال دروژې په حالت کي په هغو کي نقصان واقع کېدو ،نو زده کونکي بايد څه وکړي؟ روژه ونيسي او که يې پرېږدي، بل وخت يې قضاء راوړي؟

ځواب : په دغه صورت کي دروژې ماتولو او پرېښو دلو چانس نشته، دروژې په حالت کي دي ازموينه تر سره کړي، خدای ﷻ په ورسره مرسته وکړي. (فتاوی رحيميه ج٢ مخ٣٤)

په روژه کي دباجې او دروی غږول

پوښتنه: که يو چا دروژې په حالت کي دروی ،باجه او نور دسرود شيان دلږ وخت لپاره وغږول ،نو روژې ته څه تاوان لري او که نه؟

ځواب : په روژه کي دباجو ،درو او نورو غږول ګناه دی، خو روژه ورباندي نه فاسديږي .

(فتاوی رحيميه ج٢ مخ٣٨)

ایا داختلاج په وجه روژه پرېښودله کېدای شي؟

پوښتنه: مثلا عمر سره اختلاج یا کوم بل مرض دی چي له امله یې هغه په مطلق ډول روژه نشي نیولای نو هغه ته څه کول پکار دي؟

ځواب :روژه ورته معاف کېدای نشي. که دکوم شرعي قوي عذر په وجه درمضان المبارك روژې نه ونیوله شي، نو وروستو یې بیا قضاء راوړل واجب دي. (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٨٣ بحواله رد المحتارج٢ مخ ١٦٠)

ایا دمعاش برابرولو دتکلیف په وجه روژه پرېښودله کېدای شي

پوښتنه: درمضان المبارك روژې فرض دي ، مگر دمعاش په وجه لکه کرهنه ،پختن او نورولپاره دروژې قضاء کېدلای شي؟

ځواب :ددغو عذرونو په وجه درمضان المبارك روژې قضاء کول سم او روا کار نه دی، آن چي په روژه کي باید څوك داسي سخت هیڅ یو کار ونه کړي، چي له امله یې دروژې قضاء کولو یا ماتولو ته اړ شي.
(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٦٦ بحواله رد المحتار ج٢ مخ ١٥٧)

دمرگ دوېرې په حالت کي روژه ماتول

پوښتنه : که دروژې په وجه دمرگ وېره وه ، نو روژه ماتول واجب دي ، اوکه دماتولو اجازه ده؟

ځواب : که څوك دمرض ، لوږې یاتندي دسختۍ په وجه دمرگ له گواښ سره مخ ؤ ، نو روژه ماتول وربانديي واجب دي ، که په دغه حال یې روژه ماته نه کړه اومړشو ، نوگنهگاردی ، اوکه څوك دروژې ماتولو ته اړایستل شوی ؤ اودنه ماتولو په صورت کي ورته دوژلو گواښ کېدو ، نو دروژې ماتول وربانديي واجب نه دي ، ماتول یې

روا دي ، اونه ماتول يې بهتر دي ،که په دغه ډول مرشي نوثواب يې شته ، اوکه روژه لرونکی مسافر ؤ يا ناروغ ؤ ،نو بيا په دغه صورت کي هم دروژې ماتول وربانديې واجب دي، دغه صورت ته داکراه صورت ويل کيږي . (احسن الفتاوی پاکستاني ۴ج ۴۴۱ مخ بحواله بدائع ضائع ۲ج ۲۴)

په روژه کي دغسل کولو پروخت غرغره کول

پوښتنه : يوچاته دروژې په حالت کي دغسل کولو ضرورت پيښ شو، کله چي هغه غسل کاؤ ، نو غرغره يې و کړه ، اودپوزي تر نرمي برخي پوري يې اوبه ورسولي ، نودهغه غسل به شوی وي اوکنه ؟ اوکه په دغه غسل باندي لمونځ وکړي ، نولمونځ به يې سم شوي وي اوکنه ؟

ځواب : دروژه لرونکي لپاره دغرغرې اودپوزي ترنرمي برخي داوبو رسولو حکم نشته ، چي دروژې ماتېدلو وېره ده ، اوکوم لمونځونه چي يې په دغه غسل باندي کړي دي هغه صحيح دي ، اودراګرزولو ضرورت يې نشته . (فتاوی رحيميه ۵ج ۱۹۸ بحواله مراقي الفلاح ۳۹ مخ)

ايا په روژه کي داستنجاء داوبو وچول ضروري دی ؟

پوښتنه : له نورالايضاح څخه معلومېږي چي له استنجا څخه وروستو بايد داستنجا خاص ځای په يوشي باندي ښه وچ کړل شي ترڅو چي اوبه دننه خواته جذب نه کړای شي ، ايا په دغه قول باندي فتوی هم ده اوکنه ؟

ځواب : ددې کوم ضرورت نشته ، له استنجاء څخه په روژه باندې کوم اثر نه لوېږي ، خو که حد دحقنې ته اوبه ورسېږي نوبيا وربانديې روژه ماتېږي ، خو په استنجاء کې داسې نه کيږي .

(احسن الفتاوی ۴ج ۴۲۷ بحواله ردالمحتار ۲ج ۱۰۸ مخ)

ايا په غيبت باندې روژه ماتېږي ؟

پوښتنه : ملاصاحب دلمانځه وروستو حديث شريف ولوست چې دوه نفره ؤ چې په حضور ﷺ پسې يې دجمعې لمونځ وکړ له لمانځه وروستو حضور ﷺ هغو ته وفرمايل : ستاسو اودس اولمونځ ونشو ، ځکه چې تاسو غيبت کړې دی ، دغه روژه پوره کړئ اوبيا بله ورځ دهغې قضاء راوړئ .

پوښتنه : آيا که څوك غيبت وکړي ، نو لمونځ اوروژه يې نه صحيح کيږي ؟او راګرزول يې ضروري دي ؟

ځواب : په دغه حديث کې دلمانځه اوروژو دراګرزولو حکم دخاصو خلګو لپاره ؤ ، اودعوامو لپاره دزجر اواحتياط لپاره دی ، غيبت حرام دی ، دهغه په وجه په عبادت کې نقصان واقع کيږي ، نو ځکه بايد له غيبت څخه دځان ساتلو پوره غم وخوړل شي ، مطلب دانه دی چې روژه لمونځ او اودس وربانديې فاسدېږي علماؤ ليکلی دي چې روژه درې درجې ده :

(۱) انسان دروژې په نيت تټوله ورځ له خوړلو ، څښلو اوجماع څخه ځان ليرې کړ ، دادعوامو روژه ده .

(۲) انسان دروژې په نيت له خوړلو ، څښلو اوجماع څخه دځان ساتلو ترڅنګ سترګي ، غوږونه ، پوزه ، ژبه ، لاسونه ، پښې اوټول اندامو نه له ټولو وړو اولويو ګناهونو څخه وساتل ، نودادنيکانو اومؤ منانو روژه ده .

(۳) يوڅوك دروژې په نيت له خوراك څښاك اوجماع څخه ټوله ورځ ځان ليري وساتي اوترڅنګ يې ټول اندامونه له ګناه کولو راوګرزول، سربېره پردغه زړه هم په داسې ډول ددنياله وسوسو اوفکرو څخه راوګرزوي چې بغير له پاکه خدايه ﷻ بل هيڅ زړه ته نه ورځي په حديث شريف کي له حضرت ابوهريرة ﵁ څخه روايت دی چي نبي کريم ﷺ وفرمايل : چاچي روژه نيولې وي خوبدکارونه اوبدي خبري نه پرېږدي (يعني غيبت اونورګناهونه کوي) نودهغه دلوږې ضرورت نشته ، نو له دغه حديث شريف څخه معلومه شوه چي دروژې قبلېدلو لپاره دخوراك ، څښاك اوجماع ترڅنګ دګناهو اومنکراتو لکه درواغ ، غيبت ، چغلخوري او نورو څخه هم بايد دځان ساتنه وکړی .(فتاوی رحيميه ۵ج ۱۹۶ مخ)

ديوحديث شريف تشريح

پوښتنه : يوحديث شريف دی چي « که ستاسو په لاس کي داوبوپياله وه ، او اذان وشو ، نوهغه اوبه وڅښئ ، له دغه حديث څخه خوپه ښکاره دامعلومېږي چي له صبح صادق وروستو هم خوراك اوڅښاك روا دی ، آيا دحديث مطلب هم دغه دی ؟

جواب : محدثینو کرامو رحمهم الله ددغه حدیث مبارك مختلفي وجې ښوولې دي .

لمړۍ داچې کله دروژه لرونکي داغالب ګمان وي چې اذان له وخته څخه مخکې وشو .

دوهم داچې له دینه دحضرت بلال ﷺ هغه اذان مراد دی چې ترصبح صادق له مخه به دخلګو دراپورته کولو لپاره کېدو .

دریم داچې دغه حدیث دافطار (روژه ماتي) په اړوند دی .

مقصد دادی چې دروژه ماتې په حالت کې داذان اورېدلو اوهغه ته دځواب ورکولو لپاره افطار ځنډول باید ونشي .

زما په خیال دالاندنۍ وجې هم کېدای شي

اول : ددغه حدیث له روژې سره هیڅ تړاؤ نشته ، بلکه مقصد ورنه دادی چې کله مودڅښلو لپاره داوبو پیاله په لاس کې وه اوپه دغه حالت کې اذان پیل شو ، نوتاسو هغه اوبه وڅښئ ، داذان اورېدلو اوځواب ورکولو لپاره اوبه مه پرېږدئ .

دوهم : په حدیث شریف کې د(ندا) لفظ دی چې ورنه اقامت مراد کېدلای شي یعني که په داسې حالت کې اقامت پیل شو،چې ستاسو په لاس کې داوبو پیاله وه ، نو هغه اوبه دي وڅښي اوپه اطمینان دي دجماعت په لمانځه کې شریك شي .

(احسن الفتاوی ۴ج ۴۴۴ مخ)

په رمضان المبارك كي دهوټل خلاصول

پوښتنه : دروژې په مياشت كي دهوټل خلاصول څرنګه دي ؟ هوټل ته هروخت دهر هرمذهب خلګ راځي ، كه ناروا وي ، نوآيا دغير مسلمو لپاره يې خلاصول صحيح دي اوكنه ؟

جواب : درمضان االمبارك داحترام په خاطر دورځي له مخي دهوټل بندول ضروري دى ، كه خوراك كونكي دهرمذهب وي .

(فتاوى رحيميه ۵ج ۱۹۷ مخ)

دشوال (وړوكي اختر) روژې

دوړوكي اختر په مياشت كي ، دعيد له ورځي وروستو دمياشتي ترپاى رسېدو پوري چي په هره نېټه يې وغوښتل چي شپږ روژې ونيسي ، نونيولاى يې شي ، دادرمضان المبارك له فرضي روژو وروستو داسي دي لكه له فرض لمانځه وروستو دسنتو اونفلو كول : دمشكوة شريف په (۱۷۹) مخ كي ليكلي دي چي چا درمضان المبارك روژې ونيولې ، اوبيا يې ورپسي دعيد مياشتي (۶) شپږ روژې ونيولې ، نوداداسي دى لكه چي ټول كال يې روژې نيولې وي .

تشريح :دټول كال له روژو سره دهغو دبرابرېدلو مطلب دادى چي پاك خداى تعالى دهري نېكي ثواب لس چنده وركوي درمضان المبارك يوه مياشت روژه به دلسو مياشتو ، اودغه نوري (۶) روژې به ددوو مياشتو سره برابري شي ، چي ورنه پوره يو كال روژه جوړېږي ، څومره اسان كار دى اوڅومره لږ تكليف دى خو اجر او ثواب يې ډېر زيات دى .

داختر (۶) شپږ روژې له کله نه پیل کیږي

پوښتنه: دوړوکي اختر په میاشت کي (۶) نفلي روژې نیولي کیږي، چي دعید له دوهمي ورځي پیل کیږي، خوکه دعید له دوهمي څخه پیل نشي، نو په دغه نوره میاشت کي یې نیولای شي اوکنه؟

جواب: په درمختار کي لیکل شوي دي چي، دغو روژو ځانته ځانته نیول بهتر اومستحب دی، خوپه پرله پسي ډول نیول یې هم مکروه نه دی. (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۱ مخ بحواله ردالمحتار۲ج ۱۷۱ مخ مطلب في صوم السبت)

دقضاء اوداختر (۶)(۶) روژو دګډون حکم

پوښتنه: که له یوچاڅخه درمضان المبارك (۶) شپږ روژې قضاء شوې وي اوهغه دوړوکي اختر په میاشت کي دهغو قضاء راوړه، نو دعید د(۶) روژو ثواب به ورکول کیږي اوکنه؟

ځواب: درمضان المبارك روژې فرض دي، که په دغو نیونکو (۶) روژو کي دنفلي روژو نیت وشي نوقضاء نه ده صحیح شوې، اوکه دقضاء نیت وشي نو نفلي روژې نه دي صحیح شوې، یعني که نیت دنفلو روژې هم نفلي شوې، که نیت دفرضو روژې هم فرضي شوې. (فتاوی دارالعلوم قدیم عزیزیه ۳ج ۴۰ مخ)

خوارلسم باب

دنذري روژو مسئلې

دنذر دوه ډولونه

نذر په دوه ډوله دي: معلق (چي له یوڅه سره تړاو ولري) اوبل غیر معلق (چي په څه پوري تړلي نه وي):

معلق نذر : هغه نذر ته ویل کیږي چې دهغه اعتبار په کوم شرط پوري تړل شوی وي ، هغه شرط که مقصد وي هم ، دمثال په ډول که یوناروغ ووایې چې که زه له دغي ناروغۍ څخه جوړشوم ، نو زه به دومره روژې نیسم ، له مرض څخه روغتیا ددغه سړی یوه آرزو اومقصد دی ، اوغیر مقصود : لکه چې څوك ووایې چې که ما لمونځ ونکړ نودومره روژې به‌نیسم .

اونذر غیر معلق :په کوم ځای اوزمانه پوری نه خاصیږي ، که څه هم نذر کونکي یې خاص کړي (۱) مثال : یوڅوك داندر کړي چې زه به دجمعې په ورځ روژه نیسم ، خو هغه دجمعې دورځې په ځای ددوشنبې په ورځ ونیوله ، نو هم نذر یې پوره شو (۲) مثال : یوچا داندر وکړ چې زه به په مکه مکرمه کي روژه نیسم خو هغه یې دلته په کور کي روژه ونیوله ، نو هم‌نذر یې اداء شو ، خودنذر معلق په روژو کي به دهغه شرط پابندي کوي دکوم چې یې په هغه کي لحاظ کړی دی ، دمثال په ډول که یوڅوك ووایې چې که زه په فلاني مقصد کي کامیاب شومه ، نو زه به دومره روژې نیسم ، نوکه هغه مخته تردې چې مقصد یې پوره شي دغه روژې ونیولي ، نودهغه نذر نه پوره کیږي ، له کامیابي وروستو به بیا روژې نیسي .

دنذر اودقسم دروژو ترمنځ فرق دادی چې دقسم روژې که څوك فاسدي کړي ، نوبیا به دقسم کفاره ورکوي ، اوکه یې په ټول عمر کي ونه نیولې ، نوبیا دکفارې ورکولو وصیت کول ورته ضروري دی ، اودنذر دروژو دفاسدولو په صورت کي صرف قضاء لازمیږي ، کفاره نشته ، خووصیت کول په دغو کي هم ضروري دی .

(علم الفقه ۳ج ۴۳ مخ)

دنذر شرطونه

لومړی : شرط دادی چي څه شي چي هغه نذر کوي ، دهغه دجنس به شرعا کوم څه واجب وي ، نوځکه دناروغ پوښتنه نشي کېدلای .

دوهم : داچي هغه نذر شوی شي به مقصود بالذات وي ، وسیله دبل څه لپاره به نه وي ، لکه داودس اوسجدې تلاوت نذر کول ، دغه نذر نه صحیح کیږي .

دریم : داچي کوم شي چي هغه نذر کوي نو په هغه به نه پخوانی واجب وي اونه به په دغه حال کي واجب وي ، نو که څوك دسهار یادماپښین یا دکوم بل وخت لمونځ نذر کړي ، نو دغه نذر یې به صحیح کېږي .

څلورم : داچي کوم شي چي هغه یې نذر کوي ، هغه به دګناه کارنه وي ، نو که یوڅوك داسي ووایې چي زه به دالله تعالی لپاره دلوي اختر په ورځ روژه نیسم ، نو په دغه ورځ دي روژه نه نیسي ، بله ورځ دي بیا دهغې قضاء راوړي ، نو دغه نذر صحیح دی ، ځکه چي په دغه ورځ خو روژه نیول روا دی ، خو چي دغه ورځ داختر ورځ شوه ، نو منع واقع شوه .

پنځم : شرط دادی چي دکوم کارچي هغه نذر په ځان مني دهغه کار ترسره کېدل به ناممکن نه وي ، دمثال په ډول که څوك دتېرې ورځې روژه نذر کوي ، نو دغه نذر صحیح نه دی .

(عالمګیري اردو ۲ج ۲۵ مخ)

که څوک نذر پوره نکړي نوبیا ؟

کله چې څوك يوڅه په ځان باندې نذر کړي ، نوبيا دهغه پوره کول ورباندې واجب دی ، که يې ترسره نکړي نو ګنهګاربږي .

(بهشتی زیور ۳ حصه ۸ مخ بحواله نورالایضاح ۱۵۰ مخ)

دنذر دنيت طريقه

اول : نذر په دوه ډوله دی ، يوداچې دنذر ورځ ټاکله شوې وي لکه داچې : ای الله تعالی که نن زما دغه کار ترسره شو ، نو زه به سباروژه نيسم يا داچې : ای الله تعالی که زما فلاني مقصد سرته ورسېدو ، نو زه به سبا ، يابله ورځ يادرېمه دجمعې په ورځ روژه نيسم ، نو په دغه رنګه روژه کې که له شپې څخه دروژې نيت ونه کړي ، نو ترغرمې يوساعت له مخه هم نيت کول صحيح دی ، اونذر اداء کيږي . (بهشتی زیور ۳ حصه ۸ مخ)

دوهم : ډول نذر دادی چې په نذر کې يې دورځې اونېټې ټاکنه ونه کړه ، بس دومره يې وويل چې : ای الله تعالی که زما کار وشو نو زه به يوه روژه نيسم ، اويايې دڅه کارنوم وانه خيست ، بس دومره يې وويل چې پنځه (۵) روژې به نيسم ، نوپه دغه ډول روژه کې له شپې څخه دنيت کول شرط دی ، که له سهار کېدلو وړوستو يې نيت وکړ ، نو هغه نذري روژه نه ده شوې ، بلکه نفلي روژه شوه .

(بهشتی زیور ۳ حصه ۸ مخ بحواله شرح وقایه ۱ج ۳۶ مخ وعالمګیري ۱ج ۲۱۰ مخ)

دچتې ، او ناروا شيانو دنذر کولو حکم

که يو چا دڅه کار په خاطر دعبادت کوم نذر په ځان ومانه ، نوبيايې هغه کار وشو ، نوپه هغه باندې ددغه نذر پرځای کول واجب دي ، که په ځای يې نکړي ، نو ډير ګنهګاربږي ، اوکه يې چتې ، بې ګټې ، بد

، ناروا شي (چې په شریعت کې هیڅ داعتبار وړ نه ؤ) نذر کړ ، نو دهغه پرځای کول واجب نه دی . (بهشتی زیور ۳ حصه ۴۷ مخ بحواله جوهرة النيرة ۲ ج ۲۴۳ مخ)

دپنځو نذري روژو دنیولو طریقه

که یوچا وویل چې : ای الله تعالی ! که زما فلانی کار وشو، نو زه به پنځه روژې نیسم ، نو کله چې هغه کاربې وشو ، نوبیا به پنځه (۵) روژې نیسي ، اوکه ونه شو بیابه یې نه نیسي خوکه یوچا صرف دومره وویل چې زه به پنځه روژې نیسم نوپه دې کې دهغه خوښه ده ، چې ټولې روژې په پرله پسې ډول نیسي اوکه یوه ، یوه یادوې ، دوې نیسي دواړه صورتونه سم دي .

اوکه یې دنذر پر مهال یا په زړه کې اراده وه ، اویا یې په خوله داوویل چې زه به دغه روژې په پرله پسې ډول نیسم ، نوبیا به یې په پرله پسې ډول نیسي ، که یوه روژه هم ورته په مینځ کې پاتې شوه ، نوبېرته به یې له سره نیسي. (درمختار ا ج ۱۵۵ مخ)

له نذر وروستو دنفلي روژې نیت

یوچا دجمعې په ورځ روژه نیول نذر کړل ، کله چې دجمعې ورځ راغله ، نو هغه صرف دومره نیت وکړ چې نن زما روژه ده ، دایې معلومه نکړه چې دادنذر روژه ده ، اویا یې دنفلي روژې نیت وکړ ، نو په دواړو صورتو کې نذري روژه اداء کېږي ، خو که دجمعې په ورځ یې دنذر روژه هېره وه ،یایې قصدا دقضاء روژه په دغه ورځ ونیوله ، نو په دغه صورت کې دنذر روژه نه اداء کېږي ، بلکه دقضاء

روژه ونیوله شوه ، دنذر دي بله روژه ونیسي . (بهشتی زیور ۳ حصه ۹ مخ بحواله شرح وقایه ۱ ج ۳۱۸ مخ).

دټول کال روژه نیولو نذر

که یوچا دانذر وکړ چي زه به ټول کال روژې نیسم ، یوه روژه به هم نه پرېږدم ، نوبیا به هم په کال کي دغه پنځه ورځي روژه نه نیسي.
اول : دوړوکي اختر په ورځ دوهم : دلوی اختر په لسم . دریم : یوولسم څلورم : په دولسم پنځم : په دیارلسم نوري به ټولي نیسي اوبیا به وروستو ددغو روژو قضاء راوړي.
(بهشتی زیور ۳ حصه ۹ مخ بحواله شرح الوقایه ۱ ج ۳۱۸ مخ)

په نذر کي دجمعې قید لګول

که یو چا وویل چي دجمعې روژه به نیسم ، یا دسفري له لومړۍ بیا ترلسمي ورځي به روژه نیسم ، دخاص دجمعې په ورځ روژه ورباندي واجب نه ده ، اودسفري (سفر المظفر میاشتي) په هغو ورځو کي ورباندي روژه واجبه نه ده ، هروخت چي دهغه خوښه وي هغه وخت دي دغه لس روژې ونیسي ، مګر ټولي به په پرله پسې ډول نیسي ، همدارنګه که څوك ووايي چي که نن زما دغه کاروشو ، نوسبا به روژه نیسم ، نودهغه هم خپل اختیار دی ، هروخت چي غواړي هغه وخت دي ونیسي.
همدارنګه یوچا وویل چي : زه به دمحرم دمیاشتي روژې نیسم ، نو هغه به ددغي ټولې میاشتي روژه په پرله پسي ډول نیسي ،که په مینځ کي ورځخه پنځه ،یا لس روژې پاته شولې ، نو دهغو په بدله

کې دي په نورو ورځو کې روژه ونیسي ، ټولي روژې دي له سره نه راګرزوي ، دادفعه خوښه ده چې که په دغه میاشت کې يې نه نیسي نوپه بله میاشت کې دې ونیسي خوټولي به پرله پسې ډول .
(بهشتی زیور ۳ حصه ۴۸ مخ بحواله درمختار ۱ج ۲۹۹ مخ)

که یوڅوک تر نذر منلو وروستو ناروغ شو

پوښتنه : یوچا نذر ومنلو اومخته تراداء کولو دهغه ناروغ شو ، نو دهغه لپاره شرعي حکم څه دی ؟
ځواب : ترروغتیا دي انتظار وکړي ، که روغ شو ، نو روژې دي ونیسي ، اوکه روغ نشو ، دفدیې ورکولو وصیت دي وکړي ترڅو يې وارثان دهغه له ماله څخه اداء کړي . (فتاوی دارالعلوم قدیم عزیزیه ۱ج ۷۴ مخ)

پنځلسم باب
دنفلي روژو مسئلې

دفرضي روژې ماتول په قصد او رضا سره ډیره لویه ګناه ده چې سزايې شریعت کفاره ټاکلې ده مګر نفلي روژه بغیر له څه سختي مجبوري هم ماتولای شي ، په دغه مسئله کې دماتولو ګنجائش هغه وخت شته چې دهغه په ځان پوره باوري چې بیا به يې قضاء راوړم ، مګر دیوځلي پیلولو وروستویې ماتول ښه نه دي ، خوکه ډیرضرورت پیښ شو ، نو شریعت يې دماتولو اجازه کړې ده ، دمثال په ډول که له کوم ځای څخه یومېلمه راشي ، نو که له هغه سره په خوراك کې ګډون ونه شي ، نو هغه خپه کېږي ، اویا چا دمېلمستیا بلنه ورکړه ،

نوكه چېري هغه په مېلمستيا كي ګډون نه كوي ، نوبلونكى خپه كېږي ، نوبيا دنفلي روژې ماتول روا دي .

زمونږ ډېر ګران محترم اوقدرمن استاد فقهي الامت مفتي محمود صاحب (چي ددارالعلوم ديوبند مفتي اعظم ؤ) به په دارالافتاء كي خپلو ملګريو ته كله كله دحكم په وركولو سره دهغو روژې ورماتولې . اوبيا به يې ورته فرمايل چي ددغو روژو په قضاء راوړلو سره به تاسو ته ډبل ثواب دركړل شي ، مخته خوصرف نفلي روژه وه ، دهغې ثواب خووشو مګر نفل له پيل كولو وروستو واجب ګرزي ، اودهغه پوره كول هم واجب دي .

خبرتيا : ځيني داسي خلګ دي چي په ناروغي يا شرعي سفر كي دروژې په وجه ډېر زيات په تكليف كېږي ، مګر روژه نه ماتوي داطريقه غلطه اودشريعت په خلاف ده ، ځكه چي شريعت مريض اومسافر ته اجازه وركړې ده نو له هغې ځخه بايد ګټه واخستله شي

(ترتيب كوونكي : محمد رفعت قاسمي)

دنفلي روژې په اړوند دحضور ﷺ معمول

ام المؤمنين سيدة عائشة رضى الله تعالى عنها فرمايي چي كله به حضور ﷺ نفلي روژې نيول پيل كړل ، نو مابه ويل چي حضور ﷺ به كله هم روژې نيول ختم نكړي ، اوكله چي به په روژه نه نيولو راغي نومابه ويل چي حضور ﷺ به كله هم روژې ونه نيسي .

تشريح : له دې ځخه مطلب دادى چي نبي كريم ﷺ همېشه نفلي روژې نه نيولې ، بلكه په هغو كي دنبي كريم ﷺ معمول مبارك داؤ چي كله

به يې تردېره وخته په پرله پسې ډول روژې نيولې ، تردې چې دنبي کريم ﷺ دډېرو روژو به وجه به خلکو ته داګمان پيداشو چې شايد نبي کريم ﷺ به کله هم ددغو روژو سلسله ختمه نکړي اوکله به بيا داسې ؤ چې سيد المرسلين ﷺ به تردېره وخته پورې روژې نه نيولې ، تردې چې خلګو به دافکر کاؤ چې شايد حضور ﷺ به کله هم بيا روژه ونه نيسې .(مظاهر حق جديد ۲ قسط ۲۳ مخ)

په نفلي روژه کې سپک (کم) عذر

صحيح داده چې بغير له عذره نفلي روژه ماتول هم روانه دی ، خودنفلي اوفرضي روژې دومره فرق شته چې په نفلي روژه کې دکم (سپک) عذر په سبب هم افطار روا دی ، خو په فرضو کې داسې نه ده ، دمثال په ډول که يوداسې مېلمه پېښ شو چې که هغه ورسره په خوراک څښاک کې ګډون ونه کړي ، نو مېلمه ياخوراك نه کوي ياخپه کېږي ، اويا يوچا ورته دمېلمستيا بلنه ورکړې وي نو په دغه حالت کې که هغه په خپل ځان کلك باور لاره چې قضاء به يې راوړي ، نوبيا دي نفلي روژه ماته کړي ، اوکه دغه باور يې نه ؤ بيا دي نه ماتوي. (علم الفقه ا ۳حصه ۴۲)

دنفلي روژې دنيت طريقه

دنفلي روژې په نيت کې که ددې يادونه وشي چې زه نفلي روژه نيسم ، نو هم صحيح دی ، اوکه صرف دومره نيت وکړي چې زه روژه نيسم ، هم صحيح دی ، په نفلي روژه کې ترغرمې يوساعت له مخه نيت کول هم صحيح دی ، که ديوچا دورځې ترلسو بجو پورې دروژې

نیولو اراده نه وه خوتردغه وخته یې خوراك اوڅښاك نه ؤکړی اوداوخت یې خوښه شوه چې روژه ونیسي ، نو دروژې نیول ورته صحیح دي . (بهشتی زیور ۳حصه ۹ مخ بحواله قدوري ۴۵ مخ وفتاوی هندیه ۱ج ۱۹۴مخ)
نفلي روژه له نیت کولو وروستو واجبه گرځي ، که ترصبح صادق له مخه چا دروژې نیت وکړ چې نن زما روژه ده ، بیایې له هغه وروستو ماته کړه ، نودهغې روژې به قضاء راوړي اوکه چا په شپه کې اراده دروژې نیولو وکړه خوترصبح صادق له مخه یې اراده بدله شوه او روژه یې ونه نیوله ، نوبیا وربانديي قضاء واجبه نه ده .
(بهشتی زیور ۳ حصه ۹ مخ عالمگیري ۱ج ۱۹۳ مخ)
دښځې نفلي روژه
مېرمني ته بغیر له اجازې دخاونده نفلي روژه نیول روانه دی ، که هغې بغیر له اجازې دخاوند څخه روژه نیولې وه ، نو دخاوند په ورماتولوسره یې ماتېدل روا دي ، بیا چې کله ورته خاوند اجازه ورکړي هغه وخت دي قضاء راوړي .
یادونه : دغه حکم هغه وخت دی چې خاوند په کور کې موجود وي
(بهشتی زیور ۳ حصه ۱۰ مخ بحواله فتاوی خانیه برحاشیه عالمگیري ۱ج ۱۹۴ مخ)
داختریه ورځ نفلي روژه نیول
که یو چا داختر په ورځ نفلي روژه ونیوله اونیت یې هم وکړ ، نوبیا هم ورته دروژې ماتول ضروري دی اوقضاء یې هم واجبه نه ده .
(بهشتی زیور ۳ حصه ۱۰ مخ بحواله هدایه ۱ج ۲۰۰ مخ)

دمحرم اولوي اختره مياشتي دنهم روژه

دمحرم دلسمي روژه نيول مستحب دی ، په حديث شريف کي راغلي دي چي څا دغه روژه ونيوله ، نو هغه ته به دتېر کال ټول ګناهونه وبښل شي ، له هغې سره دنهم يا ديوولسم روژه هم مستحب دی ، همدارنګه دلوی اختر دنهمي ورځي دروژې نيولو هم ډېر اجر اوثواب دی ، په هغې باندي ديوکال تېر شوي اوراتلونکي ګناهونه بخښل کيږي اوکه څوك دمحرم له لومړۍ نېټې بيا تر نهم پوري روژې ونيسي نو داخوبيا لاډېره ښهٔ ده.

(بهشتي زيور ۳ حصه ۱۰ مخ بحواله عالمګيري ۱ج ۲۰۰ مخ ومراقي الفلاح ۱۹۳ مخ

دبرات روژې

دشب برات (شعبان) پنځه لسمه اودعيد شپږ ورځي نفلي روژو دنيولو هم ترنورو نفلو (يعني هغو روژو چي ورته خاص فضيلت ثابت نه وي) ډېر ثواب دی ، همدارنګه که دهري مياشتي د ځلورلسم ، پنځلسم ، شپاړسم روژې ونيولي شي نو دابه داسي وي چي ګويا هغه ټول عمر روژې ونيولې ، حضور ﷺ به هم دغه دري روژې نيولې دغه رنګه به يې دهري دوشنبې اوپنجشنبې په ورځ هم روژې نيولې نو که په ځا کي همت وي دغه روژې هم ثواب لري.

(بهشتي زيور ۳ حصه ۱۰ مخ بحواله عالمګيري ۱ج ۲۰۰ مخ)

اللهم اغفر لکاتبه و لکل من سعی فيه آمين

شپاړسم با ب

هغه عذرونه چې له امله يې دروژې نه نيولو اجازت دى

داداسي مجبورئ دي چې په رمضان المبارك كي دهغو په وجه دروژې نه نيولو اجازت دى.

او ل : كه ديوچا دناروغى په وجه دروژې نيولو قدرت نه وي ، يا دمرض دزياتېدلو سخته وېره وي ، نو روژه نه نيول ورته روادي له رمضان المبارك وروستو دهغو روژو قضالازمه ده.

دوهم : دكومي مېرمني چې ماشوم په نس وي او دروژې نيولو په وجه هغې ته يا دهغې ماشوم ته دتاوان رسېدو وېره وي نو روژه دي نه نيسي ، وروستو دي بيا دهغې قضاء راوړي.

دريم : كه كومه مېرمن خپل ياپردي ماشوم ته شيدې وركوي ، نو كه هغه روژه ونيسي دماشوم لپاره شيدي ختمېږي اوماشوم ته تكليف رسېږي نو هغه دي روژه نه نيسي ورو ستو دي بيا قضاء راوړي.

ثلورم : هغه شرعي مسافر (چي كم تركمه د(۴۸) ميلو سفر په نيت له كوره وتلي وي) لپاره اجازه دي چې روژه ونه نيسي ، خو كه په سفر كي تكليف اوسختي نه وه ، نوبيا ښه داده چې په سفر كي روژه ونيسي ، خو كه بيا پخپله دهغه لپاره يا دهغه دملګرو لپاره په روژو نيولو كي تكليف ؤ ، نوبيا يې نه نيول بهتر دي.

پنځم : كه يوچا دروژې په حالت كي سفر پيل كړ ، نو دهغه لپاره دابهتره ده چي روژه ونه نيسي ، اوكه دڅه خوړلو اوڅښلو وروستو له سفره كورته راغى ، نوبيا دي ترماښامه له څه خوړلو څخه ځان

وساتي ، اوکه يې لاځه نه ؤ خوړلي چې کورته په داسې وخت کې راورسېدو چې لا دروژې نيت کېدلای شواي ‹يعني ترزوال يوه نيمه ګنټه له مخه› نوپه هغه باندې لازمه ده چې دروژې نيت وکړي .

شپږم : که چاته دوژلو ګواښ وشي اودروژې ماتولو ته مجبور کړل شي ،نو دهغه لپاره روا ده چې روژه ماته کړي اوبيا يې قضاء راوړي .

اووم : که څوك دځه ناروغي ، لوږې اويا تندې تردومره سختې لاندې شي چې يومسلمان ، ديندراه ، کارپوه ډاکټر په خيال ورته دمرګ ګواښ وي ، نو دهغه لپاره دروژې ماتول واجب دي وروستو بيا وربانديي قضاء لازمه ده .

اتم : دمېرمنې لپاره په حيض اونفاس کې روژه نه نيول روا دي ، په دغوورځو کې دې روژه نه نيسي وروستو دې بيا دهغو قضاء راوړي ،ناروغ اومسافر اودحيض اونفاس لرونکې مېرمنې ته په رمضان المبارك کې خوراك اوڅښاك کول روا دي ، خو هغو ته لازمه ده چې درمضان المبارك داحترام په خاطر دروژه لرونکي ترمخ خوراك څښاك ونکړي . ‹جوهرةالنيرة ۱ج ۴۸۱ مخ›

په روژو نيولو کې خپله خوښه

که يوڅوك داسې ناروغ وي چې روژه نيول ورته تاوان ولري ،او دا وېره وي چې که روژه نيسي نو مرض به يې زيات شي، يا به ژر جوړ نه شي ،او يا به ورنه ومري نو هغه دې روژه نه نيسي . کله چې روغ شو بيا دې دروژې قضاء راوړي .مګر په خپله خوښه او خپل نظر دروژې ماتول صحيح نه دي بلکه ديو مسلمان ديندار طبيب په دې وينا سره

چې روژه تاوان کوي، کولای شئ روژه ماته کړئ .همدارنګه که ډاکټر هيڅ هم ونه ويل ،بلکه تاسو پخپله ددې تجربه لرله او داسي نښانې هم وې چې ستاسو زړه دهغو له مخې دافيصله وکړه چې روژه تاو ان لري نو هم دي روژه نه نيسي. او که دډاکټر وينا هم نه وه ،خپله تجربه مو هم نه وه ، دناروغ حال هم معلوم نه ؤ نوبيا دخپل خيال او خوښي هيڅ اعتبار نشته . که دبې ديانته ډاکټر يا بې تجربې سړي په وينا يا پخپل فکر يې روژه ماته کړه، نو بيا به کفاره اداء کوي .

(بهشتی زیور حصه۳ مخ ۱۸ بحواله در مختار ج۱ مخ ۱۵۳)

په کومو صورتو کي چې روژه نه نيول روادي په هغو کي خلګو ته ددې ښکارندويي روا نه ده چې زما روژه نشته ،ځکه چې په دې باندې ګناه دوه چنده کېږي . داخبره چې په خلکو کي مشهوره ده چې له خدايهﷻ غلا نشته نو له بندګانو څه غلا، يا داچې له خدايه ﷻ پټېدل نشته نو له بندګانو څه پټه ، نو دغه خبري غلطي خبري دي ، اياهره هغه خبره کومه چې خدایﷻ ته معلومه ده بندګانو ته ورښکارول کېږي؟

(ترتيب کونکي محمد رفعت قاسمی)

اوولسم باب

هغه عذرونه چې له امله يې روژه ماتول روا دي

۱. ناڅاپي دداسي ناروغي پېښېدل چې که روژه ماته نکړي نو ژوند يې په خطر کي لوېږي، او يا ناروغي نوره هم زياتېږي ، نو دروژې ماتول بهتر دی ،دمثال په ډول ناڅاپه ديوچا په نس درد شو

او سخت ورنه په تکليف شو ،يا څوك مار وخوړ نو په دغو صورتو کې ددوا خوړل او روژه ماتول صحيح دي، همدارنګه که څو ك دومره سخت تږی شو چې دهلاکيدلو ويره وه نو هم دروژې ماتول ورته روادي . (بهشتی زيور ج۳ مخ۱۷ هدايه ج۱ مخ ۲۰۱ مراقي الفلاح مخ۲۱۲)

۲. هغې مېرمنې ته چې ماشوم يې په نس وو ، داسی څه پيښ شول چې دهغې يا دهغې دماشوم دژوند لپاره ګواښ ؤ ،نو هغې ته دروژې ماتول بهتر دي . (بهشتی زيور حصه ۳ مخ ۱۷ بحواله شرح البدايه ج۱ مخ ۲۰۲)

۳. دخوراك پخولو په وجه يو څو ك دومره سخت تږی شو چې نزدې ؤ چې له تندی مړشي نو روژه ماتول ورته روادي ،خو که چا قصدا داسي کار وکړ چې له امله يې دغه سخته تنده پيښه شوه ،نو هغه په خپله ګنهګار وي.

٤. (بهشتی زيور حصه ۳ مخ ۱۷ بحواله شامي ج۲ مخ ۱۵۹ درمختار ج۲ مخ۱۵۲)

اتلسم باب

دروژې مکروهات

دروژې حفاظت (ساتنه) وکړئ

دادهر شي قاعده ده چې خپل پوره او سم اثر هغه وخت څرګندوي چې هغه له هغه څه څخه چې هغه ته تاوان رسوي ،اوله هغه څه چې دهغه اثر او اغېزه له مېنځه وړي وساتل شي که له دغو شيانو دهغه ساتنه ونه شي نو کېدای شي چې دګټي پر ځای تاو ان ورسوي ،دبېلګې په ډول که دډاکتريځ علاج وروستو په ورته فرمائل شوي پرهېز عمل

ونشي ،نو نتیجه یې ښکاره ده .روژه یو ډېر مهم او ارزښتناك عبادت دی ، او پکې ډېرې بې شماره ګټې پرتې دي ، مګر که دهغې ساتنه ونه شي ، یعني که له خوراك څښاك او دروژې له ټولو ضد شیانو سره سره له چټیاتو ،بې ګټې غږېدلو ،جنګونو درواغو چغل ګېري دوکې او دغسي نور څخه ورته حفاظت ورنکړل شي ،نو په نوم روژه خوبه وي خو دروژې چې کومي ګټې دي هغه به پکې نه وي.

دمشکوة شریف په ج۱ مخ ۱۷۷ کې په دې اړوند زیات حدیثونه راغلي دي چې یو یې داسي دی چې سرورکائینات ﷺ وفرمایل ډېر روژه لرونکي داسي دي چې بغیر له دې چې لوږه او تنده ورباندي تېره شي له روژې څخه نور هیڅ نه تر لاسه کوی او په شپه کې پورته کېدونکي او عبادت کونکي څو داسي دي چې ورته بغیر له پرېشاني دپورته کېدلو نور هیڅ ورته نه حاصلېږی څوك چې روژه ونیسي خو بېکاره کارونه او بې ګټې حرکتونه پرې نږدي ،نو پاك خدای ﷻ دهغه دخوراك څښاك دپرېښودلو هیڅ پروا نه لري.

ددغه حدیث مبارك مطلب په پوره ډول واضح دی ،چې تر څو پوري دروژې نیولو تر څنګ دهغې له ضد شیانو پوره پوره پرهېز ونه شي، نو دهغې روژې هیڅ ګټه نشته.

دزیات غور او فکر وړ خبره داده چې کوم کار لکه خوراك ،څښاك او نور خو دروژې تر نیت کولو له مخه حلال او روا ؤ خو دنیت په وجه هغه پرېښودل شول او کوم شیان چې تر روژې او نیت له مخه هم حرام ؤ دهغو بدوالی به تر کومي اندازې پوري زیات شي مګر ځیني داسي

خلګ دي چې په روژه کې، صرف له خوراك څښاك او جماع څخه بغير نور له هيڅ يوې ګناه او بدي څخه ځان نه ساتي ،دبنځو په اړوند خو څه وېل کېداى نشي خو نارينه ګان دوخت دتيرولو لپاره په بد يو لګياوي . دغه خبري په ظاهره ډېري ورې معلومېږي ،خو په حقيقت کې ډېري تاوان رسونکې او دروژې داجر او ثواب نيستى کونکې دى .

ترتيب کونکى محمد رفعت قاسمى

هغه شيان چې روژه ماتوي نه، بلکه مکروه کوي يې

۱. دڅه شي څکل (خوند کتل) هغه وخت چې هغه تر معدې نه رسېږي که په نفلي روژه کې وي که په فرضي کې .خو که دڅه شي دخوند کتلو ضرورت ؤ ،دمثال په ډول : ديوې مېرمني خاوند خشك او بد طبيعته دى نو دهغې لپاره بلا کراهته روا دى . او همدغه حکم داشپز او نان باي (ډوډۍ پخونکي) لپاره هم دى.

۲. دڅه شي څکل بغير له عذره ، خو که داسي يو عذر وي چې يوه مېرمن کو چني ما شوم لپاره مړۍ ژوېي او دلته بل داسي څو ك نه وي چې روژه ونه لري ،نو بيا صحيح دى .

۳. له خپلي مېرمني څخه خوله اخيستل مکروه دى که په هر ډول وي يعني بوسه فاحشه او غير فاحشه.

۴. په خوله کي دراټولو کړل شوو لاړيو تېرول مکروه دى ، ځکه چي ورته دروژې ماتېدلو وېره ده .

۵. داسي کار کول چي له امله يې داگمان پيدا کېږي چي دروژې په حالت کي دي کمزوري را مېنځته شي خو که دکمزوري پيدا کېدلو غالب گمان نه ؤ بيا مکروه نه دی.

۶. په ورځ کي دغاښو دناروغي لپاره ددوا استعمالول که تر ماښام پوري پرېښودلو يې دتاوان يا سخت ضرر وېره لرله نوبيا پکي ددوا اچول واجب دی (خو که ددوا اثر نس ته تېر شو نو روژه ورباندي ماته ده)

۷. دېوه شي خوندکتل مثلاً لکه قورت ،خوری، يابل دغسی شي داکراهة په هغه صورة کي ده چي دخوند پر کتلو مجبورنه وي اوکه چېرې مجبور وي بيانده مکروه .

۸. دېوداسی شی خوندکتل چي هغه خوند نه لرى هغه که بغير له مجبوري وگوري هم مکروه نده .

۹. دکښت کار هم دروژتي لپاره مکروه دی په هغه صورت کي چي ده چي ودي کارته مجبورنه وي او که مجبوري وه نو بيا مکروه نه دی خو دپتي (کښت) خاوند ته اجازه شته چي دپرېکولو پر وخت هلته واوسي ،ځکه چي دهغه لپاره دغلې ساتنه ضروري دي.

۱۰. له جماع سره دنژدې حرکتونو لکه ښکلول شهوت پيداکونکي خيالونه ساتل ، او داسي شيانو ته کتل چي ورسره دمذي دنه وتلو او انزال نه کېدلو اطمينان موجود نه وي مکروه دی . خو که ځان ساتلو کي شك ؤ يا ځان ورنه ساتل کېدای نشوای يعني هغه پوهېدو چي زه ورنه ځان نشم ساتلای نو بيا دغه ټول حرام دي

،تر دې چې که په دغسې صورت کې مذي ووزي یا انزال ونه شي نو روژه سمه ده او که په سبب ددغو کارو مذي ووزي ، نو بیا دروژې قضاء لازمه ده . خو که بغیر له ارادې څخه او بغیر له تسلسله دنظره مذي ووزي نو بیا روژه نه ماتوي ،او که په سبب ددغو حرکاتو دروژې په حالت کې انزال وشي نو بیا کفاره او قضاء دواړه په دې شرط واجبېږي چې په کومو حرکاتو دجماع چې هغه مرتکب شوی دی هغه به ورته حرام وي لکه کتونکي ته په خپل نفس دکنترول نه لرل ،یا ددغه رنګه کېدلو وېره وه خو دهغو ارتکاب محض مکروه ؤ یعني په خپل نفس یې داباور ؤ چې داسې کار (لکه جماع) به راڅخه نه کېږي (خو هغسې ورڅخه وشول) نو قضاء ورباندې په دې شرط واجبه ده چې دهغه حرکت په ارتکاب کې به یې له ارام طلبي څخه کار نه وي اخستې. کوم چې دانزال باعث وګرزېدو نو په دغه صورت کې هم قضاء اوکفاره دواړه واجب دي.

۱۱. دشنه مسواك استعمالول (دکوم چې څه اندازه په خوله کې پاته کېږي) مکروه دې خو که په خوله کې ورته هیڅ نه پاتې کېدل نو بیا په ټوله ورځ کې روا او مستحب کار دی.

۱۲. تر صبح صادق وروستو په جنابت (ناپاکي)کې پاته کېدل خلاف اولی دی ، ښه داده چې په شپه کې غسل وکړل شي (کتاب الفقه علی المذاهب الاربعه ج ۱ مخ ۹۲۳)

۱۳. رګ وهل ، ناروغ ته خپله وینه ورکول (کومه چې په نن سبا ډاکترانو کې رواج دی) هم مکروه دی.

۱۴. غیبت کول یعني له چا پټ دهغه بدي بیانول په هر حال کي حرام دی ، او په روژه کي يې ګناه نوره هم زیاتېږي.

۱۵. په روژه کي جنګ جګړې او ښکنځل کول (که انسان ته وي که بل هر څه ته) مکروه دی.

۱۶. په روژه کي دغاښو دپوډرو او دوا اويا سکر وتو کارول او په هغو سره دغاښو وينځل هم مکروه دی . (جواهر الفقه ج۱ مخ ۳۷۹)

۱۷. رګ وهل او وينه را ايستل دروژه لرونکي لپاره هغه وخت مکروه دی چي څوك مريض وي.

۱۸. اوکه دغه وېره وه چي دروژې ماتل شايد دناروغي دزيادت سبب شي ،نو که دناروغي دمخنوي يقين ؤ، نو بيا دواړه خبري روا دي.

۱۹. په خوله کي دلاړيو راټولول اوبيا هغه تېرول او داسي څه په خوله کي اچول چي خپرېږي نه مکروه دی. او دهغه څه په خوله کي اچول حرام دي چي په خوله کي خپرېږي ، که څه هم دهغه اثرات تېرېږي نه.

۲۰. دخوراك دذرو په غاښو کي پرېښودل او دهغو شيانو سوغل چي حلق ته په نه تلو يې سړی باور نه لري لکه دمشکو او کافورو پودر ، او دعوډ او نور بخارات.

۲۱. له مېرمني سره داسي مينه کول چي ورنه شهوت په حرکت راځي ، لکه دهغې ښکلول ،سره سرُوول ، لاس ور باندي تېرول ،او

باربار ورته کتل مکروه دي. خو که په دې سره شهوت نه راپورته کېدو نو بیا نه دی مکروه . او که له دغه ځخه او دجماع له نورو محرکاتو دانزال کېدلو (منو وتلو)وېره وه ، نوبیا دغسي کول حرام دي. (کتاب الفقه ج۱ مخ ۹۲۷)

نو لسم باب

هغه شیان چي نه ورباندي روژه ماتېږي او نه ورباندي مکروه کېږي

۱. دمسواك وهل.
۲. په سر یا برېتو نو باندي تېل لګول.
۳. په سترګو کي رانجه یا دوا اچول.
۴. دخوشبو بویول.
۵. دګرمي یاتندي په وجه غسل کول.
۶. دهر ډول ستني (پېچکاري)لګول.
۷. په هیره سره خوراك ځښاك كول.
۸. په غیر اختیاري ډول حلق ته دلوګي ،دند،ګرد،مچ او نور ورننوتل.
۹. په غوږ کي په قصد یا خطا داوبو داخلېدل.
۱۰. په غیر اختیاري ډول دقي پېښېدل.
۱۱. په خوب کي دشیطان په خطا کېدلو (احتلام)
۱۲. دغاښو ځخه دویني وتل خو په دی شرط چي نس ته لاړه نشي.
۱۳. داحتلام یا جماع غسل چي تر سهاره له مخ ونشي او په هغه حالت کي دروژې نیت وشي. (جواهر الفقه ج۱ مخ۳۷۹)

۱۴. په خوله اوبه ګرزول په پوزه کې اوبه اچول که څه هم بغیر له اوداسه څخه وي ، غسل کول .

۱۵. دزیاتې لوندې کپړې اچول په بدن باندې اوپه هغې سره دوجود سړول .

۱۶ اپرېشن کول ، چې پکې روژه لرونکی کمزوري کیږي نه .

(کتاب جواهر الفقه ۱ج ۹۲۴ مخ).

شلم باب

دروژې مستحبات

۱. دلمرلوېدلو سره سم ترلمانځه له مخه روژه ماتی کول .

۲. په لندو یا وچو خورماګانو ، که هغه نه وې بیا په اوبو سره روژه ماتی کول .

۳. په تاقو شیانو دروژې ماتول .

۴. دروژه ماتي په وخت ددعاء ماثورې لکه (اللهم اني لك صمت وعلی رزقك افطرت) ویل.

۵. دپېشلمي پروخت دیو شي خوړل ، که څه هم یو غړپ داوبو وي .

۶. دپېشلمي دومره نه ناوخته کول چې روژه په شك کېږي .

۷. له چتې اوبدو خبرو څخه دژبې ساتل ، پاته شول حرام کارونه لکه غیبت چغلي اوداسي نور ، نو هغه په هرحالت کې حرام دي ، اوځان ساتل ورڅخه واجب دي ، اوپه رمضان المبارك کېورباندې خاص ټینګار شوی دی .

۸. خپلوانو ، غريبانو اوارو خلګو ته خيراتونه ورکول اوترخپله وسه دعلم په طلبکولو ، دقران کريم په تلاوت ، په درود ويلو ، په ذکر کولو اونورو کي شپه اوورځ لګيا کېدل اواعتکاف کول.

(کتاب الفقه ۱ج ۹۳۷ مخ).

پووېشتم باب

دفديې مسئلې

دشيخ فاني تعريف

شيخ فاني يعني تېر عمره کمزوری سپين ږيری ، يا سپين سري ، چي دومره زوړ شوي وي چي دبيا قوي کېدلو اميد هم ورته نه وي ، اويا څوك دومره سخت ناروغ وي چي دبيا روغېدلو نښانې يې نه تر سترګو کېږي ، دشيخ فاني مطلب دادی چي دژوند اخېر نيو شپو ورځو ته رسېدلی وي ، دفرائضو له اداء څخه په قطعي ډول عاجزۇ اودبدن توانايي اوقدرت يې وار په وار مخ په خرابېدو اوله مينځ تلو ۇ ، تردي چي دناتوانی اوکمزوري په وجه ورته قطعا دااميد نه ۇ چي هغه دي بيا روژه ونيولای شي ، نو ددغو اوصافو لرونکي ته شيخ فاني ويل کيږي چي يواځي هغه ته روا دی چي دروژو فديه (مالي بدله) ورکړي ، همدارنګه هغه چاته هم دفديې ورکول روا دي چي دهمېشه روژې نيول يې په خپل ځان نذرکړي وي اوله هغو څخه عاجز وي ، يعني دژوند داسبابو برابرولو اويانورڅه په وجه خپل نذر پوره کولای نشي ، اودفديې(مالي بدلې) اندازه ديوې سرسايې برابر ، اويا ديوي وږي مسکين دسهار اوماښام مړولو په برابر ده ، له دې

څخه بغير ، دنورو ټولو عذرونو مسئله داده چې دعذر پاى ته رسېدو سره سم دروژو قضاء راوړل ضروري ده ، په فديه وركولو سره روژه نه معاف كيږي .
كه يوعذر لرونكى دخپل معذوريت په حالت كي مړ شي ، نو په هغه باندي دهغو روژو دفديې وركولو وصيت واجب نه دى كوم چې له امله يې هغه روژې قضاء كړي دي ، اونه دهغه په وارثانو باندي داواجب دى چې دوئ دهغو روژو فديه وركړي ، معذرت كه له سفر څخه ؤ كه له ناروغى اوكه له كوم بل شرعي سببه ، خوكه يوڅوك په داسي حال كي مړ شو چې دهغه عذر له مخه زايل (ورك) شوي ؤ اوهغه ته دروژو نيولو وخت ورغلي ؤ خو هغه په دغه وخت كي هغه دقضاء روژې ونه نيولې نو دهغه لپاره داضروري ده چې هغه دهغو روژو دفديې وركولو وصيت وكړي په كومو ورځو كي چې هغه له ناروغي څخه خلاص ؤ اوياله سفر څخه مقيم شوي ؤ ، اويادعذر لرونكى پكي بې عذره ؤ ، كه شيخ فاني دسفر په حالت كي مړشو ، نودهغه له طرفه دهغو روژو فديه وركول ضروري نه ده په كومو كي چې هغه دسفر په حالت كي ؤ ځكه چې بل سم سړى دسفر په حالت كي مړ شي نو دسفر دورځو روژې ورته معاف دي ، نو ځكه هغه ته هم معاف دي ، په فتاوى دارالعلوم ديوبند ۶ج ۴۷۰ مخ كي دشيخ فاني تعريف په دې ډول شوى دى چې څوك دومره زوړ شي چې پكښي بالكل قوت نه وي اودمرګ ترپولي رسيدلي وي ، دعمر كوم حد نشته په قوت اوعدم قوت باندي راڅرخي ، ترڅو چې روژه نيولاى

شي ،نوبايد روژه ونيسي دقضاء روژې دي بيا په پرله پسي ډول نه نيسي ځانته ،ځانته دي يوه ، يوه ونيسي ، دفديې ورکول ورته ترهغه وخته نه کافي کيږي چې ترڅو پکښې دروژې قدرت ختم شوي نه وي ، اوپه يو ډول هم روژه نشي نيولای .

دفديې لپاره قاعده کليه

که دقسم دکفارې روژې وي ، او دزيات زوړ والي په وجه له روژې نيولو عاجز ؤ ، نو دهغه په بدله کي خوراك ، څښاك ورکول روانه دي اوقاعده کليه داده چې کومه روژه چې پخپله اصل وي اودبل څه عوض نه وي ، نو کله چې دهغې دعوضې روژې له نيولو څخه نااميده شو ، نوبيا ډوډۍ ورکولای شي ، اوکومه روژه چې دبل څه بدل وي ، نو دهغې په عوض کي نشي کولای خوراك ورکړي ، که څه هم په راتلونکي کي دروژې له نيولو څخه نااميده وي ، دمثال په ډول دقسم دکفارې دروژې په بدله کي ډوډۍ ورکول روانه دی ، ځکه چې هغه پخپله دبل څه په بدل کي ده ، اوپه کفاره ظهار اوکفاره رمضان کي دناداری له وجې دغلام له ازادولو ، اويا دزوړ والي له وجي دروژې له نيولو عاجزؤ ، نو دهغې په بدله کي (۶۰) شپېتو مسکينانو ته ډوډۍ ورکولای شي ، ځکه چې دغه فديه دروژې په بدله کي دی .(عالمگيري اردو پاکستاني ۲ج ۲۴ مخ).

ايا درمضان له مخه دفديې ورکول روا دي ؟

پوښتنه : که درمضان المبارك دروژو دفديې روپۍ تررمضان راتلو له مخه ورکړل شي ، نو صحيح دی اوکنه ؟ يعني تراوسه لا روژه نه ده راغلې خو هغه يې فديه ورکړه ، نو سمه ده اوکنه ؟

جواب : فدیه دروژو بدل دی ، اودرمضان المبارك په راتلو باندي واجبيږي ، نو تررمضان المبارك پيل کېدلو له مخه دفديې ورکول دسبب دنه وجود له کبله صحيح نه ده ، خو کله چي رمضان المبارك پيل شو نو بيا په يو وار دراتلونکو روژو فديه ورکولای شي ، دروژي دوار له مخه فديې ورکولو برخلاف سرسايه په افرادو واجب دی ، چي له رمضان المبارك څخه يې له مخه ورکول هم صحيح دی ، بلکه څو کاله له مخه يې هم ورکول صحيح دی .

(احسن الفتاوی پاکستاني ۴ج ۴۳۶ مخ)

دفديې اندازه

دهري روژې په بدله کي چي مسکين ته دسرسايې په اندازه اوړه ورکړي ، اوياسهار مابښام هغه ته پوره خوراك ورکړي ، نو دې ته په شريعت کې فديه ويله کيږي . (بهشتی زيور ۳ حصه ۲۰ مخ بحواله درمختار ۱ج ۱۴۳ مخ)

په مظاهر حق جديد (۲ج ، ۵ قسط ، ۲۱ مخ) کي قاعده کليه په داسي ډول ليکله شوې ده : دهري روژې دبدلې فديه د(۶۳۳) گرامو غنمو ، اويا دهغو دقيمت په اندازه ده ، په څه ډول چي په فديه اوکفاره کي مالك کيدل روا دي ، همهغه ډول اباحت تام روا دی .

يعني که هغه غواړي چي دهري ورځي بدله په پورتني اندازه کوم محتاج ته ورکړي ، اوکه غواړي هره ورځ دوه وخته وريې ته پوره خوراك څښاك ورکړي ، نو دواړه صورتونه روا دي .

دنېرو کلونو په فديه کي به دکوم وخت قيمت داعتبار وړ وي ؟

پوښتنه : که له يو چاڅخه دبلوغ وروستو دعمر په پيل کي روژې قضاء شوې وي ، ډير کلونه وروستو اوس هغه دکمزوري په وجه له

قضاء راوړلو څخه معذور دی ، نو آیا دفدیې دغنمو قیمت به هغه ځلوینبت یا څوکاله له مخه چي روژه پکښي قضاء شوې ده لګول کیږي ، اوکه دغه اوس موجوده قیمت؟

ځواب : په فدیه کي اصلا پخپله غنم ورکول واجب دي ،قیمت دهغوځای نیونکی دی ، نوځکه داداء دوخت قیمت داعتبار وړ دی.
(احسن الفتاوی ۴ج ۴۳۱ مخ)

ایا ناروغ دروژې فدیه ورکولای شي ؟

پوښتنه : که یوڅوك دناروغي په وجه روژه نشي نیولای ، نودهغه فدیه څه دی ؟

ځواب : له روغتیا وروستو د هغو قضاء راوړل فرض دی ، خوکه دروغتیا امید نه ؤ ، اوتراخیره پوري دروژې نیولو له قدرت لرلوبالکل ناامېدي وو ، په کوچنیو اوسړو ورځو کي هم دروژې نیولو قدرت نه ؤ ، نوبیا دي دیوې روژې په بدله کي دپاوکم دوه کیلو غنمو قیمت مسکین ته ورکړي. (احسن الفتاوی ۴ج ۴۳۲ مخ)

دځو په شمېر روژو فدیه یومسکین ته ورکول

پوښتنه : دیوې روژې فدیه دوو مسکینانو ته ، همدارنګه دځو په شمیر روژو فدیه یو مسکین ته ورکول روا دي اوکنه ؟

ځواب : دیوي فدیې غنم لږ ، لږ څو مسکینانو ته ورکول روا دي ، دغه رنګه یې قیمت ورکول هم روا دي ، همدارنګه دځو روژو فدیه یومسکین ته ورکول هم صحیح دی ، دکفاري په ډول نه بلکي دسرسایې په ډول ده ، نو دځو روژو فدیه یومسکین ته ورکول

صحیح دی ، اوپه دې کې دپریشاني څخه خلاصون دی ، او په لوی رقم کې ډیري سختیاني ستاسو مخې ته راځي. (فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۹۹ مخ)

فدیه باید چاته ورکړله شي

دواجبي فدیې ورکړه باید هغه چاته وي چې زکات ورکول کېږي ، محتاج اومسکین دهغې مالك ګرزول ضروري دي ، هغه مسکین او محتاج که دهر ځای وي ، نو هغه ځایونه چې ملکیت دچا نه وي ، نو په هغو ځایو کې دروپو لګول صحیح نه دی ، لکه دمسجد ودانۍ دمدرسې وداني ، روژې ځاګاني ، داحادیثو اوفقې کتابونو او نورو کې بغیر دچاله ملك ګرزېدلو روانه دی ، مګر داسې حیله کیدای شي چې دنصاب دمالك څخه بغیر دغه رقم دچا ملك وګرزول شي ، اوبیا دهغه له طرفه په دغوځایو نو باندې مصرف شي که څوك غواړي دغه دفدیې روپۍ دیتیم ، نابالغ مسکین په ضروریاتو ولګوي ، نو دهغه ولي ته ورکول یې روا دي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۵۹ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۷۵-۸۵ مخ)

دفدیې په روپو دمسکین قرض اداء کول

پوښتنه : دفدیې له رقم څخه دیو قرضداره مسکین قرض روادي چې اداء کړل شي ، اودهغه قرض فدیه ورکونکی اداء کړي اوکه هغه ته روپۍ ورکړي چې وربانديې خپل قرض اداء کړي ؟

ځواب : له هغه رقم څخه دیو قرضداره مسکین قرض پخپله اداء کول روانه دي ، مګر هغه مسکین ته روپۍ ورکول روا دي چې هغه وربانديې خپل قرض پخپله اداء کړي . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۲۵۸ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۸۵ مخ).

دفديې روپۍ يتيم خاني ته ورکول

پوښتنه : آيا دفديې روپۍ ديتيم خاني په مصارفو کي ورکول کېداى شي اوکنه ؟ اوديونابالغ يتيم ولي (سرپرست) ته دنابالغ يتيم دمصرف لپاره دفديې روپۍ روا دى اوکنه ؟

جواب : دنابالغ مسکين يتيم په ضروورياتو کي دمصرف کولو لپاره دهغه ولي ته دغه روپۍ ورکول روا دي.

(فتاوى دارالعلوم ۶ج ۲۵۸ مخ بحواله ردالمحتار ۲ج ۸۵ مخ).

که څوک دفديې په روپو کپړه واخلي اوبيا يي تقسيم کړي

پوښتنه : په فديه کي غريبانو ته کپړه ورکوله کېداى شي اوکنه ؟ که په هغه وخت کي ديوې روژې يا يو لمانځه فديه په نغدي ډول يوه روپۍ وي ، نو که هغه دشلو روپو څادر واخلي اويومسکين ته يې ورکړي ، نو دغه به ديوې ورځي فديه وي اوکه دشلو ورځو ؟

ځواب :په فديه کي دغنمو دقېمت سره سم کپړه اونور ورکول هم روا دي ، اوديوځو روژو دفديې روپۍ يومسکين ته ورکول هم روا دي نوځکه دشلو روپو دڅادر په ورکولو سره دشلو روژو فديه اداء کيږي ، دغلي قېمت اويا ددغومره قېمت سامان ورکول هم روا دى دنابالغ که پلار مسکين ؤ نو ورته صدقه ورکول روا دي ، مګر نابالغ ته خوراك څښناك ورکول کافي نه دى .(احسن الفتاوى ۴ج ۴۳۹ مخ).

اللهم اغفرلكل من سعى فيه

دوویشتم باب
دافطار (روژه ماتي) مسئلې
دحلال رزق اهميت

دروژه ماتي پروخت بايد دحلال رزق پاى بندى شي ، اوله هرهغه څخه لاهم بايد ځان لري وساتل شي چي دحراموالي ترشك وي ځکه چي هغه روژه هيڅ معني اوګټه نه لري چي تو له ورځ له حلال خوړلو څخه ځان ساتي خو کله چي دروژه ماتي وخت راشي ، نو بيا په حرامو سره روژه ماته کړله شي څوك چي دډيرو درملو خوړلو له ويري زهر وخوري ، نو په يقين سره هغه سړى دبېوقوف بللو مستحق دى ، حرام هم يو ډول زهر دي ، څرنګه چي زهر دانسان وجود هلاك کوي ، همدغه رنګه حرام دين هلاك کوي اودحلالو خوړلو مثال د درملو په څېر دي ، چي په کمه اندازه خوړل يې ګټور ، او زيات خوړل يې وجود ته تاوان رسوي.

دروژې مقصد دادى چي حلال هم بايد کم وخوړل شي ترڅو ګټور واقع شي ، دنسائې شريف په يو روايت کي حضرت ابن مسعودؓ دحضور اقدس ﷺ الفاظ رانقل کوي (ډير روژه لرونکي داسي دي چي دروژې له نيولو څخه ورته بله هيڅ ګټه نه وي ، بغير له لوږې اوتندي څخه) ددغه حديث شريف مختلف تفسرونه رانقل شوي دي ، بعض حضراتو ويلي دي چي له دې څخه مراد هغه څوك دي چي په حرامو سره روژه ماتوي ، بعض حضرات بيا وايې چي مراد ورڅخه هغه څوك دي چي دحلالو له خوړلو يې ځان ساتلي وي خو دخلکو په

حرامو غوښو (يعني غيبت باندي) روژه ماتوي ، او دنورو رايه بيا داده چي مراد ورځخه هغه څوك دي چي خپل اندامونه له ګناهو څخه نه ساتي .

دروژه ماتي پروخت هم بايد حلال رزق دومره اندازه وخوړل شي چي نس ورځخه وپرسيږي ، دالله تعالى په نزد بل هيڅ داسي دډکيدلو شي دومره زيات بد نشته لکه هغه نس چي له حلاله رزقه څخه ډك کړل شوي وي .

دروژې اصلي مقصد دادى چي دهغې په سبب نس خالي وي اوپه بدن کي نفسي غوښتني ختمي شي ، اوله روژې څخه مقصد داهم وي چي دروژه دار په ووجود اونفس کي تقوى پيداشي ، خو په ډير خوراك کولو دغه مقصد لاس ته راوړل امکان نه لري اوپه نفس کي تقوى هغه وخت راتلاى شي چي کمه غذا وخوړله شي ، اودکموالي اندازه داده چي دافطار (روژه ماتي) پروخت هم دومره څه وخوړل شي چي څومره به په نورو شپو کي خوړل کېدل ، داسي نه چي دروژه ماتي پروخت له خوراك څخه دټولو وختو غچ اخيستل کيږي ، اوکه داسي وشي ، نو يقينا به له داسي روژې څخه اصل مقصد ترلاسه نشي .

(احياء العلوم ۱ج ۴ قسط ۵۹۶ مخ)

پنځم شي دروژه ماتي پروخت هم ددومره زيات شي نه خوړل دي چي نس ورباندي ډك شي ، ځکه چي په دي سره دروژې غرض له مينځه ځي ، له روژې څخه مقصد دشهواني اوبهيمي قوت کمول ، او دنوراني اوملکي قوت زياتول دي ، دغه يوولس مياشتي موڅومره

ډير څه وخوړل او وڅښل ، نو که دا يوه مياشت په هغو کې څه کمو الی وکړو نو مړه به شو ؟ مګر زمونږ دخلګو دا حال دی چې دروژه ماښام پروخت دهغو ټولو غچ په يو وار کاږي ، کوم چې به يې بغير له روژې په ورځ کې خوړل او دپېشلمي په وخت په دې نيت چې په راتلونکې ورځ کې خوبه بيا خوراك نه کوي ، دومره څه خوري چې په خلاصه خوله کې يې کله هم دغومره نه وي خوړلي ، زمونږ دخلګو لپاره روژه داسي شوې ده لکه په شنو غنمو يا په رشکه کې دڅه شي خوشي کول (فضائل رمضان ۲۹ مخ)

دروژه ماتي ورکولو ثواب

دمشکوة شريف (اج ۱۷۳ مخ) کې دروژه ماتې ورکولو په اړوند ګڼ حديثو نه راغلي دي چې مفهوم يې په دې ډول دی : (که يو چا روژه لرونکي ته روژه مات ورکړ ، نو په دې سره دهغه ټول واړه ګناهونه بخښل کيږي ، او هغه ته دجهنم له اوره څخه خلاصون په برخه کيږي ، اوهغه ته دروژه مات په ورکولو سره دومره ثواب ورکول کيږي ، څومره چې روژتي ته دروژې په نيولو سره ورکول کيږي په دې سره به دروژتي په اجر اوثواب کې هيڅ ډول کمي نه کيږي ، بلکه پاك خدای تعالی به له خپل رحم اوکرم څخه هغه ته دروژه مات ورکولو په بدله کې دروژې نيولو سره سم ثواب ورکوي ، اصحابانو عرض وکړ چې ای دالله تعالی رسوله ! که له چا سره دروژه مات ورکولو قدرت نه ؤ هغه به په څه ډول دغه ثواب ترلاسه کړي ، ځکه چې له مونږ څخه هريو ددې لائق نه دي چې چا ته روژه ماتي ورکړي حضور ﷺ ورته

وفرمايل : دغه ثواب خوپاك خداى تعالى په يوسور (غړف) اوبوياشيدو اويايوې خورماسره هم ورکوي ، اوچاچي بيا روژتي ته تربسوالي پوري ډوډۍ ورکړه ، نو په هغه باندي به پاك خداى تعالى زما له حوض (کوثر) څخه داسي اوبه وڅښي چي دهغو تر تږولو وروکي اثر به داوي چي جنت ته ترداخلېدلو پوري به بيا کله هم هغه تږي نشي.

بعض ناپوهان دچا په کور کي ، يا له بل چا سره روژه نه ماتوي ، او دوئ دافکر کوي چي دروژې ثواب ځي ، اوکه څوك ورته دمهماني بلنه ورکړي ، نو دروژه ماتي لپاره ورسره له خپله کوره څه اخلي ، نو داډېره سخته دناپوهۍ اوکم علمۍ خبره ده په دې اړوند په فتاوى دارالعلوم ۶ج ۴۹۳ مخ کي فتوى داده چي :

پوښتنه : دبعض خلګو دانظر دي چي دبل چا په څه باندي روژه نه ماتوي ځکه چي بيا دروژې ثواب هغه ته رسيږي ، آيا داسمه ده کنه ؟

ځواب : دغه يوه فاسده عقيده ده چي دبل چا په روژه ماتي څوك روژه نه ماتوي ځکه چي بيا دروژې ثواب روژه مات ورکونکي ته ورکول کيږي ، دحديث شريف مفهوم دادى چي که يوچا روژه لرونکي ته روژه مات ورکړ نو په دې سره به دهغه ګناه وبخښله شي ، او دروژه لرونکي سره برابر ثواب به ورته ورکړل شي ، په دي سره به دروژه لرونکي په ثواب کي هيڅ ډول کمي نه کيږي.

(مشکوة ۱ج ۱۷۴ مخ)(مرتب قاسمی)

دروژماتي لپاره دګينتي، اونورو استعمال

دسرورکائنات ﷺ ارشاد مبارك دي چي « دروژې په ماتولو کي تلوار پکار دي » اوهغه بنده چي په روژې ماتولو کي تلوار کوي پاك خدای تعالی ته ډير ګران دی ، په يوبل حديث شريف کي دي چي
« ترڅو چي مسلمانان په روژې ماتولو کي تلوار کوي ترهغه به ددين غلبه «برپا» وي » اوپه روژه ماتي کي له تلوار کولو څخه مقصد دانه دی چي تر لمر لوېدو له مخه دي روژه ماته کړله شي.
بلکه دد ي مقصد دادي چي هرکله دلمر لوېدل يقيني شو ، نوبيا دڅه وهم اوشك په بنياد بايد ځنډونه شي ، دحضرت ابوهريرة ﷺ څخه روايت دی چي حضور ﷺ وفرمايل « زما په بندګانو کي ماته ډير ګران بنده هغه دي کوم چي په روژه ماتي کي تلوار کوي » نوله دې خاطره چي په روژه ماتي کي له تلوار کولو څخه غلط برداشت ونشي ، حضور ﷺ موږ ته دغه عام فهمه قاعده رابنوولې ده چي « کله شپه راشي ، ورځ ولاړه شي ، لمر ولوېږي ، نو دروژه ماتي وخت راورسيدو » (ترمذي شريف)
دغه درې کليمي دتاکيد اووضاحت لپاره فرمايلي شوې دي ، ترڅو يوڅوك داګمان ونه کړي چي که لمر صرف دلوېدلو ترحده ورسېږي ، اويا بغير له شپې بله توره شپه (لکه داوريځي په وجه چي پېښيږي) راشي ، نو روژه ماتيدای شي.

په روژماتي کي دګړۍ،يا جنتري کارول

پوښتنه : په داسي وخت کي دروژه ماتي حکم ورکول چي څونفره لالمر لوېدلي نه بولي څنګه دي ؟ اودهغو دواړو سم وخت کوم دي ؟

ځواب : دغه په تجربه اومشاهده پوري ترلي يوكار دی ، اوپه دې باندي پوهېدونكي هروخت موجود وي ، اوله سمي ګړۍ (ساعت) اودلمر لوېدلو اوختلو له معلوماتي پاڼې څخه هم په دې كي كومك ترلاسه كولای شي ، نو كله چي دوخت معلوماتي پاڼه دلمر ختلو اولوېدلو سره سمه وي ، اودهغو تجربه شوې وي ، نو له سمي ګړۍ څخه به دهغې سره سم دروژ ماتي اودماښام دلمانځه حكم وركول كيږي ، اوډېر وخت له مشاهدې او نورو نښو څخه معلومات كيږي .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۸ مخ).

په فتاوی رحيميه (۳ج ۱۰۸ مخ) كي داسي راغلی دی چي دماښام اذان ، لمونځ اوروژ ماتی له لمر لوېدو سره ترلي دي ، نو له ګړۍ اوجنتري (معلوماتي پاڼې) سره ، اووروستي دواړه يې دلمر لوېدلو تابع دي چي غلط هم پرېوتای شي ، له هغو څخه ترڅه اندازې مرسته ترلاسه كولای شي خو هرڅه له دوي سره ترلي نشي بللای نوځكه چي هروخت تاسو پخپله ووينې چي لمرولوېدو ، اويا مو دبل چا په وينا اويانورو نښانو يقين شو چي لمر لوېدلی دی ، نوحتما روژه ماته كړي ، داسي وخت بيا داحتياط او دنورو په چرت وهلو سره ځنډول روانه دی ، اوترڅو پوري چي تاته دخپلي ليدني ياله مخه دخبر يقين يا اعلان په بناء يقين حاصل شوی نه وي (بلكه شك وي) نو ترهغه صرف په ګړۍ اوجنتري په باور سره لمونځ كول اوروژه ماتول سم كار نه دی ، نو كه هغه ځای چي لمر پكښي لوېږي سم نه ؤ چي چا ته

دامعلومات نشواى كېداى چي لمر اوس لوېدلى دى اوكنه ، نوبيا ځو دقيقې ځنډ كيدلاى شي. (فتاوى رحيميه ۳ج ۱۰۸ مخ)

په جماعت كي د روژ ماتي اوپېشلمي كول

پوښتنه : په جماعت كي روژه ماتي كول ، اوپېشلمي كول څنګه دي ؟ كه ځېري څوك په خپل كور كي روژه ماتوي اوبيا لمونځ ته جماعت ته ورځي ، نولمونځ پاته كيږي ، نو په داسي حالت كي هغه څه وكړي ؟

ځواب : ښه داده چي په دغسي حالت كي داعتكاف نيت وكړل شي ، په جماعت كي دپېشلمي او روژه ماتي كول صحيح دي خو تركومه حده چي امكان لري ، مسجد بايد چټل اوخراب نكړل شي .

(فتاوى محموديه ۱ج ۵۰۸ مخ)

تر لمر لوېدلو په مخكي اذان باندي روژه ماتول

پوښتنه : اذان ويونكي نږدي اوه دقيقې مخته ترخپل وخت اذان وو ايه ، ماورباندي روژه ماته كړه ، نو آيا په دغه صورت كي زما هغه روژه سمه شوې ده اوكنه ؟

ځواب : روژه دي ماته شوې ده ، كه ستا غالب ګمان داؤ چي دغه اذان سم وخت دى ، نوبيا دربانـدي صرف قضاء لازمه ده ، اوكـه دسموالي او غلطوالى په شك سربيره دي روژه ماته كړه ، نوبيا قضاء اوكفاره دواړه واجب دي .

دزكات له پيسو څخه په جماعت كي روژه ماتي برابرول

پوښتنه : آيا دزكات روپۍ په جماعت ، روژه ماتي اوپېشلمي كي لګول كېداى شي ؟

ځواب : درمضان المبارك په روژه ماتي اويا دشپې په ډوډۍ کي زکات ورکول په داسي ډول روا دی ، چي روژه ماتونکی یا دشپې ډوډۍ شي ، خو که هغه غني (شتمن) ؤ نو بیا روانه دی .
(کفیت المفتي ۴ج ۴۵۸ مخ بحواله فتاوی هندیه ۱ج ۲۰۱ مخ)

دروژ ماتي سم وخت

کله چي دلمر لوېدلو يقين ترلاسه شو ، نوبیا روژه ماتي ځنډول مکروه دی خو که دوریځي یابل څه په وجه دلمر په لوېدلو کي شك ؤ ، نوبیا دوه یا څلور دقیقي انتظار کول ښه کار دی ، بهر حال درې دقیقي احتیاط کول پکار دی ، ډېره ښه داده چي په خورماسره روژه ماته کړله شي ، خو که په کوم بل شي ماته کړله شي نو هم پکښې څه کراهت نشته . (جوهر الفقه ۱ج ۳۸۱ مخ).

روژ ماتي باید څه شي وي ؟

په لونده خرما یا وچه خرما باندي روژه ماتول بهتر دي .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۴ مخ بحواله مشکوة ۱ج ۱۷۵ مخ)

په تازه خرما باندي روژه ماتول مستحب دی ، که هغه نه وه بیا دي وچه خرما وي ، اوکه هغه هم نه وه بیا دي اوبه وي. (احسن الفتاوی ۴ج ۴۳۴ مخ)

دحضور ﷺ روژ ماتی

حضرت انس ﷺ فرمایلي دي : چي نبي کریم ﷺ به دماښام ترلمانځه له مخه څو تازه خرماګاني خوړلې ، که هغه به نه وي بیا به یې څو وچې خرماوي خوړلې که هغه به هم نه وي ، نوبیا به یې درې ځله اوبه څښلې ، دترمذي شریف په یو حدیث شریف کي داهم راغلي دي چي

نبي كريم ﷺ به په درو خرماو يا كوم بل داسي څه په خوړلو سره دروژې ماتول خوښول چي په اوربه نه ؤ پوخ شوي.

تشريح : په خرماوو يااوبو سره دروژې ماتول حكمت ظاهرا داكيداى شي چي كله معده خالي وي ، اودخوراك غوښتنه زياته وي ، نو په دغسي حالت كي چي څه وخوړل شي ، نومعده يې په ښه ډول قبلولاى اوهضم كولاى شي ، نوځكه كه په دغه حالت كي شيريني معدي ته رسيږي نوبدن ورڅخه ډيره ګټه اخلي ځكه چي دشيريني داخاصيت دى چي دهغې په وجه په جسماني قواؤ كي قوت ژر پراخيږي په خاص ډول دليدلو قوې ته له خوړو څخه ډيره ګټه رسيږي ، اودخرما دنه وجود په صورت كي بيا اوبه دروژه ماتي لپاره فرمايلي شوي دي ځكه چي دادظاهري اوباطني لپاره يو نيك فال دى ، حضرت ابن مالك ﷺ فرمايلى دي چي ښه داده چي دهغو دخوښولو علت پخپله په حضور باندي حواله كړل شي . (مظاهر حق ۴ج ۹۵ مخ)

دروژ ماتي په وجه دجماعت ځنډېدل

پوښتنه : دروژ ماتي پروخت ټول خلګ اول هغه څه چي جماعت ته يې دروژه ماتي لپاره راوړي وي خوري اوبيا لمونځ كوي يوڅوك دي چي داسي كول نه خوښوي او وايې چي ترلمانځه له مخه صرف خرماوي وخوري بس ، بيا لمونځ وكړي اوبيا وروستو هغه شيان وخوري ، ددي ناراضي په وجه هغه يواځي لمونځ كوي ، نو په دې اړوندشرعي حكم څۀ دي ؟

ځواب :دروژماتي په وجه دمابنام دلمانځه ځنډول روا دي ، په دې کې څه منعه نشته ، په ارامي سره دي روژه ماته کړي او اوبه دي وڅښي اوڅه چي دخوړلو لپاره موجود دي هغه دي وخوري بيا بايد لمونځ وکړي .

هغه خوك چي ددومره کم ځنډ په وجه ناراضه شوی دی اوځانته لمونځ کوي ، نو دادهغه خطايې ده ، هغه ته پکار ده چي دجماعت په لمانځه کي ګډون وکړي ، اودغه ځنډ چي دروژه مات په وجه مينځته راغلی دی دشريعت خلاف ونه بولي ځکه چي داپخپله دشريعت حکم دی .

(فتاوی دارالعلوم ۲ج ۴۵ مخ بحواله عالمګيري ۱ج ۴۹ مخ).

کله چي په وخت کي ګنجائش وي ، اودڅه ضرورت په وجه څه ځنډ راځي ، نو په دې کي په قطعي ډول هيڅ تنګي نشته دمشکوة شريف دباب التعجيل الصلوة له حديث څخه څرګندېږي چي ترڅو پوري چي زيات شمېر ستوري په اسمان کي خپرېږي ترهغه پوري په ځنډولو کي هيڅ تنګي نشته . (ترتيب کوونکي محمدرفعت قاسمي).

دغير مسلم په شي باندي روژه ماتول

پوښتنه : يوهندومشرك دی ، چي درمضان المبارك په هره مياشت کي شيدې ، اوداسي نورشيان مسلمانانو ته ورکوي ، ايا په دې سره روژه ماتول صحيح دی اوکنه ؟

ځواب : په دغه څه سره روژه ماتول صحيح دي اوپکښي څه منع نشته

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۴ مخ).

په کفایت المفتي (۴ج ۲۳۴ مخ) کي راغلي دی چي : په هغه شي سره چي غیر مسلم چاته لیږلی وي قبلول او ورباندي روژه ماتول روا دي.

داتې وهونکو ښځو په روژه ماتي سره روژه ماتول

پوښتنه : ایا که اتې او ناچ کونکې ښځه چاته روژه ماتی ولیږي ، نو روژه ماتول ورباندي روا دی اوکنه ؟

ځواب : داکار دتقوی خلاف دی (ګویا دفتوی له لاري دغه صورت دحرمت دعلم دنه موجودیت په وجه روا دی) یعني دمال دحراموالي دعلم دنه موجودیت په صورت کي روا دی. (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۹۴ مخ)

دغیر مسلم په اوبو روژه ماتول

پوښتنه : یو روژه لرونکي له هندو څخه اوبه راواخستلې او روژه یې ورباندي ماته کړه ، یوچا وویل چي روژه دي ختمه شوه ځکه چي هندو خو کافر دي ، اوهغه اوبه حرامي وي ، نو شرعي حکم څه دی ؟

ځواب : په خپل وخت باندي دهندو په اوبو روژه ماتول روا دي ، څوک چي په دې خبره جګړه کوي هغه دده دناعلمي اوجاهلیت علامه ده . (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۴۵۶ مخ)

په مالګه سره دروژې ماتول

په خرماو سره روژه ماتول ډیره ښهٔ ده ، که هغه نه وي ، نوبیا په اوبوسره باید روژه ماته کړله شي ، بعض خلک په مالګه روژه ماتول ثواب بولي ، نوځکه ورباندي روژه ماتوي ، دایوه غلطه عقیده ده .

(بهشتی زیور ۳حصه ۱۵ مخ بحواله ترمذي شریف)

په دوا سره روژه ماتول

پوښتنه: که يو څوك ناروغ ؤ، نو هغه درمضان المبارك روژه په دواء سره ماتولای شي او كه نه؟

ځواب: بلي: هغه كولاي شي په درملو سره روژه ماته كړي، په دي كي هيڅ منعه نشته. (فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٩٥)

په چلم څکولو سره روژه ماتول

پوښتنه: كه چا روژه ونيوله، بيايي دروژه ماتي پر وخت تر هر څه لومړی چلم وڅکاوه او بېهوښه شو، نو روژه يې سمه شوې ده او که نه؟

ځواب: «دهغه روژه سمه شوې ده» په حاشيه كي راغلي دي چي دهغه روژه ځكه سمه شوې ده چي «روژه» له صبح صادق څخه بيا تر لمر لوېدو پورې له خوراك څښاك او جماع څخه دليري اوسېدلو نوم دی، نو دغه روژتي په هغه باندي عمل كړی دی.

(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٤٩٨ بحواله رد المحتار ج٢ مخ١١٠)

دروژ ماتي دعاء

په يو حديث شريف كي دي چي «دهر روژه ماتي پر وخت روژه لرونكي ته ديوې داسي دعا اجازه وي، دكومي چي دقبلېدلو خاصه وعده ده. (بهشتی زيور ج٣ مخ٧١)

په يو حديث شريف كي راغلي دي چي كله تاسو ته په داسي حال كي چي تاسو روژه لرونكی ياست خوراك په مخ كي كېښودل شي، نو تاسو ته پكار دی چي تر روژه ماتي له مخه دغه دعا ولولئ:

«بِسْمِ اللهِ ، وَالحَمْدُ للهِ اَللّٰهُمَّ لَكَ صُمْتُ وَعَلٰی رِزْقِكَ اَفْطَرْتُ وَعَلَيْكَ تَوَكَّلْتُ سُبْحٰنَكَ وَبِحَمْدِكَ تَقَبَّلْ مِنِّيْ اِنَّكَ اَنْتَ السَّمِيْعُ الْعَلِيْم»

مؤذن لومړی روژه ماته کړي، او که اذا ن وکړي؟

پوښتنه: په رمضان المبارك کي له روژې ماتولو څومره وخت وروستو باید اذان وشي؟

ځواب: کله چي لمر ولوېږي نو روژه دي ماته کړي او بیا دي اذان ووایي دروژه ماتي په وجه په لمانځه کي دپنځو یا اوو دقیقو ځنډ کولو ګنجائش شته دی. (فتاوی رحیمیه ج۲ مخ۳۸)

روژ ماتی او دماښام دلمانځه وخت

پوښتنه: ایا دروژه ماتي او ماښام لمانځه وخت دلمر له لوېدلووروسته سمدستي دی ، اوکه څه وخت وروستو؟ که غر په نژدې فاصله کي پروت وي اولمر تر غره پټ شي ، نو دروژه ماتي اولمانځه وخت کېږي او که نه؟

ځواب: کله چي لمر ولوېدو بس هغه دروژه ماتي او لمانځه وخت دی ، دځنډ کولو ضرورت نشته که څه هم لوېدیځ طرفته غر پروت وي ، ځکه چي دغروب (لمر لوېدو) معني دانه ده چي په ټوله نړۍ کي به یوځای هم لمر نه تر سترګو کېږي. دارنګه کېدل خو امکان نه لري، یوځای لمر لوېږي او بل ځای راخېږي ، بلکه دغروب (لمر لوېدلو)معنیٰ داده چي زموږ دلمر لوېدلو په ځای کي لمر ولوېږي، او دختیځ له خوا تاریکي راښکاره شي. خو که یو څوك په غره ولاړ ؤ او

لمر يي په سترګو ليدلای شوای، نو هغه ته روژه ماتول روانه دی ، ځکه چي دهغه لمر لانه دی لوېدلی. (امداد الفتاوی ج۱مخ ۱۷۰ بحواله شامي ج۲مخ۸۰)
په مظاهر حق جديد نومي کتاب ج۲ قسط ۴ کي راغلي دي چي په ښاروکي دلمر لوېدلو علامه داده چي دختيځ له لوري توره شپه دومره راپورته شي له کومه ځايه چي صبح صادق پيل شوی وي.

دروېشتم باب

دصدقه فطر (سرسايې) څو مسئلې

داختر ورځ دېره مبارکه او دپاك خدایﷻ دمېلمستيا ورځ ده . په دغه ورځ مو ږ ټول دپاك خدای ﷻ مېلمانه يو. په دې وجه په دغه ورځ روژه نيول حرام شوي دي ځکه چي کله موږ ته پاك خدایﷻ په مېلمستيا کي دخوړلو او څښلو حکم کړی دی ، نو مو ږ ته هيڅکله نه دي پکار چي ورنه مخ واړو، په دغه ورځ روژه نيول داسي دي لکه دپاك خدایﷻ مهماني (بلنه) ردکول دا زموږ مسلمانانو لپاره يوه لويه دخوشحالۍ ورځ ده ، زموږ په ښه ورځ کي بايد کېلونه ،نندارې او سرودونه نه وي، چاته تکليف ورکول او دهغو تنګول بايد نه وي،بلکه کوم څه چي راته پاك خدایﷻ راکړي دي هغه له نورو محتاجانو سره شريك کړو.

دولت مند چي کله خپل ګلان ماشومان په ښائسته جامو کي خوشحالي کونکي ويني ، نو دغريب مړاوی انځور او دهغه دماشومانو له غم څخه ډکي سترګی نشي ليدلای . مسلمان دولت لرونکي تر هغه وخته دخپل کور خوشبويه او خوند وروخورا کونه

لاس نه ورورې ،تر څو دغریب له کوره دڅه پخولو دوګي پورته شوی ونه ويني ، ګرانو زما به څه عيد وي! چې زموږ څنګ لورې مسکين نن ورځ هم وږی پاته وي . ګرانو! په مابه خپله ښائسته ښځه څرنګه ګرانه وي په داسي حال کي چې زموږ دنژدې څنګ لورې دمېرمنې جامې څو څو ځايه بيا پيوند او ګنډل شوې دي ، که خدانخواسته موږ دومره غيرتمند نه يو ، نو مسلمان ولي بايد عزتمند نه وي؟ څکه چې زموږ عزتمند خدایﷻ دانه برداشت کوی ، چې زما يو محتاج بنده دخپلو زړو جامو په وجه شرمېږې او دعيد په لمانځه کي شرکت نه کوي ، او دهغه واړه ماشومان چې کله دهغو نورو ماشومانو چې له دوی سره به يې لوبې کولې ښکلې ، ښکلی جامې او له هغو سره دروپو نوي ، نوي لوټونه ويني ، نو په ژړا ژړا راځي او خپلې مورته وايي چې:

موري! موږ ته هم داسي شيان واخله ، نو دهغو مور چې له بې قدرتي څخه يې هيڅ ته لاس ته نه رسېږې دوی په غېږه کي رانيسي او دهغو اوښکي پاکوي او ورته وايي: بچيانو! ولي نه: تاسوته به هم دغه شيان در اخلم ، نو له دې وينا سره دزيات غم په وجه دهغې له خولې څخه بې اختياره چغه وزي او دهغې په زړه باندې دفکر او غم او ريځ خپرېږي ، نو دغه حال پاك خدایﷻ نشي ليدلای (يعني ليدل يې نه غواړي) او کوم غيرتمن هغه ليدلای شي؟......... ، نو څکه پاك خدایﷻ په خپلو خوشحاله بندګانو باندې دالازمه کړېده چې کله چې دوی زما دغريبو بندګانو نارينه او ښځينه ؤ اوښکی پاکي نکړي ،

ترڅو چې دوی دهغو وجود پټ نکړي، تر څو چې دوی دهغوی نغرې گرم(تود) نکړي او ترڅو چې دوی دهغوی ماشومان په خنداونه ويني، نو تر هغو دي په خپله عيد نه جوړوي . ترڅو چې دهغو دزړه تکليف خلاصه نکړي تر هغودي زما مخ ته نه راځي ، تر څو چې دمحتاج دمېرمني عيد په خوشحالي سره جوړ نکړي تر هغو دي دخپلي ښځي پای زېبونه اتکړي او دهغې هار دي طوق وبولي . له هغو سره دهمدر دي دکم ترکمه ضروري برخي نوم صدقة الفطر (سرسايه) ده.

سرسايه دمسلمانانو ترمېنځ دهمدردي هغه تر ټولو کمه برخه ده چې که دغه هم اداء نه شي، نو په مالدارانو اوشتمنو دپاك خدایﷻ قهر نازلېږي ، دهغو دګټو برکت له مېنځه ځي ، قهّار خدایﷻ دهغې دنه اداء په وجه دهغو په مخکي دومره پرېشانۍ او تکليفونه اچوي چې ترسرسايې څو چنده زياتي پيسې پکي بربادېږي، او ديو غريب ديوې ورځي په ژړا دپروانه کولو په سزا کي غيور خدایﷻ دغه بې غيرته شتمن څوڅو کاله اوساعته سر تور او خوار وي، او کله چې هغه په خوشحاليو او نورو کي نور نه ورګډوي نو ليدونکی او اورېدونکی خدایﷻ هغه په غمونو تکليفونو اوښکو او دردونو کي نورو ته ورګډوی (يعني دی هم دهغو په حال کوي)او خپل ټول بندګان سره يو رنګه کوي.

(رمضان کيا هـــ مخ۱۷۵)

دصدقه فطر (سرسایې) شرطونه

سرسایه واجبه ده ، فرض نه ده . دسرسایې دواجبېدلو لپاره درې شرطونه دي . (۱) ازادي (۲) مسلماني (۳)دداسي نصاب مالك گرزېدل چي تر اصلي ضرورت زيات وي، او له قرضوڅخه يا خو بالكل او يا تراندازې ديو نصاب پوري ساتلى وي په دغه مال باندي نه دكال تېرېدل شرط دي او نه دمال تجارتي كېدل شرط دي ، او نه دمال دخاوند بلوغ او عقل ورته شرط دي، تر دې چي په نابالغ او په ليوني هم سرسايه وركول واجب دى ، دهغو وليان (سر پرستان) بايد دهغو سرسايه اداء كړي. خو كه ولي (سرپرست) اداء نكړه او هغه پخپله په دغه وخت كي شتمن ؤ ، نو بيا دې له بالغيدلو اويا له لېونتوب څخه روغېدلو وروستو دتېرې زماني سرسايه اداء كړي.

دسرسايې حكم حضور اقدس ﷺ په هغه كال باندي وركړى دى چي روژه فرض شوې وه.

دسرسايې فائده دامعلومېږي چي دادخوشحالي ورځ ده ، او په دغه ورځ داسلام شان او شو كت (دبدبه)په ډېرښت او راټولتيا سره ليدل كېږي او دصدقې په وركولو سره دغه مقصد نور هم پوره كېږي. برسيره په دغه په سرسايه سره دروژې پوره والى كېږي، دصدقې په وركول سره روژه مقبوله گرزي. او په دې كي دالله ﷻ دعظيم (لوى) احسان (چي موږ ته يې دروژې نيولو توفيق راكړ) او نورو شكريه اداء كول هم دي . (علم الفقه ج٤ مخ ۵۰-۵۱)

سرسایه ورکول په هغه چا واجب دی چي دنصاب خاوند وي ، يعني يا (۵۲) تولې سپين زر اويا (۷,۵) اوونيم تولې سره زر ولري.
(فتاوی دار العلوم ج٦ مخ ٣٦٦ درمختار ج٣ مخ٩٩)

ضرورات اصليه کوم دي؟

دچاچي لوی قيمت لرونکي کور وي ، که خرڅ کړل شي ، نو(۱۰۰۰) يا پنځه سوه روپۍ قيمت کېدای شي او ورسره دخرڅولو او اغوستلو قيمتی کفرې وې مگر په هغو کی د سځه سپين يا سره زر ګڼه وي ، او دهغه دخدمت لپاره يې دوه يا څلور خدمتګاران هم شته ، دزرو (۱۰۰۰) يا پنځو سو(۵۰۰) ضروري سامان‌هم شته مگر ګڼه نشته ، او هغه سامان ټول کاروي ، او يا يو څه سامان تر ضرورت زيات هم موجود دی او څه دزرو ګڼې او نور هم شته ، خو په دومره اندازه نه ، چي زکات ورباندي واجبېږي ، نو په دغو ټولو صورتو کي سرسايه واجب نه ده. (نور الايضاح مخ١٦١)

همدارنګه له يو چا سره تر ضروري سامان زيات نور څه هم ؤ ، مگر هغه قرض دارؤ ، نو هغه دي دقرضو اندازه ولګوي چي هغه څومره دي ، که هغه سامان په دومره روپو خرڅېدو چي په څومره چي زکات واجبېدو ، نوبيا ورباندي سرسايه هم واجبه ده ، او که تر دې کم ؤ نو بيا واجبه نه ده. (بهشتی زيور حصه ٣ مخ ٣٤ بحواله هدايه ج١ مخ ١٨٥)

خالي مکان (ځای)په ضرورت اصليه کي داخل دی ارکه نه؟

يو څوك دی چي دوه کور ونه لري، په يو کي پخپله اوسي، او هغه بل يا خلاص دی او ياپې په کرايه ورکړی دی ، نو دغه دوهم مکان له

ضرورت څخه زيات دی ، که ددغه کور قيمت دومره ؤ چي زکات ورباندي واجبېدو ، نو بيا په هغه مالك باندي سرسايه هم واجب ده . او هغه ته دزکات روپۍ ورکول هم روا نه دي ، خو که دمالك گذاره په دغه مکان وه يعني دروپو گټلو يې بله لاره نه لرله، نو بيا هغه مکان له ضرورت اصليه څخه گڼل کېږي ، او په خاوند يې سرسايه واجب نه ده . او دزکات روپۍ هم ورته ورکول کېدای شي.
لنډه داده چي کوم چاته چي زکات او سرسايه ورکول کېدای شي ، په هغه باندي سرسايه واجب نه ده .او چاته چي دزکات او سرسايې روپۍ نشي ورکول کېدای په هغه باندي سرسايه واجب ده .
(بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۳۵ بحواله فتاوی خانیه ج۱ مخ ۲۲۶)
په چاچي زکات فرض دی په هغه باندي سرسايه هم واجب ده ، مگر فرق پکي داده چي په زکات کي خو دسپينو يا سرو زرو يا دتجارت دمال لرل ضروري دی ، او دصدقه فطر (سرسايې) واجب کېدلو لپاره صرف دغه دري شيان نه دي بلکه دهغې په نصاب کي هر قسم شته شمېرل کېږي ، خو داشرط په دواړو نصابو کي شته چي هغه مال چي زکات يا سرسايه ورڅخه ورکوله کېږي هغه به دورځني ژوند له اړتيا څخه زيات وي او قرض به هم ورباندي نه وي .دبېلگي په ډول که له يو چاسره دورځني ژوند لپاره داغوستلو زياتي کپړې وي يا تر ضرورت زيات سامان لکه پيتل ،استيل ، گچين او داسي نور لوښي وي ، يا خالي مکان وي او يا نور تر ورځني ژوند زيات سامان وي ، نوکه دهغو ټولو قيمت سره راټول کړل شي او حد دنصاب ته ور

سېږي او يا ورنه زيات شي ، نو په هغه سره زکات نه واجبېږي خو سرسايه ورباندي واجبېږي . همدارنګه دسرسايې په نصاب باندي دکال تېرېدل هم ضروري نه دی که په هغې ورځ هم ددومره شتو خاوند شو چي سرسايه يې لازموله ، نو سرسايه اداء کول واجب دی.
(رمضان کیاھــــ مخ ۱۷۷)

خوک چي دنصاب خاوند نه وي دهغه حکم

په حديث شريف کي راغلي دي چي ((غني (شتمن)دي هم سرسايه اداء کړي او فقير دي هم سرسايه ورکړي)) ددوي دوو په اړوند فرمايل شوی دي چي ((الله ﷻ ددغي سرسايې ورکولو په وجه شتمن پاك ګرزوي، او هغه چاته چي خاوند دنصاب نه وي (فقير) ته تر هغه څه زيات ورکوي کوم چي هغه په سرسايه کي ورکړي دي . که څه هم دغه زېری خو دشتمن لپاره هم دي چي پاك خدایﷻ دسرسايې ورکولو په وجه دهغه په شتو کي څوچنده زيات برکت اچوي، خو له فقير سره ځکه خاص کړل شوی دی چي په دې سره دهغه همت زيات شي، او هغه له صدقې ورکولو څخه شاته نشي . (مظاهر حق جدید قسط۳ ج۲ مخ۵۸)

سرسايه څه وخت واجبېږي

سرسايه دوړوکي عيد دسهار راختلو سره سمه واجبېږي ، نوځکه په هغه چاچي تر سهار کېدلو له مخه مړ شي او يافقير شي، نو په هغه باندي سرسايه واجبه نه ده . همدارنګه که يو چا تر سهار کېدلو وروستو اسلام راوړ او يا دمال څښتن شو.يا کوچني هلك يا انجلۍ

تر سهار کېدلو له مخه پیدا شو او یا چا اسلام راوړ او یا دمال خاوند شو، نو په دغو ټولو باندي سرسایه واجب ده . (علم الفقه برخه٤ مخ٥١)

که څوك دعید دورځي ترسهار کېدلو له مخه مړ شو، نو سرسایه ورباندي واجب نه ده، او دهغه له ماله به هم نه اداء کېږي.

(بهشتی زیور حصه ۳ مخ ۳۵ بحواله عالمگیری ج۱ مخ۱۹٦)

تر رمضان المبارک له مخه سرسایه ورکول

پوښتنه: دصدقة الفطر (سرسایې)ورکولو وخت کوم دی؟ تر رمضان المبارك له مخه یعني دشعبان (براة)او یا رجب (بزرگي) په میاشت کي اداء کول یې صحیح دي او که نه؟

ځواب : دایوه اختلافي مـــــسئله ده ، تر رمضان له مخه دسرسایې ورکولو قول هم شته ، خوعمل ورباندي کول داحتیاط په خلاف دي . درمضان په میاشت کي هم دسرسایې په ورکولو کي اختلاف شته ، خو قوي داده چي ورکول یې صحیح ، اوسرسایه یې اداء کېږي .

(فتاوی رحیمیه ج٥ مخ ۱۷٦ بحواله بحر الدائق ج۲ مخ۲۵۵)

په فتاوی دارالعلوم ج۲ مخ ۳۰۵ کي بیا داسي راغلي دي چي درمضان المبارك په هره لسېزه کي دسرسایې ورکول صحیح دي .

دچا ، او چا له طرفه سرسایه ورکول واجب دی؟

دخپل ځان او خپل نابالغ او لاد له طرفه صدقة الفطر (سرسایه) اداء کول واجب دی ، همدارنگه دبالغ او لاد سرسایه اداء کول په دې شرط واجب دی چي هغه به دنصاب خاوند نه وي او که نصاب

خاوندؤ بيا يې سرسايه اداء کول واجب نه دی . که دنابالغ اولاد مال ؤ بيا به سرسايه دهغه له ماله څخه اداء کوئ، او که يې مال نه وو، بيا به يې له خپله ماله څخه .همدارنګه دخدمتګارانو ، مينځې، او غلام له طرفه هم سرسايه اداء کول واجب دی که څه هم هغه کافران وي .خوکه بالغ شتمن ؤ مګر لېونی ؤ، نوبيا هم دهغه له مال څخه دهغه سرسايه اداء کول واجب دی.

هغه مينځې يا غلامان چې دخدمت لپاره نه ، بلکه دتجارت لپاره وي ، دهغو سرسايه اداء کول واجب نه دی.

که پلار مړ شو، نو بيا نيکه دپلار په حکم کې دی ، يعني که لمسی مالدار ؤ نو دهغه له ماله څخه، او که مالدار نه ، بيا دهغه له خپله ماله سرسايه ورکول واجب دي. (علم الفقه ج۳مخ۵۲)

په فتاوی دار العلوم ج۶ مخ ۳۲۴ کې دعالمګيري په حواله داسې ليکل شوي دي (بنځه چې دنصاب خاونده وي، نوسرسايه وربانديې واجب ده ، که دهغې خاوند دهغې له طرفه سرسايه اداء کړي ، نو اداء کېږي. په پلار يې سرسايه اداء کول واجب نه دي)

په سرسايه کې دا جازې ضرورت شته او که نه؟

پوښتنه: څرنګه چې دبل چا زکات بغير دهغه له اجازې نه اداء کېږي ، نو ايا سرسايه هم همداسې ده ؟

ځواب : بلې: په سرسايه کې داجازې اخستلو ضرورت شته ، مګر څرنګه چې دسرسايې اندازه کمه او معلومه ده ، نو ځکه دمېرمنې او اولاد (چې دسړي تروکالت لاندې دي) سرسايه سړی اداء کوي، او

دعادت له مخي دهغو اجازه وي، نو استحسانا داسي کول روا دی . خو زکات چي اندازه يې نامعلومه او زياته وي او بغير له وينا څخه يې داداء کولو عادت نشته، نو ځکه يې اجازه او وکالت ضروري دی . (فتاوی رحيميه ج٥ مخ ١٧٣ بحواله شامي ج١ مخ١٠٣)

چاچي روژه نه وي نيولې دهغه دسرسايي حکم

که چا په څه وجه درمضان المبارك روژه ونه نيوله ، نو په هغه باندي هم سرسايه واجب ده ، دروژه نيوونکي اونه نيونکي هيڅ فرق پکي نشته. (بهشتي زيور حصه ٣ مخ ٣٥ بحواله عالمگيري ج١ مخ ١٩٣ وفتاوی رحيميه ج٣ مخ ١١٤)

دوركړ شوي انجلۍ سرسايه په چاواجب ده ؟

پوښتنه : يوه انجلۍ چاته كوزده شوې ده خوهغه دخپل پلار په كور كي ده ، اونابالغه ده ، ايا دهغې سرسايه په مور اوپلار واجب ده اوكه په خسرګني؟

ځواب :كه هغه انجلۍ شتمنه وي ، نو له خپله ماله سرسايه اداء كول ورباندي واجب دی ، بالغه وي اوكه نابالغه ، اوكه شتمنه نه وه خوبالغه وه ، بيا په هيڅ چا نشته ، اوكه نابالغه هم وه اوڅه يې هم نه لرل او واده شوې هم نه وه ، نوبيايې سرسايه دپلار په غاړه ده ، اوكه واده شوې وه ،نوبيا دپلار په ذمه نه ده . (امداد لفتاوی جديد ٢ج ٨٠ مخ).

که دمال له تقسيم وروستو دنصاب خاوند نشو ، نو سرسايه ورباندي واجب ده ؟

پوښتنه : دځلورو وروڼو ګډ مال دی چي كه ورباندي ووېشل شي ، نوديوه مال هم حد دنصاب ته رسېدای نشي ، نوآيا سرسايه اوقرباني ورباندي واجب ده اوكنه ؟

جواب : په داسي صورت کي چي يوه ورور ته هم دنصاب په اندازه څه ونه رسيږي ، نو په يوه هم نه سرسايه شته اونه قرباني .
(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۰۸ بحواله ردالمحتار ۳ج ۹۹مخ)

کوم زلمی چي خپله گته پلار ته ورکوي دهغه دسرسايي حکم

پوښتنه: ديو چا دوه زامن دي، هر څه چي دوی گټي هغه خپل پلار ته ورکوي، له هلکوانو سره هيڅ هم نشته ، نو په دوی باندي سرسايه، قرباني او يا زکات واجب دي او که نه؟
ځواب :په هغو باندي زکات، سرسايه او قرباني واجب نه دي .
(فتاوی دارالعلوم ديوبند ج٤ مخ۳۱۱ بحواله رد المحتار ج۲مخ ۹۹)

ايا دنصاب خاوند نابالغ به وروستو له بلوغه سرسايه اداء کوي؟

پوښتنه: که ماشوم دنصاب خاوند ؤ او دهغه سر پرست دهغه له طرفه سرسايه اداء نکړه، نو په هغه باندي تر بلوغ وروستو دهغي اداء کول واجب دي او کنه؟
ځواب : بلي: هغه به له بلوغ وروستو هغه سرسايه اداء کوي ، خو که ماشو م دنصاب خاوند نه ؤ بلکه پلارېي دنصاب خاوندؤ خو دهغه سرسايه يې اداء نه کړه ، نو بيا په هغه باندي وروستو له بلوغه اداء لازمه نه ده . (امداد الفتاوی ج۲ مخ۷۸)

که دټولو دسرسايي اداء کولو قدرت نه ؤ

که له يو چا سره دومره غله وه چي دځو نفرو سرسايه يې اداء کولای شوای او دنورو پاته کېږي ، نو هغه بايد دهغوصدقه ورکړي چي په نفقه کي يې زيات تاکيد وي . حضور ﷺ به داولاد نفقه تر ښځو، او

دښځو نفقه تر خادمانو مخکي کوله. په مسلمان باندي دهغه ځېله ، دهغه دمېرمني، ماشومانو ، غلامانو او هغو خپلوانو سرسايه واجب ده دکومو چي خرڅه په هغه باندي ده . لکه پلار ، نيکه ،مور ، انا او داسي نور... (احياء العلوم ج۱ قسط٥ مخ ٥٢٧)

سرسايه دعيدپه تېرېدولو سره نه معاف کېږي

که يو چا دوروکي عيد په ورځ سرسايه ورنکړه ، نو ورته معاف شوې نه ده ، بله ورځ بايد هغه ورکړي . (بهشتی زيور ۳حصه ۳۵ بحواله هدايه ۱ج ۱۹۱ مخ)

دسرسايې اندازه

په صدقة الفطر (سرسايه) کي بايد غنم يا دغنمو اوړه دغنمو له سويق څخه پاوکم دوه کيلو ورکړل شي ، اوداحتياط په وجه خوښه داده چي پوره دوه کيلو يا تردې زيات ورکړل شي ، ځکه چي په زيادت کي هيڅ منعه نشته ، بلکه بهتر دی اوکه يې وربشي اويا دهغو اوړه ورکول ، بيا به دهغو دوه چنده ورکوي ، اوکه يې بيا نور خوراکي شيان لکه چني ، جوار ، وريجي اوداسي نور ورکول ، نوبيا بايد دومره څه ورکړی چي قېمت يې له پاوکم دوه کيلو سره سم وي .
(بهشتی زيور ۳ حصه ۳۵ مخ بحواله عالمگيری ۳ج ۱۹۳ مخ)

ايا په وريجو ورکولو سره سرسايه اداء کېږي ؟

پوښتنه : په بنگلال اوبعض نوروعلاقو کي دهرچا غذا وريجي دي په دغه صورت کي دهغو په پاوکم دوه کيلو وريجو ورکولو سره سرسايه اداء کېږي اوکنه ؟

جواب : په درمختار کي راغلي دي چي که څوك وغواړي چي په سرسايه کي وريجي ورکړي ، نو دوريجو لپاره کوم وزن معتبر نه دی ، بلکه دومره وريجي به ورکوي چي په قيمت کي له پاوکم دوه کيلو غنمو سره سم وي ، که يوچا پوره دوه کيلو وريجي ورکړې خو قيمت يې ترپاوکم دوه کيلو غنمو کم وي ، نوسرسايه يې نه ده اداء شوې (امداد الفتاوی ۱ ج ۱۵۶ مخ

سرسايه که غنم ؤ ، يا دغنمو اوړه نو پاوکم دوه کيلو بايد ورکړي اويا دي دهغو قيمت ورکړي ، اوکه غنم نه ؤ اوپه بدله کي يې نور څه لکه وريجي اونور ورکول ، نو دومره څه بايد ورکړي چي ددوو کيلو غنمو له قيمت سره سم وي ، اوکه اوربشي يې ورکولې نوبيا بايد دغنمو دوچند ورکړي ، په کفايت المفتي (۴ج ۲۹۳ مخ) کي ، اوفتاوی هنديه (۱ج ۱۹۲ مخ) کي راغلي دي ، چي غير منصوص شيانو کي حکم دادی چي دصاع يا نصف صاع (پاوکم دوه کيلو) غنمو په قيمت چي څومره وريجي کيږي ، نو هغومره وريجي دي ورکړي.

په سرسايه کي به واړه شوي اوړه ورکوي اوکه دهغو قيمت ؟

پوښتنه : دمور شس په جزيره کي خلگ دغنمو (ډوډۍ) نه خوري ، بلکه له بهر څخه ورته تيار واړه شوي راځي دهغه (ډوډۍ) خوري ، اودپنځه سوه گرامه قيمت نږدې پنځوس روپۍ دی ، اودچاچي خاص ضرورت وي هغه بيا غنم اخلي اوبيا يې خوري نو پوښتنه داده

چې مونږ دواړه شوو اوړو دقېمت په اعتبار سرسايه اداء کړو اوکه دغنمو دقېمت په اعتبار ؟

جواب : که دغه واړه شوي اوړه دخالصو غنمو وي ، اوڅه بل شي ورسره ګډ شوی نه وي ، نوکه له هغوڅخه پاوکم دوه کيلو ورکړي ، نو سرسايه اداء شوې ده ، اوکه دهغو قېمت ورکړي ، نو هم سرسايه اداء شوې ده ، اوکه له هغو وړو کړل شوو اوړو سره نورڅه ګډ کړل شوي ؤ ، نو بيا که پاوکم دوه کيلو اوړه ورکړئ هم ، اوکه يې قېمت ورکړئ هم سرسايه نه ده اداء شوې دخالصو غنمو له قېمت څخه دې سرسايه اداء کړي . (فتاوی رحيميه ۵ج ۱۷۷ مخ بحواله هدايه ۱ج ۱۹۰ مخ)

څوک چې مختلفې غلې کاروي هغه په سرسايه کې څه ورکړي ؟

سرسايه به له هغې غلې څخه اداء کوي ، کوم چې هغه پخپله کاروي ، که يوڅوك غنم کاروي ، نودهغه لپاره په سرسايه کې وربشې ورکول صحيح نه دي ، اوکه مختلفې غلې يې استعمالولې ، نوبيا دې له هغې څخه صدقه ورکړي چې ترټولو ښه وي ، اوکه معمولي غله ورکړي هم سرسايه ورباندې اداء کيږي . (احياء العلوم ۱ج ۴ قسط ۵۲۶ مخ)

ايا په سرسايه کې دحکومتي وړيا غنمو يا اوړو دقېمت اعتبار شته ؟

په سرسايه کې خواصل دادی چې دغنمو او نوروغله ورکړل شي ، هر قسم غله چې وي اعلی وي که اوسط وي که ادنیٰ سرسايه ورباندې اداء کيږي ، خوکه دغلې قېمت ورکوي نوبايد دهغې هغه قېمت ورکړي کوم چې په بازار کې دی ، داضروري نه ده چې هغه به ډېرو ښو غنمو قېمت وي ، ددريواړه ډولونو دغنمو دقېمت په ورکولو

سره سرسايه اداء کيږي خو قيمت به يې بازاري وي ، دراسن دغنمو قيمت داعتبار ورنه دی ، دمختاج لاس ته بايد دومره اندازه روپۍ ورسولي شي چې که هغه ورباندې غنم اخستل وغواړي ، نو په هغو روپو باندې دبازار په نرخ پاوکم دوه کيلو غنم اخستل کيدای شي ، که دهغو غنمو دقيمت سره سمي روپۍ ورکړلي شي چې دحکومت له خوا خلگو ته ورپا ورکول کيږي ، نو هغه بيا نشي کولای چې په هغو روپو سره بازاري غنم واخلي ځکه بازاري قيمت لوړ وي اودراسن دغنمو دترلاسه کولو لپاره کارډ ضروري دی اوهغه کارډ له هرفقير سره نه وي ، نوځکه يې ددغو غنمو دحساب په ورته لگولو سره اداء کول اودهغو دحساب سره سم قيمت اداء کول سم نه دی.

(فتاوی رحيميه ۵ج ۱۷۲ مخ)

که داوړو قيمت تر غنمو کم ؤ ، نو داوړو په ځای به په پاوکم دوه کيلو غنمو سره سرسايه اداء کوي ، اويا به دومره اندازه اوړه ورکوي چې قيمت يې ترپاوکم دوه کيلو غنمو ورسيږي . (احسن الفتاوی ۴ج ۴۸۵ مخ).

په سرسايه کې دکوم ځای قيمت معتبر دی

پوښتنه : دلته دغنمو پيداوار هم نشته ، اودخرځ لپاره هم نشته خو په بعض کوروکي اوړه کم اوميده (چې دغنمو صرف مغرو اوړه دی) زيات دي اود ميدی قيمت تر اوړو ډير زيات دی ، نو په دغه صورت کې د ميدې په حساب سرسايه ورکړي ، اوکه دهندوستان دغنمو دقيمت په معلومولو سره ؟

ځواب :غنم وي اوکه اوړه وي دهريو په ورکولو سره سرسايه اداء کيږي ترغنمو داوړو ورکول بهتر دي اوتر اوړو بيا دقيمت ورکول بهتر دي ، په نزدې ځای کي چي دغنمو کوم نرخ دی ، بس له هغه حسابه څخه به سرسايه ورکوله کيږي.

نوداچي ستاسو په ځای کي ډير واړه شوي اوړه زيات کاريږي ، نوبيا بايد پخپله هغه اويا دهغو قيمت ورکړئ ، که څه هم تر غنمويې قيمت لوړ وي. (فتاوی محموديه ۷ج ۲۷۱ مخ)

په سرسايه کي دکلي يا دښار دقيمت اعتبار

که په يوځای کي غنم نه پيداکيږي ، او اوړه په لوړ قيمت کي وي ، اوپه ښار کي بيا دغنمو نرخ ټيټ وي ، نودښهر دغنمو په قيمت سرسايه ورکول څنګه دی ؟

ځواب : سرسايه بايد په خپل کلي کي دغنمو دقيمت سره سمه اداء شي ، که هلته غنم نه پيداکيږي بيا دي اوړوته حساب وکړي ، اويادي دجوارو ياخرما ؤ ديوصاع قيمت حساب کړي ، لنډه داچي کوم شي (چي په حديث شريف کي ذکر شوی دي لکه غنم ، خرماوي ، يوډول غټ کشميش ، دکومو چي يوصاع دی) هلته پيداکيږي دهغه قيمت دي حساب کړل شي. (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۲۲ مخ بحواله ردالمحتار ۱ج ۱۰۳ مخ).

ترټولو غوره سرسايه

که دغنمو يا وربشو قيمت ورکړل شي ، نو داترټولو بهتره سرسايه ده (عالمګيري ۱ج ۱۹۴مخ)

که دارزاني زمانه وه ، نو نغدي روپۍ ورکول ښه دي ، اوکه قیمتو نه لوړ بیا دخوراکي شیانو ورکول بهتر دي اودعلم الفقه نومي کتاب په حاشیه کي راغلي دي چي زما په نزد امیرانو ته دامناسب ده چي په دغو کي دترټولو ګران شي قیمت ورکړي څکه چي په حدیث شریف کي راغلی دي « اذاوسع الله فوسعوا» .... کله چي پاك خدای تعالی تاسو ته زیات څه درکړي ، نوتاسو هم زیاته ورکړه وکړي . (علم الفقه ۴ج ۵۳ مخ).

دبې وطنو دسرسایې حساب

پوښتنه : په بهرني هیواد کي اوسېدونکي خپلو کوروالو یا خپلوانو ته ولیکل چي زما له طرفه دومره سرسایه اداء کړي ، نو دلته دهغه قیمت ددغه ځای سره سم باید اداء شي اوکه دهغه ځای دقیمت سره سم ؟

ځواب : دهغه سرسایه دې په اعلی قسم غنمو سره ورکړله شي ، اویا دي دهغه ځای په حساب دغنمو قیمت ورکړي ، که هلته دغنمو قیمت زیات ؤ ، نوبیا دې ددغه ځای دقیمت سره سمه اداء کړي ، خوښه داده چي غنم ورکړي ، اوکه دغنمو قیمت ورکوي ، نوبیا یې باید په څه لوړ قیمت ولګوي چي پکښې دغریبانو لپاره ګټه وي. (فتاوی رحیمیه ۳ج ۱۱۳ مخ)

دحضور ﷺ په زمانه کي به سرسایه څه وخت ورکوله کېدله ؟

پوښتنه : دحضور ﷺ په زمانه کي به سرسایه ترلمانځه له مخه ورکول کېدله اوکنه ؟ اوکه به دځوورځو لپاره داټولېدله بیا به په محتاجانو

وېشله کېدله ؟ دلته دیوځای له مشر سره دسرسایې راټولول ضروري دي ، بیا چي کله دهغه مشر یا دهغه دځای ناستي خوښه شي هغه وخت یې بیا په محتاجانو وېشي ، ایا داسي کول صحیح دي اوکنه ؟
ځواب :په درمختار کي دغه بیان راغلی دی چي لنډیز یې دادی چي صدقة الفطر تر لمانځه دعید له مخه اداء کول مستحب دی ، دحضور ﷺ دحکم اوعمل سره سم ، څرنګه چي په مشکوة شریف کي دعبدالله بن عمر ﷺ روایت دی چي حضوراقدس ﷺ دعید ترلمانځه له مخه دسرسایې ورکولو حکم فرمایلی دی ، نو له دې څخه معلومه شوه چي دغه مشران چي څه کوي هغه دسنتو خلاف اوبې اساسه وي .(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۰۳ بحواله مشکوة شریف ۱۶۰ مخ).

ایا سید ته سرسایه ورکول کېدای شي ؟

فتوی په دې قول ده چي سیدانو ته په دغه زمانه کي هم دزکات او واجبو صدقو لکه پوستو کي ، قرباني اوصدقې او نورو ورکول حرام دي اوپه ورکولو سره یې اداء نه ده شوې په(فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۶۹ مخ ، ۳ج ۱۷۰ مخ) کي راځي چي سید ته دزکات اوعشر روپۍ یاغله ورکول صحیح نه دی ، خو دورکولو لپاره یې په حیله جوړولو کي څه منع نشته ، دحیلې صورة داسي دی چي بل مسکین ته داوویل شي چي مابه دغه فلاني ته ورکاؤ خو هغه سید دی ، نوځکه ورباندي زکات نه وزي ، نو زه دغه تاته درکوم که ته ټول اویا لږ هغه ته له خپله طرفه ورکړې دابه ډېره ښه وي .
(بحواله کفایت المفتی ۲۷۲ مخ)

دسرسایې دویشلو طریقه

که یوځوك خپله ټوله سرسایه یونفرته ورکوي هم سمه ده ، اوکه لږ لږ څونفرو ته ورکوي هم صحیح دی ، همدارنګه که دډیرو خلګو سرسایه یونفر مسکین ته ورکړله شي هم صحیح ده ، په حاشیه کي لیکل شوي دی چي ددومره خلګو سرسایه یومسکین ته ورکول صحیح نه دی چي هغه ټوله دزکات ترنصابه یا دسرسایې ترنصابه ورسیږي ، دومره سرسایه یوه مسکین ته ورکول مکروه دی ، همدارنګه دسرسایې حقدار اومستحق هغه څوك دی کوم چي دزکات مستحق دی ، همدارنګه په حاشیه کي لیکل شوي دی چي غیر مسلم ته هم سرسایه ورکول روا دي ، خو زکات ورکول روانه دی.

(بهشتی زیور ۳ حصه ۳۶ فتاوی هندیه ۱ج ۱۹۱ مخ).

دسرسایې په روبو دمدرسې لپاره څمکه اخستل

پوښتنه : یوه اداره دجماعت سره په پیوسته څمکي باندي دکوچنیانو لپاره دیني مدرسه جوړول غواړي ، دلته تردغه وخته دماشومانو دتعلیم لپاره کوم سم تیاري اوبندوبست نه ؤ ایا دسرسایې روپۍ ددغي څمکي په اخستلو کي لګول کېدای شي اوکنه ؟

ځواب : دسرسایې حکم دادی چي دوړوکي عید په ورځ ترلمانځه له مخه باید اداء کړل شي ، اوتردې له مخه اداء کول یې هم روا دی که چا په دغه وخت کي ادانه کړه ، نو دژر اداء کولو په فکر کي دي شي ، سرسایه کله هم معاف کېږي نه ، ددغه حکم سره سره لتاسو سره

دسرسايې ډيري روپۍ ولي راټولي شوې پاته دي ؟ دادتعجب اوافسوس خبره ده ، اوکه له تاسو سره نه اوس په مالي لحاظ دمدرسې جوړولو اوقابليت وي اونه يې په نزدې راتلونکي کي توقع وي ، نو هغو روپو ته په حيلی جوړولو سره دمدرسې لپاره ځای اخستل ، کېدای شي بغير له حالته دمجبوري اوبغير له څه شرعي عذره که حيله جوړه کړي نو هم په دغوروپو دځمکي اخستلو اجازه نشته دسرسايې اصلي حقدار محتاجان اومسکينان دي ، په داسي کاروکي دهغو حق ضائع کېږي. (فتاوی رحیمیه ۵ج ۱۷۸ مخ)

دسرسايې روپۍ دقرضداريه قر ضو کي لګول

پوښتنه : ديوچا په بل چاباندي قرض باندي دي ، اوهغه مديون (پورورکړل شوی) مسکين اوبي وسه دي ، نوکه قرض ورکونکي خپله سرسايه په داسي ډول وروګرزوي چي هغه مديون ته ووايې چي دغه دسرسايې روپۍ به ستا په پور کي راواخلم ، نوآيا دهغه سرسايه به اداء شوې وي اوکنه ؟

ځواب :په داسي ډول سرسايه نه ده اداء شوې ، بغير له دې چي مسکين ته ورکړل شي ، په قرضو کي يي په لګولو سره زکات اوسرسايه نه اداء کيږي ، قرض هم پکښي وصول کولای شي مګر ورکول يې ضروري دی (فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۰۳ بحواله ردالمحتار ۱ج ۸۵ مخ).

دجماعت امام ته سرسايه ورکول

پوښتنه : دمسجد امام ته سرسايه ورکول روا دی اوکنه ؟

ځواب : دامامت په وجه هغه ته سرسايه ورکول روانه دي.

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۲۸ مخ)

څوک چې پښلمي ته خلگ راپورته کوي هغه ته سرسايه ورکول

سرسايه هغه چاته ورکول چې په پښلمي دخلگو دراپورته کولو لپاره تاکل شوی وي روا دی ، خوښه داده چې سرسايه دهغه لپاره دهغه دکار اجرت ونه گرزول شي ، بلکه دکار په بدله کي هغه ته نورڅه ورکړي ، اوبيا ورته دسرسايې مال هم ورکړي . (علم الفقه ۴حصه ۵۲ مخ)

نابالغ ته دسرسايې ورکول

پوښتنه مسکين ،غريب اويتيم نابالغ ته سرسايه ورکول جواز لري اوکنه ؟

ځوا ب : که مسکين نابالغ ؤ نو هغه ته سرسايه ورکول روانه دی ،مگر دهغه سرپرست ته يې ورکول روا دی ، خو که هغه نابالغ عاقل ؤ ، نوبيا پخپله هغه ته هم دسرسايې ورکول روادي ، اوکه هغه يتيم نابالغ شتمن وی نو په هيڅ ډول هم ورته سرسايه ورکول روانه دی .

(فتاوی محموديه ۲ج ۲۶۹ مخ)

که يوځای غريبان نه ؤ هلته بيا سرسايه څه وخت اداء کړي !

پوښتنه : که په کوم هيواد ياسيمه کي غريبان نه ؤ ، نوکه دهغه ځای خلگ دورو کي عيد په ورځ ترلمانځه له مخه دسرسايې روپې راټولي کړي اوپايې يو باوري نفرته ورکړي چې هغه يې بيا بل وخت دکوم بل ځای غريبانو ته ورولېږي ، نوآيا په دې سره به مستحب اداء شي ؟

ځواب :سرسايه ترلمانځه دعيد له مخه محتاجانو ته ورکول مستحب دی ، نو په دغه صورت کي چي سرسايه تر لمانځه دعيد له مخه راټوله کړله شي خومحتاجانو ته ونه رسوله شي ، نوپه دې سره مستحب نه اداء کيږي ، اودعادت له مخي ډېر ځله داسي نشي کېدای چي په کوم ځای کي دي فقراء اومحتاجان نه وي ، خوکه بيا هم وشي ، نوبيا بايد دبل ځای مسکينانو ته هغه ولېږل شي ، اودعذر په وجه هغه سړی ته پرېښودونکی دمستحبو نه ويل کېږي .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۱۷ مخ بحواله عالمگيري مصری ۱ج ۱۸۰ مخ)

ايا بنديان په مسکينانو کي شمېرل کېږي ؟

پوښتنه : دلته له قيديانو بغير بل څوك مسکين نشته ، آيا دوی په مسکينانو کي ګڼل کېږي ، اوسرسايه ورته ورکول کېدای شي ؟

ځواب : کله چي له دوی سره دنصاب په اندازه مال نه وي ، نو دوی مسکينان دی اوسرسايه ورکول صحيح دی .

(فتاوی دارالعلوم ۶ج ۳۱۲ مخ بحواله درمختار ۲ج ۷۹ مخ)

که په ډاګ کي نه لېږل شوې سرسايه ونه رسېږي ، نوبيا به يې اداء کوي ؟

پوښتنه : زيد دسرسايې روپۍ درجسټرډ له لاري يتيم خانې ته ولېږلې ، هلته ناظم صاحب ته خط راغی چي رجسټري راورسېدله خوروپۍ پکښي نشته ، نو زيد به بيا له سره سرسايه اداء کوي اوکنه؟

ځواب : په دغه صورت کي دلېږونکي زکات يا سرسايه نه ده اداء شوې ، ځکه چي ډاکخانه خودلېږونکي وکالت کوي ، دهغه چا وکيله خونه ده چاته چي دغه سرسايه ورلېږله شوې ده . (کفایت المفتی ۲ ج ۲۷۹ مخ)

يوه ارزو!

دکتاب په اخبر کي زما هيله له درنو کتونکو څخه داده چي درمضان المبارك په هروخت کي چي تاسو دځان لپاره دعاګاني کوئ ، نو دکتاب جوړونکی اودهغه مور اوپلار هم درسره په دعاء ياد کړئ ، ليري نه ده چي ستاسوداخلاصو ډکو دعاګانو سره مهربان خداى تعالى زمامور اوپلار ته مغفرت وکړي ، اوپه ماباندي دحسن خاتمې رحم وکړي ؟

محمدرفعت قاسمي
مدرس دارالعلوم ديوبند
نېټه ۱۴۰۷ هج مطابق ۱۹۸۷ ع

ستاسوتولودعامحتاج ابوخالدمولوی عبدالاحد «مجروح»
دهجرت مينه پښتون اباد کوټه
۲۰۰۸ ميلادی کال
دجولايي مياشت